د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز زبانها و ادبیات
د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# کابل

## په دې گڼه کې:

- په افغانستان کې د پښتو ژبې وده او تعلیمي بهیر
- مزدک او مزدکیان
- د پښتو گرامر لیکنې پرون، نن او سبا
- په پښتو ژبه کې د ماشومانو د ادبیاتو پېژندنه
- نورستاني ژبې او لهجې
- د مورفیمیکو جوړو پېژندنه
- ژبه او فکر

او نور ...




- دري میاشتنی
- درېمه دوره
- کال: ۱۳۹۷ لمریز
- د تأسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز
- کابل- افغانستان

۳

څېړنیزه، ژبني، ادبي او فولکلوري مجله
کابل
۱۳۹۷ لمریز کال، ۳ مه گڼه


# KABUL

## Monthly Journal


Establishment 1931
Academic Publication of
Afghanistan Academy of Science



Address:
Academy of Science of Afghanistan
Torabaz Khan, Shahbobo Jan Str.
Shar-e-Now, Kabul,Afghanistan
Tel: 0202201279

دافغانستان اسلامي جمهوري دولت د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز زبانها و ادبیات
د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# کابل

څېړنیزه، ژبنۍ، ادبي او فولکلوري درې میاشتنۍ مجله

د تأسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز
ګڼه: ۳

**یادونه:**

✓ مقاله دې له یوې رسمي پتې څخه چې په هغې کې د لیکوال نوم، تخلص، علمي رتبه، د ټېلیفون شمېره او برېښلیک پته وي د علومو اکاډمي ادارې ته را ولېږل شي.

✓ رالېږل شوې مقاله باید پوهنیزه ـ څېړنیزه، بکره او له منل شوو علمي معیارونو سره برابره وي.

✓ رالېږل شوې مقاله باید په بله خپرونه کې نه وي خپره شوې.

✓ د مقالې سرلیک باید لنډ او له منځپانګې سره سمون ولري.

✓ مقاله باید د ۸۰ او ۲۰۰ کلمو ترمنځ لنډیز ولري او د څېړنې پوښتل شوې پوښتنه ځواب کړای شي. همدغه راز لنډیز باید د یونسکو په یوې ژبې ژباړل شوی وي.

✓ مقاله باید د سریزې، اهمیت، مبرمیت، موخې، د څېړنې پوښتنې، د څېړنې روش، پایلې او مأخذونو لرونکې وي او په متن کې مأخذ ته نغوته شوې وي.

✓ مقاله باید د لیکوالۍ له اصولو سره سمه وي، املایي او انشایي تېروتنې ونه لري.

✓ د مقالې حجم حد اقل یې ۷ مخه او حد اکثر یې ۱۵ معیاري مخونه وي، د فونټ سایز ۱۳، د کرښو ترمنځ فاصله باید (Single ) وي او ادارې ته دې سافت او هارد کاپي دواړه را ولېږل شي.

✓ د مجلې کتنپلاوی د علومو اکاډمي د نشراتي لایحې له مخې د یوې مقالې د تائید او رد واک لري.

✓ د رالېږل شوو مقالو شننه او څېړنه د لیکوالو فکري زېږنده ده، لیکوال ته بویه چې سپیناوی یې په خپله وکړي، اداره یې په سپیناوي کې کوم مسوولیت نه لري.

✓ د مجلې له چاپ شوو مقالو څخه استفاده کول، بې له مأخذه جواز نه لري.

✓ ادارې ته رالېږل شوې مقاله بېرته لیکوالو ته نه ورکول کېږي.

بسم الله الرحمن الرحيم

**خپرندوی:** د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**مسؤل مدیر:** څېړنوال سیدنظیم سیدي

**مهتمم:** څېړندوی شکیلا میاخېل

**کتنپلاوی:**

څېړنوال ډاکتر عبدالظاهر شکیب

څېړنپوه ډاکټر خلیل الله اورمړ

څېړنپوه نصرالله ناصر

څېړنوال محمد آصف احمدزی

**مطبعه:** مطبعه صنعتی چهاردهی

**تېراژ:** ۵۰۰ ټوکه

**پته:** د افغانستان د علومو اکاډمي، طره باز خان واټ،

کابل، نوی ښار، د شابوبو جان کوڅه

**د اړیکو شمېرې:**

۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹ - ۰۷۹٦٦۵۰٦۵۸

**د مجلې برېښلیک:** magazinekabul@gmial.com او

informationasakabul@gmail.com

**کلنۍ ګډون بیې:**

په کابل کې: ۹٦۰ افغانۍ

په ولایاتو کې: ۱۴۴۰ افغانۍ

په نورو هېوادونو کې: ٦۰ امریکایي ډالر

په کابل کې د یوې ګڼې بیه:

- د علومو اکاډمۍ د څېړونکو او استادانو لپاره: ۷۰ افغانۍ
- د زده کوونکو او محصلینو لپاره: ۴۰ افغانۍ
- د نورو ادارو لپاره: ۸۰ افغانۍ

# لیکلړ


| مخګڼه | لیکوال | سرلیک | شمېره |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | څېړنوال رفیع الله نیازی | د پښتو ګرامر لیکنې پرون ... | ۱. |
| ۲۳ | څېړنوال ډاکټر عبدالظاهر شکېب | په افغانستان کې د پښتو... | ۲. |
| ۳۹ | څېړنپوه ډاکټر خلیل الله اورمړ | مزدک او مزدکیان...... | ۳. |
| ۵۳ | م. اکبر کرګر | په لرغوني فرهنګ کې د.... | ٤. |
| ٦۳ | پوهنیار ګل رحمن رحماني | نازک الملائکه او د عربي... | ۵. |
| ۸۰ | څېړنیار شریف الله سانین | نورستاني ژبې او لهجې... | ٦. |
| ۱۰۱ | پوهنیار محمود مرهون | د عبدالروف بېنوا سبک... | ۷. |
| ۱۱۲ | محمد معصوم هوتک | د کابلي منظوم پښتو آثار..... | ۸. |
| ۱۲۹ | پوهنیار عبدالعظیم صدیقمل | د مورفیمیکو جوړو پېژندنه... | ۹. |
| ۱۳۹ | څېړندویه مینا مسعوده نېکیار | ژبه او فکر....... | ۱۰. |
| ۱۵۱ | عبدالباري جهاني | پښتو ادب ته د ختیځپوه... | ۱۱. |
| ۱٦۱ | پوهنمل سید اصغر هاشمي | د تېزس د معنوي جوړښت... | ۱۲. |
| ۱۷۲ | پوهنیار ډاکټر بیت الرحمن رودوال | په پښتو ژبه کې د ماشومانو.. | ۱۳. |

**څېړنوال رفيع الله نيازی**

# د پښتو گرامر ليکنې پرون، نن او سبا

د هرې ژبې د علمي تاريخ له مطالعې څرگندېږي چې علوم (Scinces) او په علومو پورې اړوندې څانگې پکې کله پيل شوي او څه ډول يې د پرمختگ پړاوونه وهلي دي. په پښتو ژبه کې هم د علومو د هرې څانگې پيل خپل ځانگړی تاريخي شاليد او پرمختيايي بهير لري، چې په تدريجي ډول اوسني حالت ته رارسېدلي دي.زموږ ددې ليکنې د څېړنې موضوع پښتو گرامر ليکنه ده. گرامر د تشريحي ژبپوهنې يوه مهمه  څانگه ده او په ټوله کې ژبپوهنه يو نوی علم دی، چې پر تشريحي ژبپوهنې سربېره نورې ډېرې څانگې هم لري. د ژبنيو څېړنو پر بنسټ گرامر ليکنه د نړۍ په ځينو ژبو کې سلگونه کلونه د ژبپوهنې له پيدايښت مخکې هم دود وه او ځينو ژبو گرامرونه هم درلودل. د نړۍ د ډېرو ژبو گرامرونو د ليکنې ځينې تدريجي پړاوونه تېر کړي او پښتو گرامر ليکنې هم له پيله تر دې دمه ځينې پړاوونه وهلي دي. موږ په دې ليکنه کې دا څېړو، چې گرامر ليکنه په پښتو ژبه کې کله پيل شوې، د کومو پړاوونو په تېرولو اوسني حالت ته رارسېدلې، اوسني پښتو گرامرونه کومې عامې ستونزې لري او د دغو ستونزو د لرې کولو لپاره څه کول پکار دي؟

**لنډيز (Abstract):**

د هرې ژبې د علمي تاريخ له مطالعې څرگندېږي چې علوم (Scinces) او په علومو پورې اړوندې څانگې پکې کله پيل شوي او څه ډول يې د پرمختگ پړاوونه وهلي دي. په پښتو ژبه کې هم د علومو د هرې څانگې پيل خپل ځانگړی تاريخي شاليد او پرمختيايي بهير لري، چې په تدريجي ډول اوسني حالت ته رارسېدلي

دي. زمـوږ ددې لیکنـې د څېړنـې موضـوع پښـتو ګرامـر لیکنـه ده. ګرامـر د تشریحي ژبپوهنې یوه مهمه څانګه ده او په ټوله کې ژبپوهنه یو نوی علـم دی، چـې پر تشریحي ژبپوهنې سربېره نورې ډېرې څانګې هم لري. د ژبنیـو څېړنـو پـر بنسـټ ګرامر لیکنه د نړۍ په ځینو ژبو کې سلګونه کلونه د ژبپـوهنې لـه پیدایښـت مخکـې هم دود وه او ځینو ژبو ګرامرونه هم درلـودل. د نـړۍ د ډېـرو ژبـو ګرامرونـو د لیکنـې ځینې تدریجي پړاوونه تېر کړي او پښتو ګرامر لیکنې هم له پیله تر دې دمـه ځینـې پړاوونه وهلي دي. موږ په دې لیکنه کې دا څېړو، چې ګرامر لیکنه په پښتو ژبـه کـې کله پیل شوې، د کومو پړاوونو په تېرولو اوسني حالـت تـه رارسـېدلې، اوسـني پښـتو ګرامرونه کومې عامې ستونزې لري او د دغو ستونزو د لرې کولو لپاره څه کـول پکـار دي؟

## سریزه:

د ټراو پـر بنسـټ ګرامـر د ژبپـوهنې پـه عمـومي وېـش کـې د نظـري ژبپـوهنې (Theoretical Linguistics) پـه اډانـه کـې د تشر‌یحي ژبپـوهنې ( Discreptive linguistic) یوه مهمه څانګه ده. د نورو علومو پر تله ژبپوهنـه پـه نـړۍ کـې یـو نـوی علم دی، چې بنسټ یې په نولسمه میلادي پېړۍ کې په اروپا کې ایښـودل شـوی او بیا د وخت په تېرېدو د نړۍ د نورو سیمو په ژبو کې هم په دې برخـه کـې لیکنـې او څېړنې شوې او نـن سـبا د نـړۍ پـه پرمختللـو پوهنتونونـو کـې د ژبپـوهنې بېلابېلـې څانګې تدریسېږي. اوسنیو ژبپوهانو د ژبپوهنې د ارونو پر بنسـټ ګرامـر د تشر‌یحي ژبپوهنې برخه ګرځولې، خو د ژبنیو څېړنو پر بنسټ ګرامر لیکنه د نړۍ پـه ژبـو کـې سـلګونه کلونـه د نـوې ژبپـوهنې لـه پیدایښـت وړانـدې هـم دود وه او د نـړۍ ځینـو پرمختللیو ادبي ژبو ګرامرونه هم درلودل، خو له اوسنیو ګرامرونو سره د هغـه مهـال د ګرامرونو ستر توپیر دادی، چې د نړۍ د ډېرو ژبو پخـواني ګرامرونـه دودیـز ګرامرونـه (Traditional Grammars) وو؛ یعنې د نورو ژبو په تقلید لیکـل شـوي وو، ژبـې یـې هغه ډول نه شوای تشریح کولای څه ډول چې وې، خو اوسني ګرامرونـه د معـاصرې ژبپوهنې په رڼا کې ژبـه هغـه ډول تشر‌یح کـوي، څـه ډول یـې چـې ویـونکي وایـي. همدغه ټکي ته په کتو د نړۍ د ډېرو ژبو ګرامرونه د څـو تـدریجي پړاوونـو پـه تېرولـو سره اوسـني حالـت تـه رارسـېدلي او دغـه تـاریخي او تـدریجي پړاوونـه پښـتو ګرامـر

لیکنې هم تېر کړي دي.

**د څېړنې ارزښت او مبرمیت**

ددې څېړنې ارزښت په دې کې دی، چې پښتو گرامر لیکنې له پیله تر نن پورې د پرمختگ یو ځانگړی یون کړی، دغه یون بېلابېلو کورنیو او باندنیو پوهانو په گډه ترسره کړی او هر چا د خپل وس په اندازه د پښتو گرامر لیکنې بهیر پرمخ بیولی، خو د پښتو گرامرلیکنې د تاریخي او تدریجي علمي پړاوونو په اړه ډېر څه نه دي ویل شوي، نو ددې موضوع همدغه ارزښت ته په کتو دا څېړنه شوې ده.

**د څېړنې موخه**

ددې څېړنې موخه دا ده، چې د پښتو ژبې د گرامر لیکنې تاریخي او تدریجي پړاوونه کله پیل شوي، د دغو پړاوونو د رامنځته کېدو لاملونه څه وو او پښتو گرامر لیکنې ورسره څه ډول پرمختگ وکړ.

**د څېړنې پوښتنې**

گرامر لیکنه په پښتو ژبه کې کله پیل شوې ده ؟

پښتو گرامر لیکنې کوم تدریجي پړاوونه تېر کړې دي؟

اوسني پښتو گرامرونه کومې عامې ستونزې لري؟

ددغو ستونزو د لرې کولو لپاره څه کول پکار دي؟

**د څېړنې میتود**

دا لیکنه د تاریخي او تشریحي مېتود په رڼا کې لیکل شوې، خو د اړتیا پر مهال یې مسایل شنل شوي هم دي.

**اصلي موضوع**

د شته لاسوندونو پر بنسټ تر دې دمه د پښتو ژبې گرامر لیکنې درې تدریجي پړاوونه وهلي دي، لکه :

۱. دودیزه گرامر لیکنه (د عربي ژبې په تقلید، د عرب پوهانو په طریقو د پښتو گرامر لیکل).

۲. د غربي پوهانو (ختیځپوهانو) په طریقو د پښتو گرامر لیکل.

۳. د معاصرې ژبپوهنې د اصولو په رڼا کې د پښتو گرامر لیکل.

د هرې برخې پیل، پرمختیایي بهیر، ځانګړنې او نورې اړوندې خبرې په ترتیب سره لاندې څېړل شوې دي.

**۱. دودیزه گرامر لیکنه (د عربي ژبې په تقلید، د عرب پوهانو په طریقو د پښتو گرامر لیکل)**

د ژبپوهنې او په ځانګړي ډول د نوې ژبپوهنې د اصولو پر بنسټ له گرامر لیکنې وړاندې په نړۍ کې دودیز گرامرونه (Traditional Grammars) لیکل کېدل. ځیني څېړنې وایي دودیزه گرامر لیکنه د لومړي ځل لپاره په یونان کې پیل شوې، خو ورسره دا خبره هم کېږي، چې تر یونان د مخه او یا هم له یونان سره هممهاله په آسیا کې د پښتونخوا د سوابۍ د لنډې لاهور سیمې اوسېدونکي مهارشي پاڼي نې په نړۍ کې په لومړي ځل د سنسکرېت ژبې لپاره گرامر لیکلی دی. د مهال په تېرېدو بیا عربانو هم د یوناني او لاتین ژبو په تقلید خپلې ژبې ته گرامر ولیکه او په اروپا کې هم د ځینو اروپایي ژبو لپاره د لاتین او یوناني په تقلید دودیز گرامرونه ولیکل شول، چې تدریس یې هم د یوناني او لاتین ژبو لپاره د منل شویو قواعدو پر بنسټ کېده. دودیز هغه گرامرونه وي، چې د نورو ژبو له گرامري قواعدو څخه پکې گټه اخیستل شوې وي او د خپلې ژبې داخلي جوړښت او سکښت ته پکې ډېره پاملرنه نه وي شوې.

د پښتو ژبې لومړني گرامرونه هم دودیز گرامرونه وو او هغه مهال لیکل شوي، چې ژبپوهنه لا د یوه ځانګړي علم په توگه نه وه پېژندل شوې، بلکې د فلسفې، منطق او نورو علومو په اړانه کې یې ځای درلود.

د شته اسنادو پر بنسټ په پښتو ژبه کې گرامر لیکنه له ۱۲ هجري پېړۍ راهیسې پیل شوې او لومړنی گرامر ته ورته اثر د پیر محمد کاکړ (معرفة الافغاني) گڼل شوی، خو ډاکټر صاحب خالد خان خټک په خپله یوه لیکنه (د پښتو نثر ارتقا) کې ویلي، چې :" نواب محبت خان په ۱۹۰۶م کې اول ځل د پښتو ځینې قواعد ولیکل"(۱)

د پښتو ژبې او ادب ډېر څېړونکي پر دې عقیده دي، چې معرفة الافغاني د پښتو ژبې د زده کړې لومړنی گرامر ډوله اثر دی او ریاض المحبت، چې مؤلف یې نواب محبت خان دی دویم اثر دی. ښاغلي حبیب الله رفیع په خپله لیکنه (ریاض

المحبت د پښتو لومړنی قاموسي ریښه یې تشریحي ژبدود) کې لیکلي دي :"زما د معلوماتو له مخې دپښتو لومړنی گرامر ډوله اثر د پیر محمد کاکړ معرفة الافغاني دی، چې پر ۱۱۸٦ هـ ق کال یې د وخت لنډ واکې پاچا شهزاده سلیمان ته سپارلی... د نواب محبت خان ریاض المحبت د پښتو دوهم ژبدودیز کتاب دی ... ریاض المحبت د پیر محمد کاکړ تر معرفة الافغاني ۳۵ کاله وروسته په ۱۲۲۱ هـ ق کې تالیف شوی دی"(۲)

له پورتنیو ذکر شویو گرامر ډوله اثارو وروسته تر ډېره وخته د پښتو ژبې لسگونه داسې گرامرونه لیکل شوي، چې د دودیزو گرامرونو په کتار کې راځي. که د پښتو ژبې لومړني گرامرونه ولوستل شي، فکر پرې وشي او بیا له نورو سیمه ییزو ژبو سره پر تله شي، نو جوتېږي چې د عربي ژبې لپاره د لیکل شویو گرامرونو د قواعدو په رڼا کې لیکل شوي دي. د دې خبرې لامل دادی چې د هغه مهال ټول پښتو گرامر لیکونکي داسې وگړي وو، چې دینې زده کړې یې کړې وې، ځکه هغه مهال په پښتني او په نورو هغو ټولنو کې چې پښتنو پکې ژوند کاوه ښوونیزې مؤسسې نه وې او د زده کړو سیستماتیک بهیر هم نه و پیل شوی. هغو پښتنو علماوو چې دینې زده کړې یې کړې وې، د عربي ژبې صرف، نحوه، منطق، اشتقاق، لغت، فصاحت، بلاغت، بدیع، بیان او د علومو نورې برخې یې لوستې وې او په دغو علومو کې یې پوره لاس درلود؛ نو یا یې د هغه مهال له اړتیا سره سم د عربي ژبې ځینې گرامري قواعد پښتو ته راوژباړل او یا یې د عربي ژبې په اصولو او قواعدو د پښتو ژبې لپاره گرامرونه ولیکل، چې یوازې ژبنۍ بېلگې یې د پښتو ژبې وې، نور اکثر قواعد یې د عربي ژبې وو، یعنې د پښتو ژبې لپاره هغه ډول گرامرونه ونه لیکل شول لکه څنگه چې دا ژبه ده او ویونکي یې د خپلو اړتیاوو لپاره کاروي.

عربي د ژبو په کورنیو کې د حامي- سامي ( Afro-Asiatic Languag Family) ژبو له کورنۍ څخه ده او پښتو د اندو-اروپایي ( Indo-Europian Languages) کورنۍ یوه ژبه ده. د دغو دواړو کورنیو د ژبو گرامري جوړښت یو له بل سره ډېر توپیر لري، د یوې ژبنۍ کورنۍ ژبني قواعد د بلې کورنۍ پر ژبو نه شي پلې کېدای، یعنې د حامي- سامي ژبو قواعد پر اندو- اروپایي ژبو نه پلي کېږي. پر معرفة

الافغاني او ریاض المحبت سربېره د پښتو ژبې گرامر ته ورته او دودیز گرامرونه ډېر دي، خو موږ د بېلگې په توگه دلته ځینې لومړني دودیز گرامرونه درپېژنو.

وافیه:دصرف او نحوې دا اثر قاضي میر احمدشاه رضواني په اردو ژبه لیکلی او پر ۱۸۹۰ز کال چاپ شوی دی.(۳)

اتالیق پښتو : مولوي محمد اسماعیل لیکلی او پر ۱۸۹٦ ز کال په پنجاب کې چاپ شوی دی.(۴)

پښتو گرامر : دا گرامر قاضي خیر الله لیکلی او پر ۱۹۰۰ ز کال چاپ شوی، خو اوس نایاب دی.(۵)

پښتو ژبه لومړی او دویم ټوک: مولوي صالح محمد کندهاري لیکلی،پر ۱۳۱۷ل کال پښتو ټولنې چاپ کړی دی.(٦)

د پښتو ژبې لیار: دا اثر محمدگل خان مومند لیکلی او پر ۱۳۱۷ل کال په لاهور کې چاپ شوی دی.(۷)

قواعد پښتو: دا اثر محمد اعظم ایازي په دري ژبه لیکلی او پښتو ټولنې پر ۱۳۱۸ل کال چاپ کړی دی.(۸)

د پښتو درسي گرامر: دااثر پوهاند صدیق الله رښتین لیکلی او پر ۱۳۲٦ل کال پښتو ټولنې چاپ کړی دی.(۹)

رښتین صاحب پښتو گرامر لومړی جز او ژب ښودنه په نامه نور گرامري اثار هم لري،چې په همدې ډله کې شمېرل کېږي.

د پښتو نحوه: دا اثر محمد اعظم ایازي لیکلی او د افغانستان د پوهنې وزرات پر ۱۳۲۷ل کال په کابل کې چاپ کړی دی.(۱۰)

جامع القواعد: دا اثر عبدالکریم بریالي لیکلی او د بلوچستان پښتو اکاډمۍ کوټې چاپ کړی دی.

صرف و نحو پښتو: دا اثر هم ښاغلي خیال بخاري لیکلی او چاپ شوی، خو د چاپ نېټه یې نه ده څرگنده.(۱۱)

د یادونې وړ ده، چې د عربي په قواعدو دپښتو ژبې لیکل شوي گرامرونه سل سلنه د عربي قواعدو تابع نه دي، ځینې عمومي قاعدې یې د عربي ژبې د قواعدو

پر بنسټ لیکل شوي، خو ګرامري نومونې ( اصطلاحات)یې تر ډېره بریده د عربې ژبې دي.

## ۲. د غربي پوهانو (ختیځپوهانو) په طریقو د پښتو ګرامر لیکل

په لوېدیځ کې له رنسانس وروسته د لوېدیځوالو پرمختګونو او په ځانګړي ډول په سمندرونو کې د سفر د نویو وسایلو جوړېدو د نړۍ رنګ بدل کړ، له یوې لویې وچې څخه بلې لویې وچې ته او له هېوادونو څخه نورو هېوادونو ته د تګ راتګ لړۍ چټکه شوه، په ځانګړي ډول لوېدیځوال په پیل کې ډېر ژر امریکا او افریقا ته ورغلل، د دغو لویو وچو د وګړیو له ځایي ژبو سره اشنا شول، د هغوی د ژبو د ګرامرونو او قاموسونو لیکل یې پیل کړل او بیا وروسته د اسیا ځینو سیمو ته هم ورسېدل. د بشري ټولنو ترمنځ د راشه درشې له ګړندي کېدو سره د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې سیستماتیکې زده کړې هم پیل شوې. ځینې پښتو ګرامر لیکونکي یا پښتو پوهان له غربي ژبو او له هغو ګرامرونو سره چې لوېدیځوالو د خپلو ژبو لپاره لیکلي وو اشنا شول او ورسره یې هغه ګرامرونه هم ولوستل چې ختیځپوهانو د پښتو ژبې لپاره لیکلي وو، نو د پښتو ژبې ګرامر لیکنه هم ورسره د لوېدیځو ژبو د ګرامر پوهانو په طریقه پیل شوه او له دغې مرحلې راوروسته د پښتو ژبې ګرامرونه د تحقیق او تدریس په برخه کې کله د عربي او غربي په ګډې طریقې سره ولیکل شول او یا یوازې د غربي طریقې پر بنسټ. په دې برخه کې لومړني کارونه هغو ختیځپوهانو کړي، چې خپلو وګړیو ته یې د پښتو ژبې د زده کړو ګرامر ډوله لاربنودي آثار لیکلي او بیا وروسته ځینو پښتنو هم ځینې ګرامري اثار ولیکل. افغانستان یا هغه سیمه چې پښتانه پکې اباد دي د خپل جیوستراتیجیک ځایګي له امله له شمال لوري روسانو او له سوېل لوري برتانوي هند ته خورا مهم ارزښت درلود، همدغه اصل ته په پام دغو دواړو د وخت زبرځواکو ته دا ډېره اړینه وه، چې د سیمې د نورو ژبو، لکه پارسي، پنجابي، بنګالي، هندي او نورو ترڅنګ د افغانانو مهمه ژبه پښتو هم زده کړي. د پښتو ژبې د زده کړې او اهمیت په اړه هغه مهال د بډلف په نامه یو انګرېز ویلي دي:" پښتانه ځانته خپل خاص عنعنات لري، دغه عنعنات له نورو قومونو سره توپیر لري او زموږ د ختیځو زمکو د استعمار په لړۍ کې د دوی او انګرېزانو تر منځ جلا او ځانګړی ارتباط موجود دی. د دوی د خاورې د اشغال په پروسه کې ډېرې جګړې زموږ په تاریخ کې

ثبت دي، نو ځکه زه د دې ژبې زده کړه ضروري بولم. هر انګرېز، هر هندي نظامي، ملکي انګرېز ته د دې خاورې د خلکو د ژبې او ادب پېژندنه لازم دي"(۱۲)

ډاکټر بیلیو هم د خپل پښتو ګرامر په سریزه کې د پښتو ژبې د زده کړې د اهمیت یادونه کړې، هغه لیکلي دي :" کله چې د ۱۸۶۳م کال په جنوری کې د پښتو ازموینې اخیستل کېدې، د برتانوي هند حکومت د پښتو ژبې د محاورې د بریالیو داوطلبانو لپاره پنځه سوه روپۍ د انعام په توګه وټاکلې.(۱۳)

د دوی ځینو ملکي او عسکري مامورانو زموږ د هېواد د ژبو او فرهنګ مطالعه وکړه، زموږ د ژبو فرهنګونه او ګرامرونه یې ولیکل، لرغوني متون او اثار یې غربي ژبو ته وژباړل، د پښتنو د تاریخ، فوکلور، جغرافیې او نورو برخو په اړه یې هم څېړنې وکړې. ختیځپوهانو د نورو ژبو ترڅنګ د پښتو ژبې او فرهنګ د بېلابېلو برخو په اړه پلټنې وکړې، اثار یې ولیکل او ویې ژباړل، خو دا چې زموږ ددې لیکنې موضوع ګرامر ده، نو د ختیځپوهانو په لیکلو اثارو کې زموږ موخه یوازې د پښتو ژبې لیکل شوي ګرامري اثار دي.د انګلستان د زمکنیو او سمندري فوځونو د مجلې د ۱۸۶۱م کال د فبرورۍ میاشتې په نهمه ګڼه کې راغلي، چې:" تر ۱۸۵۵م کال پورې په انګلستان یا هند کې د پښتو هېڅ ګرامر نه و، چې انګرېز افسران د افغانستان د ژبې د زده کړې لپاره ترې استفاده وکړي"(۱۴)

د څېړنو پر بنسټ روسیه لومړنۍ ځای دی، چې د پښتو ژبې ګرامر پکې ولیکل شو او بیا نورو ختیځپوهانو هم د پښتو ژبې ګرامرونه ولیکل. په اروپا کې د پښتو ژبې لومړني ډېر ګرامر لیکونکي ژبپوهان نه، بلکې نظامي افسران وو، خو د خپلو ژبو پر ګرامري اصولو حاکم وو، د خپلو ژبو د ګرامري اصولو پر بنسټ یې خپلو خلکو ته د پښتو ژبې د زده کړې لاربښودي ګرامري اثار ولیکل او بیا وروسته ځینو پښتنو پوهانو، چې له انګرېزانو یا نورو اروپایانو سره یې د ژباړونکو او یا د پښتو ژبې د استادانو په توګه کار کاوه، هغوی هم بهرنیانو ته د غربي پوهانو په تقلید د پښتو ژبې ګرامرونه ولیکل. وروسته بیا ځینې داسې ختیځپوهان پیدا شول او پښتو ګرامري اثار یې ولیکل، چې هغوی نظامي افسران نه، بلکې فلالوجیستان وو. ددغه ډول ټولو ګرامرونو معرفي به ستونزمنه وي، خو ځینې لومړني ګرامرونه یې په لاندې ډول دي:

افغاني ژبه : دا اثر الماني ختیځپوه گولډن شټېټ لیکلی او پر ۱۷۹۱م کال په روسیه کې خپور شوی دی.(۱۵)

د پښتو گرامري جوړښت: دا اثر کلاپورت په روسي ژبه لیکلی او پر ۱۸۱۰م کال په مسکو کې چاپ شوی دی.(۱٦)

د پښتو ژبې گرامر:"دا اثر د کوکس په نامه یوه انگرېز په انگلیسي- ژبه لیکلی او پر ۱۸۱۱م کال په  لندن کې چاپ شوی دی.(۱۷)

د پښتو ژبې وړوکی گرامر: مشهور جرمني نژاد روسي پروفیسور برنارډ ډورن هم پر ۱۸۴۰م کال په جرمني ژبه کې یو وړوکی گرامر د پښتو په کتابي صورت کې شایع کړی و، چې اولین یوروپي گرامر ورته ویلی شو.(۱۸)

د پښتو یا د افغانانو د ژبې گرامر : دا اثر مېجر راورټي لیکلی او پر ۱۸۵۵ او ۱۸۵٦م کالونو کې دوه ځله د هندوستان په کلکته او د درېیم ځل لپاره پر ۱۸٦۰م کا په لندن کې چاپ شوی دی.(۱۹)

A Grammar of Pashto or Lnaguage of the Afghans: دا گرامر هانري ولټر بیلیو په انگلیسي لیکلی، پر ۱۸٦۷م کال په لندن کې خپور شوی او پر ۱۳۱۸ل کال د پښتو ټولنې له لوري ژباړل شوی، خو د چاپ پته یې نه لگي. (۲۰)

پښتو گرامر : دا اثر جرمني پښتو پوه ډاکټر ټرومپ لیکلی او پر ۱۸۷۳م کال په لندن کې چاپ شوی دی.(۲۱)

پښتو گرامر : دا گرامر رس کېپل لیکلی او پر ۱۹۰۱م کال په لندن کې چاپ شوی، خو د دغه اثر د لومړي ځل چاپ نایاب دی. اروابناد خیال بخاري د خپل اثر صرف و نحو پښتو په سریزه کې د دې گرامر په اړه ویلي، چې دا گرامر رس کېپل د قاضي عبدالغني او صاحبزاده عبدالقیوم خان په مرسته لیکلی دی ـ(۲۲)

د وزیرو د لهجې گرامر : "لارېمر د وزیرو د لهجې یو گرامر او قاموس لیکلی، چې پر ۱۹۰۲م کال په لندن کې خپور شوی دی. موږ د ختیځپوهانو په ډله کې د (لارېمر) په نامه دوه سړي پېژنو، چې ځینو افغاني پوهانو هغوی دواړه یو کس بللی دی. هغه لارېمر چې د وزیرو د لهجې په اړه یې گرامر لیکلی (J. Lorimer) نومېږي او هغه بل چې د (پښتو نحو) کتاب یې لیکلی (D. L. R. Lorrimer) نومېږي"(۲۳)

د پښتو ګرامر رساله :دا اثر روسي پروفیسر لېبېدېف لیکلی او پر ۱۹۴۵م کـال په مسکو کې چاپ شوی دی.(۲۴)

د پښـتو قاعـدې صرف و نحـو: دا اثـر سـید راحـت الله زاخـیلي لیکلـی او پـر ۱۹۵۴م کال چاپ شوی.

غړپوهنه : دا اثر سید عظیم شاه خیال بخاري لیکلی پښتو اکېډمي پېښـور پـه ۷۲ مخونو کې خپور کړی.(۲۵)

د غربي پوهانو په طریقو د پښتو په ګرامر لیکنه کې یـو سـتر بـدلون دا و، چې پخوا پښتو ګرامرونه په ګرامري قواعدو کې تر ډېره برېده د عربي یا د حـامي- سـامي ژبو د قواعدو تـابع وو، خـو لـه دې سره د انـدو-اروپـایي ژبـو د ګرامـري قواعـدو تـابع شول، څکه چې روسي، انګرېزي او جرمني د اندو-اروپایي کـورنۍ ژبـې دي او پښـتو هم په همدغې کورنۍ پورې تړلې ژبه ده، نو تر یوه برېده د دغو ژبو ګرامري قواعد پر پښتو ژبه پلې کېدل، یعنـې پښـتو ګرامـر لیکنـې ورسره د پښـتو ژبـې د جوړښـت پـر بنسټ څه نا څه ژبپوهنیز علمي پرمختګ وکړ، خـو ټـولې ګرامـري مسـلې یـې ورسره حل نه شوې، څکه چې د ټولو اندو-اروپایي ژبو ګرامري قواعد هم سره ورته نه دي او بل دا چې انګلیسي او جرمنـي د انـدو-اروپـایي ژبکـورنۍ د جرمانیـک ( Germanic Languages) ژبښــاخ، روسي د انـــدو-اروپـــایي ژبکـــورنۍ د ســـلاویک ( Slavic Languages) ژبښـاخ ژبـې دي او پښـتو د انـدو-اروپـایي ژبکـورنۍ د اریـک (Aric) ژبښاخ د اندو-اریایي (Indo-Aryan)،( چـې څینـو ژبپوهـانو پـه خپلـو څېړنـو کـې د اندو-ایرانیان Indo-Iranian په نـوم هـم یـاده کـړې ده) څـانګې ژبـه ده، پـه نَسـبي لحاظ خو دا ژبې په خپلو کې خپلوانې دي، خو په خپلوۍ کې هم توپیر وي، څینې نژدې خپلوان وي، څینې لږ لرې او څینې ډېـر لـرې، نـو انګلیسي- او جرمنـي نـژدې خپلوانې ژبې دي، روسي یې لږ لرې خپلوانه ژبه ده او پښتو ژبـه د روسي، انګلیسي- او جرمني ژبو لرې خپلوانه ژبه ده.

### ۳. د معاصرې ژبپوهنې په رڼا کې د پښتو ګرامر لیکل

دا ډول ګرامر لیکنه د معاصرو علمي نظریو او لاس تـه راوړنـو پـر بنسـټ لیکـل کېږي او د لومړي څل لپاره د شلمې پېړۍ لـه اوایلـو راهیسـې پـه تـدریجي ډول پـه لوېدیځو هېوادونو کې پیل شوې او ورځ په ورځ د نـوې ژبپـوهنې لـه پرمختګونـو سره

عامېږي. د نوې ژبپوهنې پر بنسټ گرامر ليکونکي پر دې اند دي چې :" هره ژبه د خپل گرامري جوړښت او نظام لپاره ژبني قواعد لري او بايد هره ژبه په خپل ذات کې پرته له دې چې د بلې ژبې جوړښت په پام کې ونيول شي د بلې ژبې د جوړښت په پېښو (تقليد) تشريح نه شي"(۲٦)

که څه هم دا ډول گرامر ليکنه لا په نړۍ کې يوه نوې هڅه ده، خو له نېکه مرغه ځينو پښتنو ژبپوهانو د پښتو ژبې لپاره هم د نوې ژبپوهنې په رڼا کې دغه ډول ځينې ژبپوهنيزې ليکنې او پښتو گرامري اثار ليکلي دي. لکه د ځينو نورو علومو په څېر په پښتو ژبه کې ژبپوهنه هم ډېره مخينه نه لري او لکه څنگه چې لازمه ده په پښتو ژبپوهنه کې هغه ډول علمي ژبپوهنيز کار هم نه دی شوی." ژبپوهنه د يوه علم په حيث په افغانستان کې په (۱۳۴۰ل/۱۹٦۱م) کلونو کې د پښتو ژبې څېړنو ته ورننوځي، په افغانستان کې په پښتو د هربرت پېنزل د گرامر تر ژباړې وروسته او د پوهاند رحيم الهام د مقالو په خپرېدو سره د نوې ژبپوهنې پر اساس پښتو گرامر ليکنې ته پام را اړول کېږي. له۱۳۴۰ل کال را په دې خوا د پښتو ژبې په برخه کې د پوهاند رحيم الهام، دوکتورحبيب الله تږي، عبدالرزاق پالوال، دوکتور زيار او ځينو نورو ژبپوهانو له خوا د نوې ژبپوهنې په رڼا کې پيل کېږي او يو لړ اثار خپرېږي.(۲۷)

پر يادو پوهانو سربېره ډاکټر دولت محمدلودين، نوراحمد شاکر، ډاکټر عبدالحکيم هلالي، سيدالشاه پولاد، سيدعظيم شاه خيال بخاري، ډاکټر خالد خان خټک، پروفيسور جهانزېب نياز او ځينو نورو په پښتو ژبه کې د معاصرې ژبپوهنې په رڼا کې ژبپوهنيزې ليکنې کړې دي. په افغانستان کې د جنگ جگړو او کډواليو له امله د نوې ژبپوهې په رڼا کې د ژبپوهنيزو ليکنو لړۍ هم تر ډېر مهال په ټپه ودرېده، خو څېړنپوه ډاکټر خيل الله اورمړ او څېړنپوه مولاجان تنيوال دوه هغه ژبپوهان دي، چې ببرته يې په پښتو ژبه کې د نوې ژبپوهنې په رڼا کې ژبنۍ او ژبپوهنيزې څېړنې پيل کړې او اوس اوس ډاکټر يوسف خان جذاب، چې په ژبپوهنه کې يې ډاکټري کړې او د پښتونخوا د بنو په کالج کې تدريس کوي، د نوې ژبپوهنې په رڼا کې يې کرلانې گړدودنه په انگليسي ژبه څېړلي، خو په پښتو ژبه کې يې لا تر دې دمه ژبپوهنيزې څېړنې ډېرې نشته او که وي، نو بويه چې زه به

ترې خبر نه يم. د معاصرې ژبپوهنې په رڼا کې په پښتو ژبه کې ليکل شوي گرامري اثار ډېر دي، چې ځينې يې په لاندې ډول دي.

A Descriptive Studay of Dialect of Kandhar: دا گرامر د امريکا د مشيگن پوهنتون پروفيسور ډاکټر هربرټ پېنزل ليکلی، پر ۱۹۵۵م کال په واشنگټن کې چاپ شوی او دپښتو ژبې د کندهاري گړدود تشرېحي گرامر دی، ارواښاد ډاکټر محمد رحيم الهام پښتو ته راژباړلی او چاپ شوی هم دی.

د پښتو ژبې گرامر : دا اثر لېبېدېف په روسي ژبه ليکلی، پر ۱۹۵٦م کال په مسکو کې چاپ شوی دی.(۲۸)

پښتو گرامر: دا اثر روسي پښتو پوهاند لېبېدېف ليکلی او پر ۱۹٦۱م کال په مسکو کې چاپ شوی دی.(۲۹)

د پښتو گرامر طرحه : د ارواښاد ډاکټر محمد رحيم الهام هغه گرامري طرحه وه، چې د وږمې مجلې د ۱۳۴۴ل کال په بېلابېلو گڼو کې خپره شوې ده. په دغه طرحه کې د معاصرې ژبپوهنې پر بنسټ د پښتو گرامر ليکل پيل شوي دي.

پښتو نوی مصدر : دا د ډ اکټر عبدالرزاق پالوال اثر دی، چې پر ۱۳۵۰ل کال چاپ شوی دی.(۳۰)

ژبنۍ څېړنې : دا اثر پوهندوی نور احمد شاکر ليکلی او پر ۱۳۵۰ل کال په کابل کې چاپ شوی دی. په دې اثر کې د پښتو ژبې فونيمونه او مورفيمونه څېړل شوي دي.(۳۱)

د پښتو ژبې د فونيمکې الفبی لارښود : ډاکټر عبدالحکيم هلالي ليکلی او پر ۱۳۵۵ل کال پښتو ټولنې چاپ کړی(۳۲)

Pashto Grammar of Clitic: دا گرامر ډاکټر حبيب الله تږي د امريکا په مشيگن پوهنتون کې د دوکتورا د تېزس لپاره په انگليسي- ژبه ليکلی او د پښتو څېړنو نړيوال مرکز پر ۱۳۵۷ل ۱۹۷۸م کال چاپ کړ ی دی. (۳۳)

پښتو فعلونه: دا د ډاکټر حبيب الله تږي هغه چاپې مقالې دي، چې پر ۱۳۵۷ل کال د وږمې مجلې د دويشتم کال په دويمه او نورو گڼو کې خپرې شوې دي.(۳۴)

د پښتو ژبې فونولوجي: ډاکټر عبدالحکیم هلالي لیکلی او د افغانستان اکاډمۍ پر ۱۳۷۰ل کال چاپ کړی دی.(۳۵)

A Reference Grammar of Pashto: دا اثر ډاکټر حبیب الله تږي او باربرا رابسون په ګډه لیکلی او پر ۱۹۹٦م کال په واشنګټن کې چاپ شوی دی. (۳٦)

پښتو پښویه : د معاصرو پښتو ګرامرونو په لړ کې "پښتو پښویه" د پښتو ژبې د لیکل شویو ګرامرونو تر ټولو نژدې بشپړ ګرامري اثر دی، چې ډاکټر مجاوراحمد زیار لیکلی دی. بشپړ یې ځکه بولو، چې په دې اثر کې د ګرامر ټولې برخې، لکه (غږپوهه، اوازپوهه، صرف او نحوه) لږ تر لږه د اوس لپاره د نوې ژبپوهنې په رڼا کې څېړل شوي دي. دغه ګرامر د دربېم ځل لپاره پر ۱۳۸۴ل کال چاپ شوی دی.(۳۷)

A case Grammar studay of the pasahto verb: دا اثر د ډاکټر خالد خان خټک د پي - ایچ - ډي تېسس دی، چې پر ۱۹۸۸م کال یې د لندن پوهنتون د اورېنټل او افریقایي مطالعاتو د پوهنځي د ژبپوهنې په ډیپارټمېنټ کې په ژبپوهنه کې د ډاکټرۍ لپاره لیکلی دی. زما د معلوماتو پر بنسټ دا په ټوله پښتونخوا کې په پښتو ګرامر کې لومړنی د ډاکټرۍ تیزس دی، چې لیکل شوی دی.(۳۸) خو دا اثر هم په انګلیسي- ژبه لیکل شوی دی.

### د اوسنیو پښتو ګرامرونو ځینې عامې ستونزې

د معرفة الافغاني له لیکلو راهیسې پښتو ګرامر لیکنې نږدې دوه پېړۍ مزل وهلی او په دغو دوو پېړیو کې یې درې تدریجي پړاوونه تېر کړي، خو لا هم په علمي او ژبپوهنیز لحاظ نه ده بشپړه شوې، یو خو په دې لحاظ چې علمي ستونزې لري او بل په دې لحاظ، چې ژبپوهنه د ټولنیزو علومو (Social Scinses) یوه برخه ده، ټولنې د بشري ژوند د سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او نورو شرایطو په رڼا کې کله لږ او کله ډېر بدلون مومي او دا ټولنیز بدلونونه همېشني وي، نو د ټولنیزو علومو د هرې برخې پر اصولو هره یوه یا دوه لسیزې وروسته بیا کتنه پکار ده. همدغو ټکو ته په کتو پښتو ګرامرونه هم ځینې ستونزې لري، چې باید کار پرې وشي او د وخت او حالاتو له غوښتنو او بدلونونو سره سم علمي او اکاډمیک شي. ښایي اوسني پښتو ګرامرونه به د غږ پوهې (Phonetics)، اوازپوهې (Phonemics)، ګړپوهې (Morphology) او غونډله پوهې (Syntex) په بېلابېلو

برخو کې ډېرې کوچنۍ او سترې ستونزې ولري، چې پر هرې برخې جلا لیکنې او څېړنې ته اړتیا ده، خو موږ یوازې پر هغو ستونزو غږېږو، چې په عمومي ډول یې نن سبا پښتو ګرامرونه لري او د دغو ستونزو حل کولای شي د پښتو ګرامر ځینې نورې ستونزې هم له ځان سره حل کړي، دا ستونزې په لاندې ډول دي:

۱. د نړۍ په پرمختللیو او د پښتو ژبې په سیالو سیمه ییزو ژبو کې ګرامر یو واحد نوم لري، لکه په انګلیسي کې ورته ګرامر (Grammar ) وایي، په عربي کې ورته (صرف و نحو)، په دري او پارسي کې ورته (دستور زبان) ټاکل شوی او په نورو ژبو کې هم خپل ځانګړی نوم لري، د همدغو منل شویو نومونو په اړانه کې پکې د اړتیا پر بنسټ وخت پر وخت ژبپوهان نوې زیاتونې او سمونې کوي. زما د څېړنو پر بنسټ په نږدې دوه پېړیوو کې بهرنیو او کورنیو پوهانو شاوخوا یوسلو اتیا پښتو ګرامري اثار لیکلي او دا ګرامري اثار یو سلو اتیا بېلابېل نومونه لري، له بده مرغه پښتو ګرامر لا تر دې دمه یو ځانګړی نوم نه لري، هر پښتون ګرامر لیکونکي پخپله خوښه خپل لیکلي ګرامر یا ګرامري اثر ته جلا نوم ورکړی دی. په پښتو ژبه کې دا ستونزه د پښتو ژبې د ځینو ګرامرونو له دې نومونو څخه ښه جوتېږي، لکه : پښتو ګرامر، قواعد پښتو، اتالیق پښتو، صرف نحو پښتو، پښتو قواعد، پښتو پښویه، د پښتو ژبې لیار، پښتو ښوونکی، معلم پښتو، پښتو درسي ګرامر، پښتو ژبښود، د پښتو ګرامر طرحه، فونولوجي مورفولوجي، پښتو نحوه او داسې نور. د پښتو ګرامر دغه ډول ذوقي او سلیقوي نومونې اوس هم روانې دي، ددې لیکنې د څېړنې پر مهال په یوه نوي ګرامري اثر ورپېښ شوم، چې په همدې ورځو کې چاپ شوی او نوم یې ورته (پښتو ژبدود) غوره کړی دی.

۲. د پښتو ژبې ګرامرونه په واحده املا نه دي لیکل شوي، د هر ګرامر لیکونکي چې څه ډول املا زړه منلې هماغسې یې لیکلي دي. په ژبنیو مسایلو کې دغه ډول خپلسري د ژبو د پرمختګ مخه نیسه، موږ باید د معیار په لور ګامونه واخلو.

۳. د پښتو ژبې ځینې ګرامرونه ګړدودي (لهجوي) دي. ګرامر لیکونکو د معیاري ګړودو ( Standard Dilect ) پر ځای خپله لهجه غوره ګڼلې او یا د لیکنې پر مهال پرې د معیاري ژبې پر ځای خپل ګړدود اغېز کړی دی. دا کار د نړۍ په

٤. نورو ژبو کې هم شوی، خو پالل شوی نه دی، بلکې د معیار په لوري تللي او نن سبا، یوه معیاري ژبه او یو معیاري گرامر لري، خو په پښتنو کې اوس هم دا ناروغي عامه ده، همدا نن که څوک وغواړي گرامر ولیکي ددې پر ځای چې د معیار په لور گامونه واخلي خپل گړدود ته لومړیتوب ورکوي.

٥. ځینې پښتانه گیله او ځینې نیوکه کوي، چې د ځینو پښتو گرامرونو ژبې سختې دي، مفهوم اخیستل ترې ستونزمن وي، خو دغه پښتو گرامرونه د نوې ژبپوهنې له اصولو سره سم علمي لیکل شوي، له یوه اړخه له دې امله چې ځینې پښتانه لیکوال د خپلې ژبې له ټولې لغوي پانگې سره اشنایي نه لري او له بل اړخه له دې امله چې د ژبپوهنې له نویو علمي اصولو سره هم بلد نه دي، نو په پښتو ژبه کې د نویو کلمو جوړونې (نیولوگیزم) ته په ښه سترگه نه گوري، نو که کوم پښتون گرامر لیکونکي په خپله گرامر لیکنه کې د ژبپوهنې د اصولو په رڼا کې د خپلې ژبې د نگه والي هڅه کړې وي، نو د پورتنیو دوو لاملونو له امله یې ځینې پښتانه په کارول شوې ژبه نه پوهېږي او یا ترې مفهوم نه شي اخیستی.

٦. په پښتو ژبه کې د سیستماتیکو زده کړو لپاره د زده کوونکو د زده کړې د سویې په پام کې نیولو سره گرامرونه نه دي لیکل شوي. یو ډول گرامر په ټولو برخو (ښوونځي او پوهنتون) کې لوستل کېږي، خو په نورو ژبو کې د ښوونځي، په پوهنتون کې د لسانس (B.A) او ماسټرۍ(M.A) زده کړو لپار د زده کوونکو د زده کړې سویه په پام کې نیول شوي او گرامرونه ورته لیکل شوي دي.

٧. ډېر پښتو گرامرونه د تدریس تطبیقي بڼه نه لري، لکه د ازادې مطالعې د یوه معلوماتي کتاب په څېر پکې مسایل تعریف شوي، تیوري یې وړاندې شوې او یوه بېلگه یې ورسره ورکړې ده، په داسې حال کې چې د گرامر د هرې برخې تیوري باید عملي په هماغه ځای کې له بېلگو سره پلې شي، ښوونکو یعنې تدریسوونکو ته باید د تیورۍ د پلي کولو بېلابېل تمرینونه (پرکټسونه) ولري.

٨. پښتو گرامرونه د گرامري نومونو(اصطلاحاتو) لپاره واحده منلې پښتو ټرمینالوجي نه لري، څوک عربي او څوک انگلیسي- نومونه او اصطلاحات کاروي. ډاکټر مجاور احمد زیار تر ډېره بریده دا ستونزه حل کړې په خپل اثر (پښتو پښویه) کې یې ټوله گرامري ټرمینالوجي پښتو کړې، خو له دې امله چې د پښتو ژبې په

۹. دوديزو گرامرونو کې د عربي ژبې د اغېز له امله اسم، فعل، فاعل، مذکر، مونث، ماضي، حال، مستقبل، ضمير او نورې عربي نومونې راغلي او ډېرو پښتنو گرامر ليکونکو بار بار تر اوسه پورې په خپلو گرامرونو کې دغه نومونه تکرار کړي، نو پښتنو ته اوس د دغو عربي نومونو پښتو معادل نومونه، لکه : نوم، کړ، کړي، نرينه، ښځينه، تېرمهال، اوسمهال، اوسترمهال، نومځرى او نور، چې د پښتو ژبې خپلې کلمې دي پيکه او نا اشنا ښکاري يا ځينې د انگرېزي ژبې د زده کړې د اغېزو له امله له فونيم، فونټيکس، فونيميکس، فونولوجي، مورفولوجي، سينټکس، واول،سيمي واول، کانوسننټ او نورو انگريزي يا لاتيني کلمو سره اشنايي لري، نو هغوى ته د دغو انگريزي نومونو پښتو معادل نومونه، لکه : ويى، غږپوهه، اوازپوهه، گړپوهه، غونډله پوهه، خپلواک، نيمواک، بېواک کلمې او اصطلاحات نا اشنا او پردۍ ښکاري.

۱۰. د الفبا توري د ژبې د گرامر بنسټيز توکي گڼل کېږي، ځکه هر اواز د ژبې په الفبا کې يو توری (Graphim) لري او د څو تورو له يو ځای کېدو څخه يوه کلمه او د څو کلمو له يو ځای کېدو څخه يوه جمله جوړېږي او د گرامر ټول بحث هم غږپوهه (Phinetics)، اواز پوهه (Phonemics)، گړپوهه (Morphology) او غونډله پوهه (Syntax) وي. له بده مرغه تر اوسه پورې په پښتو گرامرونو کې د پښتو الفبا د تورو کره شمېره نه ده څرگنده. په ځينو گرامرونو کې ۴۰، په ځينو کې ۴۱، په ځينو کې ۳٦، چا ۴۵ او چا ۴٦ ښوولي دي. که يو بهرنی له موږ ټولو او يا په ځانگړې ډول د پښتو ژبې له کوم پښتون استاد څخه د پښتو ژبې د الفبا د تورو د شمېر په اړه پوښتنه وکړي، زموږ ځواب به ورته څه وي؟

۱۱. د نړۍ ژبې خو پرځای پرېږده زموږ په څم گاونډ کې په پارسي او اردو ژبو کې د بهرنيانو لپاره ددغو ژبو د زده کړې ډېر ساده او اسان لارښودي گرامري اثار ليکل شوي، خو که يو بهرنی له موږ څخه د پښتو ژبې د زده کړې د يوه لارښودي گرامري اثر پوښتنه وکړي، نو موږ په پښتو ژبه کې د بهرنيانو لپاره د پښتو ژبې د زده کړې کره، پوره او ټولمنلی کوم گرامر يا لارښود اثر نه په پښتونخوا کې لرو او نه يې په افغانستان کې لرو.

۱۲. د پښتو ژبې د ځینو ګرامري اصطلاحاتو تعریفونه سم نه دي، د بېلګې په توګه د جلمې په تعریف کې وایي، چې د خپلواکو او ناخپلواکو مورفیمونو داسې غونډ چې بشپړ مفهوم ولېږدوي، خو په عین حال کې بیا یوازې یوه کلمه هم جمله ګڼل کېږي، دغه ستونزه د نورو ډېرو ګرامري اصطلاحاتو په تعریفونو کې هم شته.

۱۳. ژبپوهانو ګرامرونه په جامع ګرامر، لهجوي ګرامر، تشریحي ګرامر، تاریخي ګرامر، پرتلیز ګرامر، تعلیمي ګرامر، ماخذي ګرامر، قاعدوي ګرامر، مقابلوي ګرامر او په ځینو نورو ډولونو وېشلي دي. موږ د ګرامرونو په دغو ډولونو کې یوازې د پښتو ژبې د دوه درې لهجو، لهجوي ګرامرونه لرو او د تعلیمي ګرامر معمولي او ابتدایي بڼه لرو، نور نو د جامع، تشریحي، تاریخي، پرتلیز، ماخذي او مقابلوي ګرامرونو داسې بېلګه چې ددغو ګرامرونو له تعریف سره برابر وي نشته.

۱٤. د افغانستان د پوهنتونونو د ادبیاتو پوهنځیو د پښتو څانګو په ټولو برخو په ځانګړي ډول د ژبپوهنې یا د ګرامر د تدریس په استادانو کې د ګرامري اثارو د چاپ یوه عجیبه منفي سیالي روانه ده. په لسو پوهنتونونو کې به د لسو استادانو په نامه لس ګرامري اثار په بېلابېلو نومونو چاپ شوي وي. د دغو اثارو منځپانګه چې مطالعه کړې نوي خبره پکې نه موندل کېږي، یوازې د پوهاند زیار د ګرامر د ګرامري موضوعاتو ژبه به یې اړولې وي یا به یې د پوهاند رښتین او پوهاند زیار د ګرامري اثارو یو ګډوله اثر تدوین کړی وي، ځینو خو پکې ان د ګرامري موضوعاتو د بېلګو د نویو کولو زیار هم نه دی ګاللی، کټ مټ یې له مبدا اثر څخه را اخیستي وي، نو ددغه ډول تکراري اثارو چاپ او خپراوي ته څه اړتیا ده، که څوک نوي څه ټولنې ته ورکولای شي ښه خبره ده او کنه د نورو پوهانو پر علمي کارونو شخوند وهل د خلاقیت او نوښت مخه نیسي.

**پایله**

د پښتوګرامر لیکنې د پرون، نن او سبا له څېړنې څرګنده شوه، چې په پښتو ژبه کې ګرامر لیکنه په دولسمه هجري پېړۍ کې پیل شوې او لومړنی ګرامر ته ورته د ژبې د زده کړې اثر د پیرمحمدکاکړ معرفة الافغاني دی. تر دې دمه د پښتو ژبې ګرامر لیکنې درې تدریجي پړاوونه وهلي او ښایي په راتلونکي کې نور پړاوونه هم

ووهي. لومړی پړاو دودیزه ګرامر لیکنه یا د عربي ژبې په قاعدو د پښتو ژبې لپاره د ګرامرونو لیکل وو. دویم پړاو د غربي پوهانو په طریقو د پښتو ژبې لپاره د ګرامرونو لیکل وو او دریيم پړاو د معاصرې ژبپوهنې په رڼا کې د پښتو ژبې ګرامر لیکنه وه، چې د ( ۱۳۴۲ل/۱۹٦۱ م ) کلونو په شاوخوا کې پښتو ژبې ته د هربېرت پنزل د ګرامر له ژباړې سره پیل شوې او بیا نورو پښتنو پوهانو په بېلابېلو برخو کې ګرامري اثار ولیکل او دا لړۍ تر ننه پورې جاري ده. دا هم روښانه شوه، چې اوسني پښتو ګرامرونه، د املا، ژبې، د سیستماتیکو زدکړو، د هرې برخې لپاره د جلا ګرامر نه شتون، د ژبپوهانو تشه، بهرنیانو ته د پښتو ژبې د زده کړې د اغېزمن لارښود نه شتون او دې ورته نورې ستونزې لري.

**وړاندیزونه**

د پښتو ګرامر لیکنې پرون، نن او سبا لیکنې په ترڅ کې موږ د پښتو ګرامرونو پر ځینو عمومي ستونزو وغږېدو، که دغه ستونزې سمې او اصلاح شي، نو پښتو ګرامرونه به د ژبپوهنې له نویو علمي اصولو سره برابر او د پښتو ژبې زده کړه به ورسره اسانه شي. ددغو ستونزو د حل لپاره ځینې وړاندیزونه لرو :

۱. ژبپوهنه علم دی، د ژبې، ګرامر او ژبپوهنې په اړه د څه لیکلو مسوولیت او صلاحیت هم د هغو کسانو وي، چې یا یې عملاً ژبپوهنه لوستې وي او یا په اکاډمیکو ادارو کې د ژبپوهنې او ګرامر د څېړنې او تدریس چارې پر غاړه لري، یعنې د ژبنیو ګرامري او ژبپوهنیزو مسلو په اړه څه لیکل د هر چا د وس کار نه دی. له بده مرغه موږ په پښتو ژبه کې د ګوتو په شمېر داسې پوهان لرو، چې هغوی په ژبپوهنه کې لوړې زده کړې کړي او یا په اکاډمیکو ادارو کې پر ژبپوهنیزو څېړنو او تدریس بوخت دي، نو په لر او بر کې د پښتو ژبې مسوولو اکاډمیکو ادارو ته دا وړاندیز دی، چې د ژبپوهنې په بېلابېلو برخو کې دې د لوړو زده کړو لپاره پښتانه محصلین بهر ته ولېږي، تر څو موږ په څو کلونو کې ددې جوګه شو، چې د ژبپوهنې د بېلابېلو برخو پوهان ولرو او تر هغې چې موږ ژبپوهان ونه لرو، موږ نه شو کولای د پښتو ژبې ګرامري او ژبپوهنیزې ستونزې په علمي ډول حل کړو.

۲. د پښتو ژبې د موجودو ګرامرونو په رڼا کې موږ کولای شو د ښوونځیو، پوهنتونونو او د نورو لوړو زده کړو لپاره بېل بېل ګرامرونه ولیکو، خو دا کار باید د

۳. حکومتونو د اکاډمیکو ادارو تر سرپرستی لاندې وشي، هغوی دې چاپ کړي او بیا دې هغه گرامرونه د ټولو تعلیمي او تحصیلي ادارو په نصاب کې د تدریس لپاره شامل شي.

٤. د ښوونځیو او پوهنتونونو لپاره د گرامر لیکنې په برخه کې باید د ژبې معیاري گړدود( Standard Language) په پام کې ونیول شي، ځکه د معیاري ژبې یوه مهمه ځانگړنه دا وي، چې په ښوونځیو او پوهنتونونو کې پرې زده کړې او تدریس کېږي یعنې د تعلیمي نصاب اثار په معیاري ژبه لیکل کېږي. په افغانستان کې که څه هم د ښوونځیو په ښوونیز نصاب، غړیزو، انځوریزو او چاپي رسنیو او د حکومت په نورو برخو کې نسبتاً د پښتو ژبې معیاري بڼه کارول کېږي او په پښتونخوا کې هم لږ تر لږه د ادب په چوکاټ کې ډېر لیکوالان یو ډول پښتو کاروي، خو د لر او بر افغان وطن د پښتنو ادبي او لیکنۍ ژبه باید په یوه معیار برابره شي، چې هر اړخیز جامع او ټولمنلي گرامر لیکنې ته لاره برابره شي. اکاډمیکو ادارو ته دا وړاندیز دی، چې د پښتو ژبې د معیاري لیکنۍ بڼې یا معیاري ژبې کېدو لپاره د لرو او برو پښتنو پوهانو د ناستو، غونډو او مجلسونو تابیا وکړي، چې په گډه دغه ستونزه حل کړي.

۵. په لر او بر افغان وطن کې ټول پښتانه لیکوال او ادیبان د پښتو ژبې په واحده املا لیکل نه کوي، نو تر هغې چې ټول پښتانه پوهان د لیکلو په برخه کې املایي وحدت ونه لري پښتو گرامرونه به املایي ستونزې ولري او زده کړه به یې په عام ډول نورو پښتنو او په ځانگړي ډول بهرنیانو ته ستونزمنه وي. د دواړو لوریو اکاډمیکو ادارو دا دنده ده، چې د پښتو ژبې د املایي وحدت لپاره هم عملي هڅې وکړي.

٦. د لر او بر افغان وطن پښتانه پوهان او په ځانگړي ډول د ژبې او ژبنیو څېړنو پوهان دې سره جرگه شي او په یوه اواز دې د پښتو گرامر لپاره د پښتو مرکې (پښتو پښویه) نوم وټاکي ځکه له دې نوم سره ډېر لیکوال او پوهان اشنا دي او که دا نوم علمي ستونزې لري، نو بیا دې ورته بل نوم وټاکي، چې له دې وروسته په پښتو ژبه کې د گرامر هماغه نوم وي. د پښتو گرامر د گرامري نومونو ( اصطلاحاتو) لپاره دې واحده پښتو ترمینالوجي وټاکي او تر څنگ دې یې د پښتو ژبې د الفبا د

۷. تورو کره شمېر هغه ډول چې پښتو ژبه ده او پښتانه یې وایي وټاکي، کـه د کومو غړونو لپاره په عربي الفبا کې توری نه وي ځینې نښې دې ورته وټاکي، د نـړۍ په نورو ژبو کې هم دغه ډول ژبنۍ ستونزې په همدې ډول پای ته رسېدلي دي.

۸. نوي پښتو ګرامرونه که لیکل کېږي، نو پکار ده، چې تطبیقي بڼـه ولـري، د ښوونکو د تدریس او د زده کوونکو د زده کړې میتودونه دې پکې پـه پـام کـې ونیـول شي.

۹. نن سبا د انګرېزي ژبې د زده کړې لپاره ډېر اسـانه، ګټـور او سیسـتماتیک لارښودي ګرامري اثار لیکل شوي، د دغو اثارو له میتودونـو څخـه پـه ګټـه اخیسـتنه کولای شو بهرنیانو ته د پښتو ژبې د زده کړې اسانه او ګټور لارښودي اثار ولیکو، خـو د دغو کارونو مسوولیت باید حکومتي ادارې پر غاړه واخـلي ځکـه دا کـار یـوازې څـو تنه نه نشي کولای.

۱۰. په پوهنتونونو کې که نوي ګرامري اثار لیکل کېږي باید یـو عمـلي بـورډ یې په هر اړخیز ډول وارزوي، چې نوي پکې څه شته که نه، که نوي څه نـه لـري، نـو یوازې د نومونو په بدلون دې تـر دې وروسـته چاتـه د ګرامـري اثـر د چـاپ اجـازه نـه ورکوي.

## مأخذونه


۱. خټک،خالد خان. د پښتو نثر ارتقـا، پښـتو (مجلـه)، پښـتو اکېـډمي پېښـور یونیورسیټي، ۱۹۹٦ ز ، ۱٦-۱۷ مخونه.

۲. رفیع،حبیـب الله. ریـاض المحبـت د پښـتو لـومړنی قـاموسي ریښـه یـې تشریحي ژبدوود، د نواب محبت خـان برېخـي یـاد( د مقـالو ټولګـه)، د سیمه ییـزو مطالعاتو مرکز : کابل، ۱۳۸٦ ل ، ٤٦ ـ ٤۷ مخونه.

۳. نیازی، رفیع الله. په پښتو کې د ګرامر لیکنـې تـاریخي بهیـر، د افغانسـتان علومو اکاډمي: کابل، بهیر مطبعه،۱۳۹۰ل، ۷۸ مخ.

٤. پورتنی اثر، ۷۹ مخ.

۵. خټک، خالد خان . د پښتو نثر ارتقا، پښتو(مجله)، ۱٦مخ.

٦. رښتین زېور، رزغونه. د پښتو ژبې د ګرامر تاریخچه، پښتو څېړنې، د مقالو ټولګه ،د افغانستان د علومو اکاډمي : کابل، دولتي مطبعه. ١٣٥٦ ل، ٢٩٢ مخ.
٧. نیازی، رفیع الله. په پښتو کې د ګرامر لیکنې تاریخي بهیر،٨٢ مخ.
٨. پورتنی اثر،٨۴ مخ.
٩. پورتنی اثر، ٨٧ مخ.
١٠. پورتنی اثر، ٨٩ مخ.
١١. پورتنی اثر، ٩٣ مخ.
١٢. پورتنی اثر، ١٥٦ مخ.
١٣. الهام، محمد رحیم. د هنري والټر بیلیو د پښتو ګرامر ځینې خصوصیتونه ، پښتو چاپي اثار، د سرمحقق خدمتګار په زیار، د اطلاعاتو او کلتور وزارت : کابل ، دولتي مطبعه ، ٨٨- ٨٧٢ مخونه.
١٤. تږی،حبیب الله. د مشرق په اسمان کې د مغرب ستوري، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه: پېښور، دانش خپرندویه ټولنه، ١٣٨٥ل، ٢٧ مخ.
١٥. الهام،محمد رحیم. د هنري والټر بیلیو د پښتو ګرامر ځینې خصوصیتونه، ٨٨- ٨٧٢ مخونه.
١٦. پورتنی اثر، ٧ مخ.
١٧. رحیم، عبدالرحیم . په خارج کې پښتو څېړونکي، پښتو ټولنه : کابل، دولتي مطبعه، ١٣٥٣ل ، ۴ مخ.
١٨. خټک، خالد خان.په پښتو کې د پښتو ژبې لومړی ګرامر،پښتو(مجله)،پښتو اکېډمي پېښور یونیورسیټي، ٢٠٠٦ز، ٢٣ مخ.
١٩. نیازی، رفیع الله. په پښتو کې د ګرامر لیکنې تاریخي بهیر،١٥٩ مخ.
٢٠. پورتنی اثر،١٦٢ مخ.
٢١. رحیم، عبدالرحیم. په خارج کې پښتو څېړونکي، پښتو ټولنه : کابل، دولتي مطبعه، ١٣٥٣ل، ۴ مخ.
٢٢. بخاري، سید عظیم شاه خیال. د پښتو صرف ونحو، یونیورسیټي بک ایجینسي- : لاهور، پاکستان ایجوکېشنل پرېس،١٩٨٣ ز، سریزه، ٣٧ مخ.

۲۳. رښتين زېور، زرغونه. د پښتو ژبې د ګرامر تاريخچه، ۲۹۹ مخ.
۲٤. رښتين زيور، زرغونه. د پښتو ژبې د ګرامر تاريخچه، ۳۰۲ مخ.
۲۵. صميم، محمد اصف. پښتو ګرامري اثار سپېدې (مجله)، دويمه دوره، لومړۍ ګڼه : پېښور، ۱۳٦۹ل، ۳۷ مخ.
۲٦. الهام،محمدرحيم. روش جديددرتحقيق دستور زبان دری، د فرانکلن د نشراتو موسسه:کابل، پوهنې مطبعه،۱۳۴۹ل، ۵-٦ مخونه.
۲۷. هلالي،عبدالحکيم. دپښتو ژبې فونولوجي، دافغانستان علومو اکاډمي: کابل،ښوونې او روزنې مطبعه، ۱۳۷۰ل ۱۴۸- ۱۴۹مخونه.
۲۸. نيازی، رفيع الله. په پښتو کې د ګرامر ليکنې تاريخي بهير،۱۷۰ مخ.
۲۹. رښتين زېور، زرغونه. د پښتو ژبې د ګرامر تاريخچه، ۳۰۳،۳۰۲۰ مخونه.
۳۰. نيازی، رفيع الله. په پښتو کې د ګرامر ليکنې تاريخي بهير،۱۰۲ مخ.
۳۱. پورتنی اثر، ۱۰۲ مخ.
۳۲. پورتنی اثر، ۱۰۵ مخ.
۳۳. پورتنی اثر، ۱۰۸ مخ.
۳٤. تري،حبيب الله . پښتو فعلونه ، وږمه (مجله) ، ۲۲ کال ، دويمه ګڼه ، د ادبياتو او بشري علومو پوهنځی، کابل پوهنتون ، ۱۳۵۷ل .
۳۵. نيازی، رفيع الله. په پښتو کې د ګرامر ليکنې تاريخي بهير،۱۱۲ مخ.
۳٦. پورتنی اثر، ۱۱۸ مخ.
۳۷. پورتنی اثر، ۱۲۱ مخ.
۳۸. پورتنی اثر،۱۹۲ مخ.

څېړنوال ډاکټر عبدالظاهر شکیب

# په افغانستان کې د پښتو ژبې وده او تعلیمي بهیر

**لنډیز:**

تر کومه ځایه چې معلومه ده په افغانستان کې د اکثرت ژبه پښتو ده، له شفاهي ادبیاتو را واخله بیا تر لیکلو ادبیاتو پورې ډېر آثار په پښتو ژبه لرو، چې له نېکه مرغه د دغې ژبې ادبي زېرمه یې ډېره پراخه او وېړه کړې ده، خو دا چې د وخت او حالاتو له امله په دربار کې نه ده پاتې شوې، نو ځکه یې په تعلیمي او تحصیلي ژبه کې تر اوسه پورې ستونزې تر سترګو کېږي، خو دا چې نصاب او دربار ته یې لاره پیدا کړه، نو په ډېر کم وخت کې یې د پام وړ بدلون او پرمختګ وکړ او تمه ده چې دا لړۍ همداسې دوامداره او پرمختللې پاتې شي.

**سریزه:**

کله چې وایو ژبه د پوهولو را پوهېدلو وسیله ده، نو دا خبرې یواځې په وینا نه خلاصه کېږي او نه هم دا تعریف د ټولو ژبو په اړه د تطبیق وړ دی، ځکه که وواېو چې ژبه د پوهولو را پوهولو وسیله ده، نو بیا په کې اشاري ژبه هم راتللای شي او د پښتو ژبې د پخوانې او اوسنې حالت استازې هم کولای شي، خو که وایو چې د افهام او تفهیم یا پوهولو را پوهېدلو وسیله ده، نو بیا دا تعریف لږ پراخېږي او ژبې پر ژبني حقونو سربېره حقوقي حقونه هم پیدا کوي، چې له بده مرغه د تاریخ په اوږدو کې پښتو ژبه له دغه حق نه یا محرومه شوې او یا هم محرومه پاتې شوې ده، دا چې لاملونه یې څه وو نه غواړم پرې بحث وکړم، خو دومره ویلای شم چې د تاریخ په اوږدو کې پښتو ژبې ته ډېر ځله د دربار خواړه ورکړل شوي نه دي او نه یې هم د نورو خویندو او سیالو ژبو په سر د سرکار په خوا کې ځای پیدا کړی دی، دا چې لرو

ډېره یو نیم کاتب ورته کار کړی هغه تر ډېره انفرادي کارونه وو، خو په حکومتي چوکاټ کې لکه څنګه چې په کار وو ورته ځای نه دی ورکړل شوی، نو پر همدې اساس ما په دې مقاله کې په دې او دې ته ورته ارزښتونو باندې په تفصیل سره خبرې کړي، چې د درنو مینه والو پام ورته را اړوم.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت:

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې موږ د پښتو ژبې د رسمي حالت غنا او ځان ساتنه زبات کړو، چې ځومره غنې او ځان ساتې ده، ځکه تر ننه پورې چې پښتو ژبې ځان ساتلی دا یې د درباري پاملرنې له امله نه، بلکې د خپل جوړښت او ګرامري ارزښت او غنا له امله ځان ساتلی، نو پر همدې اساس د دغې غنا ترڅنګ د ژبې په رسمي ارزښت هم خبرې شوي چې څنګه تر ننه پورې ځان ساتلی دی.

## د څېړنې موخې:

د دې څېړنې هدف په دې کې دی چې د پښتو ژبې پر تاریخي سیر باندې بحث کوي، چې څنګه په دربار کې وه، خو بیا یې هم د کارونې موارد کم وو یا بیخي نه وو، همدا راز کوم لاملونه وو چې د دربار مشرانو ورته چندانې توجه نه کوله او ژبې ترې پردۍ شوې.

## د څېړنې پوښتنې:

په دې څېړنه کې تر ډېره لاندې پوښتنې ځواب شوې دي:

- ✓ په تېرو زمانو کې پښتو ژبې د رسمیاتو له پلوه کوم ارزښت درلود؟
- ✓ ولې پښتو ژبې دربار ته لاره پیدا نه کړای شوه یا یې دربار کې ډېره نه کاروله؟
- ✓ د پښتو ژبې د غنا لاملونه کوم دي او څنګه یې تر اوسه پورې ځان ساتلی؟
- ✓ د پښتو ژبې د تعلیمي نصاب بهیر څنګه و او دی؟

او دې ته ورته ځینې کوچنۍ پوښتنې په کې ځواب شوې دي.

## د څېړنې میتود:

په دې څېړنه کې تر ډېره له تحلیلي، تشریحي، توضیحي او تر یو ځایه له

انتقادي میتود څخه استفاده شوې ده.

**اصلي متن:**

پښتو ژبه چې د افغانستان د اکثریت وګړو ژبه ده او د دې هېواد په غرو، رغو او ښارونو کې پرې له زرګونو کلونو راهیسې خبرې کېږي، خو له بده مرغه دغه ژبه تر ډېره بریده یوائې په شفاهي ډول پاتې شوې ده، رسمي او تعلیمي حیثیت یې ډېر وروسته خپل کړی دی، که څه هم په پښتو ژبه کې له سلګونو کلونو راهیسې آثار لیکل شوي دي، خو په تېر مهال کې پښتو ژبې کله هم په سمه توګه د دربار خواږه نه دي لیدلي او نه هم د زده کړې ژبه جوړه شوې وه.

پښتـــنو له ډېرو پخوا زمانو راهیسې پادشاهۍ او شاهنشاهۍ درلودې، خو د خپلې ژبې رسمي حیثیت یې کله هم په سمه توګه نه دی درک کړی، که څه هم د هوتکو په دربار کې به د پښتو ژبې لپاره شعوري هلې ځلې کېدلې، خو د هوتکي دورې رسمي ژبه هم نه شوه، همدا ډول احمد شاه بابا هم د پښتو ژبې یو ستر شاعر او ادیب و او د پښتو ژبې د پرمختګ لپاره یې اوږد پلان درلود، خو د دربار ژبه یې فارسي وه، پاچا د خپل زوی شهزاده سلیمان لپاره پیرمحمد کاکړ د استاد په توګه وټاکه او ده په داسې پښتني روحیه وروزه چې له پاچا کېدو سره سم پښتو رسمي او درباري ژبه کړي، پیرمحمد کاکړ د شهزاده لپاره د معرفة الافغاني اثر ولیکه او د دربار د اړتیا وړ ټول اصطلاحات یې په کې ولیکل او ټول سرکاري اوامر او نواهي یې په کې په پښتو ژبه ځای پر ځای کړل، شهزاده سلیمان د احمد شاه بابا تر مړینې وروسته پاچا شو او پیرمحمد کاکړ خپل معرفة الافغاني چې دده په نامه یې لیکلی و ورته وړاندې کړ، خو د پاچا هي څو میاشتې لا نه وې وتلې چې د پاچا مشر- زوی تیمورشاه ترې په زور سره قدرت ونیو، ورور یې له واکه لیرې کړ او له دې سره د پښتو ژبې د رسمي کېدو هیله هم شنډه شوه. (۱)

له دې وروسته پښتو د امیر شیرعلي خان په دوره کې په رسمي توګه دربار ته ننوتله او د افغانستان رسمي پوځي او عسکري ژبه شوه، د امیر شیرعلي خان په دوره کې د پښتو عسکري اصطلاحات وضع شول او په رسمي توګه په عسکري ژبه کې پښتو اصطلاحاتو ځان ښکاره کړ.

د امیر شیر علي خان په دوهم امارت کې (۱۸۶۹- ۱۸۷۹م) پښتو د لومړي ځل لپاره د حکومت چوکاټ ته داخله شوه او د رسمي کېدو لومړي پړاو ته یې قدم پورته کړ، چې دا د پښتو ژبې لپاره یو انقلابي حرکت و او اکثر پوځي اصطلاحات پښتو شول. (۲)

کله چې په دوهم ځل امیر شیرعلي خان د افغانستان واکمن شو، نو د اصلاحاتو پروګرام په عملي کولو یې پیل وکړ، د کابینې پر جوړولو، د عسکري رتبو پر ټاکلو، د مطبعو په راوړلو، د اخبار پر راویستلو، د ملکي او نظامي ښوونځیو په جوړولو، عصري ښار، عصري سړکونو او نورو په رامنځ ته کولو سربېره یې د پښتو پاللو او رسمي کولو ته هم لاس اوږد کړ، ده لومړی د پښتو نومونو د ټاکلو او ایښودلو لپاره د سید نورمحمد شاه صدراعظم تر مشرۍ لاندې یوه کمېټه جوړه کړه او لارښوونه یې ورته وکړه چې د نومونو په ایښودلو او جوړولو کې د عام فهمۍ اصل په نظر کې ولري، چې د دې کمېټې ډېر مهم او فعال غړی قاضي عبدالقادر پېښوری و.

د امیر د نومونو ایښودلو او اصطلاحاتو جوړولو پروګرام ډېر ژر نتیجه ورکړه او په لومړۍ مرحله کې د توپخانې، پیاده او سورو عسکرو د بولیو درې ټوکه کتابونه له انګرېزي څخه د قاضي عبدالقادر په وسیله په پښتو وژباړل شول او ټولې انګرېزي بولۍ او قوماندې یې په خوږه او روانه پښتو ترتیب کړې چې په عسکري کې یې زده کړه پیل شوه او تر یوه کال وروسته دا ټولې عسکري قوماندې د عسکرو ترمنځ عامې او په عملي ډول دود شوې. د قوماندو تر څنګه یې د دولت د ملکي او عسکري مامورینو نومونه هم په پښتو کېښودل. (۳) د امیر شیرعلي خان د پښتو ریفورمونو لنډیز داسې و چې:

- د صدراعظم او د کابینې د هیئت د غړو لپاره پښتو نومونه جوړ شول لکه لوی ټول مختار د صدراعظم لپاره، لوی مین د باندې، د خارجه وزیر لپاره.
- له سپه سالار نه تر حوالدار پورې د منصبدارانو رتبې په پښتو شوې.
- ټولې نظامي قوماندې او بولۍ په پښتو شوې.
- د نایب الحکومه ګانو لپاره پښتو القاب وضع شول.

په همدغه وخت کې پښتو ژبه د مطبوعاتو ساحې ته هم داخله شوه او د شمس النهار په جریده کې هم د پښتو رسمي او عسکري نومونه د خلکو د خبرتیا

لپاره خپرېدل (۴) د اوسنیو معلوماتو په رڼا کې په افغانستان کې د پښتو ژبې د پرمختګ او په حقیقت کې د ټولنیزو رسنیو ډګر ته د ورداخلېدو لومړنی او اساسي پړاو د (سراج الاخبار افغانیه ) په پاڼو کې د پښتو لیکنو له خپرېدو څخه راپیلېږي. په دغه جریده کې د محمود طرزي په لیکنو کې د لومړي ځل لپاره پښتو یا افغاني ملي ژبې ته د پاملرنې په ستر کار ټینګار وشو، چې محمود طرزي دغه موضوع په پرلپسې توګه په سراج الاخبار کې تعقیب کړه، د سراج الاخبار د دوهم خپرنیز کال په نهمه ګڼه( ۱۲۹۱ لمریز د دلوې ۳ مه - د ۱۹۱۳م کال د جنوري ۲٤مه ) کې محمود طرزي د ( زبان افغاني اجداد زبانها است ) تر سرلیک لاندې د افغانستان د مطبوعاتو په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د پښتو ژبې اهمیت ته تم شو او په خپل هېواد کې یې د خپلې ملي ژبې خواته د پاملرنې لپاره غږ وکړ. په سراج الاخبار کې د پښتو ژبې خپلې خپرونې (شعرونه او نورې لیکنې ) له ۱۲۹۳ هـ ش(۱۹۱٤م ) څخه پیل کېږي چې په دغه برخه کې په سراج الاخبار افغانیه کې د دغو کسانو شعرونه او لیکنې خپرې شوې دي: مولوي صالح محمد هوتک، غلام محی الدین افغان، عبدالهادي داوي، عبدالعلي مستغني او یو شمېر نورو... (۵)

که څه هم په افغانستان کې له ډېرو پخوانیو زمانو څخه ډېر مشهور علماء او روحانیون تېر شوي دي، خو د افغانستان پوهنیز نظام تر نولسمې پېړۍ پورې پر عنعنوي روشونو متکي و او زده کړې په عنعنوي ډول ترسره کېدلې چې وروسته د امیر شېر علي خان او بیا د امیر حبیب الله خان د واکمنۍ په دوره کې د معارف په خپرېدو، د ښوونځیو په تأسیس او د مطبوعاتو په رامنځ ته کېدو سره د نوو آثارو تالیف او چاپ ته لارې چارې هم برابرې شوې. د پوهنې په سیستم کې د امیر حبیب الله خان ډېره مهمه او وياړلې کارنامه، د حبیبې ښوونځي تاسیس و، حبیب الله خان د خپلې واکمنۍ په دریم کال سردار نصرالله خان ددغه ښوونځي امر وټاکه چې په لومړیو کې یې لس تنه هندي او افغاني ښوونکي او ۳۰۰ تنه زده کوونکي درلودل. درسي کتابونه یې د حمایت الاسلام لاهور انجمن له خوا چاپ شوي وو، په نوموړي ښوونځي کې د زده کړو ابتدائیه دوره څلور کاله وه او په ۱۹۰۷ میلادي کال د زده کوونکو لومړۍ دوره له دغه ښوونځي څخه فارغه شوه. (٦)

استاد حبیب الله رفیع په دې اړه لیکي: «کله چې په ۱۹۰۱میلادي کال امیر حبیب الله خان په کابل کې پر تخت کښېناست، نو څو کاله وروسته یې د حبیبې په نامه عصري لېسه جوړه کړه او په دې لیسه کې د پښتو ژبې زده کړه هم پیل شوه، چې اروانباد مولوي صالح محمد کندهاري د لومړۍ پښتو، دوهمې پښتو او دریمې پښتو په نومونو کتابونه ورته تالیف کړل. » (۷)

د غازي امان الله خان د واکمنۍ پر مهال پښتو ژبې ته توجه زیاته شوه کله چې په ۱۳۰٤ لمریز کال د میزان په ۱۹ نېټه کندهار ته راورسېده، نو په خپله لومړۍ وینا کې یې د کندهار خلکو ته وویل: «زه غواړم په پښتو ژبه چې زما محبوبه ده ستاسې سره خبرې وکړم.»

د افغانستان لومړنی اساسي قانون یا اساسي نظامنامه لومړی ځل دده په امر د ۱۳۰۲ لمریز کال د حمل پر ۱۹ په پښتو تدوین او نافذ شوه او هم دده په ارشاد په معارف کې د ښوونځیو درسي کتابونه په پښتو اړول پیل شول او ورپسې په پښتني سیمو کې نه یوازې پاچا او ملکې په پښتو ژبه ویناوې کولې، بلکې هغو سیمو ته شاهانه فرمانونه هم په پښتو لېږل کېدل او هم په اخبارونو کې پښتو زیاته شوه او د ۱۳۰۳ لمریز کال د جوزا پر دریمه یې امر وکړ، چې د کندهار د سیمې په اخبار (طلوع افغان) کې دې پښتو هم زیاته شي، چې ددې شاهانه هڅو خبرونه او موضوعات د هغه وخت په اخبارونو کې خپاره شوي دي.

همدارنګه د اعلیحضرت امان الله خان په وخت کې د پښتو ژبې د علمي پالنې او روزنې او پرمخ بیولو په لار کې یوه ډېره مهمه شاهانه هڅه په شاهي ارګ کې د پوهانو یوه علمي او تحقیقي ټولنه جوړېدل وو، دا علمي ټولنه په ۱۳۰۱ لمریز کال د ارګ په شمالي برج کې د (مرکه پښتو) په نامه جوړه شوه، چې لومړنی مشر یې د هغه وخت لوی عالم مولوي عبدالواسع اخونزاده و، دغې مرکې په هغه وخت کې دوه مهم آثار «یوازینۍ پښتو» او «پښتو پښویه » په نامه خپاره کړل. (۸) او هم یې د هېواد لومړنۍ اساسي نظامنامه په پښتو ترتیب کړه، چې بیا په پارسي هم وژباړل شوه. (۹)

پښتو مرکې د پښتو لغاتو د راغونډولو په کار ګوتې پورې کړې او د هرې سیمې څخه یې سوچه پښتو لغات او محاورې راغونډې کړې او په دوو لویو قاموسونو او د

یواځینۍ پښتو او پښتو پښویه په کتابونو کې یې خوندي کړل. ددې لپاره چې سوچه پښتو کلمې راټولې شي، نو د مرکې لپاره یې له هرې سیمې څخه پوهان راوستل او د پښتو په لیکلو بوخت شول.

پښتو مرکې وظیفه درلوده چې پښتو ژبه د ترویج او رسمي کېدو په لومړۍ مرحله کې په بشپړ او سوچه ډول وړاندې کړي او د عربي، دري او نورو ژبو له اغېزې نه پاکه او یوه سوچه پښتو د پښتنو د افهام او تفهیم وسیله شي. (۱۰)

د اماني غورځنګ له پای ته رسېدو سره سم پښتو مرکه هم له منځه ولاړه او هغه ادبي هڅې چې دغې مرکې د پښتو د سوچه تابه او بشپړتیا لپاره پیل کړې وې ختمې شوې. (۱۱) خو وروسته بیا د کندهار ادبي انجمن جوړ شو او په ۱۳۱۱ لمریز کال په کندهار کې د طلوع افغان اخبار ټول په پښتو واوښت چې استاد عبدالحی حبیبي ددغه اخبار چلوونکی و او د همدې کال په پای کې د کندهار ادبي انجمن پښتو مجله هم راویستله. (۱۲)

د لومړي ځل لپاره د افغانستان په تاریخ کې په ۱۹۲۲میلادي کال د پوهنې وزارت تاسیس شو، سردار محمد سلیمان د افغانستان د پوهنې د لومړي وزیر په توګه وټاکل شو، همدارنګه د ۱۲۹۹ او ۱۳۰۰ لمریز کلونو ترمنځ د کابل ښار په شپږ کروهۍ او د ښار په ناحیو کې دوه ویشت ښوونځي پرانیستل شول، همدارنګه د افغانستان په بېلابېلو ولایتونو کې ۳۲۲ ښوونځي هم جوړ شول، د امان الله خان د واکمنۍ پر مهال د نجونو زده کړو ته هم خاصه توجه وشوه او د نجونو لپاره د مستوراتو ښوونځی پرانیستل شو او همدا ډول زده کوونکي د زده کړو لپاره بهرنیو هېوادونو ته واستول شول. په همدغه ۱۹۲۲میلادي کال په کابل کې یو دارالمعلمین او د امانیه لیسه هم جوړ شول. (۱۳)

له اماني غورځنګ څخه وروسته د حبیب الله کلکاني په لس میاشتنۍ دوره کې د اماني دورې اکثره لاسته راوړنې او ښوونیز – روزنیز (تعلیمي)، فرهنګي او ټولنیز نوښتونه بدعت وبلل شول او هغه یې له یوې مخې لغوه کړل. (۱۴) خو د محمد نادرشاه د خپل حکومت په دوره کې د پښتو د رسمي کېدو فرمان صادر شو او بیا یې زوی محمد ظاهر شاه هم په ۱۳۱۵لمریز کال د یو فرمان په ترڅ کې پښتو ملي ژبه اعلان کړه او هر مامور مکلف شو چې پښتو زده کړي. (۱۵)

د محمد نادرشاه او بیا د ظاهرشاه په دوره کې د کندهار د تنظیمه رئیس وزیر محمد گل خان مومند هڅې هم د پښتو ژبې د پیاوړتیا، رسمي کېدو او علمي کېدو په باب د یادولو وړ دي.

د ۱۳۱۱ کال د لړم په لومړۍ نېټه د کابل پوهنتون د طب پوهنځی په جوړېدو سره تاسیس شو چې وروسته بیا دغه پوهنتون د ځینو نورو پوهنځیو له رامنځ ته کېدو سره پراخ شو او د ادبیاتو پوهنځي پښتو څانگه هم په کې تاسیس شوه.

په ۱۳۱٦ ش کال د کندهار ادبي انجمن او د کابل ادبي انجمن د یوځای کېدو په پایله کې پښتو ټولنه جوړه شوه چې پښتو ټولنې په خپل وار سره د پښتو ژبې د پیاوړتیا او علمي کېدو لپاره نه هېرېدونکې هلې ځلې وکړې، دغې ټولنې دنده درلوده چې پښتو ژبې او ادب ته تحول ورکړي، د پښتو ژبې ولسي- پانگه د هېواد له گوټ گوټ څخه راټوله کړي، د یوې عصري او علمي ژبې په حیث د پښتو ژبې د راژوندي کولو لپاره کار وکړي، د کابل مجلې، کابل کالنۍ او نورو هېوادنیو جرایدو په وسیله پښتو ژبې او ادب ته ترقي ورکړي او نړۍ ته د دغې ژبې علمي حیثیت وروپېژني.

کله چې ادبي انجمن او پښتو انجمن سره یو شول او په پښتو ټولنه واوښتل نو د پښتو ټولنې لپاره نوی تشکیل جوړ شو، غړي یې زیات شول او د کارونو د چټکۍ لپاره په کې څلور گونې څانگې جوړې شوې لکه: د تالیف او ترجمې څانگه، د ادبیاتو څانگه، د نشریاتو څانگه، د پښتو د لغت، صرف او نحوې څانگه. (١٦) په ۱۳۱۸ ل کال د مطبوعاتو مستقل ریاست جوړ شو او د پخواني ادبي انجمن څانگې د دې ریاست جز شوې او د دې انجمن د ژبې مدیریت د پښتو ټولنې په لوی مدیریت کې ضم شو چې دا وخت یې تشکیل په دې ډول و، د ژبې مدیریت، د تالیف او ترجمې مدیریت، د قواعدو د کورسونو د تفتیش مدیریت. همدارنگه په ۱۳۱۹ ل کال د پښتو ټولنې کارونه تر پخوا نور هم پراخه شول، د کابل راډیو لپاره یې پښتو مضامین تهیه کول او د کورسونو چارې یې هم پر غاړه وې. په ۱۳۲۰ ل کال د پښتو ټولنې تشکیل لاپسې پراخ شو او د پښتو اریانا دایرة المعارف مدیریت، د نقد او تبصرې مدیریت او سیار مدیریت پرې ور زیات شول او د پښتو ټولنې د کورسونو څانگه هم پراخه شوه. (۱۷)

پښتو ټولنې او بیا وروسته د ادبیاتو پوهنځي په ډېرو برخو کې پښتو کتابونه خپاره کړل او د کلاسیکو شاعرانو کلیات او دیوانونه یې په کراتو چاپ کړل، دوی همدارنګه د ښوونځیو لپاره تدریسي کتابونه هم برابر کړل چې د پښتو دغه حرکت د پوهنې له پراختیايي حرکت سره جوخت روان و، په معارف کې مسلکي ښوونکي له دارالمعلمینونو، عالي دارالمعلمینونو او ادب پوهنځیو نه فارغ شول او د پښتو په تعمیم او تدریس کې یې برخه واخیسته. (۱۸)

لنډه دا چې پښتو ټولنې د پښتو ژبې او ادب د علمي ډګر په پیاوړتیا کې بې سارې هڅې وکړې او د علمي سیمینارونو او غونډو د جوړولو تر څنګ یې د علمي آثارو او کالنیو په تدوین، تالیف، ژباړلو، د فولکلوري موادو په راټولولو، د پښتو ژبې د تاریخي، کلتوري او نورو قلمي او شفاهي آثارو راټولولو او خپرولو، د زیري جریدې، کابل مجلې، کابل کالنۍ، د هېواد جریدې، آریانا دایرة المعارف په خپرولو او د مشاعرو او ادبي غونډو د جوړولو په برخه کې مؤثر ګامونه واخیستل.

په ۱۹٤۰ میلادي کال په افغانستان کې د کابل راډیو جوړه شوه او خپلې خپرونې یې پیل کړې د دې راډیو نوم یې (پښتون غږ) ایښی و، ځکه چې زیاته برخه یې د پښتو د زده کړې لپاره وقف شوې وه او پښتو درسونه به په کې خپرېدل، همدارنګه تر ۱۹۳۷ میلادي کال وروسته د ټول افغانستان د زده کړې ټول کتابونه پښتو شول او د افغانستان ټول اوسېدونکي مکلف شول، چې په پښتو زده کړې وکړي، خو څرنګه چې دا پروګرام غیرطبیعي او بې بنیاده و په څو کلونو کې ناکام شو او بېرته د ښوونځیو کتابونه د پښتنو لپاره پښتو او د دري ژبو لپاره دري شول. (۱۹)

د ۱۳٤۳ ل کال په اساسي قانون کې ۳۵ مه ماده د پښتو ژبې د پیاوړتیا لپاره وضع شوه، چې په کې راغلي وو: «دولت مکلف دی چې د ملي ژبې پښتو د پیاوړتیا لپاره کار وکړي.» (۲۰)

د پښتو ټولنې د څه له پاسه څلوېښت کلن خدمت وروسته د افغانستان د علومو اکاډمي رامنځ ته شوه او پښتو ټولنه ددغې اکاډیمي یوه برخه شوه چې اوس هم د ژبو او ادبیاتو د علمي مرکز د یو انستیتوت په توګه د پښتو ژبې د پیاوړتیا او علمي څېړنو کارونو پرمخ رون دي، د دې ترڅنګ په ۱۳٥٤ ل کال د پښتو څېړنو

نړیوال مرکز هم رامنځ ته شو چې په خپل وار یې د پښتو ژبې د پیاوړتیا لپاره د قدر وړ خدمتونه کړي. په همدغه وخت کې د پښتو ژبې د پیاوړتیا او پرمختیا مرکز هم د اطلاعاتو او کلتور وزارت په چوکاټ کې د پښتو ژبې د علمي کولو لپاره هلې ځلې کړي دي.

کله چې په ۱۳۵۷ لمریز کال د ثور په اوومه د افغانستان د خلق دیموکراتیک گوند قدرت په لاس کې واخیست او د علومو اکاډمي جوړه شوه نو د پښتو ژبې د زده کړې هغه اجباري درسونه او کورسونه چې په پخوا وختونو کې رواج شوي وو لغوه شول (۲۱) چې په اوس وخت کې د افغانستان د علومو اکاډمي په یوه بین المللي مرکز او د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو پر انستیتوب سربېره د دې اکاډمي په چوکاټ کې د پښتو ژبې په علمي - تحقیقي کارونو بوخت دي، د بشري، طبیعي او اسلامي علومو په برخه کې هم د څېړونکو له خوا په پښتو ژبه یو شمېر آثار تالیف او خپاره شوي دي.

کله چې په افغانستان کې جنگونه پیل شول نو د افغانستان علمي او تعلیمي بنسټونه هم چې نوي نوي یې پاخه قدمونه اخیستل یو ځل بیا ببرته د ړنگېدو پر خوا ولاړل او د پښتو ژبې د پیاوړتیا او پرمختیا دغه لړۍ په دولتي چوکاټ کې ټکنۍ شوه. که څه هم په دې دوره کې د افغانستان د رژیم او مجاهدینو د رژیم له خوا د ادبیاتو ډېره برخه تولید شوه او پښتو آثار هم ولیکل شول، خو تر ډېره په کې د کیفیت پر ځای کمیت ته ډېر اهمیت ورکړل شوی و.

همدا ډول د مجاهدینو په دوره کې د پوهنې د ودې او پراختیا په لاره کې د ښوونې او روزنې د پروگرامونو د پراختیا لپاره کوم ځانگړي گامونه نه دي اخیستل شوي او دوی د پوهنې د عامېدو پر ځای پر کورنیو جنگونو اخته شوي دي، همدا ډول د طالبانو په دوره کې د طالبانو مشرانو عقیده درلوده چې دینې زده کړې اصل او عصري زده کړې یوه دوهمه درجه کار دی، نو د ښوونې او روزنې په تدریسي نظام کې یې بدلون راوست په نصاب کې یې دیني علوم زیات کړل او عصري علوم یې راکم کړل او د نجونو پر زده کړو یې بندیز ولگاوه، همدارنگه د پوهنې او دولت په ټولو چارو کې یوازې دیني علماوو د واک او مشرۍ حق درلود، خو بیا هم په دغه

دوره کې تر ډېره د دولت رسمي کارونه د پارسي ژبې ترڅنګ په پښتو هم زيات شول او پښتو ژبې د ارګ په داخل کې هم څه ناڅه ځای ونيو.

کله چې په ۲۰۰۱ ميلادي کال نړۍ د يو ستر بدلون سره مخامخ شوه او امريکا د پښتنو پر سيمه رانازله شوه او ددې تر څنګ د نوې ټيکنالوژي چټک پر مختګ هم د دې زمينه برابره کړه، چې پښتو ژبه هم د نړۍ له دې پرمختګ سره سياله شي، نو د پښتو ژبې د ودې او پراختيا ټکنی بهير له ۲۰۰۱ ميلادي کال څخه وروسته په فوق العاده توګه بدلون وکړ او پښتو يو ځل بيا په نړيوال کلي کې د ژبو په منځ کې مطرح شوه، د انټرنټ ژبه شوه، د نوې ټکنالوژي اکثره تخنيکونه او کاريالونه په پښتو ژبه کې رامنځ ته شول، د علومو په بېلابېلو برخو کې پښتو کتابونه، قاموسونه او نور وليکل شول، همدارنګه په پښتو ژبه کې په سلګونو انټرنيټي سايټونه او ويبلاګونه رامنځ ته شول پښتو هم نور له خطاطۍ سره تقريباً خدای پاماني وکړه او تر ډېره نوې او هنري ليکبڼې او فوانيټونه په پښتو کې جوړ شول چې هر چا پرې له خپل ذوق سره سم په کمپيوټر کې ليکنې پيل کړې، همداشان په همدې وخت کې پښتو د ګوګل ژبه هم شوه، د پښتو ژبې ډېر کانالونه په يوټيوب کې رامنځ ته شول، ويب ټي وي ګان هم جوړ شول او پښتو ژبه په نړيوال کلي کې د يوې مطرح ژبې په توګه ياده شوه.

څرنګه چې زموږ موضوع په افغانستان کې د پښتو ژبې په رسميت او ښوونيز نظام پورې محدوده ده چې په دې دوره کې د افغانستان نوی اساسي قانون هم تصويب شو او په دې قانون کې پښتو د افغانستان رسمي ژبه ياده شوه، ددې قانون په شپاړسمه ماده کې پښتو د دري ژبې تر څنګ د افغانستان رسمي ژبه ښودل شوې او دولت مکلف شوی چې د افغانستان د ټولو ژبو لپاره متوازن کار وکړي، همدارنګه د افغانستان ملي سرود د پخوا په څېر په پښتو ژبه تصويب شو، د زده کړو په برخه کې ددې اساسي قانون دري څلوېښتمه ماده وايي: «دولت مکلف دی چې په ټول افغانستان کې د متوازن معارف د عاملولو او د منځنيو اجباري زده کړو د تامين لپاره اغېزمن پروګرام طرح او تطبيق کړي او د مورنيو ژبو د تدريس لپاره په هغو سميو کې چې پرې خبرې کېږي، لاره هواره کړي. » (۲۲)

له ۲۰۰۱ميلادي کال څخه وروسته که څه هم د افغانستان د نوي حکومت په اساسي قانون کې د پښتو ژبې د عامېدو او پراختيا لپاره ځانګړې مادې موجودې وې، خو بيا هم په دولت کې يو شمېر ځانساتو پښتنو د پښتو ژبې لپاره عملي هلې ځلې په دې وجهه نه کولې چې څوک پرې د تعصب ټاپه ونه لګوي، خو ددې په اړخ کې يو شمېر غير پښتنو لوړ پوړو دولتي چارواکو په ښکاره له پښتو ژبې سره د تعصب لړۍ پيل کړې وه چې دې تعصب يو شمېر پښتانه ځوانان راويښ کړل او د پښتو ژبې د عامېدو لپاره يې عملي هلې ځلې پيل کړې، دوی د قانون په چوکاټ کې د خپلې ژبې د ودې لپاره لاس په کار شول، پښتانه چارواکي يې راوننګول او اړوند وزارتونه يې مجبور کړل چې د پښتو ژبې ويونکو ته خپل حق ورکړي، د پښتنو ماشومانو لپاره په مورنۍ ژبه د زده کړو زمينه برابره کړي او هم په دولتي چوکاټ کې د دري ژبې ترڅنګ پښتو ته هم په مساوي توګه حق ورکړي چې د دوی دغه هڅې تر ډېره بريالۍ وې، همداډول له ۲۰۰۱ميلادي کال راوروسته د دولت په سطحه په سلګونو پښتو ښوونځي رامنځ ته شول، په ښوونځيو کې دري او پښتو ټولګي سره بېل بېل جوړ شول او د لکونو ماشومانو لپاره په خپله مورنۍ ژبه د زده کړو اسانتياوې برابرې شوې. چې موږ به د تعليم په برخه کې د افغانستان د پوهنې وزارت نوي ارقام چې په دې برخه کې موجود دي، دلته په ډېر لنډيز سره راوړو:

د ۲۰۱۸ميلادي کال په پيل کې په افغانستان کې ټول ۱۷۸۵۹ ښوونځي موجود وو، چې ٦۳۸۱ يې د هلکانو، ۲۷۱۲ يې د نجونو او ۸۷٦٦ ښوونځي مختلط وو، چې شاوخوا ۲۳۱۳۹۱ ټولګي يې درلودل او ۹۳۸۳۹۳۵ تنه زده کوونکو په کې درس وايه، چې ۵۸۱۹۷۸۵ نارينه(٦۲%) زده کوونکي او ۳۵٦٤۱۵۰ تنه يې ښځينه(۳۸%) زده کوونکي وې. همدارنګه په خصوصي مکتبونو کې هم ٤۲۷۷۳۱ تنه زده کوونکو درس وايه، چې ۳۰۲۵۰۰ يې هلکان او ۱۲۵۲۳۱ يې نجونې وې. د ۲۰۱۸ کال تر پايه د معارف وزارت ۲۵۹٤۵۱ معلمين او اداري کارکوونکي درلودل.

څرنګه چې اوس هم د افغانستان په بېلابېلو سيمو کې ناامني ده او په ځانګړي ډول د پښتنو سيمې نا امنه دي، نو ددې نا امنيو په وجه شاوخوا ۱۰۵۱ ښوونځي بند دي او شاګردان ورته نه ځي. (۲۳) او همدارنګه ٤۲ % ښوونځي يې ودانۍ نه لري او زده کوونکي يې په خېمو او کرايي کورونو کې زده کړې کوي. (۲۴)

په افغانستان کې د ۲۰۱۷میلادي کال تر پایه شاوخوا ۳۵ دولتي او ۱۲۲ خصوصي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو مؤسسو وجود درلود چې ٦۲۲ پوهنځي یې درلودل او د دې تر څنګ ۹ روغتیایي انستیتوتونه هم موجود وو، چې د محصلینو شمېر یې ۱۸۲۳٤٤ و چې د ۱٤۷۷٦ تنه استادانو له خوا په کې تدریس کېده چې ۱۷۹٤ تنه یې ښځینه استادانې وې. (۲۵)

افغانستان د پنځه دېرش دولتي پوهنتونونو له ډلې دا مهال ۲۹ پوهنتونونه د پښتو څانګې لري چې هر کال ترې شاوخوا ۲۰۰۰ محصلین فارغیږي، همدارنګه په یو شمېر شخصي پوهنتونونو کې هم د پښتو څانګې شته، دوی هر کال فارغان ورکوي، دغه فارغان د خپلې تحصیلي دورې په پای کې مونوګرافونه لیکي چې دغه مونوګرافونه ټول د پښتو ژبې، ادب، کلتور، فرهنګ او د پښتنو د تاریخي هویت په باره کې وي، که موږ له دغو څه له پاسه دوه زره فارغو زده کوونو څخه سل تنه یې لیکوالان وګڼو، نو دا ویلای شو چې هر کال په افغانستان کې د پښتو ژبې شاوخوا سل تنه لیکوال نوي روزل کېږي او د ادب ډګر ته راووځي چې د پښتو ژبې لپاره یو ښه زېری دی.

همداډول په افغانستان کې ډېرې دولتي او شخصي رسنۍ هم فعالي دي چې اکثریت یې پښتو خپرونې کوي چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د نوو معلوماتو له مخې ۲۰۳ تلویزیوني چینلونه، ۳٦٦ راډیو ګانې، ۷۲ ورځپاڼې، ۳۵۲ اونیزې، ۷۵ میاشتنۍ مجلې، ٥٤ مهالنۍ خپرونې، ۷۳ خبري اژانسونه، ۳۲ درې میاشتنۍ مجلې، ۲۳۹ جریدې، ۱۳۹ کیبلي شبکې فعالې دي چې اکثریت یې یا یواځې په پښتو ژبه دي او یا هم پښتو خپرونې په کې موجودي دي.

د دې تر څنګ دا مهال په افغانستان کې ۱٤۲ دارالترجمې، ۲۵ خپرندوې ټولنې، ۱۳۹ خصوصي مطبعې فعالیت لري چې د پښتو ژبې په پیاوړتیا او پراختیا کې یې خپل مهم نقش لرلی دی. (۲٦)

که څه هم اوس مهال د دولت په کچه پښتو ژبه د رسمي او ښوونیز حیثیت خاونده ده، خو ددې تر څنګ یو شمېر وړاندیزونه هم لرم چې دلته ورته په لنډه توګه اشاره کوم:

ژبه د یو ملت د ملي هویت وثیقه ده، کوم ملتونه چې ژبه نه لري، هغوی ډېر ژر خپل ملي هویت او پېژندگلوي هم له لاسه ورکوي، نو پر دې اساس پښتانه باید تر هر څه و راندې د خپلې پېژندگلوي او ملي هویت د بقا لپاره لاس په کار شي او د دې کار لپاره اړینه ده چې دوی له خپلې ژبې سره هغه ډول چلند وکړي، تر څو د دوی ژبه د نړۍ د نورو ولسونو په څېر علمي او دکار روزگار ژبه شي چې دلته یې ځینو ستونزو ته په لنډ ډول اشاره کوم:

پښتو ژبه که څه هم د افغانستان په اساسي قانون کې تسجیل شوې چې د افغانستان رسمي ژبه ده، خو بیا هم دولت او په ځانگړي ډول پښتنو د خپلې ژبې د حیثیت او پرمختگ لپاره هغه څه چې اړین دي نه دي کړي، نو لازمه ده چې دولت حد اقل خپل پښتانه مامورین په پښتو لیکلو مکلف کړي او همدارنگه عام پښتانه باید د خپلې ژبې له اهمیت او ارزښت څخه خبر کړای شي. همدارنگه ټول پښتانه مامورین دې خپل دفتري کارونه، مکاتیب او راپورونه په پښتو ژبه تهیه او وړاندې کړي او ددې تر څنگ دې د پښتنو مامورینو لپاره د دفتري اسنادو او مکاتبو لارښودونه په پښتو ژبه تیار کړل شي.

دولت دې له اساسي قانون سره سم د پښتنو ماشومانو لپاره په مورنۍ ژبه د زده کړو پوره پوره زمینه برابره کړي، په ښوونځیو او پوهنځیو کې دې د پښتو ژبې تدریس عام کړل شي او د زده کوونکو لپاره دې په مورنۍ ژبه د زده کړو مواد برابر کړل شي.

دولتي رسنۍ که هغه تلویزیون دی، که راډیو ده، چاپي رسنۍ دي او که انټرنیټي پاڼې دي، له اساسي قانون سره سم دې د پارسي ژبې تر څنگ په پښتو ژبه هم په خپرونو مکلف کړل شي.

زموږ اکثره دیني آثار په عربي او یا هم په پارسي ژبه دي او پښتو ژبې ته په مذهبي زده کړو کې کمه توجه شوې ده، نو لازمه ده چې دیني آثار دې د زده کوونکو لپاره په پښتو ژبه تهیه شي او له دین سره دې ژبه تړلې ارزښت وگڼل شي.

موږ اکثر پښتانه وینو چې په عامو چارو او همدارنگه په افهام او تفهیم کې د خپلې ژبې پر ځای بله ژبه کاروي، حتی دوه پښتانه یو بل ته لیکونه په بله ژبه لیکي، نو لازمه ده چې ټول پښتانه خپلې ورځنۍ چارې په خپله ژبه تر سره کړي.

د پښتنو ټول علمي بنسټونه دې د پښتو ژبې ځینې ژبپوهنیزې ستونزې او همدارنګه د املا په برخه ستونزې حل کړي او د یوې معیاري ژبې د رامنځ ته کولو لپاره دې ټول علمي بنسټونه په ګډه کار وکړي او ټول پښتانه دې په یوې واحدې معیاري ژبې لیک وکړي، نه دا چې هر لیکوال په خپله لهجه لیکنه وکړي.

## مأخذونه:


۱- حبیب الله رفیع، ژبپالنه، دوهم چاپ، مومند خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹٤ ل کال، ۱٤۲- ۱٤۳ مخونه.

۲- پښتو او دفتر په دوو وروستیو پېړیو کې، ، پښتو چاپ آثار ( د مقالو مجموعه ) ټولونه او سریزه د څېړندوی عبدالله بختاني خدمتګار،کابل، ۱۳۵۷ ل کال، ٤۲ ـ ٤٤ مخونه.

۳- حبیب الله رفیع، ژبپالنه، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، ګوندي مطبعه، کابل، ۱۳٦۱ ل کال، ٤٦- ٤۷ مخونه.

۴- حبیب الله رفیع، پښتو خپرونې، دوهم چاپ، د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت، کابل، ۱۳۹٤ ل کال، ۱ مخ.

۵- خدمت سراج الاخبار در پېشرفت پشتو، پښتو چاپ اثار ( د مقالو مجموعه ) ټولونه او سریزه د څېړندوی عبدالله بختاني خدمتګار،کابل، ۱۳۵۷ ل کال، ۱۹- ۳۲ مخونه.

٦- پوهنوال دکتور حبیب پنجشیری، د افغانستان پوهنه د تاریخ په بهیر کې، د سید محی الدین هاشمي ژباړه، کابل پوهنتون د افغانستان د معلوماتو مرکز، ۲۰۱۷ م کال، ۱۰ مخ.

۷- حبیب الله رفیع، ژبساتنه، ۱٤٤ مخ. ۱

۸- مرکه د پښتو ، عبدالروف بېنوا، پښتو چاپ اثار ( د مقالو مجموعه) ټولونه او سریزه د څېړندوی عبدالله بختاني خدمتګار،کابل، ۱۳۵۷ ل کال، ۱ ـ ۱٦ مخونو پورې.

۹- حبیب الله رفیع، ژبپالنه، ۸۹ مخ.

۱۰- حبیب الله رفیع، ژبپالنه، ۲٤ مخ.

۱۱- حبیب الله رفیع، ژبپالنه، ٦۹ مخ.

۱۲- حبیب الله رفیع، پښتو خپرونې، دوهم چاپ، ۱ مخ.

۱۳- پوهنوال دکتور حبیب پنجشیری، د افغانستان پوهنه د تاریخ په بهیر کې ، ۲٦- ۲۷ مخونه.

۱۴- پوهنوال دکتور حبیب پنجشیری، د افغانستان پوهنه د تاریخ په بهیر کې ، ۳٦- ۳۷ مخونه.

۱۵- حبیب الله رفیع، ملي کرښه، د امان کتاب خپرولو اداره، کابل، ۲۰۱۷ م کال، ۱٤۰ مخ.

۱٦- حبیب الله رفیع، ژبپالنه، ۱۰۱- ۱۰۲ مخونه.

۱۷- حبیب الله رفیع، ژبپالنه، ۱۰۲- ۱۰۳ مخونه.

۱۸- د پښتو ژبې د ودې اړتیا او لارې چارې، د مقالو ټولګه، د پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړمقاله ، د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنه، جرمنـي، ۱۹۹۹ م کال، ٤۰ مخ.

۱۹- حبیب الله رفیع، ژبساتنه، ۱٤۵- ۱٤٦ مخونه.

۲۰- حبیب الله رفیع، ملي کرښه، د امان کتاب خپرولو اداره، کابل، ۲۰۱۷ م کال، ۱٤۱ مخ.

۲۱- پوهنوال دکتور حبیب پنجشیری، د افغانستان پوهنه د تاریخ په بهیر کې ، ۵۵ مخ.

۲۲- د افغانستان اساسي قانون، ۱۳۸۲ ل کال، ۲۰ – ۲۱ مخونه.

۲۳ - http://moe.gov.af/fa/page/۱۸۳۱/۳۰۳۱

۲۴- د نشراتو له ریاست څخه د ۱۳۹٦ کال تر پایه د پوهنې وزارت ګزارش.

۲۵ - http://cso.gov.af.Education.pdf

۲٦- د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له رسمي معلوماتو څخه چې ددې وزارت له ویاند محمد صابر مومند څخه تر لاسه شوي دي.

سرمحقق ډاکټر خلیل الله اورمړ

# مزدک او مزدکیان

## لنډیز:

که د خپل هېواد تاریخ ته ځیر شو، نو ډېر ځله هر سیاسي بدلون چې راغلی په شکل د اشکالو په کې دیني او تقدسي مسایل لاس لري، په دې معنا بدلون د دین په نامه راغلی خو وروسته سیاسونو په کې خپله ځېره ځرګنده کړې ده، مزدکیه هم همداسې یو مسئله ده، په دې معنا مزدکیه یوګنوستیک یو مذهبي غورځنګ و، چې تر ډېره یې پیاوړي ټولنیز مفاهیم لرل او په دې وسیله یې د قباد په حکومتي دوره کې په ایران کې ستر انقلابونه وزېږول، چې تر ډېره له سوسیالیستي افکارو ځخه اغېزمن وو، خو دا چې د قباد حکومت ختم شو، نو ډېر ژر ورسره دا سیستم هم په بې رحمانه ډول له منځه لاړ.

په دې مقاله کې موږ دا او دې ته ورته مسایل رانغاړلي چې ستاسې توجه ورته را اړوم.

## سریزه:

که له مزدک او مزدکیانو یې راواخلې او بیا تر پېر روښان او له پېر روښانه واخله بیا تر ننه پورې په افغانستان کې چې کوم لوی بدلون راغلی د دین او مذهب په ادرس ترسره شوی، البته د دې معنا دا نه ده چې ګواکې زموږ دین د جنګ او جګړو دین دی، بلکې دین د ورورګلوۍ، اخوت او انسانیت دین دی او په ټولې نړۍ کې د بشر خیر ښېګڼه غواړي، خو افراد دي چې دین یې وسیله کړې او ناسمه استفاده یې ترې کړې ده.

ما په دې مقاله کې لومړی دیني مسایلو ته نغوته کړې او بیا مې د مزدک او مزدکي مسایلو په اړه پوره جزیات وړاندې کړي، چې کوم دي، څنګه منځ ته راغلل، څنګه له منځه لاړل او څه یې پرېښودل، موږ ته یې د لوستلو ګټه څه ده؟

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت:**

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې له مزدک څخه دوې پېړۍ وړاندې د زرتشت بونده په نامه یو سړی و او د فسا خلکو ته یې د دریست په نامه دین جوړ کړ او هغه یې ډېر عام کړ او په دې توګه یې خلکو ته وښوده که یو څوک په انفرادي توګه هم وغواړي لوی کار کولای شي او حتا انقلاب راوستلای شي.

**د څېړنې موخه:**

د دې څېړنې موخه په دې کې ده چې د مزدک دین په اړه موږ ته معلومات را کوي چې د پخوانیو ادیانو په څېر د روښنایي او تیارې په اړه ژور بحثونه کوي، خو دا بحثونه د پخوانیو ادیانو په څېر په پټو سترګو حکم نه کوي چې دا ومنئ او دا رد کړئ، بلکې په دې کې انسان د منطق پوخوالي ته رسوي او دا واک درکوي چې څه باید وکړای شي.

**د څېړنې پوښتنې:**

په دې څېړنه کې تر ډېره لاندې پوښتنې ځواب شوې دي:

- ✓ مزدک څه شی دی؟
- ✓ چا ته مزدکیان وایي؟
- ✓ ایا مزدک هم یو جبري او تحمیلي دین دی یا د کوم دین پلویان دي؟
- ✓ په مزدکیزم کې د رڼا او تیارې بحث څنګه دی؟

**د څېړنې میتود:**

په دې څېړنه کې تر ډېره له تشریحي، تحلیلي او توضیحي میتود څخه استفاده شوې ده.

**اصلي متن:**

**مزدک:**

مزدکیه یو ګنوستیک (Gnosticism) مذهبي غورځنګ و چې پیاوړې ټولنیز

مفاهیم یې درلودل او د قباد د حکومت په دوره (۴۸۸- ۵۳۱م.)کې یې په ایران کې انقلابي پاڅونونه منځ ته راوړل چې سوسیالیستي ماهیت یې درلود، خو د قباد د حکومت په پای کې عمدتاً د قباد د زوی او ځایناستي نوشېروان د هڅو او اقداماتو په پایله کې نوموړی غورځنګ په وحشیانه توګه له منځه یوووړل شو. دې پوپولیستي (Populism) او مساوات غوښتونکی غورځنګ په خپل حادترین شکل کې د شتمنۍ د منصفانه توزیع غږ پورته کاوه او د هغه د خنډ لرې کولو غوښتونکی و چې د امتیاز لرونکو طبقو په لاس کې د مالکیت او ښځو د تمرکز لپاره ایجاد شوي وو او په سر کې یې له نسا څخه یو سړی و او وایي چې د فارس له استخر څخه و. له مزدک څخه دوه پېړۍ دمخه د «زرتشت بونده ( بوندس) »په نامه سړی چې د خرمګان زوی د پسا(فسا) له خلکو څخه چې معاني و، د«دریست دین»په نامه یې یو آئین یې ایجاد کړ او مزدک چې د عمل سړی و، دا آئین یې رواج کړ. د مزدک په اړه ډېر لږ معلومات په لاس کې دي.

هغه د بامداد زوی دی، طبري هغه د«مدرنه» له خلکو څخه ګڼي او کېدای شي دا نوم هماغه ماذرایا وګڼل شي چې د دجلې کیڼې غاړې ته په هغه سیمه کې چې اوس کوت العماره واقع دی، یعنې په عراق ښار کې به واقع و. «دریست دین» یعنې د بوندرس زرتشت او مزدک آئین په معاني دین کې د اصلاح په منزله و او د اصلي آئین غوندې د دوو پخوانیو اصلونو، یعنې نور او تیارې ترمنځ د اړیکو له بحث څخه یې پیل کاوه. له معانوي آئین سره یې توپیر دا و چې معتقد و تیاره د رڼا غوندې د ارادې او قصد له مخې عمل نه کوي، بلکې چلند یې کورکورانه او اتفاقي دی، پر دې بنسټ د رڼا او تیارې اختلاط چې پایله یې دا مادي نړۍ ده؛ لکه چې ماني ګڼلی دی د نقشې او ارادې له مخې نه و، بلکې بې اختیاره یې ښه غوره کړې ده، نو پر تیاره باندې د رڼا تفوق د مزدک په آئین کې زیات دی، نه په ماني آئین کې.

یزدان(رڼا) به په اهریمن (تیاره) باندې غالب شي، خو د یزدان بریالیتوب بشپړ نه دی، ځکه مادي نړۍ چې د دوو بنسټیزو اصلونو له اختلاط څخه جوړه شوې ده پر ځای پاتې او د عالم له تحول او تطور څخه نهایي مقصد دا دی چې د رڼا ذرې د تیارو له ترکیب څخه خلاصې شي. په دې ټکي کې د ماني او مزدک آئین

مشترک دي. مزدک، خدای فرض کاوه چې په برین عالم کې پر یو تخت باندې ناست دی، لکه په دې دنیا کې پاچا. د یزدان په مقابل کې څلور ځواکونه دي چې د ایران د څلورو عالیقدرو اشخاصو په منزله دي او هغه دا دي: موندل، هوښ، حافظه، خوشحالي او ذکاوت. د دې څلورو ځواکونو تر امر لاندې ۷ وزیران او۱۲روحاني وجودونه دي چې شهرستاني یې نومونه یاد کړي دي، لکه څرنګه چې د آسمان ۷ستوري د منطقةالبروج د دولسګونو علایمو په دایره کې ګرځي، اووه ګوني وزیران هم د روحاني وجود په دایره کې ګرځي. د انسان په وجود کې څلور ځواکونه پوښل شوي او مضمر دي او د نړۍ اووه او دولس کارونه تر خپلې سلطې لاندې لري.

مزدک به ویل چې په نړۍ کې د خیر او شر په مبارزه کې د نېکۍ خدای بریالی دی او په دې وسیله باید د ځمکې پر مخ د شر ریښې وایستل شي او خلک باید په دې چار کې فعاله ونډه واخلي، خو د دې مفکورې شهرت او اوج او په پای کې د هغې اشتهار په پنځمې او شپږمې پېړۍ کې مزدک پور بامدادان ته رسېږي. مزدک پر مالونو باندې د مالکیت د تساوي د حق شعار صادر کړ او ډېر پیروان یې وموندل؛ لکه چې مزدک وکړای شول آن پاچا یعنې قباد د بلاش زوی هم خپل پلوي کړي چې د دې آئین په خپرولو کې یې ډېره مرسته وکړله.

د هغه مهال ټولنیز- اقتصادي شرایط نه یواځې په ظهور، بلکې د دې آئین په خپرېدو کې ډېر مرستندوی وو. بېوزلي او بېوسي کلیوال چې ډلې ډلې له خپلو کلیو څخه تښتېدل او لښکریان او آن روحانیون چې له وضعې څخه ناخوښ وو، د نجات د دریڅې غوندې یې دې آئین ته مخه کوله. قباد د خلکو له غورځنګ څخه ملاتړ کاوه. هغه غوښتل د مزدکیانو په مرسته مشران او اعیان کمزوري کړي او د کاهنانو لاسونه چې د مملکت په چارو په ځانګړې توګه د پاچا په ټاکلو کې اوږده وو، لنډ کړي، خو د پېښې پای بل رنګ غوره کړ، اعیان او روحانیون په ۴۹۶م.کال بریالي شول او جاماسپ یې د سلطنت په څوکۍ کښېناوه.

قباد د هیاطله وو پاچا ته پنا یووړه او دهغه لور یې خپله مېرمن کړه او په پای کې په ۴۹۹م.کال کې له وینې تویېدلو پرته دوباره پاچا شو او له هغه وروسته یې له مزدکیانو سره چندانې اړیکې نه درلودې، ځکه هغو ته یې اړتیا نه درلودله، خو

خسرو د قباد زوی د خپل پلار په ژوندانه په مزدکیانو پسې ولګېد او د خونړي حساب تصفیه کولو ته یې لاس کړ. په هغه مجلس کې چې په دربار کې جوړ شو، د مزدک تعلیمات د زرتشتي او مسیحي کاهنانو په وسیله رد شول او مزدک په کفر او الحاد تورن او بیا د خسرو په امر مزدک او پېروان یې اعدام شول(۵۲۹م.). په دې توګه یو مهم او ستر فکري او ټولنیزغورځنګ په وینو ولړل شو.

د مزدکي آئین بنسټیزې منابع پر زرتشتي او مانیګري تصمیمونو باندې ولاړې وې او د هغوی د آئین مضمون د رڼا او تیارې ترمنځ مبارزې او د مالکیت د تساوي پربنسټ د رڼا بریالیتوب تشکیلاوه. نظام الملک په سیاستنامه کې لیکي:«مزدک وویل مال بخښل شوی دی د خلکو ترمنځ چې ټول د خدای بنده ګان او د آدم اولاد دی او څه ته چې محتاج شي باید چې یو د بل مال ولګوي چې هیچا ته نېستي او بېوسي نه وي، د زړه مساوات وي». د مزدک په آئین کې صفا، مینه او دوستي پر اهریمنانو باندې د اهورایي مبارزې پایله ده.

**مزدکیان:** یا زرتشتي دین، د آریاني آریایانو د اشوزرتشت سپنتمان د دین نوم دی. مزدیسنا صفت دی او د اهورامزدا د نمانځونکي په معنا دی. مزدا هم هماغه یو خدای دی. مزدیسنا اوستایي کلمه ده چې له دوو جزونو (مزد+ یسنا) څخه ترکیب شوې ده. مزد د دانا او سرور خدای په معنا او یسنا د ستاینې او نمانځنې په معنا ده او په مجموع کې د مزدا پالنې یا خدای پالنې معنا ورکوي. دا کلمه د مزدیسني په بڼه هم کارول شوې ده. د دې آئین پیروانو ته هم مزدیسنان یا خدای پالونکي ویل کیږي. په لرغونو وختونو کې د مزدا په مقابل کې دیوان نمانځنه رواج وه چې زرتشتي متونو دوی د دیویسنانو او د دوی مذهب د دیویسني په نامه ثبت کړی دی، نو مزدیسنا د دیویسنا ضد دی. دیویسنا هم د دیو د نمانځونکي په معنا دی او ضد یې د وی-دئو کلمه ده چې د دیو ضد معنا ورکوي. په اوستا کې اکثراً دیویسنا د تورانیانو لپاره راغلې ده. د دې دین لپاره نور نومونه شته چې په نړۍ کې ډېر مصطلح یې زرتشتي دین دی. پخوا وختونو کې د دې دین پیروانو ته بهدین، مجوس او ګبر ویل شوي دي. په زیاترو ژبو کې د دې دین نوم د هغې د پیغمبر په نامه، یعنې زرتشت ته منسوبوي. د ۱۴۰۰ق.م څخه تر ۱۰۰۰ق.م په شاوخوا کې د

آرياني پيغمبر اشو زرتشت سپنتمان لـه خـوا پـه آريانـا کـې د مزديسـنا بنسـټ کېښودل شو.

زرتشت د آريايانو د لرغـوني آئـين او عقيـدې پـه اصـلاح او تجديـد نظـر بانـدې بوخـت شـو او ورو ورو يـې د ځـان لپـاره پيـروان پيـدا کـړل چـې لـه ده وروسـته پـه مزديسنايانو يا زرتشتيانو باندې مشهور شول. د مزديسنا په ادبياتو کې هـم مزديسـن په پهلوي لهجې سره، زرتشت ته د دين راوړي معادل، رښتيا پال او د زرتشتي صفت سره راغلی دی.

د مزديسنا عناصر يوګونپالي(يکتاپرستانه) دي او له يوګونپالنې (يکتا پرسـتۍ) څخه سرچينه اخلي. البته په ځينو منابعو کې د دوه ګونپالو (دوګانه پرست) په نامـه هم د دوی يادونه شوې ده چې زياتره د هغې تېروتنې له امله ده چې د مزديسـنا پـه سمه پېژندنه او له دوو کتابونو دينکرد او بندهشن څخه د برداشتونو پر بنسټ انجـام شوې او مزديسنايان لـه زروانيـانو سره يـو ګـډ شـوي دي، ځکـه پـه پيدايښـتي دوه ګونيتـوب بانـدې اعتقـاد پـه زروانيـانو کـې پيـاوړی دی، نـه پـه مزديسـنايانو کـې. د زردشتيانو مقدس کتـاب اوسـتا دی. د اوسـتا لـه ډول ډول برخـو څخـه يـوه برخـه د ګاتونو (سرودونو) په نامه  په خپله د زرتشت خبرې دي.

په زرتشتي آئين او عقايدو کې نيک خلقته خـدای، اهـورامزدا نـوم لـري چـې د پوه مشر او پېشوا  په معنا دی او نمانځـل کيـږي. اهـورامزدا تـه پـه هرمزديشـت کـې د٦٠ په شاوخوا کې نيک صفتونه راوړل شوي او تقريباً ټول ښه شيان ده ته منسـوب شوي دي. د ګاتونو پر بنسټ، اهورامزدا هم د رڼا او هم د تيارې پيداکوونکی دی. د بندهش کتاب پر بنسـټ چـې تـر ساسـانيانو وروسـته ليکـل شـوی دی، د اهـورامزدا مخالف ځواک او د بديو زيږوونکی اهريمن(انګره مينـو) معـرفي کـوي چـې د ګـاتونو صريح نص دی. په زرتشتي آئين کې اهريمن هېڅکلـه د اهـورامزدا لـه قـدرت سره د مقابلې لپاره ذاتي توان نه لري او د هغه سيال نه دی، بلکې اهريمن هماغه بد فکـر دی، خو د زروانيانو په عقيده، اهـريمن د اهـورامزدا ورور او رقيـب  او د زروان زوی او له اهورا مزدا څخه جلا هويت لري. اوسـني زرتشـتيان هـم خپـل ځانونـه يکتاپرسـت ګڼي او اهريمن يواځې د بديو تمثيلي نماينده بولي نه يو خـدای. دا شـائبه احـتمالاً

په دین کې د انگره مینو د مفهوم او ماهیت د تغییر له امله اړوند کیږي چې د سپنته مینو دا مخالف قطب له اهریمن سره یو گرځېدلی دی.

**د زرتشـت د دیـن تاریخچـه:** د آریانـا او فـارس د مزداپرسـتۍ لـه وحـدت او معنوي اجتماع څخه دقیق معلومات په لاس کې نه شـته دي. مغـان د هخامنشـیانو دیني او روحاني سرې و. په دې اړه چې له څه وخته د زرتشتي دین تبلیغ په فـارس او د مغان په مرکزي هډه کـې پیـل شـو، روښـانه قـراین او شـواهد نـه شـته. گومـان کیږي چې د دې پېښې لپاره به ډېر پخوانی وخت د هخامنشـیانو د دولـت د بنسـټ ایښودنې مهال وي. د کوروش د پاچاهي لـه دورې څخـه ختیځـې سـیمې(آریانا) د هخامنشي امپراتورۍ په تابعیت کې شاملې شولې. په دې دوره کې زرتشتي مـذهبو قبایلو په خپلو دیني مراسمو باندې عمل کاوه، خو هخامنشي پاچاهـان پـر زرتشـتي دین باندې نه و او کله چې مغان د زرتشتي دین په خپرولو پسې راپاڅېدل، هغه یې د فارسیانو له زاړه آئین سره گډ کړ.

په خپله زرتشت او د مغان تعلیماتو پر یوناني افکارو باندې اغېزه وښـندله چـې رښتیا او واقعي وو، خـو نـه یونانیـانو او سریانیـانو او نـه ارمنـي لیکوالانـو هـېڅ یـو لـه اوستایي زرتشت او د هغه له آئین څخه چې د اوستا په گاتونو ذکـر شـوی، معلومـات نه درلودل. په زیات احتمال سره زرتشتي آئین په پیل کـې پـه ختـیځ (آریانـا)کې یـو محلي نهضت و چې تر اوسه یـې سرحدونـه مشـخص شـوي نـه دي. دا نـوی آئـین د رایجو کیشونو له سخت مقاومت او مقابلې سره مخامخ شو او تـر ډېـرې مـودې پـورې یې ونه کړای شول چې بشپړې غلبې او برترۍ ته ورسیږي او کلـه چـې وغوړېـد، بـل ډول شو. زرتشتي دین له هغو آئینونو سره چې د هغو پـه غورځولـو پسـې راپاڅېـدلی و، ورگډ شو او مزدیسنا په ډېره متفاوته بڼه باختري ایران ته ورسېد.

**په هخامنشي دوره کې مزدیسنا:** د زرتشتیانو وضعیت د اشکانیانو لـه مهـال څخه دمخه په سمه توگه څرگند نه دی او منابع له منځـه تللـې دي. د هخامنشـیانو په زرتشتیوالي کې د پوهانو ترمنځ د نظر یووالی نه شته. یوه ډله په دې انـد ده چـې مزدیسنا د هخامنشیانو له مهاله او د سـتر داریـوش لـه مهالـه موجودیـت درلـود او د هخامنشي- کـورنۍ خـدای، کـم تـر کمـه د داریـوش لـه مهالـه، اهـورامزدا و، مگـر د زرتشت او د هغه د نوم کومه خبره نـه شـته. د زرتشـت د دیـن د اصـولو لـه مخـې، د

زرتشت په آئین کې خاوره سپېڅلی عنصر ګڼل کېده او له دې امله یې مړي په خاورو کې نه ښخول، مګر د داریوش قبر تر اوسه ساتل کیږي؛ نو ویل کېدای شي چې مزدیسنا د هخامنشیانو پرمهال د عامو خلکو په باورونو کې نه و او د یوناني مؤرخینو روایاتو  او د هخامنشیانو د مهال ډبرلیکونو ته په کتنې، هم د باورونو او عقایدو له پلوه او هم د مراسمو او آئینونو له پلوه د هخامنشیانو نږۍ لید د فارسیانو (نه زرتشتي) له زاړه آئین سره مطابقت درلود، هغه آئین چې د اهورامزدا د نمانځنې په ترڅ کې، ګڼ خدایان او د طبیعت ځواکونه هم نمانځل کېدل. دا آئین  د زرتشت د آئین په نسبت زیاتره ویدایي باورونو ته نږدې دی. د مزدیسنه (مزداپال)صفت راتلل چې د هخامنشي مهال په آرامي پاپیروسونو کې راغلی، د هخامنشیانو پر زرتشتیوالي باندې دلیل کېدای نه شي. لکه چې د اهورامزدا د نامه ذکر په ډبرلیکونو کې د دې کار لپاره دلیل نه ګڼل کیږي. په هخامنشي ډبرلیکونو کې نه یواځې زرتشت ته، بلکې هېڅ بل مطلب ته چې وکړای شي دې ډبرلیکونو ته زرتشتي رنګ ورکړي، اشاره نه ده شوې.

دا دین د سکندر تر یرغل او د موبدانو تر وژل کېدو وروسته د یوې لنډې مودې لپاره غلی شو،  ځکه چې هغه مهال زیاتره دیني آثار په شفاهي بڼه او سینه په سینه انتقالېدل او روحانیونو چې د هغو په مستمرو تکرارونو سره منابع په یاد درلودې، په یو ډول سره د دې دین د ژوندیو کتابونو په حکم کې وو او د هغو په عام قتل سره د مزدیسنا ډېر لرغوني کتابونه له منځه لاړل یا ناقص شول. له همدې امله زرتشتي سنت تل، سکندر د ګُجَسته (خبیث، ملعون، پلید، ناپاک، د خجسته ضد) په صفت یادوي. د ارداویرافنامه په پهلوي متن کې ویل شوي دي چې نوموړي (سکندر) ډېر دستوران، داوران، هیربدان او موبدان ووژل.

**د اشکانیانو په دوره کې مزدیسنا:** د اشکانیانو په زمانه کې د مزدیسنا د بېرته راتګ لپاره هڅې وشوې او سکې د ایزدانو په نامه ووهل شوې او اورتونونه یې جوړ کړل. له هغو څخه د سبزوار د ریوند په غره کې د آذربرزین مهر اورتون ډېر اهمیت درلود. په پهلوي متونو کې راغلي دي چې د اشکاني بلاش په دوره کې د سکندر له یرغل وروسته ټوټه ټوټه شوې اوستا راټوله او بیا ولیکل شوه.

**د ساسانیانو په دوره کې مزدیسنا:** د ساسانیانو پرمهال مزدیسنا، د اردشېربابکان تر سوبو وروسته د ایران رسمي دین شو او د ساسانیانو پر مهال د مزدیسنایانو د نفوسو زیاتېدل خپلې لوړې اندازې ته ورسېدل. د ساساني دورې د کریتر او د موبد موبدان فعالیتونه په دې پراخېدنه کې بې اغېزې نه و او د نصاراوو او برهمنانو پر ضد خپلې مبارزې په خپله کتیبه کې په نقش رجب کې بیان کړې دي. په ساساني دوره کې د آذر گشسب اورتون د آذربایجان په شیز کې زیات اهمیت وموند او ساساني پاچاهانو به تل تر خپلو سوبو وروسته هلته نذرونه وړاندې کول. په هماغه دوره کې ماني پیغمبر نوی مانوي دین چې د مزدیسنا او مسیحیت یو تلفیق و، وړاندې کړ چې که څه هم په چټکۍ سره مخ په پراختیا و، په شدت سره د ساساني پاچاهانو او موبدانو له خوا تر یرغل لاندې راغی او حکومتي فرمانونه یې پر ضد صادر شول. د مرې بویس(Mary Boyce) په عقیده د ساساني دورې له اواسطو څخه رسمي دین د زرواني کیش تر مستقیمې اغېزې لاندې راغی او عملاً زرواني د هېواد رسمي دین شو.

په دې دوره کې چې درباري روحانیون زیات قدرت ته رسیدلي وو، مزدکي غورځنگ رامنځ ته شو چې په شدیده توگه وټکول شو. ساساني پاچا قباد چې له دې برابري غوښتونکي غورځنگ څخه یې استقبال کړی و له پاچاهي مقام څخه خلع شو. په هغې پسې د نوشېروان په زمانه کې د لیکلې اوستا پهلوي گزارش ولیکل شو. د دې لړۍ تر ماتې وروسته، د زرتشتیانو نفوس مخ په کمېدو شو او هغوی نور دینونه، په ځانگړې توگه اسلام ومانه. یوه ډلې زرتشتیانو هم د څو کالو په موده کې د هندوستان هېواد پر لور مهاجرت وکړ او د هند د پارسیانو ټولنه یې جوړه کړه.

**د صفویانو په دوره کې مزدیسنا:** د صفویانو په زمانه کې د هغوی ډېر شمېر یا د اسلام په دین مشرف شول یا مهجورو او بیاباني سیمو لکه یزد او کرمان ته وکوچول شول او یا ووژل شول. هغوی په دې دوره کې د جزیې ورکولو ته اړ شول او سختگیرانه قوانین ورباندې وضع شول چې د څو پېړیو په شاوخوا کې پس له هغوی څخه هم دغه قوانین پرخپل ځای پاتې وو. د شاه عباس په دوره کې شاوخوا درې زره کورنۍ له دوی څخه د بېلابېلو کسبونو لپاره اصفهان ته راوړل شوې او د

صفویانو د دورې په پای کې شاه سلطان حسین صفوي د دوی د دین د بدلولو فرمان ورکړ. ځینې مړه شول او ځینو مذهب بدل کړ او ځینې یې هم د یزد او کرمان دشتو ته وتښتېدل.

**زرتشتي نړۍ لید:** د مزدیسنا د دیني متونو پر بنسټ، نړۍ د خیر او شر د ځواکونو ترمنځ د جنګ ډګر دی چې خلک په ځانګړې توګه سم فکر کوونکو ته په کار ده دین ته په میلان او نیک فکر، نېکې وینا او نېک عمل سره د شر په مقابل کې د خیر په بریالي کولو کې مرسته وکړي. د تفکر دا طرز په هندي عقایدو کې هم تر سترګو کیږي، خو د زرتشتي تفکر توپیر په دې کې دی چې په زرتشتي دین کې ژوند، کار او زیار بد نه دی ګڼل شوی او په ګاټونو کې د زرتشت د وینا پر بنسټ لوړ خلک هغه څوک کېدای شي چې د خلکو په پرمختګ او د نړۍ په آبادۍ کې زیات زیار وباسي.

د دې عقایدو پر بنسټ مرګ او ویجاړي د شر منشاء لري او تخریب د مخربې روح، یعنې د انګره مینو کار دی او له دې امله له اندازې زیات تخریب، غم او ویر او وژنه د منلو نه ده. له شر څخه د خیر پېژندنې منشاء فکر او وجدان چې دئنا راغلی دی ګڼل شوي دي. مادي نړۍ ، وجود او خوشحالي د خدای پیدا ده او د انسان دیني دنده ده چې د هغو ساتنه وکړي او هغو ته پراختیا ورکړي او له هغو نه ګټه واخلي. زرتشتیان باور لري چې د دې لارې په پیروۍ کې جبر په کار نه دی. د هر وګړي لپاره اختیار د زرتشتي دین یو اساس دی. که څه هم انسان د خدای متحد دی، خو ټول انسانان باید د رښتیا او درواغو ترمنځ یو غوره کړي. له مخکې څخه په مقدر شوي برخلیک باندې اعتقاد د زرتشتیانو له اخلاقي لید څخه غندل شوی دی، ځکه دا کار د خدای عدل او نیکي کموي.

**د مرګ او د نړۍ د بیارغونې نظریه:** له لرغونو دیني ګزارشونو سره سم په نهایت کې د نړۍ کار په پلیدۍ باندې د نیکۍ په بریالیتوب سره پای ته رسیږي او په دغه وخت کې د نړۍ بیارغونه په هغه سبک باندې چې د اهریمن تر یرغل دمخه و برقرارېږي. د خلکو روح او د هغوی کړنې د داورۍ بوټې ته ایښودل کیږي او هر څوک له خپل هغه عمل سره سم چې مرتکب شوی یې دی بدله یا تنبیه ترلاسه کوي. د زرتشت دین په خپل نړۍ لید کې د نړۍ په پای او له مرګه پس په ژوند

باندې ایمان لري، ځکه له مرگ څخه وروسته د ژوند د نفې کولو په صورت کې په کار ده چې د اهریمن بریالیتوب وگڼو. په متأخرو دینې متونو کې چې د زرتشت تر گاتونو وروسته لیکل شوي، بې شمېره آئینونه راغلي دي چې له آئینونو، مراسمو، دعاوو او فرشتو څخه متشکل دي او د ډېرو څېړونکو په باور د زرتشت له پیدایښت څخه په مخکې دورې پورې اړوند دي.

د زرتشتیانو په اند خدای مطلق خیر دی او دا چې اساساً د بدۍ مخالف دی، نه شي کېدای چې له هغه سره هېڅ ډول اړیکې ولري او په ټول تاریخ کې د ژوند او مرگ په جنگ کې له بدۍ سره درگیر دی. خدای د ټولو ښېگڼو سرچینه ده. شر واقعیت لري، خو هغه ځواک دی چې د نابودۍ، فساد او ککړتیا پسې لگېدلی دی او مرگ، ناروغي، بېوزلي او گناه دا ټول د شیطان کارونه دي چې د ایزدي نړۍ د منځه وړلو په لټه کې دی. خدای عقلمند وجود دی او هر څه چې کوي یو دلیل ورته لري. خدای نړۍ پیدا کړې ده چې له شر سره په جنگ کې یې مرستندوی وي. نړۍ کېدای شي د ښه او بد ترمنځ د جنگ ډگر وي، خو ذاتاً نېکه ده او که شر هغه نه وي تباه کړې، د خپل پیداکوونکي ځانگړنې چې نظم او همغږي ده، راڅرگندوي. مادي نړۍ چې خدایي نېک بنسټ دی، انکار ورڅخه یوه ستره گناه ده چې یو زرتشتي کېدای شي د هغې مرتکب شي.

**د ژوندانه دستورالعملونه:** د زرتشتي دیني زده کړو پر بنسټ که نړۍ په خدای پورې اړه لري، نو له هغې څخه رهبانیت یا زهد او گوښه کېدنه گناه ده. که د خدای ځانگړنه پیداکونه او زیاتونه ده، نو د کرنې، کسب او واده له لارې د ښه پیدایښت د زیاتوالي لپاره کار د انسانانو دیني دنده ده. تجرد گناه ده، ځکه د ښه پیدایښت منع کوونکی دی. د جنین سقط او همجنس بازي هم گناه گڼل کېږي، ځکه دا کړنې په مؤثره توگه د واقعي موخې د تحقق چې د ښه پیدایښت زیاتوالی دی، خنډ کېږي. انسان له پنځو عنصرونو څخه، خو په واحده بڼه تشکیل شوی دی: روان، جان، فروهر، وجدان او تن. پر دې بنسټ روحي او جسمي سلامتیا یو د بل ملگري دي. د تفکر دا طرز چې پر بدن باندې په فشار راوړلو سره کېدای شي سړی معنوي پرمختگ ته ورسېږي، د زرتشتیانو په دین کې مردود گڼل کېږي. دا چې مادي نړۍ په خدای پورې اړه لري مادي بریالیتوب چې شرافتمندانه او نورو ته

له آزار رسولو پرته  تر لاسه شي او له بخښنې سره مل وي، له معنوي پرمختګ سره مرسته ده، نه د هغه لپاره خنډ.

د هندو آئين د ډېرو فکري ښوونځيو پرخلاف، زرتشتي دين د عملي اخلاقو درلودونکی دی. تن پالنه د اهریمن کار دی او کار د ژوندانه لازمه ده. زرتشتي دين له کار پرته ژوند بې فایدې او عبث ګڼي. ديني متون اهريمن، په نړۍ کې د بېوزلۍ او خوارۍ د پراخېدو لامل ګڼي. د میاشتې هغه ورځ چې خدای ته ځانګړې شوې، یعنې هرمز ورځ، د میاشتې لومړۍ ورځ مؤمنانو ته نصیحت کوي چې «شراب خوره او خوښ اوسه» البته په هماغه نسبت عیاشي ، مستي او عبث کار هم مذموم دی، ځکه ټول باید د آرماني اعتدال تر امر لاندې وي. انسان چې ستر مخلوق او په خدای پورې اړوند دی، د شر د بریدونو او یرغلونو ځانګړې موخه ده او د مؤمنانو دنده دا ده چې پر دې بریدونو او یرغلونو غالب شي. په تردید او ناسمه هیله باندې په عقل سره غالب شي، په حرص باندې په خوشحالۍ، په قهر باندې په آرامۍ، په حسد باندې په نېکخواهۍ، په اړتیا باندې په هوښیارۍ، په جنګ باندې په سوله، په دروغ ویلو باندې په رښتیا.

**د زرتشت د دین اصول:** د زرتشتي دين اصول د زرتشتي خدای باورۍ او دینداری اصلي شرطونه دي. هر زرتشتي وګړي ته په کار ده د سدره اغوستنې پرمهال يې په خپل عقل او فکر باندې  په ډاډ سره پر دې اصولو باندې ایمان راوړی وي او هغه د خپل مذهبي ژوندانه په بهیر کې په پام کې ولري. د زرتشتي دين اصول په لاندې نهو اصولو باندې ولاړ دي:

۱. د خدای پر وحدت باندې ایمان.

۲. د زرتشت پر پېغمبرۍ باندې ایمان.

۳. په معنوي نړۍ او معنا عالم باندې باور.

۴. د نړۍ د کار په نظم او رښتینولۍ باندې ایمان.

۵. د آدمیت پر جوهر باندې باور.

٦. د خدای په اووه ګونو رڼاوو باندې باور.

۷. په نېک عمل باندې باور.

۸. د څلور عناصرو: اوبو، باد، خاورې او اور په تقدس باندې باور.

۹. په آخرالزمان باندې باور.

**آداب او دیني احکام:** د زرتشتي دین آداب او احکام له نورو دینونو په ځانګړې توګه له اسلام دین او له یهود دین سره زیات ورته والی لري. د دې ترڅنګ د ګډې ریښې او سابقې له امله زیات و کم ځانګړنې او نږدیوالی د دې دین او د هندو دین ترمنځ تر سترګو کیږي. په زرتشتي دین کې د عبادت او لمانځه مسئله د اسلام له دین سره ډېر ورته والی لري. د مزدیسنا په دین کې د ورځې پنځه لمونځونه له واجباتو څخه شمېرل کیږي او هر زرتشتي وګړی چې پنځلس کلنۍ عمر ته رسېدلی وي، مؤظف دی ورځني پنځه لمونځونه د سر، لاس او پښو له پاکولو وروسته اداء کړي. همدارنګه په زرتشتیانو کې واده یو سپارښت شوی او غوره کار دی او په هماغه اندازه تجرد، د زوجاتو تعدد او طلاق پرته له نادرو مواردو، لکه: بې اولادۍ یا ناروغۍ، قبیح او مذموم ګڼل کیږي.

دا اصول نن ورځ هم د ایران په زرتشتیانو کې آن په محاکمو او قضایي مراجعو کې پېش بیني شوي او مراعات کیږي. زرتشتیان د طهارت او پاکۍ لپاره خپل ځانګړي آداب لري چې البته د ایران د اسلامي هېواد له آدابو او سننو سره بشپړ سمون لري. روانې اوبه، خاوره او د لمر وړانګې د دې دین د دودیزو پاکوونکو څخه دي او په دې باندې په پاکوالي سره ډېر تأکید شوی دی. د مړو لپاره د تطهیر آداب هم باید عملي شي. د طبیعت پاکو عناصرو ته سخت اعتقاد او د هغو د ککړوالي د مخنیوي لپاره هڅې د دې لامل شوې وې چې په پخوا وختونو کې هغوی خپل مړي په یوه لوړه یا په برج خاموشان کې کښېږدي چې د هغوی جسم بېرته طبیعت ته وګرځي. دا دود چې تر زرتشیانو دمخه په ایران کې هم تر سره کېده، بنایي عیلامي دود به و. تر اسلام دمخه دوره کې زرتشتي مړي په استودان(د هډونو د ایښودو ځای، زرتشتي مقبره) یا دخمه (ځمکتل)کې ایښودل کېدل او په لرغوني دوره کې له برج خاموشان څخه استفاده دود نه وه، خو له مخکنۍ پېړۍ څخه دا رسم متروک شوی دی او هغوی خپل مړي په سمنټي مقبرو کې چې له پاکې ځمکې سره اړیکه نه لري، ږدي.

همدارنگه په زرتشتي دین کې د ماتم په آدابو کې تر اندازې زیاتې ژړا او زارۍ مړي ته روا نه دي او هغه د مړي د روح د آزار او د پاتې شوو کسانو د کمزورۍ او کم طاقتۍ لامل ګڼې.

**مأخذونه:**


۱- هینلز، جان. شناخت اساطیر، ترجمه ژاله آموزگار و احمد تفضلی، دریم چاپ: تهران، چشمه خپرندویه ټولنه، ۱۳۷۵ لمریز کال.

۲- همدا اثر.

۳- کریستن، سن، آرتور. مترجم، صفا، ذبیح الله، مزدا پرستی در ایران قدیم: تهران، انتشارات شرکت مولفان و مترجمان ایران، ۱۳۵۷ لمریز کال.

۴- بنونیست، امیل. دین ایرانی: تهران، انتشارات بنیاد فرهنگ ایران، ۱۳۵۴ لمریز کال.

۵- کریستن سن، آرتور. کیانیان، ترجمه ذبیح الله صفا، پنځم چاپ: تهران، شرکت انتشارات علمی و فرهنگی، ۱۳٦۸ لمریز کال.

٦- نیبرگ، هنریک ساموېل، ترجمه نجم آبادی، سیف الدین، دین های ایران باستان: تهران، مرکز ایرانی، مطالعه فرهنگ ها، ۱۳۵۹ لمریز کال.

۷- هینلز جان. ترجمه آموزگار، ۱۳۷۵ لمریز کال.

۸- بویس، مری. ترجمه عسکر بهرامی، زردشتیان باور ها و آداب دینی آنان، نشر ققنوس: تهران، ۱۳۸۹ لمریز کال.

م. اکبر کرگر

# په لرغوني فرهنګ کې د تصوف او عرفان ریښه

**لنډیز:**

په دې مقاله کې په پښتني فرهنګ کې د تصوف او عرفان مسئله څېړل شوې چې له یوې خوا په ولسي قلمرو کې یا د ولس په افکارو او ذهن کې یې ځای نیولی او له بلې خوا د ولس په فرهنګ کې د نوک او اورۍ هومره اغږل شوی دی.

موږ که هرڅومره وغواړو چې ځان له تصوف او عرفان څخه ازاد وښایو، نو شونې نه ده، ځکه لا تر اوسه هم زموږ په ولس کې ځینې خلک داسې زیارتونو ته عقیده لري چې یواځې یې د هغوی په اړه اورېدلي، نه یې په اړه معلومات لري او نه یې هم د هغوی نبیله ځانته معلومه کړې ده، چې په شکل د اشکالو په خپل وخت سره صوفیان په کې اغېزمن رول لرلی دی، نو د دې لپاره چې د تصوف ریښه او اصالت یې معلوم کړو مقالې ته به تم شو.

**سریزه:**

دا څرګنده خبره ده چې افغانستان ګڼ دیني هېواد نه دی، خو ګڼ مذهبي هېواد ضرور دی او په دې ګڼو مذهبونو کې بیا اهل تسنن اکثریت او د پام وړ دی. یعنې اکثریت خلک د اهل سنت و الجماعت لارویان دي او ډېر کم په نورو مذاهبانو روان دي، چې زموږ د دې مقالې بحث په دې مسئلې او یا کوم مذهب سم دی او کوم ناسم نه دی، بلکې غواړم ووایم چې زموږ د اکثرو خلکو له عقایدو او افکارو څخه لا تر اوسه ناسمه استفاده کېږي او لا هم په داسې عقایدو یې باورمن کړي، چې له بده مرغه دیني صیغه نه لري، چې له بده مرغه د ښځمنو سلنه په کې زیاته ده، په

دې معنا لا تر اوسه هم ځینې ښځمنې پر زیارتونو په دومره افراطي بڼه عقیده لري چې آن اولادونه ترې غواړي، خپل مشکلات ورته وایي او په یوې بڼې نه یوې بڼې یې بدعت خوا ته لاره کړې، په داسې حال کې چې اسلامي عقیده هر څه په واضح توګه بیانوي.

زه په دې مقاله کې غواړم د تصوف په ریښې او افغانستان کې یې پر رول وغږېږم چې کوم رول لري او څومره یې د عقیدې په سازښت کې ونډه لرلې ده.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت:

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې موږ د تصوف ریښه معلومه کړو او بیا یې په افغانستان کې د پیدایښت او پایښت په اړه خبرې وکړو چې کله راغی او کوم رول یې ولوباوه.

## د څېړنې موخه:

د دې څېړنې موخه په دې کې ده چې د تصوف اصالت او چاره روښانه کوي او ترڅنګ یې د تصوف په اړه هغه ناسمې او نامعقولې خبرې هم سپینوي چې له بده مرغه تر اوسه یې په اړه ناسم پوهاوی موجود و.

## د څېړنې پوښتنې:

په دې مقاله کې تر ډېره لاندې پوښتنې ځواب شوې دي:

- ✓ ادبیات څه شی دی؟
- ✓ تصوف څه شی دی؟
- ✓ د ادبیاتو او تصوف ترمنځ څه ډول اړیکه ده؟
- ✓ تصوف چېرته پیدا او په ټولنه کې څه رول لري؟

او دې ته ورته ځینې کوچنۍ پوښتنې په دې مقالې کې ځواب شوې دي.

## د څېړنې میتود:

په دې مقاله کې تر ډېره له تشریحي، تحلیلي او توضیحي میتود څخه استفاده شوې ده.

## د څېړنې اصلي متن:

نن ځوان او لیک لوستی څېړونکی نسل په کلیشه یي احکامو نه قانع کېږي،

بلکې هر څه چې ويني او اوري يې يا لولي يې يو وار هرومرو لـه ځانـه پوښـتنه کوي او د مسايلو ريښه راسپړي. پر ورکړل شوو احکامو فکر کوي. لـه ديکـارتي شـک نه کار اخلي او بيا پلټنه کوي. زموږ په فرهنګ کې داسې ډېر احکـام او کليشـه يـي فرضيې شته چې نوي فکر کولـو او نـوې شـننې تـه اړه لـري، د جوړښـتي تجزيـې او تحليل نه پايلي ته رسېدل غواړي. يو له دغو مسايلو څخه په پښـتني فرهنـګ کـې د تصوف او عرفان مسئله ده چې نېغ په نېغه لـه فرهنـګ او سـنت سره رابطـه لـري. دا مسئله که له يوې خوا د ولسونو په اعتقادي قلمرو کې ځای شوې ده، له بلـې خـوا د ولسي فرهنګ په بوده او تنسته کې يې ځای نيولی دی. په دې معنا چې زيـات څـه د تصوف او عرفان تر شعاعو لاندي دي. د خلکو په عـاداتو، چلنـدونو او کړنـو بانـدې اغېزه لري، نو پر دې اساس په دې څېړنه کـې غـواړو چـې لـومړی پـه اريـايي قلمـرو کې، يعنې د خپل هېواد افغانستان په کچه د هغه تاريخي ماضي ته اشـارې ولـرو او د متونو او څېړنو په رڼا کې يې وڅېړو.

**په آريايي زرتشتي مدنيت کې د عرفان او تصوف څرکونه:**

مشـهور څېړونکـي او اديـب سـعيد نفيسي- د زرتشـتي ديـن او آريـايي تمـدن د پيلامي او ظهور په باب د دوو روسي څېړونکو تولستوی او يـا کوبيسـکي د څېړنـو پـه نتايجو تبصره کوي وايي:

د ساساني دورې په اثارو کې پر دې ټکي باندې پوهېـدلای شـو چـې زرتشـتي دين د مرکزي اسيا او خوارزم د نورو سيمو له زرتشتي دين سره پـه هماغـه مهـال پـه ځانګړې توګه د ساسانيانو په دربار کې ډېر توپير درلود. هماغه اثار جوتـوي چـې پـه هخامنشي دورې کې په څوګونو خدايانو عقيده موجوده وه. دا عقايد لا ژونـدي وو او ان د آريايانو د لومړي ديـن باورونـه، يعنـې د نيکونـو پرسـتش رواج وو چـې اوس هـم شته.

استاد نفيسي دا مسئله روښانوي چې هغه آريايان چې پـه ډېـرو لـرو سرحـدونو کې ژوند کاوه او کافر ورته ويل کېدل، سيمې ته يې کافرستان وويل شو. د نولسـمې پېړۍ په پای کې افغانانو هڅه وکړه چې هغوی اسـلام تـه راواړوي او سيمې تـه يـې نورستان وويل شو. تر اوسه هماغه د «تقيه او کتمان» اصـول پـه کـې ټينـګ دي. پـه

هغو کې اوس هم یو ډول دنیکونو پرستش موجود دی. دا خلک د لرګینو مجسمو په بڼو مجسمې جوړوي او دا دود په کې لا پاتې دي.

نوموړی په بل ځای کې لیکي: «دا خبره دوه مهمې پایلې لري. یو دا چې د زرتشت دین د هغه څه پر خلاف چې پېړۍ پېړۍ پرې ټینګ ولاړ و، لرغوني آریانا له شمال شرقي برخې نه، یعنې د پامیر او مرکزي اسیا او خوارزم نه نورو سیمو ته راغلی او مرکز یې د آریانا شمال غربي سیمه ده. یعنې ماد او اذربایجان په کې شامل نه دي دا ځکه چې ډېر لرغوني اثار هم په دغو سیمو کې لیدل کېږي او هغه څه چې په لرغون پېژندنه کې له شمال غربي سیمو لاس ته راغلي، هغه د دې دین د تکامل او بدلون پړاو څرګندوي. د اوستا ژبه چې د یاد دین ژبه ده، د شمال شرقي سیمو له ژبو سره شمال غربي ژبو په نسبت ډېره نږدې ده. په دې لړ کې اوستا او پښتو ژبه ډېر ورته والی او نږدیوالی لري.» (۱: ۷)

خو پر دې نظر سربېره چې د لرغونو کیتونو اثار لا په سیده او ناسیده توګه ژوندي دي یو معنوي فکتور له ځانه سره لري. زرتشتي دین او د هغه په خوا کې نور طریقتونه او د پاکۍ او تزکیې لارې هم ورسره تعقیب شوي دي. زرتشتي کیت چې په ټوله کې د سیمې یو هراړخیز هغه دی، په راوروسته جریان یې بشپړ اغېز درلود.

په آریایي مدنیت کې د ادیانو د ژورې قومي څېړنې له مخې جوتېږي چې زرتشتیان له ډېر پخوا نه په دې باور وو چې مؤمنان د پرمختللیو معنوي مراتبو لرونکي دي. مؤمنانو د عرفاني لارې او طریقت په تعقیبولو سره وکولای شول د کایناتو د پای او نیکو او بدو په منځ کې (د خیر او شر) او د اهورا مزدا د بریالي کېدو امکاني کېدلو په باب خاص معرفت تر لاسه کړي.

«هغوی د دې وړتیا لري چې د نړۍ ( فراسا Frasa) د اعتلا په کار او هم د داسې موضوعګانو په کشفولو لاسبري شي. دا مسئلې په «ګاتونو» کې راغلي او یادونه یې شوې ده. د دغه دین یا کیت په پیروانو کې د جذبې او شوق پاروونکی حالت او د ژور لید راپارول یا جوړول کله هم د شرابو د سرمستۍ په وسیله یا د نشه یي داروګانو له لارې یا د اوستا د سرودونو د ویلو له لارې رامنځ ته کېدلو. هغوی په سکوت سره مراقبه کېدل (یا اندیشیدن درخاموشي اوستايي). البته دا تجربې او

قرینې او ان دي ته ورته سنتونه د هندي عرفان په پرمختللي دود کې هم شته.» (۲: ۵۷)

له اثارو او لرغونو متونو جوتېږي چې څېړونکو او مشهورو نړیوالو پوهانو د زرتشتي کیت د اصلي متونو، اوستا او نورو اسنادو په حواله او د متونو په راسپړلو سره دا جوته کړه چې په زرتشتي کیت کې په ژوره توګه عرفاني تمایلات موجود وو، چې پېړۍ پېړۍ یې د سیمي د اوسېدونکو متداول فرهنګ ګرځېدلی و. که پېړۍ پخوا د زرتشتي کیت ځای نورو ادیانو او مذاهبو ونیو، خو بیا هم له دې انکار نه شي کیدای چې په ناخبره توګه د سیمې په بومي اوسېدونکو کې دا تمایلات د کارل ګوستاو یونګ د ټولنیز ناخبري شعور د تیوري له مخې موجود وو او دې او له نویو افکارو سره یې ځان اداپت کړی دی.

جیمز آر. راسل د زرتشتي عرفاني سنت دستګاه په دې ډول را لنډوي لیکي:

«۱. له معمول او عادي حالت پرته په مختلفو تجربو یا د روحي سیر و سلوک له لارې یا د ژور یزدانیت (خدای پرستی) د پوهېدو په طریقې سره چې د مشخصو تمرینانو په ترسره کولو حاصلېږي د یو لړ متعالي تجربو تدارک ترسره کېږي.

۲. د کایناتو د پېژندنې اړوند د ځانګړې پوهې ترلاسه کول او د پای د ورځې پېژندنه د دغو تمرینونو د پایلې په توګه.

۳. د رضایت احساس یا خدای ته نږدیوالی یا په دې عقیده درلودل چې خپله د فرد شخصیت صیقل شوی یا سپېڅلی شوی اوبدل شوی دی.» (۲: ۵۹)

د زرتشت په باب دا کیسه ډېره مشهوره ده چې وایي: «زرتشت په خندا سره وزېږید. البته دا تجربه په مسیحي یا اسلامي عرفان کې نشته او که وروسته په صوفیانه ادبیاتو کې زیاته شوې وي، نو له زرتشتي عرفان نه به یې سرچینه اخیستې وي او یا به د زرتشتي کیت له اصولو راپیدا شوې وي. د اځکه چې حضرت مسیح او... له خندا سره نه دي زېږیدلي. روایتونه وایي چې له یو استثنایي مورد نه پرته د خوښۍ او خندا حالات د هغو په څېره کې یادونه شوې نه ده.

پر دې اساس باید ووایو چې که په متونو کې له خوښۍ او سرمستۍ مسئلې سره لکه د سیمابو په څېر مخامخ شو نو د اریایي عرفان او ان د وروستیو ځلېدنو،

يعنې صوفيانه عرفان سره مخامخ شو چې دا ځلېدنه په خپله زرتشتي ټاپه لري.» (۲: ٦١)

«پر ځينو نورو اديانو سربېره چې د هغو اديانو د عرفان اصلي هدف له متعال خدای سره اتحاد يا په هغو کې فنا ده، داسې برېښي چې په زرتشتي کيت کې د پيروانو احساسي تجربې ځرګندوي چې د خدايي تدبيرونو او مقاصدو ته کمال وربخښي. هغه خدای چې «د پوهې» په نوم يادېږي، لاسرسي ورته نه شته او نه بيانېدونکی دی، په يو محسوس ډول نېک دی او په فعاله توګه د جهان چارې ترسره کوي. د پاکو ناچټلو هستونو لرې دی چې اوه امشاه سپنده (پرښتو او ملايکو) په پيداينښت او هوښيارۍ سره په کې موجوديت پيدا کړی، ځرګند دی. ويلی شو چې د زرتشتي عرفان د پرمختګ پړاوونه د کردګار پر حضور باندې د ژور پوهاوي د ترلاسه کولو ضمانت کوي او ژر بل پړاو ته تلل له هستۍ نه يعنې چې دننه يا (درون بود Enstasy) کې ده، خو له هغه د مخه يې پاملرنه بيروني يا (بيرون بودEcstasy) هستۍ ته ده.» (۲: ٦٢)

«ميترا (مهر) په زرتشتي کيت کې هغه ارماني رب النوع ده چې د هغو په مرکز کې د اهل (حق و طريقت) ځای شوی دی. هغه د لمر ځوانه او ښکلې الهه ده چې د انساني فضيلتونو ملاتړ کوي. وعده او پيمان يې دستم او اهريمن او بدۍ پر ضد د جګړې ښکارندويه ده. لکه چې اهورا مزدا او انګره مينو (شر يا شيطان) د کايناتو د جګړې مظهر دي، نو کله چې اهوراه مزدا او انګره مينو (شر) د کايناتو د جګړې د حدودو پر سر موافقه وکړي مهر حضور لري او دا حضور د کيهاني رازونو نه خبر دي.

د جاماسپ د يادګارونو د کتاب عبارت چې شا کد(يو ځېړونکې) هغه په خپله مقاله کې چې د «زرتشت باطني تمايلاتو» په نوم کې را نقل کړي، لولو چې دا ميترا (مهر) دی چې «زياتره پټ رازونه» (په پهلوي ژبه پټ رازونه) د نړۍ په پای کې يو فرد ته چې د سيند پر غاړه موقعيت لري او په پدرش خورګر (Padasxvargar) کې ځای لري چې د شمال په لور د البرز په غره کې د خزر سمندرګي مقابل کې د ماوند غره ته نږدې واقع دی  او احتمال لري چې دا «رازونه» د اهريمن پر ضد د نږدې پېښېدونکې جګړې ضمانت کوي.» (۲: ۷۲)

«ځینې څېړونکي لکه ریخارد هارتمن، ماکس هورتن او نور... تصوف له هندي منابعو څخه د ویدانتا فلسفې د هندوانو له کیت څخه رامنځ ته شوی بولي. د هارتمان په عقیده هغه سیمه چې د زرتشتیگرې او بودایي کیش او اسلام د یو ځای کېدو قلمرو و، هماغه منځنۍ اسیا ده او له منځنۍ اسیا څخه د هندوانو د عرفان نفوذ او د هغو د عملي زهد د اریایانو په وسیله په اسلام کې ځای نیولی دی. آ گارد لوسکي روسی عالم هم د دې نظر ملاتړ کړی دی، خو دا نظر یواځې فرض او مفکوره وه چې په واقعیتونو او مدارکو نه ده اثبات شوې. دلته هم یو وار بیا هم د نژادپرستۍ نظریه مشاهده کېږي، دا ځکه چې تصوف د عربیت په مقابل کې د هند اواریایانو عکس العمل دی، ماکس هورتن د بودا د کیت نفوذ او د ویدانتا متقدم شکل په تصوف کېویني.» ( ۳: ۳۳۲)

په زیاترو متونو کې دا خبره څرگنده شوې ده چې په زرتشتي کیت کې رمز و راز زیات ځای لري. دا خبره په خپله د دې دلیل کېدای شي چې زرتشتیان یو قوي عرفاني تمایل لري چې دې بهیر په خپل ذات کې د وروستي تصوفي بهیر لپاره لاره هواره کړې ده. د زرتشتیانو په بل مشهور اثر دبستان المذاهب کې هم په دې اړوند زیاتې اشارې شته. د مثال په توگه: «وایي چې ناروغی، لړم، د هغه په څېر نور شته شوې چې رټلي دي، له اهریمن څخه دي. جاماسپ وایي: ناروغي لکه جهالت، حماقت، غفلت او غرور، ځناور او وحشیان موذیان، غضب او شهوت طمع او حرص، کینه او حسد، کینه او بخل، مکر او حیله او د هغه په څېر نور باور دی چې په روح پورې اړه نه لري، بلکې د طبیعت یو عنصر دی.

وایي چې د خیر فاعل پرښته او د شر کوونکی اهریمن دي او یزد یا خدای له دې دواړو پاک دی. مشهور حکیم جاماسپ وایي: پرښته هم روح دی او هغه د نېکۍ فاعل دی او که په حواسو برتره وي او نېک کردار او نېک انسان ترسره کړي نو خیر دی.

اهریمن چې شیطان دی، په دې مقام کې مطلب طبیعت حواس دي. که حواس په روان غالب شي هغه حسي لذاتو ته هڅوي، لکه څنگه چې وطن هېر کړي، دا شر دی او یزد تعالی بنده ته دا اختیار ورکړی او له خیر و شر نه پاک دی. (۴: ۱۱۴)

ثرگنده ده چې د دبستان مذاهب وينا چې ليکوال يا مولف يې هم زرتشتي و، اعتبار لري او په صراحت سره په زرتشت کيت کې د روح او طبيعت او د دې دواړو رسالت په ډاگه کوي.

دلته کېدای شي له وطن نه هم هدف د انسان يا بنيادم طينت او دروني بود و باش يا هستوگنځی وي چې روح په کې په حرکت دی. زرتشتي کيت سره له دې چې پر ثنويت باندې باور لري، خو د نېک کردار، نېکې وينا او نېک عمل ډگر په خپله په روح او روان کې گوري. انسان هڅوي چې له شيطاني او اهريمني کړنو لاس پر سر او روح صيقل کړي.

همداراز په وروستيو پېړيو کې په هند کې د زرتشتي دين له سر لارو له لارښوونو هم په ډاگه جوتېږي، چې د معرفت او اشراق په برخه کې پراخ تعليمات پر ځای پرې اېښي او ان د اسلامي نړۍ پر عالمانو او فلاسفه وو باندې دا اثر په ناسيده يا سيده توگه موجود وو.

بهرام بن فرشاد د زرتشتي روحاني کورنۍ د حلقې، يعنې په اذرکيوان پورې اړه درلوده، هغه د دې لپاره چې په هند کې له خپلو مريدانو سره ژوند وکړي، نو شيراز يې پرېښود او هند ته لاړ. اذرکيوان او مريدان يې په ژوره توگه د شيخ شهاب الدين سهروردي د تعليماتو تر اغېز لاندې وو او ځانونه يې اشراقي گڼل. په د بستان المذاهب کې د څو شخصيتونو يادونه شوې چې اشراقي اعتقاد يې درلود. سهروردي سره له دې چې په اسلامي مدنيت کې راپورته شوی او د اسلام شيخ وو، خو د زياتو څېړنو په اتکا هغه له زرتشتي کيت نه سخت اغېزمن و او د اشراق تگلاره هم په ټوله کې په زرتشتي کيت پوري تړي، نه اسلامي.

د سهروردي د زده کړو پراختيا چې ترمخه «د زرتشتيانو پرښته پېژندنه» د اسلام په عرفاني بعد سره يو ځای کړې وه په زرتشتي ټولنو او غونډو کې يې د پېړيو اوږدو کې د اسلامي نړۍ په لمنه کې لوی شوی و. د سهروردي د زده کړو د پراختيا يوه بله هيجاني بېه د شرق په وروستي معنوي تاريخ کې يوه بله ځانگه ده. په حقيقت کې لازمه ده چې د اکبرشاه په دربار کې په ديني ژوند کې د هغه نقش او د اسلام او هندويزم ترمنځ د يو پل په جوړولو کې بېلابېلې هڅې په سمه توگه روښانه کېږي. په داسې حالت کې شک نه شته چې د سهروردي عقايد او نظريات له

بېلابېلو کانالونو څخه لکه د فتح الله شېرازي او د داراشکوه د مکتب د تصوف جریانات او د اذرکیوان پاڅون د هند د نیمې وچې د عقلاني او معنوي ژوند کې خپل اغېز وساته. (۵: ۲٦٦)

**پایله**

۱. زردشتي دین یو اریایي کیت دی، چې د دې سیمې د ولسونو په روح او روان کې اوس هم په بېلابېلو اشکالو ځای لري. د دې کیت په اډانه او جوړښت کې یو فرهنګ زېږېدلی دی. په دوعا، تقوا، نیکو اعمالو او کړنو باندې تاکید، د ژبې او وینا په کنټرول او داسې نور ټول اړخونه یې د دې ګواه دي.

۲ـ د دغه کیت بنیادي اصول نېک کردار، نېکه وینا او نیک عمل دی. د زرتشتي کیت دا اصل په واقعیت کې سمې لارې ته د انسان هڅول، له بدو کارونو څخه ژغورنه په حقیقت کې د انساني نفس د تزکیې لپاره یو پل دی. د نفس پر تزکیې په دغه کیت کې ډېر ځل تاکید کېږي.

۳ـ د خیر او شر جګړه: زرتشتي کیت په دووالیزم باندې ولاړ دی. د دبستان مذاهب په قول چې یزد له هر څه پاک او سپېڅلی دی، خو د شر او خیر ترمنځ جګړه د بشري ژوندانه ناموس او هسته ده. روح د ښو کارونو او د خیر او نېکیو سرچینه ده. روح هڅه کوي چې تعالي ته ورسېږي.

۴ ـ د روح برتري او د روح تزکیه، د مسایلو په محراق کې ده چې له تصوف او عرفان سره سر خوري او د وروستیو تصوفي جریانونو په وده او تکامل کې یې بشره اغېزه درلود. په تصوفي اصولو کې هم پر روح باندې زیات ټینګار کېږي. تصوف او عرفان په خپله یوه رواني تجربه ده، دا تجربه کولي شي انسان تعالي ته ورسوي. زرتشتي کیت په دې اصل تاکید کوي.

اقبال لاهوري په خپل اثر فلسفه ایران کې د زرتشت په باب لیکي:

«زرتشت د یو حکیم په توګه د ستر درناوي وړ دی. هغه نه یواځې د کایناتو کثرت ته په فلسفي نظر وکتل، بلکې هڅه یې وکړه چې ثنویت په ډېر عالي او ښه بڼه په وحدت کې ځای کړي. زرتشت هم د هاغه عارف الماني موچي په توګه چې پېړۍ پېړۍ وروسته یې له زرتشت نه وروسته ژوند کاوه پوه شو چې هېڅکله یې نه شول کولی د طبعیت تشتت او تیت پرک والی بیان کړي، خو په هغه حال کې چې

نفي کوونکي او اختلاف جوړوونکي ځواک ذات تـه نسبت ورکـړل شي، خـو د هغه پیروانو ډېر ژر د هغه په درسونو پوه نـه شـول. ډېـر وخـت تېـر شـو چـې مناسـبه زمینه پیدا شـوه او د زرتشـت افکـار لـه معنویـت سره پـه ځینـو فکـري جریـانونو کـې منعکس شول.» (٦: ٢٦)

## مأخذونه:

١ــ سـعید نفیــسي، سرچشـمه تصـوف در ایـران، (تـاثیر تعلـیمات بـودایي در فرهنگ ایران) و (تصوف ایران از نظر فلسفي) چاپ پنجم - کتابفروشي فروغي.

٢ــ پروفیسـور جیمـز.آر. راسـل، رازداري در آیـن زردشـت (عرفـان زردشـتي)، ترجمه و گردارنده: شیوا کاویاني، دوهم چاپ: تهران، ایران، ۱۳۷۹ لمریز کال.

۳ـ دکتر سید حسـین نصرـ سـنت عقـلاني اسـلامي در ایـران، ترجمـه، سـعید دهقاني.

۴ـ دبستان مذاهب، مجلد اول.

۵ـ دکتر سید حسـین نصرـ سـنت عقـلاني اسـلامي در ایـران، ترجمـه، سـعید دهقاني.

٦ـ محمد اقبال لاهوري، سیر فلسفه در ایـران، مـترجم: ا.ح. اریـانپور: تهـران، انتشارات امیر کبیر، ۱۳۸۳ لمریز کال.

پوهنیار گل رحمن رحماني

# نازک الملائکه او د عربي ژبې نوی شعر

**لنډیز:**

په دې وروستیو کې په پښتو ادب کې د نړیوالو ادیبانو او آثارو په تړاو بحثونه او لیکنې د پخوا په پرتله زیاتې شوې، خو بسنه نه کوي، په دې برخه کې لا هم د عربي ژبې د اثارو او ادیبانو برخه خواره ده، په داسې حال کې چې شعر او شاعري مو د مشترکو نظمونو د فورم له اړخه له عربي سره نه شلېدونکې اړیکې لري.

د عربي ژبې معاصره شاعري په شرقي ژبو کې سیاله شاعري بلل کېږي، هم یې د فورم او هم یې د محتوا له مخې د ننني نړیوالې شاعري ځانګړتیاوې خپلې کړې دي. د عربي معاصر شعر نه یواځې چې له خپل لرغوني او کلاسیک پېر سره چې عربي غرور دی، تار نه دی پرېښی، بلکې اوسنی ژوند یې هم په ټولنه معنا په ځان کې را نغاړلی او د عربي طبعیت پټ انځور یې وړاندې کړی دی.

په پښتو ادب کې لا د عربي شعر په تړاو معلومات او لیکنې کمې دي، له خوا که پر دې شعر خبرې کېږي، نو د الملایکې له یادون پرته به بحث نیمګړی وی. په دې مقاله کې د اغلې الملایکې پر شاعري، اثارو، د اثارو محتوا او ښکلاییزو اړخونو بحث شوی او د ځینو شعرونو ژباړې یې هم وړاندې شوې دي.

**سریزه:**

د یوې ژبې د معاصر شعر څېړنه چې له ښکلاییزو او معنوي رنګارنګیو او مفکورو څخه مالامال دی، ګران کار دی، سترو بحثونو او ژورو څېړنو ته اړتیا لیدل کېږي. ښایي د دې کار د تر سره کولو لپاره د یوې مقالې ځولۍ ډېره تنګه وي، خو که چېرته د ا موضوع د یوه ځانګړی شاعر له زاویې او لیده وڅېړل شي، نو ممکن

لیکوال د ځینو خبرو او شننو فرصت پیدا کړي. دا مقاله هم له همدې لیدلوري لیکل شوې ده.

د مقالې په لومړۍ برخه کې د الملایکې پر ژوند او آثارو بحث شوی دی، نوموړې عربه شاعره عراقۍ شیعه ده چې په ۲۰۰۷ کال کې په مصر کې مړه شوې او شعر ته یې له عربي کلاسیک شعر نه د ښکلي او رنګین بغاوت په سترګه کتل کېږي. په اثارو کې یې منظوم او منثور دواړه اثار شامل دي چې تر ټولو مهم شعر یې کولیرا( وبا) بلل کېږي.

د ملایکې د شعر په منځپانګه کې تر ډېره د یوه انسان فطري عواطف، هیلې او محرومیتونه انځور شوي چې د ښځې انځور په کې ډېر غالب دی. دا که په شعر کې مینه کوي او مینې ته پناه وړي، نو خپله مینه یې هم یوه داسې ناروغ ته ورته وي چې غم لري او له دې سره د خپلو غمونو د کمولو هیله لري، خو په دې ټولو سره بس یواځې خپل رنځونه زیاتوي، په دې چې همدا مینه ورته هغې مېوې ته ورته وي چې دا یې د خوړلو اجازه نه لري.

په دې مقاله کې له کلاسیک ادب نه د الملایکې د بغاوت پر لاملونو بحث شوی، خو په وروستۍ برخه کې یې د عربي شعر مخینه هم له دې شعر سره د الملایکې د تړاو له مخې څېړل شوې ده.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت:**

د معاصر عربي شعر په تړاو ممکن د ډېرو معاصرو شاعرانو شعرونه د څېړنې وړ وي، خو نازک الملایکه هغه شاعره ده چې د کولیرا(وبا) په شعر سره یې د عربي معاصر شعر کړکۍ پرانېسته او په خپلو آثارو کې یې پر نننې شعر د کلاسیک پېر اغېز مات کړ.

دا تجربه په معاصر پښتو شعر کې هم تکرابدونکې ده، معاصره پښتو شاعري هم د فورم او هم د محتوا له مخې د نوي والي خواته ځي، خو بلې خواته د کره کتونکو نیوکه دا ده چې شعر مو په یوه ډول له معاصر ژوند سره هم غاړۍ نه دی او د نننې ژوند روڼ انځور په کې نه لیدل کېږي.

**د څېړنې موخې:**

- تر یوه بریده د ادب مینه والو تـه د نـازک الملایکـې ور پېژنـدل او د عـربي نوي شعر په تړاو عمومي معلومات ورکول.
- په پښتو شعر کې د ښځینه نابو احساساتو تت انځور چـې ټـولنیز وضـعیت او د ښځینه شاعرانو ډار او دوه زړیتوب پرې سیوری کړی، پاملرنـه اړول چـې بایـد غښتلی او تازه شي.
- پـه نړیـوال ادب کـې د عـربي ادبیـاتو برخـې تـه د څېړونکـو او د ادب د استادانو پاملرنه اړول، ځکه چې موږ په ادب تاریخ کـې لا هـم د هېوادونـو زوړ ادب تاریخ او کلاسیکې څېړې لولو او له اوسني وضعیت یې نا خبره یو.

**د څېړنې پوښتنې:**

۱-نازک الملایکه په عربي کې د څه ډول معاصر شعر غوښتونکې وه؟

۲-د الملایکې شعر د عرب مېرمنو په ټولنیزه بیداري کې څومره رول ولوباوه؟

۳-په پښتو معاصر شعر کې د الملایکې د تجربې تکرار څومره مهم دی؟

**د څېړنې میتود:**

په دې مقاله کې د څېړنې لـه کتـابتوني ډول او لـه مقایسـوي( پرتلیـز) میتـود څخه کار اخیستل شوی دی.

## نازک الملائکه او د عربي ژبې نوی شعر

عربي ژبه د نړۍ یوه له ژوندیو، غوره او فصیحو ژبو څخه ده چـې غنـي ادبیـات او روڼ تاریخ لري. دغه تاریخ او ارزښت یې اسـلام مبـارک دیـن او قرآنکریم لا زیـات کړی او له مسلمانانو پرته د نورو دینونو پیروان هم پر دې اقـرار کـوي چـې دا ژبـه پـه فصاحت او بلاغت کې ساری نه لري.

عربي ژبه د عربو د جاهلیت د مهال شعر او ادبیـات هـم لـري، خـو هغـه څـه چې موږ ورباندې دلته خبرې کول غواړو، هغه د عربي ژبې نوی شعر او په دې شـعر کـې د عراقـۍ عربـۍ شـاعرې نـازک الملائکـې ادبي هڅـې او نـوې شـاعري ده.

د عربي ژبې او ادب څېړونکي په دې نظر دي چې د عربي شعر لـه ګـڼـو لـوړو - ژورو وروسته دوو شاعرانو د عربي ژبې لپاره د نوي شعر د بنسټ ډبره اېښې چې يـوه يې مېرمن نازک الملائکه او بل هم بدرلاشاکر السياب دی، خو ځينې نـور څېړونکـي بيا په دې اند دي چې د عربي نوي شعر په بنسټګرو کـې عبـد الوهـاب البيـاتی هـم راځي.(۲۳:۱)

افغان ليکوال ولي الله شاهين چې په عربي ادبياتو کې يې ماسټري اخيستې او د عربي ادب پراخه مطالعه لري، دې بنسټ ته د يوه درې ګوني مثلث پـه سـترګه ګوري او وايي چې نازک الملايکه – بدرلاشاکر السياب او عبد الوهـاب البيـاتي هغـه مثلث و چې د عربي قصيدې په عروضي ساختمان کې د قـافيې او وزن خـلاف يـې تفعيلي انقلاب راووست.(۲:۱)

د ازاد شعر چې عربي کې ورته "شـعر التفعيلـة" هـم وايـي د ظهـور بـيرغ يـې دغې مېرمنې پورته کړ چې وروسته له يوې اونۍ پر همـدې نسـق بانـدې د سـياب شـعر هـم راغـی. د کـوليرا( وبـا) پـه اړه د نـازک قصـيده پـه ۱۹۴۷ مـيلادي کـال د ډسمبر په لومړۍ نېټه خپره شوه چې کره کتونکي يې د عربي ازاد شعر پيلامه بولي.

د دې شـاعرانو پـه شـعرونو کـې راغلـې بېلګـې داسـې دي چې لـه دوی نـه وړاندې د عربي ژبې د شعر په تاريخ او پانګه کې په دې بڼه نه ښـکاري، د الملائکـې شعري ټولګه(شظايا و رماد) يعنی "ابرې او بڅرکي" او د السياب د شعرونو يوه ټولګـه چې ټولټال په کې يو ازاد شعر راغلی، د عربې ژبې څېړونکي يې د خپل معاصر شعر د بنسټ خښتې بولي.

ايرانی ليکوال دوکتور شفيعي کدکني وايـي چـې د ملائکـې او سـياب شـعرونه هغه مهال چاپ شول چې د عربي نوي شعر له دودېدو نه شاوخوا اتيا کاله تېر شوي وو چې د ققنوس په نامه يادېده چې معنا يې د ښکلي غږ لرونکي مرغه دی.

بله خبره د نورو ژبو له شـاعرۍ سره د ملائکـې بلـدتيا وه. د اسـتاد کـدکني پـه وينا ملائکه په يوه عراقي شيعه کورنۍ کې زېږېدلې او له ايراني فارسي ژبې سره يـې هم اړيکې وې، د دې ترڅنګ يې له انګليسي شعر سره هم اشنايي درلوده، اروپـايي شعرونه يې هم لوستي وو.(۲۳:۷)

## د الملائکې ژوند او اثار

د نازک الملائکې اصلي نوم نازک صادق الملائک دی او د عراق اوسېدونکې ده. ځينې کره کتونکي د هغې مشهور شعر کوليرا (وبا) د عربي ژبې د شعر په تاريخ کې لومړی ازاد شعر ګڼي چې وروسته به وربانديې بحث وشي.

نوموړې په ۱۹۲۳ م کال کې د بغداد ښار د عاقوليې سيمې په يوه ادبي کورنۍ کې نړۍ ته سترګې غړولې، پلار يې د عربي ژبې له شعر او ادب سره مينه درلوده، مور يې سلمی عبدالرازق هم د عشقي شعرونو مينه واله وه چې د دانشودة المجد (د سرلوړۍ سندره) په نامه يوه شعري ټولګه يې هم خپره شوې ده.

نازکه ان له هغه ماشومتوبه غنمرنګه، ډنګره، جدي او با وفا نجلۍ وه چې له مطالعې سره يې زياته مينه درلوده، خو د دې ټولو تر منځ يوه منزوي( له نورو ګوښه) نجلۍ وه او د اوچت خيال پنځونې او شاعرانه ځانګړتياوو نخښې په کې حس کېدې.

نوموړې له منځنيو زده کړو وروسته د بغداد په عالي تحصيلي مرکز کې د عربي ژبې او ادب په برخه کې لوړې زده کړې پيل کړې او د تحصيلاتو له ختمولو وروسته د نورو زده کړو لپاره امريکا ته لاړه او د امريکا متحده اياالاتو د پرنيسون پوهنتون د انګليسي او تطبيقي ادبياتو په برخه کې محصله شوه.(۲:۲۲)

په امريکا کې د هغې تحصيل د دې سبب شو چې له نړيوالو ادبياتو سره بلده شي او همدا موضوع وروسته ددې پر شعر پر يوې اغېزناکې مسئلې بدله شوه.

له امريکا څخه تر را ستنېدو وروسته په ۱۹۵۷ م کال کې د بغداد ښوونکو د روزنې په پوهنځي کې د استادۍ په توګه وټاکل شوه، خو په بيروت کې د دوه کلنې استوګنې لپاره يې عراق پرېښود، وروسته بېرته عراق ته راغله او د بصرې او موصل پوهنتونونو کې د عربي ژبې او ادب ښوونکې شوه، وروسته د کويټ پوهنتون ته د تدريس لپاره لاړه.

ملائکې له ۱۹۹۰ م کال څخه د مرګ تر ورځې په قاهره کې په ګوښه نشينۍ کې ژوند کړی، ناسيوناليست سياسي نظريات يې درلودل او شعرونه يې تر

ډېره رومانتیک دي، هغه شدت او نرمي چې د شاکر السیاب او عبدالوهاب البیاتي په شعر کې لیدل کېده، د دې په شعر کې نه وه.(٦:٢١٢)

نازک الملائکه په ۱۹۷۰ م کال کې د بعث گوند له واک ته رسېدو وروسته له خپل خاوند عبدالهادي محبوبه سره له عراق نه کویټ لاړه، نوموړې تر ۱۹۹۰ م کال پورې پر کویټ د صدام حسین د برید تر مهاله په همدې هېواد کې وه.

وروسته له خپلې کورنۍ سره قاهرې ته روانه شوه او د عمر تر پایه هلته وه. بالاخره په ۲۰۰۷ زېږدیز کال کې د ۸۵ کلنۍ په عمر له اوږدې عصبي ناروغۍ وروسته وفات او په همغه ښار کې خاورو ته وسپارل شوه.

**منظوم او منثور آثار**

د الملائکې ټول آثار د درني او سرگردانه احساساتو د بیان روښانه انځورونه دي چې له شعري ټولگو، ادب او کره کتنې څخه عبارت دي. شعري ټولگې یې له:

۱-عاشقة اللیل، چاپ کال ۱۹٤۷زېږدیز.

۲- شظایا و رماد، چاپ کال ۱۹٤۹ زېږدیز.

۳- قرار الموجة، چاپ کال ۱۹۵۷ زېږدیز.

٤ -شجرة القمر، چاپ کال ۱۹٦۸ زېږدیز.

۵- مأساة الحیاة و اغنیة للانسان( ۱۹٤۵-۱۹٦۵ زېږدیز).

٦- یغیر الوانه البحر، چاپ کال ۱۹۷۷ زېږدیز.

۷- للصلاة و الثورة، چاپ کال ۱۹۷۸ زېږدیز.

د نثر او کره کتنې کتابونه:

۱- قضایا الشعر المعاصر، چاپ کال ۱۹٦۲ زېږدیز

۲- الصومعة و الشرفة الحمراء، چاپ کال ۱۹٦۵ زېږدیز

۳- سیکولوجیة الشعر، چاپ کال ۱۹۹۳ زېږدیز

٤- التجزیئیّـة فی المجتمع العراقی (د چاپ کال یې نامعلوم دی)

د معاصر شعر قضیې اثر یې د ادبي کره کتنې په اړه لیکلی او په کې یې له نوي عربي شعر نه دفاع کړې ده. دا په خپل دې اثر کې نوی عربي شعر کوم بهرنی سبک نه بولي، بلکې د دې په اند د عربي شعر دا روش د عربي شعر د پرمختگ

لپاره یوه دروني هڅه ده چې تاریخي بدلونونه او د نوې زمانې پر مسایلو قضاوت کوي.(٦:٢٢٠)

د دې کتاب په لومړنیو چاپونو کې نازک الملائکې ادعا کوله چې دا د عربي نوي شعر لومړنۍ شاعره ده، خو د کتاب له پنځم چاپ نه وروسته له خپل دې نظر نه شته په شا شوه او عراق یې د عربي ازاد شعر د رامنځ ته کېدو لومړی پنځ ځای وباله.

دې د دې ترڅنګ په همدې چاپ کې وویل چې د دې د کولیرا ( وبا) شعر د عربي ژبې لومړی ازاد شعر نه دی، بلکې دا ډول شعر په عربي ژبه کې مخینه لري او ۱۹۳۲ مو کلونو ته رسېږي.

**د ملایکې د شعر منځپانګه:**

که چېرته د الملائکې شعر ته ځغلنده کتنه وکړو، نو داسې به احساس کړو چې دا شاعره په یوه ځانګړې نړۍ کې له خپل ځان سره ژوند کوي، هغه نړۍ چې د درد، ناهیلی، ځور، یواځېتوب، ببوزلی او د ژوند په تېرو خاطرو پسې د ځورېدو پر ځنډه ولاړه ده.

هغې له شپې سره ځانګړې مینه درلوده او دا خبره یې په خپلې یوې شعري ټولګه عاشقة اللیل(د شپې مین) کې ثابته کړې ده. دې شاعرې د عربو په شعر او ادب کې بدلون راوست او د عربي شعر د فني مخکښې په توګه مطرح شوه.

هغه په احساساتو کې ډوبه ښکاري، په زړه کې یو ورک مکان لټوي، په داسې حال کې چې له خپلې کورنۍ سره یې یو ځای ژوند درلود، د شعر په منځپانګه کې یې دا توکي په بیا بیا تکرارېږي او شاعره راته په یوه تلپاتې غم کې ایساره ښکاري.

دا که په شعر کې مینه کوي او مینې ته پناه وړي، نو خپله مینه یې هم یوه داسې ناروغ ته ورته وي چې غم لري او له دې سره د خپلو غمونو د کمولو هیله لري، خو په دې ټولو سره بس یواځې خپل رنځونه زیاتوي، په دې چې همدا مینه ورته هغې مېوې ته ورته وي چې دا یې د خوړلو اجازه نه لري.(۱۵:۷)

څرنګه چې په (اغزي او غمونه) شعر کې وایي:

زموږ روزګار څنګه تېر شو

څنګه؟

زموږ د کډواليو، هيلو او غمونو تر څنګ
زما او ستا زړه له مينې او هيلو ډک شو خو
بيا هم وتوانېدو چې پټ يې کړو
هر څومره مې چې سترګې تاته د مينې خبرې کوي
همدومره ورته د ناکامۍ او جدايۍ سزا ورکوم...
(۱۲۳:۴)

الملائکه تر ۱۹۵۷ ز کال پورې وړاندې شعرونو کې په خپل ځان او مينه کې ورکه ده، په خيالونو کې خيالونه ګوري، کوښښ کوي چې پر خپل ځان مينه شي، يواځې ځان ته جزا ورکوي او له ځان سره دښمني کوي، ډېر وروسته يې پام کېږي چې له ربښتينې نړۍ وړاندې تللې او يوازې د ځان پر وړاندې ولاړه ده.

په همدې کال(۱۹۵۷) کال کې تر (( قرار الموجة )) نامه لاندې شعري ټولګه خپروي، ددې ټولګې له شعرونو ښکاري چې الملائکه په يوه ډول له خپلې شخصي-نړۍ وځي او په شرقي ټولنو کې د ښځو ستونزو او محروميتونو انځورولو ته مخه کوي.

مثلاً د همدې ټولګې په يوه شعر کې يوه داسې بې کسه يوولس کلنه نجلۍ انځوروي چې نه کور لري نه کورنۍ، شپه ورځ، په کوڅو کې وږې تږې ګرځي، د اوړي ګرمۍ او د ژمي شپې ورځې په سختۍ تېروي.

دا شعر د خپلو دردونو د بيان وسيله بولي چې کولی شي ستونزې، عقدې او محروميتونه انځور کړي. د شعر يوه برخه يې نورو ته بلنه وه چې نور يې په نوي طرز شعر ليکلو ته هڅول چې په دې توګه يې د عربي شعر له کلاسيکو نظريو سره مبارزه وکړه او د شعر نوی کاروان يې ګړندی کړ.(۱۳۸:۳)

نومـوړې خپل لومړنی شعر په ۱۹٤٥م کال کې ويلی چې د ادب تاريخ ليکونکو يې د بيتونو شمېر ۱۲۰۰ ښودلی دی.

دې شعر ته شاعرانو (مأساة الحياة) نوم ورکړ چې موضوع يې زموږ ژوند او مرګ او ورسره تړلي اسرار دي، شاعرې په دې شعر کې په دې اړه خپله ناهيلي او د بدبينۍ احساس څرګند کړی چې ولې زموږ ټول ژوند غم او مرګ د بشري بدبختيو

تر ټولو لوړه څوکه ده، خو تر څنګ یې د دوهمې نړیوالې جګړې لـه وحشـتونو، ویجاړیو او ناوړه پایلو ګیله کوي او ټولو ته د سولې او پخلاینې بلنه ورکوي.

دا د انسانانو د ټولنیز ژوند، غوښتنو او نېکمرغیو خبرې کوي، خو پـه پـای کـې بیـا هـم لـه خپـل زړه خوړلـو او درد سره معنـا مخ وي، ځکـه چـې د ځمکـې پـر مخ نېکمرغي نه مومي.

ولي الله شاهین د ملائکې په شعرونو کې د ښځینه ښکلا او غرور ستاینه هـم د پام وړ بولي او په دې نظر دی چې نازک الملائکې د شعر په نـوې ښـکلا کـې هغـه ښـځینه کـردار و چـې د لـومړي ځـل لپـاره یـې لـه نارینـه وو څخـه د رهـبرۍ بـیرغ واخیست او د ژوند تر پایه یې په اوږه و. په ازاد شعر کې د نـازک الملائکـې بنسـټیز رول د هغه چا لپاره چې د ادب او نقد د تاریخ لوستونکی وي، د پام وړ رول دی چې له نازک نه غیر نیمګړی دی.(۱۸:۷)

بله دا چې هغې تلپاتې شـعرونه ولیکـل، پـه دې معنـا چـې د دې د زمـانې لـه تېرېدو او مړینې وروسته هم ژوندي پاتې شـول، نـو ځکـه ویـلی شـو چـې نـازک لـه عیبونو د پاک نوښت سرلارې ده، د نازک (وبا) قصیدې نږدې اویا کالـه وروسـته هـم خپل محبوبیت له لاسه نه دی ورکړی.

په ټوله کې ویلی شو چې ملائکه روان، روښانه او له هر ډول غوټې پاک شعر لیکي، له رومانتیک اړخه د انګلیسي ژبو شاعرانو شیلي او ولیټکس شـعرونو تـه ورتـه دي چې نه یواځې هغوی یې منلي، بلکې د دې شاعرانو ګڼ شـعرونه یـې هـم عـربي ته ژباړلي دي.

د عربي نوي شعر څپې له انحراف سره مخـې وي، لـه ګوانښـونو او خنـډونو سره مخامخ و، نو ممکن همدا ټکی د دې لامـل شـوی وي چـې ملائکـه هـم پـه اویـایمې میلادي لسیزه کې د سیاسي موضوعاتو په اړه شعر لیکلو ته مخه کړي.

د هغې د شـعر تـر ټولـو اوچتـه ځانګړنـه ژور احساسـات او دردونـه دي، هغـه د شپې او درد همرازه شاعره ده، هغه په هدیره کې سرګردانـه ګرځـي، شـپې تـه د یـوه دوست، غم ته د یوه ملګري او مرګ ته د خپل پناه ځای په سـترګه ګـوري، شـعر یـې له غم او ناهیلو ډک دی.(۶۲:۲)

د یوه شعر څو بېلګې یې له ژباړې سره وړاندې کوو، د شعر ژباړه ګرانه ده، که څه ستونزه ولري، نو لوستونکی دې راته بخښنه کوي.

فَوَداعاً یا کلُّ ما فی الوجود الـعبقریِّ العمیقِ من آهاتٍ

اې زما اوښکو او اندېښنو! تر څو چې په دې نړۍ کې یاست، ښکلی ژوند کوم او له تاسې سره به مینه ولرم.

کنتُ فی قلبی الخیالی مآساة و آنتِ الغداة سرُّ حیاتی

نو تاسې هم تر هغو پورې چې زه په دې نړۍ کې ژوند کوم او تر هغو چې له عالمه د خپل سفر بار تړم، زما ملتیا وکړئ.

سوفَ اهواكِ یا دمُوعی و احزانی فی ما عِشتُ فی الوجودِ الجمیلِ

خو اې زما ژونده، ته هم په دې نیمه خاورینه کُره داسې تېر شه چې حالات یې غواړي.

فاصحَینیِ إذا آنا عشتُ فی العالمِ آوحانَ عن ثراهُ رحیلی

اې ژونده! بادبانونه دې پرانېزه او روان شه، د سندرو په څېر سندرې ووایه.

أُنشُری ذلك الشراع وسیری و تغنّی ما شاءتِ الآلحانُ .

په نیم کښو سترګو موسکا وکړه او د مخه ښې سندره ووایه.

(٦:٢٢٧)

## ملائکه او له کلاسیک ادب بغاوت:

د ژبې کلاسیک او معاصر ادبیات دواړه د ژبې لپاره ارزښت لري، خو که چېرته له یوې مخې ځان کلاسلیک کړو او یا له یوې مخې له معاصرې ادبي تیورۍ منکر شو، نو دا کار منطقي نه دی، د معاصرې ادبي تیوري رامنځ ته کوونکي باید خپل کلاسیک پېر خامخا په نظر کې ولري.

عربي هېوادونه د اوسني عصر په اوږدو کې د خپل ادبي، ټولنیز او سیاسي ژوند د اوښتون او بدلونونو له بېلابېلو ټکانونو سره مخامخ دي، خو ادب او په ځانګړي ډول شعر چې د خلکو د فکري او فرهنګي ژوند مهم عنصر دی، له دې بدلونونو زیات متأثر شوی، یعنې دې بدلون د معاني، وزنونو او قافیې له اړخه بله بڼه ورکړې ده.

د هغې د شعرونو لومړۍ ټولګه چې په ۱۹٤۷ م کال کې د عاشعة اللیل یا د شپې مین په نامه خپره شوه او دا هغه کال و چې د ازاد شعر یا کولیرا(وبا) د شهر بهیر پیل شو.

له دې وروسته یې په ۱۹٤۹ م کال کې په خپله دوهمه شعري ټولګه (شظایا و رماد) چې په پښتو کې ورته بځرکي او ایرې ویلی شو، خپور شو چې د ازاد شعر له بهیر سره یې د یو ځای کېدو لپاره عمومي بلنه اعلان کړه. دا خپله د دې ټولګې په مقدمه کې وايي: زما په نظر د عربو ننني شعر د یوه کورني بدلون او توپان په درشل کې دی، له تېرو بېلګو به څه راپاتې نه شي، د ټولو تېرو وزنونو، قافیو، بېلګو او مکتبونو بنې د لړزې او اوښتو په حال کې دي. (۲:۵۵)

د عربي شعر په دې بدلون کې تر ټولو ستر بدلون او ټکان هغه خوځښت ورکړ چې سر لارې او اعلانونکې یې عراقي شاعره الملائکه وه، خو د شعر په اړه د هغې نظریات او قواعد له تاریخي اړخه لومړني هغه نه وو او نه دا د عربي لومړنې ازاد شعر شاعره وه.

یعنې له تاریخ اړخه که څېړنه وشي، نو الملائکه د عربي ازاد شعر لومړنۍ مدعي نه ده، بلکې د بدر شاکر السیاب، عبدالوهاب بیاتي او بلند الحیدري څېرې هم شته چې د ازاد شعر په وزن یې شعرونه ویلي دي، خو دې شعر ته د رابلنې او عامېدو یا په بله اصطلاح د تفسیر په برخه کې د هغې فني او غښتلي نقدونه د ځانګړې یادونې وړ دي.

نازک الملائکه د عربي معاصر شعر لومړنۍ ښځینه شاعره ده چې د کلاسیکو عروضو کړۍ یې ماته کړه او په ازادو عروضو کې یې شعرونه ولیکل، دا چې په ادب کې داسې ستر بغاوت پوهه او زړه غواړي، نو ویلی شو چې ملائکې د خپلې ژبې او غربي ادبیاتو تر څنګ په ځانګړي ډول د انګلیسي ژبې د پراخې مطالعې په سبب دا پوهه او جرئت تر لاسه کړی و.

کره کتونکی او لیکوال ولي الله شاهین وايي، په زاړه سومري معبد کې د مینې دغه کاهنه نازک الملائکة داسې را څرګنده شوه، لکه د خلیلي عروضو او د شعر زوړ کالبوت کې چې د نوي روح پوکولو لپاره د شعر پېریانو را استولې وي .

**وبا؛ هغه قصیده چې د عربي شعر پانه یې واړوله:**

د یوه شعر د لیکلو لپاره د شاعر دروني وضعیت او چاپېریال ډېر مهم دی او د شعر په پنځولو کې اغېز لري. د نازک الملائکې د (وبا) قصیده چې وړاندې مو ورڅخه یادونه وکړه، د عربي نوي شعر په پیل کې که لومړنی نه ده، نو تري مخکې غوره بېلګه هم نشته.(۱۴:۷)

دا قصیده داسې مهال لیکل شوې چې شاعره یې خپله په قاهره کې له یوې خوا له خپل وطن نه کډواله وه او له بلې خوا یې له مرګوني ناروغی سره په سختی شپې ورځې تېرولې.

له بلې خوا په ۱۹٤۷ م کال کې په قاهره کې وبا ناروغي خپره شوه چې په پراخه کچه مخ پر خپرېدو وه، په کمه موده کې یې د ګڼو مصریانو ژوند واخیست او دې حالت د شاعر غوندې پر یوه حساس موجود خامخا ژوره اغېزه کوله.

ملائکې د خپل دې شعر په اړه ویلي چې په ډېر کم او لنډ وخت کې یې لیکلی، ویلی شي چې ممکن له یوه ساعته یې کم وخت نیولی وي، د قصیدې منځپانګه لکه څرنګه یې چې له نومه ښکاري، د دې ناورین په اړه د هغې ژور درد انځوروي.دا قصیده ډېره ترخه او د تیاره او یخو مضامینو لرونکې ده.

قصیده په ((سكَن الليلُ. أصغِ إلى وَقْع صَدَى الأنَّاتْ...، یعنې شپه غلې شوه! اوس نو د درد او فریادونو سندرې ته غوږ ونیسه... پیلېږي، قصیده د ۱۹٤۷ م کال د ډسمبر په لومړی نېټه د بیروت په العروبه مجله کې چاپ شوه. له دې شعر او چاپ وروسته یې د عربي سنتي شعر د پلویانو او هغوی تر منځ جګړې پیل شوې چې د نوي او ازاد عربي شعر لپاره یې هڅې کولې.

دا لو مړی قصیده وه چې د عربي نوي شعر د زېږون نېټه یې ثبت کړه . مهمه نه ده چې په تاریخي نېټه تړلي مخکښي همېش معیار اوسي، نازک خپله وایي چې دا لومړی مېرمن نه ده چې ازاد شعر یی لیکلی دی.(۱۴۵:٦)

ولي الله شاهین په دې نظر دی چې له دې څخه تر مخه مصر کې بدیع حقي ـ لویس عوض او علي احمد باکثیر ازاد شعرونه لیکلي، تر دې وروسته بیا سمتي دعوي د زیادت او مخکې شروع شوې، لبنانیانو به ویل چې جبران خلیل جبران لومړی کس و چې آزاد شعر یی ووایه، خو د نازک په اند لومړی کس چې شعري

قواعد يې مات او ازاد شعر يې ووايه، هغه احمد مطلوب و چې په ۱۹۲۱ م کې يې لومړۍ آزاده قصيده وويله.(۴:۷)

احمد مطلوب يو عراقي شاعر دی، د دغه شعري انقلاب د مشرتابه وړتيا تر ډېره حده په مشخص تاريخ پورې نه ده تړلې، ولې د سبک – فکر – د مألوف خلاف ودرېدل، د سختيو ګالل او نوي فکر ته لاره هوارول، په دې اړه مهم ټکي دي چې نازک دغې ټولو ته وفاداره پاتې او د ژوند تر پايه يې د دې هدف د لاس ته راوړلو لپاره مبارزه وکړه.

**د عربي معاصر شعر مخينه او الملائکه:**

الملائکې په خپله يوه مرکه کې ويل:((زه لومړنۍ شاعره وه چې په عربي ژبه مې نوی شعر د ۱۹٤۷ م کال د نومبر مياشتې په ۲۷مه نېټه د بيروت په يوه عربي ژبې مجله(العروبه) کې چاپ کړ، زما له دې شعر نه وروسته زما د همعصره شاعر بدرالشاکر السياب شعري ټولګه( مړاوي ګلونه) چاپ شوه چې يواځې يو ازاد شعر په کې و.

د عربي نړۍ يو بل نوماند شاعر نزار قباني په (زما کيسه او شعر) کتاب کې ليکي چې د شعر سنتي يا دوديزه بڼه چې د جهالت له دورې نه زموږ پر لور را روانه وه، تر شلمې پېړۍ يې مزل وکړ او د يوې زياتې مودې لپاره يې په حرکت کې څه بدلون را ښکار نه شو.

د شعر دا کاروان د بغداد، قاهرې، دمشق او بيروت له تمځايونو تېر شو، هلته هځې وشوې او د ده په وينا، د "شيطان زامنو" پرې بريدونه وکړل چې د سنتي شعر دا کاروان تم کړي او لورى يې بدل کړي، خو په بشپړه توګه د دې کاروان تم کول، هغه هم د عثماني زړو ټوپکو تر سيوري لاندې څه اسانه کار نه و، خو بيا هم ځينې زړور خلک وو چې د دې شعر مخه يې ډب کړه.(۲۷:۱)

قباني بالاخره دې پايلې ته رسېږي چې دا څه ګټه نه لري چې شاعران په خپل منځ کې په دې اړه دعوا وکړه چې څوک د لومړي ځل لپاره له دې شعر سره ملګرى شوى او نوم يې بايد لومړى شاعر وليکل شي او يا يې کره وخت وټاکل شي. دى په شعر کې نوښت د لامبو د سيالۍ قواعد نه بولي، دی نوښت ته د حامله ګۍ او زېږون په سترګه ګوري چې د زماني لاملونو او پخوانيو چمتو والو تابع وي.

دی زیاتوي، دا به مناسبه نه وي چې د لسګونو هغو زړورو شاعرانو نومونـه بایـد د انقلابي او نوښتګرو شاعرانو له لړلیک نه وباسو چې له ۱۹۵۲ م کال راهیسـې یـې د عربي شعر پر ستومانه کاروان د بریدونو نقشې اېستلې وې، کـه څـه هـم تـاریخ او ټولنیز وضعیت هغوی دې ته پرېنښودل چې پـه دې کـاروان د خپلـو بریـدونو نقشـې پلې کړي.

د ایران د ازاد علمي پوهنتون استاد رضا افضـلي پـه دې نظـر دی چـې عـربي هېوادونه یا عربي نړۍ، زموږ د ځمکې یوه داسې برخه ده چې شاعران په کې زیات دي او ښه شاعران په کې نړۍ ته راغلي، د دوی د بریا یـو لامـل دا دی چـې بـه ډېـر راحت او فصیحې ژبې او د خپل زړه خبرې پـه ډېـره اسـانۍ او بریـالیتوب سره خپـل مخاطب ته رسولی شي.(۴۳:٦)

همدا اوس د عربو شاعرانو د غزل شـپې یـا مشـاعرې ډېـرې نومانـدې او بـې سارې دي، سره له دې چې ګڼ مینه یا مخاطبان لري، خو ځینې شاعران یې بیا پـه دې فیصحه ژبه هم مبهمه شاعري کوي، د ژبې ډېره سوچه او پېچلې( افراطي) بڼـه کاروي، ولې بیا هـم د دې خـبرې کـول اړیـن دي چـې د دوی اکثریـت پـه ژبـه کـې افراطیت نه کوي او شعر ته یې منځنۍ ژبه غوره کړې ده، خو ټولو ته عام فهمه وي.

سره له دې چې اوسمهال عرب شاعران د قیاس په مقام کې د کیفـي او کمـي اړخه د نورو ژبو په ځانګړي ډول د ګاونډیو غیر عرب هېوادونـو لـه شـاعرانو پـه خپلـه ټولنه کې زیات مطرح دي.

د عربي ژبې بل کلاسیک شاعر اډونیس چې د علي احمـد سـعید مسـتعار نـوم دی، د عربي ژبې د شعر پیاوړې څېره بلل کېږي او نړیوال شهرت یې ګـټلی دی. ده د عربي ژبې د کلاسیک او معاصر شعر ژوره مطالعه کړې او د ده په څېـر یـې مېـرمن ډاکټر خالده سعید هم د عربي ژبو او ادبیاتو تکړه کره کتونکې ده.

اډونیس کلونه کلونه د لبنان پوهنتون په ادبیاتو پـوهنځي کـې تـدریس کـړی، ده خپل د دوکتـورا تیـزس هـم د( ثابـت او متحـول) پـه نامـه لـیکلی چـې پـه کـې د اسلامي فکر او فرهنګ د ثابت او متحولو بهیرونو په اړه بحثونه شوي، خو ځکه ویـلی شو چې ده د عرب شعر تېر او اوس هم ښه مطالعه کړی دی.(۱۴۴:٦)

دی پر ادبیاتو پوه او پر ژبه مسلط شاعر دی، په شعر کې یې قوي او غښتلي نظریات وړاندې کړي، خو د شعر په سمون کې ډېر کره نه دی یا په بله اصطلاح وسواس اخیستی وي، هڅه کوي چې شعرونه یې لنډ کړي، په شعر کې په ښکاره او سیاسي نیوکو کرښه را کاږي.

اډونیس بیا په شعر کې د نوښت لپاره پولې او کرښې نه مني او نه یې پېژني، دی غواړي چې د څیزونو نقشې یا بڼې ته بدلون ورکړي او د کره کتونکو په وینا چې د هغه لپاره شعر د ځمکې د بڼې بدلول دي، نو ځکه خو د ده په اړه ویل کېږي چې په ذهن یې یواځې د مډرنېزم سیوری خپور دی.

ده په خپلو شعرونو کې ډېر ځله د قراني ایاتونو بېلگې راوړې، په همدې ډول د اسلامي عرفان د سترو څېرو او مشرانو له ویناوو څخه یې گټه اخیستې، خو د دې تر څنگ د لولډرین او ریکه په څېر غربي مډرنیستانو نظریات هم له پامه نه غورځوي.

اډونیس سره له دې چې په عربي ژبه کې د ازاد شعر معیارونه په پام کې نیسي، خو وروسته وروسته یې په خپلو شعرونو کې له وزن او قافیې سره بېخي مخه ښه کړې او نثري شعرونه لیکي چې غوره بېلگه یې د(مهیار الدمشقي سرودونه) اثر دی.

بله مهمه خبره د عربي ژبې پر اوسني او نوي شعر خوځښت د انگریز شاعر او کره کتونکي ټي ایس ایلټ د (بې حاصله ځمکه) کتاب اغېز دی چې د اډونیس تر څنگ یې په بدرشاکر السیاب او نورو شاعرانو هم اغېز کړی دی. (۵:۲۳۰)

نزار قباني وایي: کلونه کېږي چې منثور شعر د شعر په کتاب کې د اصلي غړي ځای نیولی، همدا لامل چې ده په خپلو گڼو شعري ټولگو کې له دې شعري سبک کار اخیستی او کوښښ یې کړی چې په خپله هره نوي شعري ټولگه کې تر وروستۍ ټولگې بدلې خبرې وکړي او خپلې شاعرانه لارې او ژبې ته بدلون ورکړي.

د دې ټولو خبرو په پایله کې باید وویل شي چې الملائکې د خپل ادبي ژوند په اوږدو کې هم د خپلو شعرونو او هم د خپلو نقدونو له لارې د یوې حساسې ښځینه شاعرې په توگه تر نورو همعصرو عرب شاعرانو نوي عربي شعر ته ډېر څه ورکړي او نوې لارې یې خلاصې کړې دي.

د عربي شعر چې د فصاحت او بلاغت تر څنګ د عروضو کلک دېوالونه تـرې را تاو وو او ګېو شرقي ژبو هم ترې د شعري صنفونو په برخه کې پېـروي کولـه، نـو ډېـره ګرانه وه چې داسې يو بغاوت دې وشي چې ازاد شعر تـه لار خلاصـه کـړي، خـو دې مېرمنې دا همت او بغات وکړ او نن يې بايد اوسـنـي عـرب شـاعران پـه ځـانګړې ډول ځوانان منندوی وي.

**وړانديزونه:**

۱- د ادبياتو پوهنځيو د پښتو ادب څانګو کې دې ته اړتيا ليـدل کېـږي چـې د نړۍ ادب مضمون کې د معاصر عرب شعر او شاعرانو په تړاو تازه معلومات او بحثونه ځای پر ځای شي.

۲- تر دې دمه په پښتو ادب کې د عربي شعر او د شعر و ادب په تړاو د ليکـل شوو آثارو په باب ژباړې خورا کمې دي، يواځې د نزار قباني د شـعرونو ځينـې برخـې موجودې دي. د لبناني شاعر جبران خليل ځينې آثار هـم شـته چـې ډېـری يـې لـه انګريزې ژباړې راغلي دي، اړتيا ده چې دا برخه غني شي.

۳- ممکن د بېلابېلو هېوادونو پـه معـاصرو شـعرونو کـې د فکـر لـه اړخـه ځينـې داسې مسايل وي چې لا هم زموږ په هېواد او ادب کې د زغم وړ نه دي، نو اړينه ده چې د شاعر شخصيت د هغوی له ادب څخه جلا وڅېړل شي.

**مأخذونه:**

۱-العبد، الدکتور عبدالحليم، تـاريخ الادب العـربي، مرکـز اللغـات و الترجمـه – اکاديمه الفنون،۲۰۰٦م.

۲- پسرلی، اجمل، د عربي ژبې اوسنی شعر: ننګرهار، مومند خپرندويـه ټولنـه، ۱۳۹۵لمريز.

۳- رحـماني. ګـل رحمـن، زرلټـون: ننګرهـار، مومنـد خپرندويـه ټولنـه، ۱۳۹۴ لمريز.

۴- ضيف، احمد شوقي، تاريخ الأدب العربي العصر- الجاهلي، بغداد، الناشر دايرة المعارف،۲۰۱۰ نومبر.

۵- ښکلی. اجمل، ادبستان: ننگرهار، مومند خپرویه ټولنه، ۱۳۹٦ لمریز.

٦-مسبوق، دوکتور مهدي او دوکتور مصطفی جوانرودي، تاريخ الادب العربي من سقوط بغداد الی العصر المعاصر، پیام نور پوهنتون(تهران)، د عربي ژبې او ادب پوهنځی.

۷- د عربي ژبې او ادبیاتو له ماسټر ولي الله شاهین سره زما مرکه او د دوکتور شفیعي کدکني او نزار قباني بېلابېلې ادبي مرکې.

څېړنيار شريف الله ساثېن

# نورستاني ژبې او لهجې

## لنډيز:

نورستان زموږ د هېواد هغه تاريخي او فرهنګي سيمه ده چې د ځو بېلابېلو آريايي ژبو ويونکي په کې له لرغونو زمانو راهيسې استوګن دي. په دغه تاريخي سيمه کې د بېلابېلو قومونو وګړي چې په بېلابېلو ژبو خبرې کوي، د دې سيمې اصلي اوسېدونکي دي.

د دې بېلابېلو ژبو وګړي چې بېلابېلې لهجې لري په خپلو کې هر اړخيز ګډ عنعنات، فرهنګ او ژبنې اړيکې لري. د دې څېړنيزې مقالې په منځپانګه کې نورستاني ژبې او د هرې ژبې لهجې يې له مېشت ځايونو سره روښانه شوې دي او تر څنګ يې له ګوَري ژبې سره د نورستاني ژبو پر اړيکو لنډ بحث شوی دی.

## سريزه:

د نورستان ښکلې، سمسوره، لرغونې او تاريخي سيمه زموږ د ګران هېواد افغانستان په شمال ختيځ کې موقعيت لري، چې وګړي يې لرغونې لومړني آريايان دي. دغه تاريخي سيمه د هغه لرغونو آريايانو د استوګنې سيمه ده، چې اصيل آريايي فرهنګ او د ټولنيز ژوند عنعنات يې له پېړيو پېړيو راهيسې ساتلې او اوس يې هم هر اړخيز مادي او معنوي آثار او فولکلوريکي مسايل او موضوعات راپاتې دي، چې د هېواد فرهنګ ته يې ښکلا وربخښلې ده.

د نورستان د دغې ښکلې او تاريخي جغرافيې وګړي په بېلابېلو نورستاني ژبو

او لهجو خبرې کوي چې له يو بل سره د ټـولنيز ژونـد ګـډ عنعنـات، فرهنـګ او هر اړخيزې ژبنۍ او اتنيکي اړيکې لري.

د نورستاني ژبو د پيدايښت او دريځ په اړه څېړونکو او ژبپوهانو بېلابېل نظريات وړاندې کړې دي، چې په دې مقاله کې مـو لـومړی پـه دې اړونـد د ځينـو پوهـانو او څېړونکو د نظرياتو لنډه يادونه کړې ده او وروسته مو پـه بېلابېلـو مسـتقلو نورسـتاني ژبو او د هغوی په لهجو او مېښت ځايونو بحث او خبرې کړې دي. ورپسې مو په ټوله کې د نورستاني قوم اړوندو سترو څـانګو (قبيلـو) او د دې قبيلـو د ژبـو لنـډه يادونـه کړې ده. په پای کې د مقالې له اصولو سره سم پايله، وړانديزونه او ماخذونه په خپل وار سره راوړل شوې دي.

## د څېړنې اهميت او مبرميت:

د نورسـتاني ژبـو پـه اړه بېلابېلـو ژبپوهـانو او څېړونکـو ليکنـې کـړي او خپلـې څرګنـدونې يـې وړانـدې کـړي دي؛ خـو دا چـې د يـوه ځـانګړي سرليـک لانـدې د نورستاني ژبو او لهجو په اړوند څېړنـه وشي او نورسـتاني ژبـې او لهجـې پـه لنـډ ډول روښانه شي، داسې يوې څېړنې ته ډېره اړتيا ليدل کېدله چې مبرميـت هـم تـر ډېـره په دې کې دی او اهميت يې دا دی، چې د دې څېړنـې پـه تـرڅ کـې بـه نورسـتاني ژبې او لهجې له مېښت ځايونو سره په څرګند ډول روښانه شي.

## د څېړنې موخه:

د دې څېړنې موخه دا ده چې له يوې خوا به د نورستان اړوند بېلابېلې ژبـې، د هغوی لهجې او مېښت ځايونه په ډاګه شي، چې هره ژبه يـې د يـوه ځـانګړي قـوم د هويت څرګندوي کوي او له بلې خوا به دغه مبهمـه موضـوع چـې آيـا د نورسـتان پـه سيمه کې يوه ژبه ويل کېږي، که څو ژبې؟ او بله داچـې آيـا د نورسـتاني اصـطلاح د قوم او ژبې نوم دی او که نه؟ په دې څېړنه کې به دغه پوښـتنې حـل او روښـانه شي او د نورستان د خلکو د قوم او ژبې اصلي هويت به لا نور هم په ډاګه شي.

## د څېړنې پوښتنې:

۱- د نورستان وګړي په څو او کومو ژبو خبرې کوي؟
۲- آيـا د نورســتان اصــطلاح اصــلاً د قــوم او ژبــې نــوم دی او کــه نــه؟

۳- مورگنستیرن نورستاني ژبې د جغرافیايي موقعیت لـه مخـې پـه څـو څـانگو ویشلې دي او په هره څانگه کې يې کومې ژبې شاملې دي؟

۴- امریکايي ژبپوه ریچارد سټرند د نورستاني ژبو او نورستانیانو پـه اړه څـه ډول څرگندونې وړاندې کړي دي؟

۵- نورساني ژبې او قومونه کوم دي؟

٦- کتي ژبه کومې لهجې لري؟

۷- د نورستاني ژبو د هرې ژبې ویونکي په کومو سیمو کې استوگن دي؟

## د څېړنې میتود:

په دې څېړنه کې له تشریحي او تحلیلي میتود څخه کار اخیستل شوی دی او د څېړنې ډول يې کتابتوني دی.

## د مقالې متن:

د نورستاني ژبو د موقعیت، پیدایښت او دریځ پـه اړه د آریـايي ژبـو څېړونکـو او پوهانو بېلابېل نظریات وړاندې کړي دي چې دا ژبې د دارديي ژبو اړوند او ځینـو بیـا د اندو آرياني(آریک) خپلواکه څانگه گڼلې ده، خو مخکې له دې چې پـه نورسـتاني ژبـو او لهجـو بحـث او خـبرې وکـړو، لازمـه ده چـې پـه دې اړونـد د ځینـو پوهـانو د څرگندونو لنډه یادونه وکړو او بیا د خپلې اصلي موضوع په توگـه د نورسـتاني ژبـو او لهجو بحث ته راوگرځو:

انگلیسي پوه R. B. Show هغه لومړنی شخص و چې د دارديي ژبـو د وېـش پـه اړه يې هلې ځلې کولې، ترڅو دارديي ژبې پر جغرافیايي موقعیت سربېره د ژبپـوهنې له نظره وویشي. د نوموړي په عقیده دغه ژبې له یوې لرغونې لهجې (نه انـدو آریـایي او نه آریاني)، یعنې له آرین (اندوآریاني- آریک) څخه منشأ اخلي. نوموړي همدارنگـه عقیده درلوده چې د یوې واحدې گډې سیمې په امتداد کې د دې ژبو ویل او د دې جلاوالی له نورو ژبو څخه د دې سبب گرځېدلی دي، چې لـه یـو بـل سره پـه مـوازي مسیرونو کې تحول او انکشاف وکړي.

گریرسن G.A.Grierson چې نورستاني او دارديک ژبې په گډه د دارديک ژبـو په نامه یـادوي، پـه ۱۹۱۹م. کـال کـې ولیکـل: ((داچـې دارديـک ژبـې هـم د آریـن

(آریک) یوه څانګه ده بشپړه او روښانه ده، مګر پوښتنه داده چې د دغو ژبو ګروپ په آریاني کورنۍ کې شامل کړو او که په اندوآریایي (هندي) کورنۍ کې او یا داچې دربمه خپلواکه څانګه یې وګڼو؟

زه باوري یم چې وروستی نظر یواځینی وېش دی چې هغه په ازادانه ډول سره ټاکلی شو.)) نوموړی زیاتوي: ((دا باید په نظر کې ولرو، هغه وخت چې د ژبو دغه ګروپ له آرین (آریک) څخه تحول وکړ، اندو آریایي ژبه له وړاندې له خپلې مور (آرین) څخه چې په هغه وخت کې یې په خپلواک ډول په خپل مسیر د آریاني پر لورې انکشاف کړی و، اما د هغې خپلواک انکشاف تردې حده نه و چې د آریاني اړوند ټولې ځانګړنې ځان ته انتقال کړي، جلا شوې وه.))

وروسته بیا ګریرسن G.A.Grierson خپل نظر په ښه وضاحت سره داسې څرګند کړ: ((داردیک ژبې د آرین(آریک) ژبې څخه د آریاني ژبو له جلا کېدو څخه وروسته تحول کړی دی، اما آریاني ژبې له وړاندې په بشپړ ډول سره انکشاف کړی و. په پایله کې څرګندېږي چې آرین (اندو آریاني) ژبې په دربو څانګو ویشل کېږي: آریاني، داردیک او اندو آریایي. داردیک ژبې هم د آریاني او هم د اندو آریایي(هندي) ژبو ته ورته دي.))

د دې ژبو معاصر مشهور څېړونکې مارګنسټیرن G.Morgenstierne دا ثابته کړې ده چې د دې ژبو دواړه ګروپونه د مبدأ له مخې له یو بل سره توپیر لري: نورستاني ژبې (مورګنسټیرن دغه ژبې د کافرو په نامه یادوي) او د اندو آریاني ژبو خپلواکه څانګه بولي، چې نه په اندو آریایي او نه په آریاني پورې اړوندېږي. پاتې نورې ژبې په ځانګړې ډول داردیک د اندو آریایي ژبو څانګه شمېري.(۱)

نومیالی ژبپوه "امیل بن ونیست" د ژبو د وېش په لړ کې داردي ژبې د هندوآریایي ژبو په لړ کې د هغو سلو ژبو په جمله کې حساب کړي چې خبرې پرې کېږي او موقعیت یې ورته شمال لویدیځ ګروپ ښودلی دی، چې په نورستان او له نورستان څخه بهر نورې ژبې په کې راځي.

په دې باره کې بله نظریه د "ستین کونو S. Konow " ده. د ده په عقیده داردي خصوصاً نورستاني ګروپ له آریایي ژبو (باختري او آریاني) سره خپلوي لري؛ مګر دلته دی هم څرګندوي چې له دغه باختري او آریاني سره د داردي ژبو څانګه

یوه نه ده، بلکې له هغو څخه په دومره لرغونو زمانو کې بېل شوی دی، لکه څومره پخوا چې د هندي ژبو ښاخ له آريايي (باختري او آرياني) څخه بيل شوی دی.(۲)

په يو بل ځای کې بيا نارويژي نامتو څېړونکی مارگينستېرن خپله عقيده داسې څرگندوي: د داردي ژبو د بېلابېلو گروپونو وضع په بېلابېل ډول ده. د دغو ژبو ختيځه څانگه (کشميري، مایاني، تورالی، بشکاريک او نورې) چې دې ته خاصې داردي ژبې هم وايي، يقيناً د آريايي ژبو له هندي گروپ سره خپلوي لري. لويديځې داردي( نورستاني) ژبې يعنې (وايگلي، کتي، داميلي او نورې) دا ژبې ځانگړې وضع لري؛ مگر په دغو ژبو کې د لرغونو بې غږه Consonant گروپونو موجوديت د باختري او پيرسيک گروپ په نسبت له هندي ژبو سره د دغو ژبو د نسبي خپلوۍ شاهدي ورکوي.(۳)

په يو بل ځای کې بيا فرانسوي ژبپوه اميل بن ونيست څرگندوي چې ټولې نورستاني ژبې له اندواروپايي Indo- Eropean کورنۍ څخه دي او که په واضح ډول وويل شي، له اندو آرياني Indo- Aryan کورنۍ څخه دي. دغه ژبې د داسې ځانگړنو لرونکې دي چې په عين وخت کې له دواړو ژبنيو کورنيو (اندو آريايي او آرياني) سره ورته دي.

نورستاني ژبې د آندو آرياني لرغونې يادگارونه دي چې له نورو سيمو او نقطو څخه د لريوالې له امله په خپل اصلي حالت پاتې دي او لاس وهنه په کې نه ده شوې او تغيير په کې نه دی راغلی.

فوسمن هم تائيدوي چې د نورستاني ژبو ريښه يوې عمومي ژبې اندو آرياني Indo- Aryan ته چې په ډېره لرغونې زمانه کې تقريباً ( ۲۵۰۰) له ميلاد څخه دمخه کال کې موجوده وه، رسېږي.(۴)

امريکايي ژبپوه ريچارد سټرند Richard Strand په خپله يوه مقاله کې چې ((نورستان در گذرگاه تاريخ)) سيمينار ته استولې وه، نورستاني ژبې د اندو اروپايي ژبنۍ کورنۍ د ختيځې څانگې اندو آرياني (آريک) دريمه خپلواکه څانگه گڼلې ده. نوموړی د خپلې مقالې په پای کې داسې څرگندوي: نورستانيان بايد د خپلې ژبې د (۵۵۰۰) کلن ميراث قدر او درناوی وکړي او په هغه وياړي. د نورستان ځوان

نسل باید شوق او لېوالتیا ولري، ترڅو د ژبې د یادولو له لارې خپله ژبه مطالعه او بډایه کړي. نورستانیان باید وپوهېږي چې ژبه د فرهنګ ژوندي ساتوونکي ده، که ژبه له منځه لاړه شي، هغه فرهنګ چې له هغې ژبې څخه نمایندګي کوي هم له منځه ځي.(۵)

ماکس M. Klimburg د مورګېنسټېرن په قول لیکلي دي: د اندو آریاني ژبې په ډلبندۍ کې نورستاني ژبې ځانګړې ځای لري. د نورستاني ژبو د یو شمېر کلیدي کلمو په غږیز سیستم کې د اندو آریاني ژبې ډېرې لرغوني ځانګړتیاوې لیدل کېږي. په همدې دلیل مورګېنسټېرن نورستاني ژبې د اندو آریاني (آریک) ژبنۍ کورنۍ دریمه خپلواکه څانګه ګڼي. ژبپوهان هم د مورګېنسټېرن وروستنی نظر تائیدوي او نورستاني ژبې د اندو آریاني(آریک) ژبې د دریمې څانګې په توګه پېژني.(٦)

پر بهرنیو پوهانو سربېره د نورستاني او داردیک ژبو په اړه ځینې کورني څېړونکو لکه دوست شینواري، سمیع الله تازه نورستاني او نورو هم څېړنې کړې دي، چې د دې ژبو په برخه کې یې خپلو هېوادوالو ته ګټور او ارزښتناک معلومات وړاندې کړي دي. د اندو آریاني ژبو په څانګه کې د نورستاني ژبو د دریځ په اړه ما نه یواځې د دوست شینواري کوم نظر پیدا کړ، بلکې د نورستاني ژبو او فرهنګ د برخې مخکښ، رښتینی او د ستر علمي- فرهنګي کار او هلو ځلو علمي شخصیت او څېړونکي ښاغلي سمیع الله تازه نظر هم پیدا نه کړ، اما ښاغلی تازه تر ډېره د مورګېنسټېرن د نظریاتو معتقید ښکاري. لیکن د نورستاني ژبو او فرهنګ په برخه کې د سمیع الله تازه علمي- څېړنیز کارونه او هلې ځلې د قدر وړ او بې ساري دي او په دې برخه کې تر ټولو ستر حقدار شخصیت ګڼل کېږي.

د دغو ژبو په باب که څه هم د څېړونکو نظریات سره یو شان نه دي، خو په دغه باب سره ډېر نږدې دي چې وایي: نورستاني او داردي ژبې د یو لړ داسې ژبو مخصوص ګروپ دی، چې مخصوص تاریخي فونټیک او مورفولوژیک ګډ خصوصیات لري. اوس داسې ګڼل کېږي چې د دې ژبو ګروپ د آریایي ژبو د یوه هغه لهجې پر اساس تحول کړی دی، چې ویوونکي یې لرغوني آریایان او په خپله همدغه معاصره سیمه کې مېشته وو.

که څه هم د داردي او نورستاني ژبو په باب د آريايي ژبو څېړونکو بېلابېل نظريات وړاندې کړي دي او دا يې په ډاګه کړې ده چې دغه ژبې تر ډېره په خپلو کې ځانګړې فونيټيکي او مورفولوژيکي ګډ خصوصيات لري او دې ژبو د اندو آرياني د يوې هغې لهجې پر بنسټ تحول کړی دی، چې ويوونکي يې لرغوني آريايان دي.

خو زما په عقيده دا چې نورستاني، ګوَر او پشه يان د الينا له لويې او تاريخي کورنۍ څخه زيږېدلي قومونه دي،(چې شايد په هغه وخت کې يې په يوه ژبه خبرې کولې) اوس په بېلابېلو ژبو (کتي، کلښه الا، پرسوني، اشکون ويري، ګوَري او پشه يي) خبرې کوي، د دې ژبو ترمنځ د هراړخيزو فونيټيکي او فورمولوژيکي ګډو اړيکو او نږدېوالي او د جغرافيايي موقعيت پر بنسټ داسې ويلی شو، چې نورستاني، ګوَري او پشه يي ژبې د اندو آرياني (آريک) له هغې مستقلې څانګې له ژبو څخه عبارت دي، چې له بېلابېلو زماني پړاوونو وهلو او تحول وروسته په خپلواکو ژبو او قومونو اوښتي دي، چې په خپلو اوسنيو استوګنځايونو کې مېشت دي.

په هر لحاظ داچې پوهانو په دې اړوند بېلابېل نظريات وړاندې کړي دي او د هغو د نظرياتو لنډه يادونه مو دلته وکړه، په دې اړوند نور بحث او خبرې نه کوو او راساً خپلې اصلي موضوع (نورستاني ژبې او لهجې) ته راګرځو:

ريچارد سټرندRichard Strand د نورستاني ژبې د څانګو په اړه داسې څرګندوي: په نورستان کې پنځه ژبې(۱-کته ويري، ۲- واسي ويري(پاروني)، ۳- اشکون ويري، ۴- کلښه الا او ۵- تريګامي) شتون لري چې د اندو آرياني ژبنۍ کورنۍ په نورستاني څانګې پورې اړوندېږي. په همدې ډول الموت ديګنر هم نورستاني ژبې د پورتنيو ذکر شوو څانګو (ژبو) لرونکې بولي.

مورګېنستېرن بيا په خپله يوه مقاله کې چې په ۱۹۷۰م. کال يې ((د هندوکش کلتور)) تر سرليک لاندې سيمينار ته ليکلې وه، د نورستاني ژبو په اړوند په کې راغلي وو چې په نورستان کې څلور يا پنځه ژبې موجودې دي: ۱- کتي- کام ويري، ۲- وايګلي(کلښه الا)، ۳- اشکون ويري، ۴- پاروني(پرسوني).

نوموړی ګيميري يا تريګامي د کلښه الا ژبې برخه (لهجه) ګڼي او څرګندوي چې دغه ژبه د لغت له مخې له کلښه الا ژبې سره ورته ده او د مورفولوژۍ له نظره هم د بشپړې کافرې (نورستاني) ټيپ لرونکې ده، اما د ځينو اړخونو پر بنسټ د يوې

خپلواکې ژبې ځـای نیسي. لیکن لـه نورسـتاني ژبـې سره د دامیلي ژبـې د تړښت په اړوند چې د چترال جنوب ختیځ ته په یوه کلي کې ویل کېږي، باوري نـه و او څرګنده یې کړه چې دې ژبې ډېر شمېر د کافري(نورستاني) ژبې لغـات درلـودل، اما د مورفولوژۍ له نظره توپیر لري. پر همدې بنسټ نه شو کولای قاطع حکم وکړو، چې آیا دا ژبه لـه نورسـتاني ژبـو څخـه ده، چـې د داردي ژبـو د قـوي اغیـزې لانـدې راغلي ده او که داردي ژبه ده، چې له نورو ژبو څخه یې زیـات د نورسـتاني ژبـې ګـڼ شمېر لغات منلي دي.(۷)

په دې اړوند سمیع الله تازه په خپل اثـر"پیرامـون زبـان نورسـتاني" کـې داسـې څرګندوي: نورستاني ژبې چې د کونړ او نورستان په ولایتونو او د پاکستان د چـترال په ځینو سیمو کې ویـل کېـږي، د کتـه ویـري، کلښـه الا، پرسـوني او اشـکون ویـري لهجو (ژبو) لرونکې ده. ځینې ژبپوهان تریګامي او دامیلي ژبې هم د نورسـتاني ژبـو په ډلبندۍ کې د پنځمې او شپږمې ژبې یا څانګې په توګه داخل ګڼي چې په ټولـو ژبو به یې په خپل ځای بحث وشي.(۸)

اما په ځینو نورو نظریاتو او لیکنو کې بیا نورستاني ژبـې د تریګـامي پـه شـمول پنځه ژبې ګڼي او په اړه یې داسې څرګندوي:

نورستاني ژبې پنځه ژبې دي چې ژبپوهان دغه ټولې ژبې د یـوې ګـډې مبـدأ، ګډ تاریخ او د ګډو ځانګړنو پـر بنسـټ د یـوه واحـد نـوم (نورسـتاني) لانـدې مطالعـه کوي. بې له شکه چې دغه ژبـې پـه اصـل کـې یـوه واحـده ژبـه وه، مګـر د وخـت پـه تېرېدو د جنګي شرایطو او د ژبې د ویوونکو ترمنځ د اړیکو د پرېکـون پـر بنسـټ یـې تحول کړی او په مستقلو ژبو بدلې شوې دي.

نورستاني ژبې لـه کتـه ویـري، کلښـه الا، اشـکون ویـري، پـاروني (پرسـوني) او تریګامي څخه عبارت دي. یو شمېر ژبپوهان بیا په دې عقیـده دي چـې تریګـامي د کلښه الا یوه برخه او لهجه ده.

نورستاني ژبې د آندو آریاني لرغونې یادګارونه دي، چې له نـورو سـیمو او برخـو څخه د لریوالې له امله په خپل اصلي حالـت پـاتې دي او لاس وهنـه پـه کـې نـه ده شوې او بدلون په کې نه دی راغلی.

فوسمن هم تائیدوي چې د نورستاني ژبو ریښه یوې عمومي ژبې اندو آریاني Indo- Aryan ته چې په ډېره لرغونې زمانه کې تقریباً ( ۲۵۰۰) کاله له میلاد څخه وړاندې موجوده وه، رسېږي.

نورستاني ژبې چې مخکې هم ورته اشاره وشوه، د نورستان او کونړ په ولایتونو کې ویل کېږي. دغه د نورستاني ژبو گروپ په ټوله کې د څلورو ژبو (کته ویري، کلښه الا، اښکون ویري او پرسوني یا پاروني) لرونکې ده.

مورگېنستيرن نورستاني ژبې د جغرافیایي موقعیت له مخې پر دوو څانگو شمالي او جنوبي باندې ویشلي دي. په شمالي څانگه کې یې کتي او پرسوني(پاروني) او په جنوبي څانگه کې یې کلښه الا او اشکون ویري ژبې شاملې کړې دي.(۹) دلته به اوس د نورستاني ژبې د هرې څانگې په ژبو او لهجو لنډ بحث او خبرې وکړو:

**الف- شمالي څانگه (کتي او پرسوني):**

**۱- کته ویري(کتي)Kati:** د کتیوي یا کانتیوا دره د دې ژبې د ټولو لهجو مبدأ گڼل کېږي. د کته قبیلې او کتیوي درې نوموړنه شاید له یوبل سره بې اړیکې نه وي. د ژبپوهانو په وینا په دې ژبه کې کولای شو درې لهجې په گوته کړو:

الف- ختیځه (شرقي) لهجه: دغه لهجه چې ژبپوهان یې د باشگلي په نامه پېژني، د باشگل د درې په پورتنیو برخو (پرایگرءام) په لاندې کلیو: سنرءا، مروي، پپړوک، چپي، اوله گل، بدموک، پرءا، بدینشا، برگمټال، شدگل، اپسي، اره گل، پښوار، اټه تې، لمروکدیش، آو(گرم چشمه)، بده واړ،(دیوانه بابا)، ازیوک، گنجلوک شال، لولوک، ښکیک دره گرءام، پخي گرءام، پنگر، پپړوک، منډه گل او داسې نورو کلیو او همدارنگه د چترال په درشکال بگرءام، گونیښت او ممریت په کلیو کې، چې په ۱۸۹۰م کال کې د بومبوریت او رمبور په درو کې د نورستاني مهاجرو په واسطه د کلاشو شمال ته تاسیس شوې دي، په دغه لهجه خبرې کېږي.

ب- د کام لهجه: دغه لهجه د باشگل د درې په کښتنیو کلیو کې د کونړ ولایت د غازي آباد ولسوالۍ د څونک په کلي او د ناړۍ ولسوالۍ په پاشنگر، مچمڼه، شنگر، شیرگل او د نورستان ولایت د کامدیش ولسوالۍ په کوټیا، کوماریگل، نانگل، چنارخوړ، گوردیش، بازگل، پتیگل، سارېت، کمو، میردیش، بدیگل، نڅیت

گـل، کامـدیش، پپرسـتان (پپښـتان)، بـریں گـرءام، یـورمیر، اگـرو، اگـاڅي، اوشتراټ، مڼیول، مڼیول ننښا، ثمرباغ او دمین پـه کلیـو کـې او همدارنگـه د کښـتني چترال د اوسېدونکو په منځ کې د ممدیش، اشپې، سیدمشال، اوځین او گبـور کـې مروجه ده. همدارنگه د مرکزي باشکل برخې په څو کلیو کې په یوې انتقـالي لهجـې د منده گل او کشـتوزو پـه دربـو کلیـو او دن گـل(درین) کـې پـه دغـه لهجـه خـبرې کېږي.

ج- لویدیځـه(غربي) لهجـه: دغـه لهجـه د الینگـار پـه پورتنیـو سـیمو د کـولم، رءمگل او د کتیوي په درو کې مروجه ده. دغه غـربي لهجـه د دو آب ولسـوالۍ اړونـد په موم، ځُواټ، اچم، سونگ، اسپیت، اښکه، پځل، گرءام، کتیوی، چمن، اټه ټـي، د کانتیوا په پایوک دره او د ویگلک، پرءگل(پله گل)، ماوی، سـووریچ، ښوکرء(ښـوک)، پنچا، المیرءی، شورودَمي، منوی نرء، کټل نرء، الگورءام، پسرءتا، وځر، یَگل(نیلاب)، پکوښ نرء، پاخوني، برکنرء، میچ گرءام، اترگرءام، ښرگرءام، څیوگرءام، نشـپل ننښـا او ښکونرء پـه کلیـو کـې او همدارنگـه د نورسـتان ولایـت د منـډول ولسـوالۍ اړونـد پـه پړیـوس، کُـراچ، گمتـا، شـترا، گرانشـپال، کنـه گـل ننښـا(د بانـډول خولـه)، پنچـا، سکونونښـا، سکونو(سـکندو)، انـیش، مَـوم، درځ نـرء، پیتـاو، کټکو(نـوده)، کنـه گل(بانـډول)، پلـن، پـرنگنرء، کوگل(ناولالـه)، پچـه ډوره، پچـا، کُورز(کـاوریز)، ورل کوُرز(بالا کـاوریز)، دوني، شـکورزده، قـریش زده، ویرکیوڼ(وُرکنـډ)، زردالـو، چلغـي، پکیول(پیکاول)، مڼیول(منډول)، شـتر(چُتر)، شترنښـا، پتلـه، بـدرم چـول، الگـرءام، شلرءزر، وُرل شتور، گډو(گډوال)، ویرگډو(لر گډوال)، وُرل گډو( بر گـډوال)، باغچـه، تي کمر، ښکونرء، مچـما، رُسـتو، اتـرره را، جناخیـل، پیرمُگـر، ښـرگین، پچـا، گـزین، لوښته گرءام، شال اله او په نورو بېلابېلو کلیو کې پر دې لهجه باندې خبرې کېږي.

د یادوني وړ ده چې د کیوښت نیښـا(د کیوښـت خولـه)، گلنښـا( گـل نشـان)، اچه گوُر او بسَیَدر د کلیو وگړي نورستاني وو، امـا اوس یـې ټـول خلـک پـه دري ژبـه خبرې کوي.

همدارنگه باید یادونه وشي چې د نورستان ولایـت د نـورگرام ولسـوالۍ اړونـد د ودهو او پچه گر کلیـو اوسـېدونکې د الیشـنگ ولسـوالۍ د گونـه پـال اوسـېدونکې د فرچغان د کلي یو شمېر اوسېدونکي، د کیل کـلي اوسـېدونکي او د لغـمان ولایـت د

دولت شاه ولسوالي د چنډال او ټومبله کليو يو شمېر اوسېدونکي نورستانيان دي، چې په پشه يي ژبه خبرې کوي.

همدارنگه د پنجشير ولايت بخشي خېل خلک هغه نورستانيان دي چې له اسلام څخه وړاندې هلته تللي دي. په همدې ډول په پنجشير کې د پريان، کورپيتاو او شهر بالا اوسېدونکي هم له نورستانيانو څخه دي، چې اوس په دري ژبه خبرې کوي. د بدخشان په کران او منجان کې هم نورستانيان د هغه ځای له خلکو سره يو ځای ژوند کوي او په دري ژبه خبرې کوي.

کته ويري(کتي) د ويوونکو له مخې د نورستاني ژبې تر ټولو ستره لهجه (ژبه) ده. د ژبپوهانو په وينا، دنورستاني ژبې د نورو لهجو لپاره د مور ژبې حيثيت لري.

**۲- پرسونيParsuni:** دغه ژبه د پارون په دره کې مروجه ده، شمالي مرکزي او جنوبي لهجې پر دې ژبې باندې د تشخيص وړ دي. د ژبپوهانو د نظر پر بنسټ د کتي ژبې عناصرو خپله اغېزه له ختيځ او لويديځ څخه پر دې ژبه وارد کړي ده. د ساختمان او تاريخي فونيټيکس له نظره پرسوني ژبه له کتي، کلښه الا او اښکون ويري سره ډېر توپير نه لري. پرسوني ژبه په ماندي(اوښاک گوراک)، پښکي(اوښټ)، څڅوم (زومو)، کشتکي(اُشت)، ډيوه (اڅي)، پرونز(شيچ)، ښټوی(ښوپو)، اشدک او توزک تانک په کليو کې ويل کېږي.(۱۰)

**ب- جنوبي څانگه (کلښه الا او اښکون ويري):**

**۱- کلښه الا Kalaṣa- alā:** دغه ژبه د کلښوم په دره کې چې اوس مهال د وايگل د درې په نامه يادېږي، موجوده ده. په دې ژبه کې هم شمالي لهجه (ورجن الا) او هم جنوبي لهجه (چيمه نيشي الا) ليدل کېږي.

شمالي(ورجن الا) لهجه: د کلښه الا ژبې دغه لهجه په ړنچيگل(ارنس)، اتازه( تازه کلا)، ښښټي گرام، تپيک آو، اِرسي، نينگ دران، گرمتل، ونښانت، اوُييک، آوگوړه، ځتگل، کچوره، بر وايگل، گوم گل، ژاک، ينښا، گکيتر، گکيترنښا، اپرشتال، ومرء ډبر، مين اوده(مينه)، ايتوک، اسيں آله، گڼي گل، موش، لر وايگل، اوچا، اوگرام، اکچوري، اميش ديش، کوشت، چتراس، جمچ، جما، پينگ، دورءں گل(درين)، څوکي، ويليگل(هليگل) او مريت کليو کې ويل کېږي.

جنوبي (چیمه نیشي الا) لهجه: دغه لهجه په نیشیگرام، شنیگل، ادرستوگ، بروکتاں گول، ترینگ، شهسوار کلی، یوسف آباد، ویسه، چریگل، وانت، کیگل، ایاټ، چیمي، اگټه کو، دمیراج، گوتله، پکمه تیاں، پریچواټ، بډررٶ، دایگل، مولدیش، اکلا او بلیکنده کلیو کې مروج او ویل کېږي.

همدارنگه د کلښه الا ژبې یوه ځانگه یا لهجه د تریگام په دره (کټار، گیمیر، دیوي په کلیو) کې د تریگامي په نامه شته دی، چې په هغه کې درې وړې لهجې (گیمیري، کټاري او دیوي یا دیوزي) لیدل کېږي.

د مارگنسټیرن په عقیده د نورستاني ژبو ترمنځ کلښه الا ډېره اښکوں ویري ته په ځانگړې ډول د لغتونو په برخه کې ډېر نږدیوالی لري.

داسې ځرگندېږي چې کلښه الا د جغراقیایي موقعیت په نسبت د کټي، اښکوں ویري او پاروني ژبو په پرتلنې ډېره د داردي ژبو تر اغیزې لاندې راغلي ده. کلښه الا او دامیلي ژبو داسې لغاتونه حفظ کړي دي، چې په نورو ژبو کې له منځه تللي دي.

د کلښه الا ژبې اړوند بله ځانگه یا لهجه زمیاکي ده چې د پیچ درې په مرکزي سیمو، د کنډې جنوب ته په لنډ لام کې د زمیاکي په کلې کې ویل کېږي. دغه ژبه اوس مهال په سپین ږیرو پورې منحصر شوې ده.

**۲- اښکوں ویري Aṣkū veri:** د نورستان په جنوب لویدیځو سیمو کې ویل کېږي چې درې لهجې یې پېژندل شوې دي. اښکوں ویري ژبه د کوله تن، تتین او بجایگل په ساحه کې متداوله دي.

د کوله تن لهجه: د اشکوں ویري ژبې دغه لهجه په پشوک، اویک، ډیادلام(ډونگور)، گل ځیالام(گلچه خیل)، ستال، کوله تن، کوټال نیشه، کوټال، اوټالام، ښیدلام، گده لام، اښم دلام، زانک دلام، بیښ ټل، الي نیشاک، امي گورا، بي گورا، مشولام، ټوراک. ملک، شیرین، امي سوزیت، بي سوزیت او چنجک په کلیو کې ویل کېږي.

د تتین لهجه: د دې ژبې دغه لهجه په بوده لام(بزرگ خیل)، بي دلام(بگي)، انییل، شیمام دلام، ښودلام، لمدلام، جمستالام، ډا دلام، ترین دلام، پیک او بلي(بلیک) په کلیو کې ویل کېږي.

د بجايگل لهجه: دغه لهجه په گورناچه، شفاديس، بنې کودديس، ښکي ديس، باديس، کوري، دوان ديس، ليدور، جان، گيل، سليکون، امي کاگل، بي کاگل، مکول او گول نيشه په کليو کې مروجه ده.

د دې ژبې بله څانگه (لهجه) د واما په ساحه کې ويل کېږي چې د وامايي(سڼو) په نامه يادېږي. وامايي لهجه په قديمي واما، آپيس، پسو، اکته بن، کام گل، بوني او پونخ په کليو کې مروج ده.

د دې لهجې دريمه څانگه د (گرم سڼو) په نوم يادېږي چې د تتين او واما د ساحو ترمنځ په اچنو، پوله، کنکي سال، پکونه، پځه کاراک، پکلا، دروړک، پنشه او کيگل په کليو کې مروج ده.

**۳- تريگامي Tregāmi:** پر تريگامي ژبه باندې د ديوي، گيمير او کټار کليو اوسېدونکې خبرې کوي. د دې ژبې په اړه مورگېنستيرن ليکلي دي، چې دغه ژبه د ساختمان له مخې په څرگند ډول له کافرې (نورستاني) ژبو څخه ده، د دې ژبې ټول لغات د کلښه الا ژبې ته ډېر نژدې دي او په ډېرو مواردو کې او په ځانگړې ډول د زړو لغتونو ترمنځ ډېره ستونزمنه ده چې توپير يې وشي.

د هغه معلوماتو له مخې چې د گيميري مورفولوژي په اړه مې راغونډ کړي دي، څرگندېږي چې له کلښه الا ژبې سره توپير لري. پر همدې بنسټ گيميري (تريگامي) ژبه بايد يوه ځانگړې ژبه وشمېرو. ولې ايدلمان بيا تريگامي د درېو لهجو(گيميري، کټاري او ديوزي) په گډون د کلښه الا ژبې لهجې گڼي. نوموړی له مورگېنستيرن سره په دې اړوند موافق نه دی، چې تريگامي دې ځانگړې ژبه وگڼل شي. تريگام (تريگرءام) د درېو کليو په معنا دی، چې د کټار، گيمير او ديوي کلې په کې شامل دي.

د يادولو وړ ده چې د کلښه الا او اښکون ويري لهجو ويوونکي د وامايي او تريگامي په گډون د کلښه قبيلې پورې اړوندېږي. همدغه سبب دی چې کليمبورگ ليکلي دي: ټولو کلښه يانو د کلښه (وی)، اښکون او د چترال کلښه يانو په شمول په اوسنيو مېشت ځايونو کې د مېشته کېدو څخه مخکې يوځای ژوند درلود.(۱۱)

**داميليDamili:** د دې ژبې په اړوند هم د بهرنيو او کورنيو ژبپوهانو او څېړونکو نظريات سره مختلف دي، ځينې يې د نورستاني ژبو اړوند او ځينې يې بيا

نورستاني نه ګڼي، خو تر ډېره يې د ځينو دلايلو له مخې نورستاني ژبه نه ګڼي، چې په دې اړوند به يې د ځينو نظرياتو لنډه يادونه وکړو:

مورګېنستېرن له نورستاني ژبې سره د دامیلي ژبې د تړښت په اړوند چې د چترال جنوب ختيځ ته په يوه کلي کې ويل کېږي، شکي و او څرګنده يې کړه، چې دې ژبې ډېر شمېر د کافري (نورستاني) ژبې لغات درلودل، اما د مورفولوژۍ له نظره توپير لري. پر همدې بنسټ نه شو کولای قاطع حکم وکړو، چې آيا دا ژبه له نورستاني ژبو څخه ده، چې د داردي ژبو د قوي اغيزې لاندې راغلې ده او که داردي ژبه ده، چې له نورو ژبو څخه يې زيات د نورستاني ژبې ګڼ شمېر لغات منلي دي.(۱۲)

مورګېنستيرن د پوښتنې په ترځ کې ليکي: آيا کافي دلايل لرو چې دامیلي د نورستاني يوه مستقله ژبه حساب کړو او يا يې په دارديک ژبو کې راولو او يا يې هغه ژبه وګڼو چې خالصه هندي ريښه لري او خپل زوړ ترکيب او شکل يې له لاسه ورکړی دی. زه(مورګېنستيرن) کولای شم تشخيص کړم، چې نورستاني ژبه له لرغونې هندي ژبې څخه لاسته نه ده راغلې، بلکې دا ژبه څرګندوي چې له ويدا څخه وړاندې منځ ته راغلې ده. نورستاني ژبې اساساً د طبيعې غږيز نظام درلودونکي دي.

دومره د حيرانتيا وړ خبره نه ده چې د نورستاني ژبې ريښه لرونکې کلمې دې يواځې په دامیلي ژبه کې مومو، بلکې په محدود اندازه دغه ډول کلمې په داردي ژبو کې هم پيدا کېږي. د نورستاني ژبې لغات د آرياني په پرتله هندي ته ډېر نږدې دي. نورستاني ژبه زرګونه کلونه د هندي ژبو تر اغيز لاندې راغلې ده او د هغوی ډېری لغاتونه يې خپلې ژبې ته انتقال کړي دي. په ډېرو مواردو کې ډېره مشکله ده او حتی ناممکنه ده، چې لغت وپېژندل شي، چې کوم لغت له عمومي او ګډې منابع يا ذخيرې څخه په ميراث اخيستل شوی او کوم يو له هندي، په ځانګړې ډول له دارديک څخه راغلی دی. د هندي ژبې اغېزې د نورستاني ژبې پر جنوبي څانګه د شمالي څانګې په پرتله چې لرې پرته ده غښتلې ده.

د سيمه ييزو رواياتو له مخې د نورستان خلک د نژاد له مخې په درېو سترو څانګو ويشل شوې دي. ۱- کته، ۲- کلښه ، ۳- پرسون. د اشکون او واما خلک د

کلښه په قبیله کې شامل دي، چې د کته او کلښه مبدأ هم یوې واحدې مبدأ ته رسېږي.

د روایاتو پر بنسټ د نورستان خلک د ګوَرGawar قبیله د خپل قوم څلورمه څانګه ګڼي. د ګوَرو یو شمېر سپین ږیري هم د دې موضوع په اړه اعتراف کوي، اما داچې له نورستانیانو څخه یې ډېر وړاندې د اسلام مقدس دین قبول کړی دی، په فرهنګ او ژبه کې یې ډېر زیات تغیرات راغلي دي. په همدې ترتیب ګوَرGawar ، د نورستاني قوم څلورمه څانګه تشکیلوي. اما د ژبپوهنې له نظره ګوَري ژبه د داردي ژبو د مرکزي څانګې اړونده ژبه ده.

د پوهانو په وینا که د نورستان د درېواړو درو (شرقي، مرکزي او غربي) خلکو لرغونتیا او مبدأ وڅېړل شي، بې له شکه ټول یو مدنیت او یوې مبدأ ته رسېږي. دغه وینا بې له شکه د نورستان د خلکو نژادي او ژبني ګډه مبدأ څرګندوي.(١٣)

که څه هم په دې کې شک نه شته او دا یوه څرګنده خبره ده چې د ګوَري ژبې او نورستاني ژبو مبدأ یوې واحدې ژبې ته رسېږي او له یوې واحدې ژبې څخه یې په بېلابېلو ژبو انکشاف کړی دی. اما داچې د ګوَر قبیله (قوم) او ګوَري ژبه له نورستاني قبایلو او ژبو څخه دي او که نه؟ په دې اړوند به د دې قبیلو (قومونو) د لنډې یادونې وروسته بحث او خبرې وکړو:

د نورستان قوم د کته، کلښه او پاروني قبیلو لرونکی دی. د نورستاني او ګوَرو سپین ږیرو د څرګندونو له مخې د ګوَر یاستره قبیله (قوم) هم د نورستاني (د هغه لومړني قوم له قومونو څخه چې نورستاني او ګوَر قومونه یې پر بنسټ را منځ ته شوې دي) قبایلو څخه شمېرل کېږي.

د کته قبیله چې په تېرو وختونو کې د مسلمانانو له لورې د سیاپوشو کافرانو په نامه پېژندل کېدل، د کام، کته، مما او کُشتا قبیلې په کې شاملې وې، چې د نورستان په ختیځو او لویدیځو برخو کې استوګن دي.

د کلښه قبیله چې په تېرو وختونو کې د سفید پوشو کافرانو په نامه مشهور وو، د کلښه (وی)، تریګمه، سامه یي (وامایي) او ابنکون خېلونه په کې شامل دي، چې د نورستان په مرکزي او لویدیځو برخو کې استوګن دي.

د پرسون یا پاروني قبیله یوه بله څانګه ده چې د مرکزي نورستان په شمالي برخو کې ژوند کوي او د سفید پوشو له جملې څخه شمېرل کېږي.

د ګوَر یا ستره قبیله د هېواد په داخل کې د شرقي او مرکزي نورستان په برخو کې له پېچ درې څخه تر بریکوټ او د پولې پورې غاړې د چترال په ارندو (ارنوی-ارنو)، دیر، دیرکوهستان او په سوات کې استوګن دي.(۱۴)

دا یوه څرګنده خبره ده چې نورستانیان او ژبه یې له ګوَریانو او د هغوی له ژبې(ګوَري) سره ډېر نږدې لرغونې، تاریخي، اجتماعي، ژبني او جغرافیایي هر اړخیزې اړیکې لرلې او لري یې، ځکه چې د دې قومونو او ژبو مبدأ او سرچینه یوې واحدې ژبې او کورنۍ ته چې د ((الینا)) په نامه یادېږي او د هېواد په تاریخ کې یې روښانه مقام لرلی دی، رسېږي. د الینا ستره او تاریخي کورنۍ چې په ویدي سرودونو کې یې د ویدا د کتاب تر لیکلو (۱۴۰۰ق.م) وړاندې یادونه شوې ده چې شاید دغې کورنۍ(الینایانو) په هغه پېر کې په یوې واحدې ژبې خبرې کولې، چې وروسته یې د جغرافیایي موقعیت او په خپلو کې د ارتباطاتو د پرېکون، خنډونو او نورو بېلابېلو عواملو پر اساس ځانګړې قومونه او ژبې په میراث پرېښودل، چې اوس دغه الینایي قومونه په خپلو اوسنیو استوګنځایونو کې مېشت دي او په بېلابېلو مستقلو ژبو خبرې کوي، چې په حقیقت کې مستقل قومونه بلل کېږي.

ګوَري ژبه له نورستاني ژبو سره ډېرې نږدې فونولوژیکي او مورفولوژیکي اړیکې لري، چې د همدې اړیکو پر بنسټ داسې څرګندېږي چې دې ژبو له یوې واحدې ژبې څخه منشأ اخیستې ده او د خپل پرمختیا پړاوونه یې وهلي دي چې په پایله کې یې مستقلې ژبې زیږولې دي.

د نورستان اصطلاح یوه معاصره اصطلاح ده او دا اصطلاح هغه مهال چې د امیرعبدالرحمن خان لښکر په ۱۸۹۵م. کال په ژمني موسم کې د سپهسالارغلام حیدر خان په مشرۍ له څلورو خواوو (بدخشان، پنجشیر، لغمان او کونړ) څخه پر کافرستان (نورستان) حمله وکړه او نورستان یې ونیو او خلک یې د اسلام په مقدس دین مشرف شول. د دې جغرافیایي قلمرو نوم چې په کافرستان مشهور و د فدایي اسلام، جدیدالاسلام او وروسته بیا په ۱۸۹۶م. کال کې د نورستان په نامه ونومول

شو،(۱۵) چې تر اوسه پورې دغه سيمه د نورستان په نامه يادېږي او د هېواد له ۳۴ اداري واحدونو (ولايتونو) څخه يو ځانګړی واحد (ولايت) دی.

نورستان اصلاً د يوې جغرافيايي سيمې نوم دی، مګر د دې ترڅنګ هغه مستقل الينايي قومونه او د هغوی ژبې چې په دې جغرافيايي قلمرو کې داخل دي، پر خپلو اصلي نومونو سربېره د نورستاني په نامه هم يادېږي؛ په داسې حال کې چې د نورستان له نومونې څخه وړاندې له پېړيو پېړيو راهيسې په دغه قلمرو کې بېلابېل قومونه او ژبې (کتي، پرسوني، کلښه الا او اشکون ويري) موجودې وې، چې د دې قومونو ترمنځ ويل کېدې او اوس هم د نورستان د خلکو ترمنځ ويل کېږي.

دغه ځانګړې قومونه او ژبې په عموم کې د نورستاني په نامه يادېږي چې په حقيقت کې دا د ځانګړو ژبو لرونکي مشخص قومونه دي، چې د ژبپوهنې د اساساتو او علمي موازينو له مخې دې ټولو قومونو او ژبو ته يې د نورستاني کلمه کارول سم نه برېښي، ځکه نورستان د يوه قوم او ژبې نوم نه، بلکې د يوې جغرافيايي سيمې نوم دی.

د ګوَري ژبې ويوونکي چې نورستانيان يې ((سترهSatra)) بولي او د ((نرساتيNarsati)) په نامه هم يادېږي، د کونړ ولايت اړوند د شرقي او غربي نورستان په منځيو سيمو کې مېشت دي، چې په حقيقت کې د نورستان ټولو ژبو او ګوَري Gawari ژبې له يوې واحدې ژبې څخه منشأ اخيستې ده، چې ګوَري ژبې په خپل آر نوم ګوَري شهرت موندلی دی او کتي، پرسوني، کلښه الا او اشکون ويري، چې د نورستان په قلمرو کې ويل کېږي، تر ډېره يې د خپلو نومونو په پرتله چې د نورستان په قلمرو کې ويل کېږي، د نورستاني په نامه شهرت موندلی دی.

د نورستان د دې قومونو د نومونې په اړه ځينې روايات او ځرګندونې شته چې په دې اړوند وايي: کته او کلښه دوه ورونه او يا مشران وو چې وروسته يې بيا د وخت په تېرېدو په ځانګړو قومونو او ژبو انکشاف وکړ. بله داچې نورستاني ګوَريانو ته((سترهSatra)) وايي، داچې د کته، کلښه او ستره نومونه هم وزنه کلمې دي، نو کيدای شي چې د درېو ورونو او يا مشرانو نومونه وي، چې وروسته د وخت په تېرېدو بېلابېلو جغرافيايي سيمو ته د خپرېدو او لرې والي په سبب په ځانګړو ژبو او قومونو

اوښتي وي. دغه قومونه له لرغونو زمانو راهیسې د یو بل په څنګ کې مېشت دي، چې ګډې فرهنګي، اتنیکي او ژبنۍ ځانګړتیاوې لري.

په پایله کې داسې ویلی شو چې ګوَري او نورستاني ژبې د آریک ژبو له هغه مستقلې څانګې(ژبې) له لوښو څخه عبارت دي، چې له بېلابېلو زماني پړاوونو وهلو وروسته په خپلو اوسنیو استوګنځایونو کې مېشت دي.

**پایله:**

نورستاني ژبې چې د کونړ او نورستان په ولایتونو او د چترال په ځینو سیمو کې ویل کېږي، د آریایي ژبو څېړونکو او ژبپوهانو یې د پیدایښت او دریځ په اړه بېلابېل نظریات وړاندې کړي دي، چې تر ډېره دې پایلې ته رسېدلي دي چې نورستاني ژبې، نه اندو آریایي او نه آریاني ژبې دي، بلکې د اندو آریاني(آریک) ژبنۍ کورنۍ یوه دریمه خپلواکه څانګه ده.

د دې ژبو په اړوند ډېر خلک داسې ګومان کوي چې نورستاني به یوه ژبه وي، خو نورستاني یو ژبه نه، بلکې څو ژبې دي او بله داچې د نورستان اصطلاح اصلاً د کوم قوم او ژبې نوم نه دی، بلکې د یوې جغرافیایي سیمې نوم دی او د نورستاني اصطلاح هم یوه اړونده نسبتي کلمه ده، چې د دې سیمې وګړو ته د نسبت له مخې کارول کېږي. ژبپوهانو او څېړونکو نورستاني ژبې په ټوله کې څلور ژبې ښودلي دي، چې له (کته ویري، کلښه الا، اښکون ویري او پرسوني) څخه عبارت دي، چې د څلورو ځانګړو قومونو (کته، کلښه، اښکون او پسون یا پاروني) قومونو ژبې دي. که څه هم ځینې ژبپوهان او څېړونکي تریګامي د نورستاني ژبو پنځمه ژبه ګڼي، خو د ډېرو بهرنیو او کورنیو ژبپوهانو او څېړونکو د څرګندونو او روایاتو له مخې تریکامي یوه ځانګړې ژبه نه، بلکې د نورستاني ژبو یوه لهجه ګڼل کېږي.

دغه ژبې ژبپوهانو په ټوله کې د جغرافیایي موقعیت له مخې په دوو څانګو شمالي او جنوبي ویشلې دي، چې په هره څانګه کې یې بېلابېلې ژبې او هره ژبه یې بېلابېلې لهجې لري، چې پر شرقي، مرکزي او غربي نورستان سربېره د کونړ او چترال په ځینو سیمو کې په همدې بېلابېلو نورستاني ژبو او لهجو خبرې کوي.

د نورستاني ژبو ویوونکې د ځینو روایاتو له مخې په درېوو سترو څانګو ( کته، کلښه او پرسون) ویشل شوې دي، چې د اښکون او واما خلک بیا د کلښه په قبیله

کې شاملېږي، خو د نورو روایاتو پر بنسټ د نورستان خلک د ګوَرGawar یا ستره Satra قبیله د خپل قوم څلورمه څانګه ګڼي. په پایله کې داسې څرګندېږي چې ګوَري او نورستاني ژبې د آریک له هغه مستقلې څانګې له لوېو څخه عبارت دي، چې له بېلابېلو زماني پړاوونو وهلو وروسته يې په ځانګړو ژبو او قومونو انکشاف کړی دی او د هغه لومړني قوم خپلواکه قبيلې (قومونه) ګڼل کېږي، چې پر بنسټ يې دغه قومونه رامنځ ته شوې دي.

**وړاندیزونه:**

۱- د نورستان ښکلې او تاریخي سیمه د ډېرو لرغونو آریایي مادي او معنوي آثارو بډایه پانګه لري، د دې لپاره د دې اصیل آریایي توکم د فرهنګ تیارې برخې لاپسې روښانه او په مجموع کې د هېواد فرهنګ بډایه شي، د علمي او اکاډمیکو ادارو څېړونکې او په ځانګړې ډول نورستاني څېړونکې دي، د نورستان په بېلابېلو ژبو او نورو هراړخیزو مسایلو او موضوعاتو باندې لا ډېرې څېړنې او پلټنې وکړي.

۲- ژبه د یوه قوم او ټولنې د فرهنګ او د ټولنیز ژوند د بېلابېلو اړخونو او عنعناتو ښکارندوی کوي او یو قوم تر هغې ژوندی وي، چې ژبه یې ژوندۍ وي، نو پر همدې بنسټ د دولت اړوندو وزارتونو او ادارو ته وړاندیز کېږي، چې د اساسي قانون په رڼا کې د دې لرغونو او تاریخي ژبو د هر اړخیزې پرمختیا، بډاینې او ژوندي ساتلو په موخه بېلابېل پروګرامونه او طرحې عملي کړي.

۳- داچې په خپله مورنۍ ژبه زده کړې د هر چا مسلم او قانوني حق دی او د ښوونې او روزنې په برخه کې ګټور او مثبت تمامېږي، نو پر همدې بنسټ د پوهنې محترم وزارت ته وړاندیز کېږي چې د هېواد د ټولو مروجو ژبو د ویوونکو د مېشتو سیمو د ښوونځیو لپاره د تعلیمي تصاب کتابونه تألیف او د مسلکي ښوونکو ترڅنګ دې د تدریس لپاره ښوونځیو ته واستوي او په ځانګړې ډول دې د نورستاني ژبو د پرمختیا او بډاینې په موخه د نورستان ولایت مرکز (پارون) کې د نورستاني ژبو انستیتوت تأسس کړي.

۴- د ژبې په پرمختیا او بډاینه کې کتبي، غږیزې او انځوریزې خپرونې ډېره مهمه ونډه لري، نو پر همدې بنسټ د اطلاعاتو او فرهنګ محترم وزارت ته وړاندیز

کېږي، چې د ملي راډیو تلویزون او په ځانګړې ډول د نورستان ولایت ملي راډیو تلویزون او نورو اړوندو کتبي خپرونو له لارې د نورستاني ژبو خپرونو ته ډېره پاملرنه وکړي او هم دې د نورستان ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست اړوند د ((نورستان)) په نامه یوه علمي، ادبي او فرهنګي مجله تأسس کړي.

## مأخذونه:


۱- جای یوسفنه ایدلمان، زبانهای داردیک و نورستاني، مترجم: جان محمد نورستانی، اکادمی علوم افغانستان، مرکز زبانها و ادبیات: کابل، ۱۳٦۴ هـ ش، ۱-۲ مخ.

۲- یون، محمد اسمعیل. داردي ژبې او هغو ته پېښې خطرونه (مقاله)، د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز، کابل مجله، ۷-۸ مه ګڼه، تله او لړم: کابل، ۱۳۹۳لمریز کال. ۴۱ مخ.

۳- دوست، دوست محمد شینواری. د افغانستان ژبې او توکمونه، بیاکتنه: سید محی الدین هاشمي او ولي الله فاضل، دوهم چاپ، ګودر کتاب خپرنځی: ننګرهار، ۱۳۹۳لمریز کال،۳٦۹مخ.

۴- تازه، سمیع الله. نگاهی به سرزمین نورستان، نهاد فرهنګي میرزا تازه ګل خان، ۱۳۹۵لمریز کال، ۱۱۸- ۱۱۹ مخونه.

۵- پورته اثر ، ۱۲۲ مخ.

٦- تازه، سمیع الله. فرهنګ زبان نورستاني(کلنبه الا)، جلد اول، موسسه بین المللي زبانشناسی ثمر: کابل، ۱۳۹٦ هـ ش، صـ نه.

۷- پورته اثر، شانزدهم مخ.

۸- تازه، سمیع الله. پیرامون زبان نورستانی ، ریاست انتشارات کتب بیهقي: کابل، ۱۳۹۰ لمریز کال، ۱۵۲مخ.

۹- سمیع الله تازه. نګاهی به سرزمین نورستان، نهاد فرهنګي میرزا تازه ګل خان، ۱۳۹۵لمریز کال، ۱۱٦- ۱۲٦ مخونه.

۱۰- سمیع الله تازه. پیرامون زبان نورستانی، ریاست انتشارات کتب بیهقي: کابل، ۱۳۹۰ لمریز کال، ۱۵۴- ۱۵۷مخونه.

۱۱- پورته اثر، ۱۵۸- ۱٦۲مخونه.

۱۲- تازه، سمیع الله. فرهنگ زبان نورستاني(کلبنه الا)، جلد اول، موسسه بین المللي زبانشناسی ثمر: کابل، ۱۳۹٦ هـ ش، صـ شانزدهم.

۱۳- تازه، سمیع الله. پیرامون زبان نورستانی ، ریاست انتشارات کتب بیهقـی: کابل، ۱۳۹۰ لمریز کال، ۱٦۳- ۱٦٦ مخونه.

۱۴- تازه، سمیع الله. نگاهی به سرزمین نورستان، نهاد فرهنگي میرزا تازه گـل خان، ۱۳۹۵لمریز کال، ۹۴مخ.

۱۵- پورته اثر، ۱۰ مخ.

پوهنیار محمود مرهون

# د عبدالروف بېنوا سبک

**لنډیز:**

استاد عبدالروف بېنوا (۱۲۹۲- ۱۳۶۲ هـ ش) د پښتو معاصر ادب له پنځو ستورو څخه یو دی چې په پښتو ادبیاتو کې یې زیات شمېر تاریخي، علمي او څېړنیز آثار په نظمي او نثري چوکاټ کې موږ ته را پرې ایښي دي. د یوه ادیب د پېژندنې لپاره د هغه د سبک څېړل د هغه د مفکورې عمق ته د ورکښته کېدو تر ټولو ښه لاره ده. په دغه مقاله کې کوښښ شوی چې د استاد بېنوا د نظم او نثر سبکي ځانګړتیاوې تر یوه ځایه و کتل شي.

**سریزه:**

سبک لغتاً د سرو زرو په قالبونو کې اچولو ته وایي، چې له عربي ژبې څخه راوتلې یوه کلمه ده او په عربي ژبه کې سبکه د سرو زرو ټوټې ته وایي، مګر په اصطلاح کې د یوه شاعر، لیکوال، هنرمند او بل هر ډول کارکوونکې هغې ټاکلې او ځانګړې لارې ته وایي، چې د هغه د لارې ځانګړنې د نورو ورته خلکو په لارو کې نه لیدل کېږي او په سبک کې تر ټولو مهمه خبره همېشه دا ده چې یو سبک باید پیروان و لري، که چېرې پیروان و نه لري، بیا هغه سبک نه بلکې طرز یا ډول بلل کېږي. مثلاً:د احمد د لیکنې ډول، د محمود د نقاشۍ ډول، د احسان د شاعرۍ ډول، مګر که چېرې څو طرزونه سره یو ځای شي بیا یو سبک منځ ته راوړلای شي. موږ په پښتو ادب کې داسې څو په شمار شاعران لرو چې خپل ځانګړی سبک لري، لکه حمید مومند، خوشال خان خټک او نور، مګر د دوی طرزونه هغه وخت

په سبکونو بدل شوي چې ځان ته يې پيروان پيدا کړي او تر هغه وخت چې پيروان يې نه درلودل لا طرز بلل کېدل.(۸- ٤٠)

موږ په دغه لنډه مقاله کې د پښتو ژبې د معاصرو ادبياتو د يوه بنسټګر شاعر، ليکوال، مؤرخ او نقاد پر سبک غږېږو چې د ليکنو، شعرونو او نقد سبک يې څه ډول دی. په دې مقاله کې به د ادب مينه والو ته له يوې خوا د سبکې څېړنې لارې ور و ښودل شي او له بله اړخه به د پښتو ادب د پنځو ستورو د يو ستوري له سبک څخه پرده پورته شي.

## د څېړنې اهميت او مبرميت:

د دې څېړنې اهميت او مبرميت په دې کې دی چې د استاد بېنوا د ژوند بېلابېل اړخونه او علمي خوا څېړل شوې او ترڅنګ يې د استاد د ادبي ژوند په اړه ډېر نوي مسايل هم څېړل شوي چې د استاد مينه والو ته نوي دي.

## د څېړنې موخې:

د دې څېړنې هدف په دې کې دی چې له يوې خوا به د استاد بېنوا د ژوند په اړه ژوره رڼا واچول شي او له بلې خوا به د استاد له ادبي کړنو او کارونو ځوان څېړونکي خبر شي، چې استاد په کومو حالاتو او څه ډول شرايطو کې څومره لوی او نه هېرېدونکي کارونه کړې دي.

## د څېړنې پوښتنې:

په دې څېړنه کې تر ډېره لاندې پوښتنې ځواب شوې دي:

- ✓ استاد بېنوا په خپل ادبي ژوند کې څومره ادبي اثار پنځولي؟
- ✓ د استاد بېنوا په څېر ادبي هستيو پېژندل او په اړه يې څېړنه کول ځوانو څېړونکو ته کومه انګېزه ورکولای شي؟
- ✓ استاد څومره اثار لري او د څه په اړه يې کښلي؟
- ✓ د استاد بېنوا د ليکوالۍ سبک څنګه و؟

او دې ته ورته ځينې کوچنې پوښتنې په دې مقاله کې ځواب شوې دي.

**د څېړنې میتود:**

په دې مقاله کې تر ډېره له تشریحي، تحلیلي او توضیحي میتود څخه کار اخیستل شوی دی.

**اصلي متن:**

د سبک په اړه اوسنی نظر تر ډېره ځایه داسې دی چې د یوه چا د کار د طرز هغه ډول ته وايي چې د هغه اروايي حالت موږ ته څرګند او ښکاره کړي. عبدالروف بېنوا د هغه لیکوالو له ډلې څخه دی چې هم په نثر او هم په شعر کې خپل ځان ته سبک او لاره لري. کله چې موږ د پښتو ادب پر ادب تاریخونو نظر اچوو د تذکرو په اړخ کې د عبدالروف بېنوا د افغانستان نومیالي، اوسني لیکوال او پښتني مېرمنې هغه آثار دي چې د بېنوا له خواږه نثر څخه پرده پورته کوي. کله چې بیا د هنري نثر پر لور ګام اخلو، په لومړي قدم کې مو د عبدالروف بېنوا "د زړه خواله" هغه اثر دی چې سړی د لاهوت اسمان ته الوځوي. استاد بېنوا په خپل نثر او نظم کې د خپلو خاصو او ځانګړو نښو په خاطر موږ د خپل سبک په درلودونکو کې درو.

بېنوا په لومړي قدم کې د نثر د شاعرانه کولو تر ټولو لوی کمال لري د هغه نثري اثار چې لولې د شاعرانه تعالي نښې په کې له ورایه ښکاري او څوک فکر کوي چې نثر نه، بلکې شعر لولي، د دغې نثري ټوټې په ویلو سره به موږ خپله دغه ادعا د زبات تر کوره و رسو:

آه! د سګریټ دوده!
چې نیمه شپه شي ځان بیدار کړه
چې په کې واورې د ویشتلو فریادونه

(پښتو لنډۍ)

د کوم بې نیازه په یاد یواځې په بستر کې پروت او د دې نیمې شپې په فضا کې ستا ننداره کوم؟

د سپوږمۍ رڼا ته ښه ښکارې، په څه مستۍ له خولې راوځې او د سر دپاسه مې نڅا کوې، ورو ورو پورته کېږې.

آه ! تر یوې ثانیې وروسته بیا څه سې؟

آیا ته د نامراد مین د سوي زړګي له آرزوګانو څخه ترکیب سوی نه یې؟
آیا ستا سره هر وار د ناکامي مینې ساړه ساړه آهونه په فضا کې نه خپرېږي؟
ته چېرې ځې؟

د مین د مقصد لور ته روان یې، که د عدم؟ پوهېږم چې زما د زړه خبرې له ځانه سره وړې، مګر کوم ځای ته؟

بیا به بېرته راوګرځې؟ او که به د نامرادې نجلۍ د ژوند په شان د ټولو امیدو سره محوه سې؟

نیمه شپه ده، ګرده خلك بیده دي، د رحمت دروازې خلاصي او د عاصیانو مناجاتونه قبلېږي، مګر افسوس ...

زما آه بې اثره او آرزو مې بې نتیجې ده.

نو اې وروستنی دوده!

تر هغه چې فضا تا محوه کړي، زما بې نیازې ته ورسه او د الهام غونډې ورته ووایه: "مین دې یوازې دی.!(۹-٦۸)

ښاغلي بېنوا نه یواځې دا چې خپله یې په هنري نثر کې ډېر ښه لیکل کول، بلکې له نورو ژبو یې هم په دومره مهارت سره په هنري نثر ژباړې کړي چې تر خپل اصلي متن سرې ته ښه ایسي. زما د پورته خبرې زبات تاسې د رابیندر نات ټېګور د ګیتانجلي په ژباړه کې کتلی شئ چې یوه کوچنۍ نمونه یې زه دلته ستاسې مخ ته ږدم:

(( تا زه لامحدود پیداکړم ستا رضا دغسې ده.

دا د (وجود) ناموزونه او نازک لوښی ته په وارو وارو تشوې او تل یې په نوي ژوند ډکوې. ته له وړوکې شپېلۍ سره پر غرو او رغو باندې ګرځې راګرځې او تل په دې شپېلۍ کې نوې نغمې پو کوې.

ستا د لاسو د غیر فاني مښود څخه زما زړګوټی په خوښې کې خپل حدود هېروې او په داسې خبرو لګیا شې چې په بیان کې نه راځي.

ستا بې پایه نعمتونه زما دې کوچنیو لاسو ته را رسي زمانې تېرېږي، خو اوس لا هم ته هغه نعمتونه اوروې- آیا نور لا هم د سمسورولو دپاره ځای پاته دی؟. (٤: ۹۲)

دوهمه موضوع د بېنوا په ليکونو کې د متروکو لغاتو ده چې نوموړي په خورا مهارت سره په خپلو ليکونو او شعرونه کې موږ ته را پرې ايښي. تاسې په دې لاندې څو نمونو کې و ګورئ:

بيا يې و څکل له کم خمه ډک جامونه
دا د هسک پېغله چې ناځي له جنونه
له خندا يې د غاښو ځلا برېښنا سوه
مرغلرې لونوي، پر سنګېړونه(۱-۷۲)

په پورته دوو بېتونو کې تاسې ګورئ د "هسک" کلمه چې په پخوانيو ادبياتو کې د اسمان په معنا کارول شوې يا هم "لونوي" کلمه چې د شيندلو او نثار کولو په معنا کارول شوې ده او يا هم "سنګېړونه" چې د لويو ډبرو په معنا په پخوانيو متونو کې کارول شوي دي. وګورئ په پنځمه هجري پېړۍ کې د اسعد سوري قصيده:

۱: د پسرلي ښکلونکې بيا کړه سنګارونه
بيا يې ولونل په غرونو کې لالونه
۲: زرغونه مځکه کې ځل کا لکه ستوريه
چې پر هسک باندې ځلېږي سپين ګلونه
۳: هر پلو رڼې والي بهاندې خاندي
له خوښيه سر وهي له سينګړونه
( ۵: ۵۰۰ -۵۰۱)

او يا هم:

وابه نه وړمه له حقه
دا مې ستاسې سره بول دی
(۱-۱۶۰)

عبدالروف بېنوا په پښتو ادب کې د مخموري شاعرۍ له مخکښو يو بلل کېدای شي، د هغه په اشعارو کې ډېر ځايونه د مخموري شاعرۍ ډېرې ښې بېلګې شته، د مثال په توګه:

مسته وينه د مست تاک را
دې بې واکه زړه ته واک را

د نانک بابا روح ښاد کړه
زاړه می په دې ویساک را(۱-۱۸۰)
یا هم دا چې:
د اوبو پر غاړه کښېنه شراب نوشه
په صحت د زړه د غم دې شراب نوشه
د ریا له زهده زړه په میو مینځه
لیرې گرځه له مکاره خرقه پوشه(۱-۱۸۱)

د ټولنې له روحه خبرتیا او د ټولنې پر غوښتنو باندې سم پوهېدل د ډېرو ویښو لیکوالو کار دی چې عبدالروف بېنوا په دغه اړخ کې تر ټولو ماهر دی. هغه د ټولنې له غوښتونو او اړتیاوو سره سم روان دی. په بېلابېلو اړخونو کې یې د ټولنې غوښتنې ور پوره کړې دي.

ټولنیزه ویښتابه د هر ملت تر ټولو ستر ارزښت دی استاد بېنوا په دې اړخ کې تر سلگونه ځایه ډېر دغه ټکې ته پام کړی، لکه دی چې په دې شعر کې وایې:

سر تر پایه سره لمبه سوم

روغ زړگی مې سوی سکور سو
نه ایرې نه مې دود ښکارې
بل راباندې څنگه اور سو
نه لمبه مې سوه خاموشه
نه رڼا دا تیاره کور سو
په نارو مې گل ویښ نه سو
څه عبث مې د خولې شور سو
آه سپېره لو هدیره ده
ټوله مړه دې – ټوله مړه دې
که زاړه دې که واړه دې(۳- ۸۱)

یا هم دا چې:

پېړۍ واوښتې، خو خلک لا بیده دي
ویښول یې ډېر کلونه زحمت غوړاي

په ړندو سترګو د اور پر خوا ور درومي
دا کم بخته لا نشه د جنت غواړي(۲- ۲۱)

ښوونه او روزنه د ټولنې بنیاد جوړوي. ارواښاد بېنوا په دې اړخ کې هم یو متوجه سړی دی او همېشه یې په خپلو لیکونو کې دغه ټکې ته په خورا ښه توګه انعکاس ورکړی دی. د بېنوا "د خاندان خولۍ" اثر زموږ د دې خبرې د زبات لپاره ښه دلیل کېدای شي او یا هم تاسې په دغه شعر کې د ارواښاد بېنوا د ښوونې او روزنې مفکوره په ښه توګه لیدلای شئ:

د زړګي سر یې زما
د ژوند ثمر یې زما
نورالبصر یې زما
شیرین بشر یې زما
هله پاڅېږه زویه
راپورته کېږه زویه
زویکه لمر ختلی
وطن یې ټول نیولی
حال د ویدني تللی
وخت د ویښتوب راغلی
مکتب ته ځي هلکان
د وطن نوي زلمیان
هر څوک کارونه کوي
خپل روزګارونه کوي
تر اخره پورې....(۱- ۸۸)

کله چې د بېنوا دغه شعر تر پایه و ګورئ چې ده په ټولنیزه ارواپوهنه کې څومره مخکې دی او د ټولنې په روح او روان څومره اګاه دی.

هغه د ټولنیز رغاوي او بدلون لپاره تر ټولو علاقمند شخصیت وو او د هغه د شخصیت دغه بعد په لیکونو او سبک کې د یوه یاغي او مبتکر شاعر په حیث خورا په شور او زوږ باندې راغلی دی. د هغه د دغې شانته انقلاب شعر په هغه شهکار

شعرونو کې شمارلای شو چې د بېنوا د شاعرۍ انتخاب بلل کېدای سي، چې داسې دی:

نسيم ووې د گل غوړ کې بد سو د يارانې رنگ
غلی شانته انقلاب بدلوي د زمانې رنگ
ورسره نوي رنگونه، رنگا رنگ تحولونه
کړي سمسور به باغ راغونه
موسم دی هم بدل سوی د بلبل ترانې رنگ
غلی شانته انقلاب دی بدلوي د زمانې رنگ
دړې وړې زوړ رباب دی، زوړ مطرب خانه خراب دی
زوړ آهنگ د روح عذاب دی
نوی ساز نوی آواز دی هم سو نوی د نغمې رنگ
غلی شانته انقلاب دی بدلوي د زمانې رنگ (۱-۱۰۱)

دين محمد ژواک د بېنوا د دغه شعر په اړه خورا تاريخي او عالمانه نظر لري. دی وايي: ((بېنوا استاد د شعر د کلاسيک استادانه نظر، فورم او محتوا سره يوه نوې رنگينه امتحاني الوتنه هم لري او د شعر په ژبه د نړۍ د بدلون رمز څرنگه ښيي؟ دا برخه د پښتو شعر د شعري سير لوړې تکاملي پوړۍ ته بيايي.))( ٦: ٣٦)

مينه د ژوند اساس دی. هر شاعر شاعري له مينې را پيلوي، په غنايي شاعرۍ کې بېنوا بلا کوي د خپلې مينې طنازي او د خپل جنون سرحدونه په ډېرې بې باکۍ ماتوي، هغه د هر څه پر وړاندې ياغي دی او ټول سرحدونه ماتوي، مگر د مينې پر وړاندې تسليم دی. د هغه مينه يواځې تصنعي او مجازي نه ده، هغه په خپل جانان کې کله نا کله حقيقي جانان او د دنيا او مافيها د مالک پر خوا هم ورځي. دغه خوی او عادت د خان غني خان او استاد بېنوا مشترکه خاصه ده چې يو ډول تر ياغيتوب او جنونه رسېدلی.

زرين انځور په خپله يوه مقاله کې چې (د يو بېنوا او يو غني) تر سرليک لاندې يې ليکلې د ماسټر عبدالکريم په حواله راخلي: ((غني نه چا پسي تللی شي او نه به لاړ شي، ځکه چې غني شاعر دی او تقليد د شاعر مرگ او بغاوت د هغه ژوندن دی)) او خپل بحث داسې غځوي: ((دغه شاعرانه بغاوت د بېنوا او غني دواړو

په شعرونو کې ځان څرگندوي، د غني په شاعرۍ کې یو څه زیات او د بېنوا په شاعرۍ کې یو څه کم. زه فکر کوم چې د استاد بېنوا د مستي او رندانه شاعرۍ ډېرې ښکلې نمونې به د (د حالاتو د تقاضا) له مخې نه وي چاپ شوې او گوره چې بیا به تر لاسه شي او که نه؟)) (۷: ۱۵۲)

د هغه د لېونۍ مینې د ښکاره کولو لپاره به لاندې څو بیته ویل بد نه وي:

ښایسته ستوري د مینې
هر سهار را پورته کېږي
د اسمان پر تندي باندې
لکه خال غوندې ځلیږي
تر نظر مې هر څه لاندې
کائیناتو ته مسېږم
پورته کښته په جهان کې
و هر چا ته ښه ښکارېږم
جمادات که حیوانات دي
دا ټول وینمه تېرېږمه
داسې تر اخیره ...(۳- ۹۱)

د استاد بېنوا دغه شعر که تر اخره پورې و لولئ، نو تاسې به د انسان د مینې بېلابېلې غمازۍ په کې وگورئ چې د نړۍ هر انسان عاشق او هر څوک د خپلې مدعا لپاره خپله خپله لاره لري.

په شاعرۍ کې منظر کشي د شعر خوند یو په څو کوي او استاد بېنوا په دغه چار کې تر بل هر چا ډېر برلاسی دی. د هغه اکثره شعرونه تصویري دي، یعنې لوستونکي ته یواځې الفاظ نه ور اوري، بلکې تصویرونه هم پرې ویني. تاسي د بېنوا دغه منظر کشي په دې لاندې څو بېتونو کې کتلای شئ:

ارغنداو د غرو لمنې
د غاټول په گلو سرې سوې
د دامان هوسۍ دي مستې
زرغونې ورته درې سوې

د باغو ونې وېښېږي
د بلبلو پرې نارې سوې
آسمان مځکه ټوله خاندي
نوې نوې نندارې سوې
واه، دا څه نوی ژوندون دی
دا نسیم راغی له کومه
چې یې نوی روح وطن ته
و باسه له خپل قدمه (۱- ۱۴۳)

استاد بېنوا کله نا کله په خپلو آثارو کې له طنزي روشه هم کار اخلي او د هغه ډرامې زموږ د دغې خبرې د زبات لپاره ښه دلیل دی.

ترانې په پښتو ادب کې ډېرو محدودو خلکو لیکلې دي. استاد بېنوا په هغه ګوتو شمار کسان کې یو دی. هغه د بېلابېلو طبقاتو لپاره بېلابېلې خوږې ترانې لیکلې دي، د هغه تر ټولو مشهوره ترانه د افغانستان ملي سرود و چې د ترانې په فورم کې لیکل سوی دی او داسې دی:

څو چې دا مځکه اسمان وي
څو چې دا جهان ودان وي
څو چې ژوند پر دې جهان وي
څو چې پاته یو افغان وي
تل به دا افغانستان وي
تل دې وي افغان ملت
تل دې وي جمهوریت
تل دې وي ملي وحدت
تل دې وي افغان ملت جمهوریت
تل دې وي افغان ملت جمهوریت
ملي وحدت – ملي وحدت
(۱-۱۸۷)

**پایله:**

د استاد بېنوا د شعر او نثر خوږ والی او روان والی هغه څه دي چې چا ته د څېړنې لپاره ډېر زيات مواد په لاس ورکوي د هغه ځېره او درنه د وينا ژبه له داسې ډېرو خوبايانو څخه مالامال ده چې تر اوسه لا چا نه ده را سپړلې. په کار ده چې ځوان څېړونکي د استاد بېنوا د آثارو په بېلابېلو اړخونو کار وکړي او هغه ټولنې ته وړاندې کړي چې ګټه يې عامه شي.

**مأخذونه:**


۱: بېنوا، عبدالروف، د بېنوا شعري کليات، د هيواد نشراتي ټولنه، ۱۳۷۸ لمريز کال.

۲: بېنوا، عبدالروف، اوسني ليکوال، علامه رشاد خپرندويه ټولنه، ۱۳۹۱ لمريز کال.

۳:پتيال، عبدالقديم، پردېس بېنوا، د کندهار اطلاعاتو او کلتور رياست، ۱۳۸۹ لمريز کال.

٤: ټاګور، رابندر اناتهـ، ګيتانجلي(مترجم: استاد عبدالروف بېنوا)، کابل: سروش کتابپلورنځی، ۱۳۹۷ لمريز کال.

۵: حبيبي، پوهاند عبدالحی، د پښتو ادبياتو تاريخ: کابل، دانش خپرندويه ټولنه،۱۳۸٤ لمريز کال.

٦:رشاد، پوهاند اکاډمېسن عبدالشکور، د بېنوا ياد: کندهار، علامه رشاد اکاډمي، ۱۳۸٤ لمريز کال.

۷: روهيال، مطيع الله، بېنوا يادونه: کندهار، د اطلاعاتو او فرهنګ رياست، ۱۳۹۰ لمريز کال.

۸:مرهون، محمود، د پښتو شعر مانوي توکې، کائينات څېړنيز او ژباړې مرکز، مستقبل خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۷ لمريز کال.

۹:مرهون،محمود، نثر، کائينات څېړنيز او ژباړې مرکز، مستقبل خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۷ لمريز کال.

محمد معصوم هوتک

# د کابلي منظوم پښتو آثار

**لنډيز:**

په دې مقاله کې لومړی د مولوی دوست محمد کابلي په اړه معلومات راغلي، چې څوک و، د کوم ځای و او په علمي چارو کې يې کوم کارونه کړې دي.
دا چې ولې هندوستانيانو ورته کابلی وايه په اړه يې پوره معلومات په دې مقاله کې لوستلای شئ، د دې ترڅنګ د راجستان ايالت د ټونک سيمې په اړه هم معلومات په دې مقاله کې شته او په دې هم تفصيلي خبرې شوي چې په ټونک کې څومره پښتانه نوابان اوسېدل او د پښتو ادب لپاره يې کوم کارونه کړې دي.
په ټوله کې د کابلي د ژوند د وروستيو کلونو شاعري څکه له سوزو ګدازه ډکه ده چې د وطن ياد پرې زورور شوی او د وطن په ياد يې شاعري ځانګړې شوې ده.

**سريزه:**

که د ټولو پښتنو په ځانګړې توګه د ليکوالو او شاعرانو پښتنو د ژوند اړخونه مطالعه شي، نو تر ډېره يې ژوند په مهاجرت او پرديو ديارونو کې تېر شوی دی، دا چې ولې نورو هېوادونو ته کډوال شوي بېلابېل لاملونه لري چې دلته پرې له بحث کولو تېرېږو، خو دا چې مهاجرتونو يې ليکنو ته کومه تومنه ورکړې، بې له شکه د يادولو او ستايلو وړ ده.

د پښتو ژبې اکثر هغه شاعران چې په مهاجرت او د پرديو په ديارونو کې د جدايي شپې او ورځې سبا کوي بيا يې هم د خپل وطن مينه په خپل ذهن کې بنديوانه کړې نه ده، بلکې هغه ته يې لوری ورکړی، ژوند يې ورکړی او د الفاظو روح يې ورکړی دی، چې د هغې له ډلې کاظم خان شيدا او همدا مولوي دوست محمد کابلی يادولی شو، کابلی هغه څوک دی چې آن په هند کې هم هندوستاني شاعران او ليکوال يې شاعری

ته هک حیران ول، هغوی نوموړي ته د نازکخیاله شاعری له امله آن د کابلي او دې ته ورته القاب ورکړی چې په همدې نامه مشهور شوی هم دی.

زما په نظر پښتو څېړونکو ته په کار ده چې هم د هغه پېر او هم د اوسني پېر هغه شاعران او لیکوالان چې په نورو هېوادونو کې اوسېدل او د هېواد په اړه یې لیکنې او شعرونه ویل هغه راټول او مینه والو ته وړاندې کړي چې په دې توګه له یوې خوا زموږ ځوان څېړونکی نسل خپل خادمین وپېژني او په دوهم ګام کې څه نا څه حق یې هم ادا او له فراموشۍ نه خوندي پاتې شي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت:

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې د مولوي دوست محمد کابلي د شاعرۍ روح موږ ته جوتېږي، چې د ده شاعري څه ډول وه او په وروستیو کې یې څنګه رنګ خپل کړی دی.

د دې ترڅنګ ده ته هندوستانیانو د ده د شاعرۍ له امله کوم القاب ورکړي او د هغوی په ټولنه کې یې څه ډول ځای ځایګی درلود.

## د څېړنې موخه:

د دې څېړنې موخه په دې کې ده چې له یوې خوا زموږ ځوان څېړونکي د خپلو هغو خواخوږو په اړه معلومات پیدا کوي چې تر اوسه یا ورته متوجه نه وو او یا یې هم ورته لاس رسی نه کېده او له بلې خوا دوی به د فراموشۍ له باده هم په امان وي او د هنر ځلېدنه به یې شوې وي.

## د څېړنې پوښتنې:

په دې څېړنه کې تر ډېره لاندې پوښتنو ته ځوابونه موندل شوې دي :

- ✓ دوست محمد کابلی څوک و؟
- ✓ د کابلي د شاعرۍ جوړښت تر ډېره پر کوم محور چورلېده؟
- ✓ ولې کابلي ته کابلی وویل شو؟
- ✓ د هندوستان شاعرانو او لیکوالانوده ته په کومه سترګه کتل او ولې؟

او دې ته ورته ځینې نورې کوچنۍ پوښتنې هم شته چې په دې رساله کې به یې ځواب ومومئ.

### د څېړنې میتود:

تر ډېره په دې مقاله کې له تحلیلي، تشریحي او توضیحي میتود نه کار اخیستل شوی دی.

### د مقالې اصلي متن:

مولوي دوست محمد کابلی له هغو پښتنو پوهانو څخه دی چې په هندوستان کې یې ژوند تېر کړی او هلته مړ شوی دی. د ده اصلي پلرنی مېنه د غزني شیلگر وه او په ختيه اندړ و. پلار یې ملا امیر نومېده چې له غزني څخه خور د کابل ته را کډه شوی و. هندوستانیو علماوو چې د مولوي دوست محمد له نامه سره (کابلی) کیښی، لامل یې په خورد کابل کې د دغې کورنۍ استوگنه وه. مولوي دوست محمد د امیر عبدالرحمن خان (۱۸۸۰ ـ ۱۹۰۱ع) تر پاچهۍ پخوا هندوستان ته لاړ او په ډهلي، رامپور او لکهنو کې یې تر تحصیل وروسته په ټونک کې دایمي استوگنه غوره کړه.

ټونک د هندوستان په اوسنیو تشکیلاتو کې د راجستان ایالت یو ښار دی. په دې ښار کې چې د هند په شمال لویدیځ کې پروت دی، له یوې نیمې پېړۍ راهیسې د پښتنو نوابانو واکمني چلېږي. د دې نوابۍ بنسټگر امیرالدوله نواب امیر خان سالارزی (۱۸۰٦ ـ ۱۸۳۴ع) و.

د امیر خان سالارزی(۱) پلار محمد حیات خان نومېده چې څه موده یې په هندوستان کې د پښتانه نواب دوندي خان برېڅ (۱۱۱۷ ـ ۱۱۸۵هـ ق) نوکري کړې وه (۲). نواب امیر خان سالارزي پر ټونک باندې دمړینې تر وخته (۱۸۳۴ع) واکمني وچلوله او د ایسټ انډیا کمپنۍ له خوا یې واکمني په رسمیت پېژندلې شوې وه. تر ده وروسته یې زوی محمد وزیرخان نواب شو او د نوابۍ دا لړۍ تر ننه پورې د دغې کورنۍ په غړو کې روانه ده. وروستی نواب (نهم نواب) یې محمد آفتاب علیخان نومیږي چې له ۱۹۹۴ع کال راهیسې د نوابۍ پر مقام ناست دی. د سالارزیو پښتنو دغې نوابۍ له نورو عمراني او ټولنیزو چارو ترڅنگ علم او فرهنگ ته هم خورا زیات خدمتونه کړي دي. په ټونک کې پښتنو پوهانو ته په درنه سترگه کتل کېدل. د پښتو، پارسي، عربي او اردو آثارو یوه لویه کتابخانه یې تاسیس کړې وه چې د دغې کتابخانې په پښتو خطي نسخو کې ځینې نادر آثار (د حبیب الله دیوان، د صدیق دیوان، د مهین دیوان او نور) خوندي ول (۳). په دغه کتابتون کې راغونډ شوي آثار اوس د هندوستان

او پېښور په خطي زېرمو کې موندل کېږي او وايي چې پر دغو نسخو باندې د "کتابخانهٔ سرکار ټونک" مهرونه شته.

زموږ تر بحث لاندې عالم مولوي دوست محمد کابلي چې په ټونک کې د میشتېدلو نیت کاوه، په دغه ریاست کې به د نوابي چوکۍ غالباً د نواب امیرخان د کړوسي نواب محمد ابراهیم علیخان (۱۸٦٧ ــ ۱۹۳۰ع) په واک کې وه. نواب محمد ابراهیم خان په اردو ژبه شاعري کوله اوشعري تخلص یې (خلیل) و(۴). د ټونک مقاماتو د مولوي دوست محمد کابلي علمي مقام ته په کتلو سره هغه ته د ټونک ریاست د قاضي القضات مقام ور وسپاره. ده تر دغه مقام پخوا څه موده د اگرې د جامع په مدرسه کې د سرمدرس دنده هم درلوده، خو د ژوند زیاته برخه یې په ټونک کې تېره کړه. د ده له نوو موندل شوو پښتو اشعارو څخه داسې ښکاري چې د ژوند په وروستیو شپو ورځو کې پردېسۍ زور پر کړی و او د کابل او وطن په یاد یې سوي چیغې له خولې وتلې وې. په یوه غزل کې داسې وايي:

زه له لاسه د رقیب یم هسې تنگ په هندوستان کې
لکه فیلِ مست چه تنگ وي د کابل په برفستان کې
زه په هند کې داسې تنگ یم تل سوزان لکه پتنگ یم
لکه تنگ چې کوم شهید وي د لندن په گورستان کې
زړه مې بند دی په کوگل کې هېڅ ارزو نشته په دِل کې
لکه تل چې حاکم بند کا کوم مجرم په قبرستان کې
خاص په ټونک کې داسې ضیق یم چې جدا له خپل فریق یم
لکه بند چې کبک دري شي په اگره په تابستان کې
که بیرون شم زه له هنده، له دې ملکه ناپسنده
نو خوشحال به شم هرگوره گرچه شم په طبرستان کې
له طوطیانو د کابل یم، په کابل د شا کابل یم
اوس خپلوان ځما موجود دي په کولاب د ترکستان کې
چې رایاد دا خپل اوطان شي آب هوا هغه توتان شي
زړه مي هسې رنگ قوي شي چې رستم و په سیستان کې
یو کارېز د سلسبیل دی، چې شیرین له رودِ نیل دی
بل چشمه سپینه موجوده، ده په ببخ د کوهستان کې

زردالو او سېب هم ډېر دي، چې له حد له شماره تېر دي
د خوراک مانع یې نشته اندرون په باغستان کې
که جنت وي په دنیا کې مخصوص نه وي په عقبا کې
نو لایق یې شا کابل و، نه بل ځای په زرعستان کې
"دوسته" راشه توبه گار شه، له بد کاره پرهېز گار شه
گوندي خدای دې خښ کا گوره د بقیع په گورستان کې
(خطي نسخه ۲۰۵مخ)

یو بل ځای یې ویلي دي:

زه په اصل له طوطیانو د کابل یم
په کابل کې شا کابل چې د میدان دی
اوس پا بند یمه په ټونک کې ځما یاره
چې یو ښهر له ښهرو د هندوستان دی
دوست محمد که ځان طوطي بولي ښایېږي
چې سراج د درست امت له ثناخوان دی
(خطي نسخه ۴۳۸مخ)

د مولوي دوست محمد مړینه په ۱۳۲۸ هـ ق کال = ۱۹۱۰ع کې پېښه وه (۵) او په ټونک کې د موتي باغ په هدیره کې ښخ دی. وایي چې دوه زامن او څلور لوڼي یې پاتې شوې دي (۶).

علامه رشاد کښلي دي چې د کابل پوهنتون د حقوقو فاکولتې پخوانی استاد پروفیسور اسماعیل غزنوي د مولوي دوست محمد د لور له خوا لمسی دی. د افغانستان د لوی عالم او د پښتو ټولنې پخوانی غړی ارواښاد مولانا عزیزالرحمان سیفي (۱۳۶۲ش مړ) مور هم د مولوي دوست محمد کابلي لور وه.

له مولوي دوست محمد څخه په عربي، پاړسي، اردو ژبو کې خطي او چاپي آثار پاتې دي. په تذکره علمای هند کې یې د یوه اثر یادونه شوې ده چې (عین الاصابه في رفع السبابه) نومېږي (۷). د دې اثر ژبه پاړسي ده او په ۱۲۹۶ هـ ق کې په لکهنو کې چاپ شوی دی (۸). بل اثر یې (تحفة الاخلاء في عصمت الانبیاء) دی چې په عربي ژبه یې کښلی او په لکهنوکې په ۱۲۹۴هـ ق کال چاپ شوی دی. دریم اثر یې په اردو ژبه د (عین العلم) ترجمه ده. څلورم کتاب یې نزهة الخواطر نومېږي. پنځم اثر یې

ضابطهٔ افغاني او شپږم يې (آمدنامه) ده چې د وروستيو دوو اثرونو خطي نسخې يې په ترتيب سره د ټونک او ډهلي په ملي ميوزيم کې خوندي دي. ضابطهٔ افغاني د گرامر او قاموس برخي لري چې پېژندنه يې د ښاغلي سرمحقق هيوادمل په قلم ليکل شوې ده (۹).

د آمد نامې نوم شته خو زما د معلوماتو له مخې تر اوسه لا د تحقيق ډگر ته راوتلې نه ده يا به زه نه يم پر پېښ شوی(۱۰).

د مولوي دوست محمد کابلي د پښتو آثارو او پښتو شاعرۍ خبره زموږ مشرانو پوهانو کړې ده. علامه رشاد د مولانا سيفي له خولې کښلي دي چې "ملا دوست محمد د پښتو ژبې شاعر هم و" (۱۱). د ده د پښتو نثر ځينې نمونې ښاغلي هېوادمل صاحب له ضابطهٔ افغاني څخه را نقل کړي او خپرې کړي يې دي، خو د ده د پښتو شعر آثار تر نه زما په سترگه شوي نه ول. د سږکال (۲۰۱۸ع) په نومبر کې ماته د دوست محمد کابلي د پښتو منظومو آثارو يوه مجموعه په لاس راغله(۱۲) چې په هغې کې څو رسالې او پښتو غزلې او قصيدې را غونډې شوې دي. دا مجموعه په ښکلي نسخ خط پر ژيړ بخونه کاغذ خطاطي شوې ده. د مجموعې قطع (۲۰ x۲۸) سانتۍ ده. هر مخ يې په سره رنگ د درو کرښو په چوکاټ کې نيولی دی او د بيتونو ترمنځ فاصله يې په سرو عمودي کرښو سره بېله کړې ده. عنوانونه يې هم په چوکاټو کې نيولي دي. هر مخ پر سر باندې عدد لري، خو رکابونه يې هم منظم ورکړي دي. ټولې رسالې په يوه مجلد کې سره گنډل شوي دي او تر صحافت وروسته بل چا په انگرېزي عددونو سره ټولې مجموعې ته پرله پسې نمبر ورکړی دی او په دې ډول د مجموعې ټول مخونه(۴۴۲) ته رسېدلي دي. د نسخې کاتب معلوم نه دی او له امکانه لرې نه ده چې د شاعر په خپل ليک دې وي؟

د مجموعې لومړۍ رسالې (۱۸۴ مخه) نيولې دي چې سراج الملة والدين امير حبيب الله خان ته يې اهداء کړې ده. دا رساله يې د پنځو گلونو غونچه بللې ده او په هغې کې يې د اسلام پنځه بناوې په تفصيل سره په نظم بيان کړې دي. د نظم فورم يې مثنوي او هر نيم بيتی يې دوولس سېلابه دی. ځينې مخونه پر څنډو باندې نور بېتونه هم لري او داسې ښکاري چې رساله تر کتابت وروسته بيا کتل شوې او بشپړه شوې ده. د رسالې هر مبحث يې "کتاب" بللی دی لکه "کتاب الطهاره"، "کتاب الصلوة" او نور. هر کتاب يې بيا پر بابونو او فصلونو وېشلی دی. رساله په سر کې د مقدمې پر ځای يوه

قصيده لري (پنځوس بېته) لري چې په هغې کې يې د خپل ممدوح امير صـفتونه، د رسالې د کښلو اړتيا او يو څه خپل حال بيـان کـړی دی. د قصـيدې لـه متنـه داسـې ښکاري چې رساله پخوا ويل شوې او بشپړه شوې وه او وروسته چې يې امير تـه د اهـدا کولو اراده کړې ده، نو يې په سر کې دا قصيده د مقدمې په توگه پرې زياته کړې ده.

زه به د دې قصيدې لازم بېتونه دلته را نقل کړم:

تعريف دی سزاوار د هغه ذات ذوالکرم
بازار چې د وجود يې کۀ آباد پر کل عالم
موصوف دی خود په واړو کمالاتو بِلا رَيب
تل پاک دی له نقصانه سزاوار دی د قِدَم
قادر دی په هر کار او په هر آن کې بې گومان
احوال د ټول عالم کا په يو آن کې منتظَم
هر کار چې يې مرضي وي چې دی راغلی پر وجود
هرگز يې تخلف د ارادې نه شي يو دم
نه عرش وو نه کرسي وه نه افلاک نه عناصر
ده وکړه اراده چې کړي ظاهر تمام عالم
يو نور يې له خپل نوره را جدا کۀ ډېر روښان
صاحب يې د رتبې کۀ له کل خلقو مقدم

.......................

اې خدايه ته نازل کړې رحمتونه صد هزار
هر وقت او په هر آن کې په دې نورِ مجسم
هم وي دي سلامونه بې حساب او بې شمار
نازل پر هغوی خلقو چې د ده په لار دي سم
شاهان او سلاطين دي خلفا د هغه نور
څو درومي دوی په لار د هغه نور مکرم
لازم دی په رعيت باندې فرمان د هر سلطان
لازم لکه فرمان چې د رسول دی پر امم
نن ورځ د لوی اختر ده هم نوروز دی د بهار
جاري دي دريابونه له چشمو نه د کرم

سرسبز دي ټول باغونه هر يو شاخ له گلو پُر
هر گل داسې خوشبوی دی گویا گل دی د اِرم
ټول ملک له گلو پُر دی رنگارنگ يې دي الوان
جامه زمردي ده اوس اغوستې غر او سم
قمري او فاخته، زرکه بلبلان او نور پرند
ټول گرزي په چمن کې اوس له باز سره همدم
غرڅه د لويو غرونو له مزرو سره يو ځای
اوبه په يو گودر څښي نه وېرېږي له ضيغم
مشغول دي په ثنا او په صفت د کردگار
چې خلاص دي د بازانو د شيرانو له ستم
جاري دی پر زبان د هر ذيروح داسې کلام
چې ناست دی اوس په تخت هغه سلطان معظم
چې دی باعث د اَمن او راحت د هر مظلوم
ظالم د ده له خوفه ظلم پرېښوو يک قلم

.............................

تدبير د سلطنت يې کل موروث دی له ضياء
انصاف او دادرسي د ده پر واړو مقدم

..................

مشهور دی په حبيب الهي په درست جهان
صاحب د تخت و بخت دی هم د تاج هم د علَم

.................

اوس جمع په دربار دي ټول ارکان د سلطنت
سادات او علماء او بزرگان دي فراهم
هديه او پېشکشي ده هر يوه څخه بې بها
حاضر دي په ادب روښان جبين خوش مبتسم

..................

ماهم دا فکر وکۀ چې هديه کړم داسې شی
چې دی وي سزاوار د پېشکشی د ذوالحشم

هر څو مې فکر وکۀ هېڅ رانغلل په نظر
اِلا غونچه د گلو چې خوشبو وه په هر شم
غونچه وه له پنځو گلونو جوړه هر يو گل
خوشرنگه خوشنما وه له گلانو د اِرم
.....................
يو گل دی د صلوة بل د زکوة بل د صيام
بل حج د بيت الله دی او توحيد يې دی پنځم
دا ټول مې کړل په نظم افغاني سره منظوم
چې واخلي هر افغان له ده فايده څه زيات و کم
هم هغه مې هديه کړه د حبيب د گردگار
بېشک چې سزاوار درډې غونچې که خورم قسم
موسوم ده دا غونچه په پنځه رکنه د اسلام
دا نظم افغاني هديه د شاه شوه پر دې دم
چې ياد وي نوم د شاه تر هغه وقته پر جهان
څو لوستی پر زبان د پښتنو شي دا رقم
دا دوستِ محمد د هندوستان دی بنديوان
اوس غواړي اعانت دی له حبيب د ذوالکرم
چې خلاص شي له جواره د کفارو دی مدام
مشغول په دې دعا وي تل په وقت د صبحدم
.........................
تر دې قصيدې وروسته "کتاب الطهارت" داسې شروع کېږي:
څلور څيزه په اودس کې فرض دي ياره
د خپل مخ وينځل ته يو له ديو شماره
د مخ حد که دي په کار وي راشه زده کړه
درته وايم غوږ په کېږده شنيده کړه
تر پنځم رکن وروسته يې په عقايدو کې "کتاب الايمان" راوړی دی او د هغه په پای کې يې رساله په يوه " خلاصه" پای ته رسولې ده. "خلاصه" يې د رحمن بابا په اقتفا داسې پيل کړې ده:

گوره هسې کردگار دی رب ځما
چه موجود پخپل اختيار دی رب ځما

پر همدې وزن او قافيه يې اووه ويشت بيته ويلي دي او ورپسې يې د کتاب الايمان خلاصه بيان کړې ده چې وروستی بيت يې داسې دئ:

دا تقرير ځما له ځانه،رنه دی ياره
د احمد بن حنبل کلام يې شماره

او په همدې بيت سره لومړۍ رساله پای ته رسېږي.

دردې رسالې د لمانځه د بيان په پای کې يې دردغې برخې د ويلو ځای او نېټه داسې ښوولې ده:

چې فارغ شوم له بيانه د نمازه
په نن ورځ چې عاشوره ده دا ممتازه
چې لسم تاريخ له مياشتې محرم دی
ديارلس سوه له هجري تېر اولسم دی
په اگره کې چې اکبرآباد يې نوم دی
سلاطين د هندوستان له مرز و بوم دی
( خطي نسخه ۹۳ مخ)

د ۱۳۱۷هـ ق کال د محرم لسمه د ۱۸۹۹ ع کال د می له ۲۲مې سره برابرېږي. دغه وخت پر افغانستان باندې د امير عبدالرحمن خان د پاچهۍ وروستي دوه کلونه دي. په دغه وخت کې مولوي دوست محمد په اگره کې دی. تر دغې نېټې اته کاله وروسته د افغانستان پاچا سراج الملة والدين امير حبيب الله خان د ۱۹۰۷ع کال د جنورۍ پر دوهمه هندوستان ته رسمي سفر وکړ. گويا مولوي دوست محمد دا رساله د امير د سفر پر وخت تياره درلوده او هندوستان په تېره بيا اگرې ته د امير د ورتلو پر وخت به يې لازمه بللې وي چې د تحفې په توگه يې ورته وړاندې کړي. دا چې رساله به يې تر امير پورې رسولې وي که نه؟ له موږ سره سمدلاسه د ويلو څه نشته. امير حبيب الله خان د ۱۹۰۷ع کال د جنورۍ پر ۱۵مه په اگره کې د تاج محل په کتنه بوخت و. هورې يې د هغه ځای له مسلمانانو سره کتلې هم ول.

د مولوي دوست محمد کابلي د پښتو رسالو د دغې تر بحث لاندې مجموعې دوهمه برخه په حقيقت کې د مولوي کابلي شعري مجموعه ده چې په سر کې د ″

قصيدهٔ عظماء″ په نامه يوه اوږده قصيده راغلې ده (دوه سوه او شل بېته). په دې قصيده کې د انسان له خلقت څخه بيا تر مرگ پورې بېلابېل حالات او کوايف بيان شوي دي. د پيل دوه بيته يې داسې دي:

راشه حال خپل ماحضر کړه، په عبرت سره نظر کړه
چې يقين دي ښه حاصل شي نو چشمان په وينو تر کړه
ته په اصل کې معدوم وې له وجوده خپل محروم وې
خدای پيدا په څه حکمت کړې له اول نه ياد دفتر کړه

پای يې:

دا قيمت د ټول جنت ده، هم د حورو د نعمت ده
هم ديدار د خدای په وخله يخ په اور ته د سقر کړه
دوسته راشه تل وژاړه د زړه سوز له خدايه غواړه
دا هم پرېږده اې نادانه په رحمت د خدای نظر کړه
تمت

تر دې قصيدې وروسته څوارلس غزلې راغلي دي چې يوه يې څوارلس بيته، بله يې پنځلس بيته، بله يې دوولس بيته او نورې پاتې يې ټولې يوولس يوولس بيته دي. يو دوې به يې د کلام د نمونې په توگه رانقل کړم:

هلکتوب تېر شه ځلمی شـومه بيا پير شوم
د هر کار په جوړېدو کې په تدبير شوم
علم و فضل مې حاصل کهٔ مقتدا شوم
د دنيا په قصد ساجد د هر امير شوم
په محفل د علماء کې خدمتگار شوم
په مجلس د جاهلانو کې خود مير شوم
فلسفي او معقولي شوم حسابدان شوم
په مطلب يې نشوم پوه په زړه زهير شوم
تمام عمر مې ضايع په دې فنون کهٔ
په ټول هند کې تر کابل پورې شهير شوم
نه صورت نه هيولا راته معلوم شوه
له ليدو د جوهر فرد نه هم ضرير شوم

د ذاتي او عرَضي په فرق کې جانه
د هوا په سخت حصار کې بند اسیر شوم
چې زه پوه په ناپوهي د دوی شوم جانه
نو طالب د احادیث و د تفسیر شوم
مدرّس د مدرسو شوم په ډېر ځای کې
کله زهد و عبادت تقوی پذیر شوم
وظایف او عملیات او وِرد مې کار وه
اراده مې د سلوک وکړه فقیر شوم
دعاگو د ماهرویانو شوم څو واره
چې بندي د تورو زلفو په زنځیر شوم
عزیز عمر مې ضایع په عبثیات که
خوله کنډاسه ملا کړه اوس کوږ شاتیر شوم
په آخر چې مې نظر وکه اې وروره
په افلاس د هر یو څیز کې بې نظیر شوم
اوس نه علم نه دولت نه بل کمال شته
په دوستي د محمد روښن ضمیر شوم
(خطي نسخه ۲۰۷مخ)
+++++++++
که څه وایم له پیرانو وایم څه
د دې وقت له رهزنانو وایم څه
شپه و ورځ یې د تسبیحو دام په لاس وي
له دې داسې صیادانو وایم څه
عمامه چپنه دواړه د صوفیانو
اوس له دې ریاکارانو وایم څه
ظاهر حال یې د صوفي په زړه لېوه وي
اوس د زړونو له لېوانو وایم څه
په لباس د صوفیانو کې غدار وي
زه له داسې غدارانو وایم څه

که امیر یې په دام راشي تل اختر کا
له دا هسې خوشحالانو وایم څه
که یې ښځه شوه مریده نو د ده شي
زه له داسې زانیانو وایم څه
د حرام حلال فرق نه کاندي هېڅکله
اوس له دې پرهېزګارانو وایم څه
که د غدر ډوډۍ مومي خپله نه خوري
زه له دې حرام خورانو وایم څه
په مجلس کې یې تل ذکر او ارشاد وي
د خلوت له غافلانو وایم څه
د هند خلق که هرڅو دوی مسلمان دي
زه له داسې مسلمانو وایم څه
چې کلام د خدای موجود عمل په بل کا
له دې داسې قانون دانو وایم څه
د قانون عمل مرغوب که له کلام شي
شي کافر له کافرانو وایم څه
او که حق ګڼې کلام په قانون کار کا
ظلم و فسق دی له بدانو وایم څه
دوسته پرَته کړه قلم ژبه دې بند کړه
زه له داسې راستګویانو وایم څه
(خطي نسخه ۲۰۹مخ)

د اشعارو برخه پر ۲۱۱ مخ پای ته رسېږي او ورپسې د میراث منظومه رساله شروع کېږي چې یو سل و نهه اتیا (۱۸۹) مخه یې نیولې دي. په پیل کې یې د هغې بلې رسالې په شان یوه قصیده وزمه سریزه راوړې ده. د سر څو بېته یې داسې دي:

تر بسم الله وروسته
اوس یاد کړه په اول نوم د خالق د بحر وبر
رحمت غواړه له خدایه د نبیانو پر افسر
رحمت دې وي نازل پر ابوبکر یارِ غار

هم وي دي پر فاروق په ذی النورین و په حیدر
باقي چې ټوک اصحاب د پاک رسول دي یا یې آل
نازل شه په دوی واړو رحمتونه له داوَر
یو وقت مې دا خبره په زړه راغله په ځو واره
چه هېڅ دې حاصل نه کړه په دنیا کې بې ضرر
اوس علم فرایض یعنې میراث کړه ته منظوم
پر ژبه افغاني چې پښتنو له شي رهبر
فایده ورځني واخلي ټول افغان په اساني
ټوک وکاندي دعا په حق د ستا وقتِ سحر

................................

د سریزې ټول بیتونه یو د پاسه سل(۱۰۱) بیته دي. ورپسې یې د میراث رساله راځي. د رسالې هر مبحث په یوه بیت سره شروع کوي او بیا د هغه بیت شرحه د مثنوي په لنډ بحر کې بیانوي. د رسالې پیل یې په دې بیتو دی:

اول مال د مُرده ورکړه هغه دَین کې
چې هغه متعلق وي په کوم عین کې
که ټوک مړ شي ځما جانه
مال یې پاته شي عیانه
په دې مړي داسې دَین وي
چې تعلق د ده له عین وي
اول دی لازم اې وروره
چې مُرده خلاص شي له پوره

........................

رساله په دې بیتو پای ته رسېږي:

مرگ او ژوند مجهول شي وروره
د مفقود په شان یې گوره
د مفقود چې څه احکام دي
کل جاري په دوی تمام دي

د میراث په پښتو رسالو کې په دغه تفصیل سره بله رساله زما (هوتک) نه ده تر سترګو شوې.

تر دغې رسالې وروسته یوه پارسي مثنوي شته او تر هغې وروسته د بُرده قصیدې منظومه پښتو ژباړه راځي چې پیل یې او پای یې داسې دی:

څه له یاده د یارانو ساکنین د ذی سلم
اوښې وینې دې بهېږي له چشمانو وبله ضم

پای یې:

قصیده چې چا پښتو کړه رحم وکړې په ده باندې
ټول ذنوب یې ور معاف کړې مؤخر هم مقدم

دې قصیدې ټول لس مخه نیولي دي او لیک یې نستعلیق دی. تر دې قصیدې وروسته بیا څو نورې قصیدې شته چې موضوع یې پند، نصیحت او ناظم یې په خپله مولوي دوست محمددی. په دې قصیدو کې یوه په عربي ژبه ده او وروستۍ یې د خپل پیر طریقت جناب غوث الثقلین قدس سره په مدح کې ده.

د یوې قصیدې په پای کې یې ویلي چې د (فتوح الغیب) د کتاب ژباړې ته یې هم اراده کړې وه(۱۳). د ده خپله وینا داسې ده:

یوه ورځ مې په خاطر کې راغله وروره
چې کتاب فتوح الغیب واخله وګوره
چه تصنیف د سرحلقه د اولیاء دی
یعنې غوث الثقلین څمونږ پېشوا دی
مضامین یې مرغلرې بې بها دي
په قیمت کې که ادنا دي یا اعلا دي
له اوله تر آخره مې ای یاره
یو نظر پرې باندې تېر کړ په قراره
له هغه پس په زړه راغله بې اختیاره
یو ځل نه بلکې په څوا واره تکراره
چې همت له تا صادر که صبح و شام شي
افغاني شي منفعت د کتاب عام شي
پښتنو لره به دا وینا بهتر شي

هم به ډک له ثوابونو ستا دفتر شي
په دنیا یې هم اول د ځان رهبر کړه
پس له هغه یې نور خلقو لره ورکړه
ګوندې غــــوثِ ثقلین له تا راضي شي
جدّ د ده شاه کونین له تا راضي شي

+++++++++++

خو داسې ښکاري چې مولوي دوست محمد خپله دغه اراده عملي کړې نـه ده او له همدې اسیته یې پر پورتنیو بیتونو باندې وروسته چلیپا کښلې ده.

زه به د مولوي دوست محمد کابلي د نوو موندل شوو منظومو پښتو رسالو په بـاب خپلې خبرې سره راغونډې کړم او لوستونکو ته به د دغې نوې زېرمې د مونـدلو مبـارکي ورکړم.

**لمنلیکونه او مأخذونه:**

۱ ـ سالارزی د کرلاڼیو پښتنو له څلورو څانګو څخه یوه څانګه ده چې زیـاتره پـه باجوړ او کونړ کې میشت دي.

۲ ـ دوندي خان (ځونډی خان) بړېڅ د حافظ رحمـت خـان بـړېڅ د اکـا زوی و. دی د پاني پټ په تاریخي جګړه کې د لوی احمدشاه بابا له کلکو ملاتړیـانو څخـه و او د خرپ تورې یې وهلې وې. لوی احمد شاه بابا یې د مېړانـې پـه صـله کـې خلاتونـه او جاګیرونه ورکړي ول.

۳ ـ هېوادمل، زلمی، په هند کـې د پښـتو ژبـې او ادبیـاتو د ایجـاد او ودې پړاونـه ـ ۴۵۲ مخ، دوهم چاپ ، ۱۳۷۳هـ ش، لاهور.

۴ ـ کابل مجله ــ ۱۰ ګڼه ــ ۱۳۶۳ش ــ اروابـاد مولانـا سـیفي ــ د پوهانـد رشـاد لیکنه.

۵ ـ دغه کال په افغانستان کې د سراج الملة والدین امیر حبیب الله خـان د پاچـاهۍ لسم کال دی.

۶ ـ هېوادمل، زلمی ــ د هند په کتابخـانو کـې د پښـتو خطـي نسـخې ــ ۲۹۶ مـخ، ۱۳۶۳ش، کابل.

۷ ـ تـذکره علـمای هنـد ــ صــ ۲۶۲ ــ چـاپ نولکشـور، لکهنــو ـ ۱۹۱۴ع.

۸ ـ هېوادمل، زلمی، یاد شوی اثر ــ ۴۵۴ مخ.

۹ ـ پورتنی اثر، هماغه مخ او د هند په کتابخانو کې پښتو خطي نسخې ــ ۱۸۴ ـ ۱۸٦ مخونه.

۱۰ ـ د (آمد نامه) په نوم ایښولو کې به ښایي د (آمدن نامه) رسالې اغېزه کړې وي. آمدن نامه یوه فارسي رساله ده چې د نورستان د″ جدیدالاسلام″ خلکو د تعلیم لپاره د امیرعبدالرحمن خان په امر په محرم الحرام ۱۳۱٦هـ ق ، مې ۱۸۹۸ع کال د گل محمد خان محمد زي په اهتمام د کابل دارالسلطنة په مطبع کې چاپ شوې وه. په دغه رساله کې د فارسي ژبې د افعالو گردانونه د الفبې پر ترتیب راوړل شوي دي.

۱۱ ـ کابل مجله ـ هماغه گڼه.

۱۲ ـ دا مجموعه زما د محترم اشنا کاکا اسدالله خان په خطي کلکسیون کې ساتله کېږي او ماته یې د مهربانی له مخې کاپي کاناډا ته راولېږله.

۱۳ ـ فتوح الغیب د شیخ عبدالقادر جیلاني قدس سِرّه تالیف دی. ژبه یې عربي ده خو اردو ترجمې یې هم شته.

پوهنیار عبدالعظیم صدیقمل

# د مورفیمیکو جوړو پېژندنه

**لنډیز:**

دغـه لیکنـه چــې سرلیـک یــې ((مــورفیمیکې جــوړې)) ټاکــل شــوی دی د مورفولوژۍ په برخه کې د مورفیمونو پـر ډلبنـدۍ یـوه کـره کتنیـزه څېړنـه ده چــې د مورفیمونو هغه ډولونه را په گوته کـوي چـې لـه اره یـواځنی مـورفیم نـه دی، بلکـې د مورفیمونو یوه جوړه یا غونډ دی. د دې لپاره چې یـاده موضـوع ښـه روښـانه شي، نـو ټولې هغه مورفیمیکې جوړې په گوته شوي چې د څېړونکو له خوا یو مورفیم شـمېرل شوی، خو هغه یو مورفیم نه دی.

د خبرې د څرگند ثبـوت لپـاره د مورفولـوژي او مـورفیم پـر تعریفونـو هـم بحـث شوی چې یادې ډلبندۍ ورسره اړخ نه لگوي. پـه دې لیکنـه کـې اضـافي ضـمیرونه، ارتباطي ضمیرونه، ځینې قیدونه او تشـبیهي وییکـي یـواځني مورفیمونـه، نـه بلکـې مورفیمیکې جوړې وگڼـل شـوې. دغـه څېړنـه پـه سریـزه پیـل شـوې چـې د موضـوع ارزښت، پوښتنې، موخې، مېتود په کې ځـای پـر ځـای شـوي او ورپســې اصـل مـتن راغلی چې په  پایله او د مأخذونو په نوملړ بشپړه شوې ده.

**سریزه:**

دا چې ژبه له غږونو او فونیمونو راپیل شـوې چـې پـه ترتیـب سره تـرې وییونـه، غونډونه، جملې او لـوی لـوی متنونـه او وینـاوې جـوړې شـوې دي. د هـر یـو د ښــې پوهېـدنې لپـاره بېلابېلـې څـانگې او څـانگوړې مـنځ تـه راغـلي دي چــې ژبــه پــه

سیستماتیکه توګه وڅېړل شي. د ژبپوهنې د نورو څانګو ترڅنګ تشرېحي ژبپوهنه ډېره اړینه ده چې په دې کې ګرامر ځای لري او په ګرامر کې درې لویې برخې فونولوژي، مورفولوژي او غونډله پوهه راځي چې د مورفیمونو او غونډلو پر جوړښت او ګردان همدغه درې برخې بحث کوي.

دا چې د معاصرې ژبپوهنې مطالعه په شلمې پېړۍ کې منځ ته راغلې او د نړۍ ډېرې ژبې او د هغو ګرامرونه پر دغو علمي او کره معیارونو برابر شول او ډېرې ژبې یې د ژبو له ادرسه وڅېړلې. پښتو هم له همدې برکته اره کورنۍ وموندله او هم یې په نورو برخو کې د پام وړ پرمختګونه وکړل؛ خو بیا هم په ځینو برخو کې ستونزې شته دي، لکه:د فونیمونو د ډلبندۍ په برخه کې او هم د ګرامر په ساحه کې د مورفولوژي او غونډله پوهې برید او پوله څرګندول چې کومه ګرامري موضوع د کومې برخې پورې وتړل شي.

په همدې ترتیب ځینې بنسټیزې ستونزې دي هغه باید له تعریفونو او ډلو د نومونو په بدلولو پایېږي،لکه: د مورفیم تعریف او بیا د هغه ډولونه کره کول او د یو تعریف لاندې راوستل یوه بله څېړنه غواړي.

### د څېړنې اهمیت او مبرمیت:

دا چې مورفولوژي د ګرامر یوه غوره او لویه برخه ده چې له دې پرته د ژبې ګرامري څېړنه ناشونې برېښي، نو په کار ده چې د مورفولوژي اساسي او بنسټیزه موضوع ((مورفیم)) باید ښه و څېړل شي او هر ډول ته یې کره نوم ورکړل شي چې د مورفیم او مورفولوژي له بنسټونو سره په ټکر کې نه وي. د دې څېړنې ارزښت به دا وي چې زموږ څېړونکي او ژبپوهان به دې ته خپل پام ور واړوي چې څنګه د مورفیمونو ډلبندي کره کړي.

### د څېړنې موخې:

- ✓ د مورفیمونو په برخه کې پرله پسې څېړنه.
- ✓ د مورفیم له پېژند سره د هغه د ډولونو برابرول.
- ✓ مورفیم د یو نه تجزیه کېدونکي واحد په توګه جوتول.
- ✓ د مورفیمونو د ډلبندۍ په اړه د څېړونکو پام را اړونه.

## د څېړنې پوښتنې:

- ✓ ایا په پښتو مورفولوژي کې مورفیمیکې جوړې شته او که نه؟
- ✓ ایا اضافي نومځري مورفیمیکې جوړې دي؟
- ✓ اضافي نومځري یو واحد مورفیم دی او که نه؟
- ✓ له نومځریو پرته نورې مورفیمیکې جوړې لرو او که نه؟
- ✓ مورفولوژي نوې څېړنې غواړي که نه؟

## مېتود یا کړنلاره:

د دې څېړنې مېتود تشرېحي دی او په تشرېحي کې بیا د پخوانیو څېړنو پرتلیز او کره کتنیز جاج اخېستل شوی دی او د څېړنې بنه یې کتابتوني ده.

## اصل متن:

مورفولوژي د تشرېحي ژبپوهنې یوه غوره څانگه ده چې د مورفیمونو گردان، جوړښت او نورې خواوې څېړي. تر دې دمه چې کوم گرامرونه او د ژبپوهنې اثار لیکل شوي دي. د مورفولوژي او مورفیم پېژندنې یې په لاندې ډول کړې دي:

مورفولوژي د یوناني ژبې اصطلاح ده چې له دوو کلمو مورف ((morph)) او لوژي ((logy)) څخه رغېدلې ده. په یوناني کې مورف د شکل په معنا او لوژي د علم، پوهې او پېژندنې معنا لري. په لغوي لحاظ دا کلمه د یوې ژبې د لفظي اشکالو د علم، پوهې او پېژندنې په معنا راغلې ده یا په بل عبارت: مورفولوژي د تشرېحي ژبپوهنې هغه څانگه ده چې په هغې کې د یوې ژبې د مورفیمونو له ترکیب او تجزیې څخه خبرې کېږي.(۱)

((گړ یا مورفیم د ژبې تر ټولو کوچنی معانیز توک دی چې له دوو یا څو اوازونو له یو ځای کېدو څخه رغښت مومي او له شنل کېدو څخه یې ساده اوازونه لاس ته راځي.که یووستوی ساده اواز معنا ولري هم کړ یا مورفیم بلل کېدای شي خو هغه به هرومرو د یو پخواني "اوازغونډ" لنډیز وي)).(۲)

د مورفیم یو بل پېژند پر دې ډول دی: ((مورفیم هغه کوچنی ژبنی معانیز واحد دی، که تجزیه شي خپله معنا له لاسه ورکوي او د هغه له تجزیه کېدو څخه

بې معنـا اوازونـه لاس لاس تـه راځـي یـا مـورفیم یـو نـه تجزیـه کېـدونکی معنـا لرونکی واحد دی.))(۳)

تر اوسه پورې چې د مورفیم کوم تعریفونه شوي دي، نو د هر یو تعریـف بنسـټ ((کوچنی معانیز واحد)) دی چې له کوچنیـوالي واوړي بیـا تـرې وییونـه او ترکیبونـه جوړېږي.

پورته مې یادونه وکړه چې د مورفیم په تعریف کـې د ((کـوچني معـانیز واحـد)) اصل اړین ښودل شوی دی. دلته پوښتنه پیداکېږي چې د مورفیمونـو پـه ډولونـوکې داسې څه تر سترګو کېږي چې هغه ته یواځنی مورفیم ویل تېروتنه ګڼل کېږي.

دغه مسئله که له مورفولوژي وباسو هم د یو لړ پوښتنو سره مله ده او که نـه یـې وباسو، نو د مورفولوژي د مطالعې ساحه چې مورفیم دی د هغـه سره ټکـر پیـداکوي. ښه به دا وي چې دا په مورفولوژي کې د یو ځانګړي سرلیک لاندې وڅېړل شي چـې هغه ته باید ((مورفیمیکې جوړې)) وویل شي.

مورفیمیکې جوړې د هغو دوو مورفیمونو یوځای والـی دی چـې پـه ګرامرونـو او ژبنیو څېړنو کې ورته د یو مورفیم نسبت شوی دی، لکـه: ملکـي ضـمیرونه، ارتبـاطي ضمیرونه، قیدونه او نور. که له دوو ډېر شي بیا ورته مورفیمیک غونډ ویل کېږي.

***اوس دلته مورفیمیکې جوړې درپېژنم:***

***۱ ـ ملکي یا اضافي نومځري:*** که د خپلواکو مورفیمونو ډلبندۍ ته ځـیر شـو، نو نومځري یې د نومیزې ډلـې یـو ډول دی چـې پـه ټولـو ګرامرونـو کـې د شخصي-نومځریو پسې ملکي نومځري راغلي دی. تر اوسه یو ګرامر کې هـم دا یادونـه، نـه ده شوې چې ملکي نومځري یواځنی مورفیم نه، بلکې یـوه مورفیمیکـه جـوړ ه ده؛ ځکـه چې د اضافت له ((وییکي)) او ((شخصي نومځري)) څخه رغېدلي دي.

ډېره حیرانوونکې خو داده چې نومځری د مـورفیم یـو ډول ګڼـل شـوی دی بیـا چې کله د نومځري پر پېژندنې بحث کېږي هلته ورته د ((کلمې)) او ((ویي)) په نوم نغوته شوې ده.لکه:په دغو تعریفونو کې:

ـ نومځری هغه ویي‌دی چې د یوه څیز نوم ښکاروندیي کوي، د هغـه پـر ځـای راځي او یا یو نیم یې لکه نغوتنومځري ملګرتیا کوي او د همدغې دنـدې لـه مخـې د

نومونو په ډله کې ځای نیسي یا نومځری له هغې ډلې وییونو څخه دی چې په یوه غونډله یا وینا کې د یوه نوم یا نومغونډ ځای ناستی کېږي.(۴)

په پورته پېژندګې د نومځري یا ضمیر لپاره ویی او وییونه کارول شوي دي. همدارنګه هغه تعریفونه هم را اخلم چې ضمیر ته کلمه کارول شوې ده، خو دا یوه منلې خبره ده چې هر مورفیم ویی یا کلمه نه شي کېدلای او نه هر ویې ته مورفیم ویلای شو.

ـ نومځری یا ضمیر هغه خپلواکه *کلمه* چې د نوم پر ځای د تکرار د لرې کولو لپاره راځي.(۵)

ـ ضمیر هغه کلمه ده چې د یوه نوم نماینده ګي کوي یا د نوم پرځای کارېږي چې پخوا په کلام کې د هغه ذکر راغلی وي. د ضمیر دنده په خبرو کې د تکرار مخنیوی دی.(٦)

دا په داسې حال کې ده چې په پورتنیو اثارو کې نومځري د مورفیم یو ډول ګڼل شوی دی. هغه مهال دغه تعریفونه ډېر ښه برېښېدل چې نومځری د لغت یو ډول وای نه د مورفیم. پخوانیو څېړنو ضمیر ته ځکه د کلمې او ویې اشاره کړې چې هلته د مورفیم نومونه د پام وړ نه وه، لکه:د پوهاند رښتین په ژبنیو څېړنو کې چې د ضمیر په اړه لیکي: ((ضمیر هغه کلمه ده چې د نوم پرځای د تکرار دلرې کولو او د وینا د لنډیز لپاره راځي او د نوم ځای نیوونکی ورته وایي.))(۷)

هغه څېړونکي چې د مورفیم نومونې ته ژمن وي باید د مورفیمونو ډلبندي یې منطقي تړاو ولري. پر همدې بنسټ زه اړ یم چې د مورفولوژي په ساحه کې داسې توکونو ته مورفیمیکې جوړې ووایم.

ملکي یا اضافي نومځري پر دې اساس مورفیمیکې جوړې دي چې جوړښت د ((اضافت)) له ((دال)) او شخصي نومځریو څخه رغښت مومي، نو پر دې اساس ورته یواځنی مورفیم نه شو ویلای.

د لومړي شخص اضافي نومځري: ((زما)) او ((زموږ)) دي چې دا له اره ((دما)) او ((دموږ)) دي چې په تاریخي فونولوژیکي بدلون کې په ((زما)) او ((زموږ)) بدل شوي دي چې ځینو ګړدودونو کې لا په هماغه بڼه پاتې دي. په دې ((ما)) او ((موږ)) شخصي ضمیرونه دي او ((ز)) په کې د ((دال)) د الومورف په توګه راغلی

دی. پـر همـدې اسـاس اضـافي نـومځري يـوائځني مورفيمونـه، نـه دي بلکـې مورفيميکې جوړې دي.

د + شخصي نومځری= اضافي نومځری

د (ز) + زه(ما) = زما

د (ز) + موږ = زموږ

د دوهم شخص اضافي نومځري: ((ستا)) او ((ستاسې)) دي چې دا هم له اره ((دتا)) او ((دتاسې)) دي چې د ((دال)) پر ځای ((س)) راغلی دی.

د (س) + ته(تا) = تاسې

د (س) + تاسې = ستاسې

د دریم شخص اضافي نومځري: ((د ده))،((د دې)) او د دوی دي.

د + دی = د ده

د + دا = د دې

د + دوی = د دوی

په پښتو کې چې کله د اضافت دال د اوښتونکي نوم دمخه راشي، نـو نـوم بيـا په اوښتې بڼه راځي. شخصي نومځري له ((موږ))، ((تاسـې)) او دوی پرتـه نـور ټـول اوښــتونکي نومونــو ډلــه کــې راځــي، ځکــه ((زه)) پــر ((ما))،((تــه)) پــر ((تــا))، ((دی))پر((ده)) او همدارنګه ((دا)) پر ((دې)) اوښتي دي.

مخکې مې يادونه وکړه چې د اضافت دال د هر اوښتونکي نوم دمخه راشي پـه اوښتې بڼه راځي.

لکه په دې بېلګو کې:

د زرمينې قلم، زما قلم، چا قلم، ستا قلم، د ده قلم، د سړي کتاب او نور.....

په پورته بېلګو کې: زرمينه، زه، څوک، دی او سړی اوښتونکي نومونـه دي چـې د ((د)) پـه راتلـو سره ټـول پـه دوهمـه يـا اوښـتې بڼـه راغلـي دي. د دې لپـاره چـې موضوع ښه روښانه شي د شخصي نومځرو اوښتې بڼې به هم روښانه کړو، ځکه چـې په ټولو اضافي نومځرو کې د شخصي نومځرو اوښتې بڼې کارېدلې دي. د دې لپـاره لاندې غونډلې لولو:

| | |
|---|---|
| اره بڼه | اوښتې بڼه |
| زه درس لولم | ما درس ولوست |
| ته درس لولې | تا درس ولوست |
| دی درس لولي | ده درس ولوست |
| دا درس لولي | دې درس ولوست |

هر اوښتونکی نوم چې له متعدي فعل سره په تېرمهال کې د فاعل په توګه راشي په اوښتې بڼه راځي. په پورته بېلګو کې هغه ضميرونه راوړل شوي چې اوښتې بڼې يې لرلې.

په لنډه توګه دومره ويلای شو چې په ((زما)) کې ((ما)) د ((زه)) اوښتې بڼه ده، په ((ستا)) کې ((تا)) د ((ته)) اوښتې بڼه ده، په ((د ده)) او ((د دې)) کې ((ده)) د ((دی)) او ((دې)) د ((دا)) اوښتې بڼې دي چې دمخه ترې د اضافت دال راشي بيا يې اضافي نومځرى شمېرلى شو.

**۲ ـ *اړيکنومځري يا ارتباطي ضميرونه:*** دغه نومځري هم يواځني مورفيمونه، نه دي بلکې له مورفيمي جوړو او غونډونو څخه په لاس راځي چې د پېژند راوړل يې هم اړين بولم. د اړيک وييکو او نورو نومځرو يو ځای راتلل اړيکنومځري جوړوي.(۸)

چې ښې بېلګې يې دا دي: څوک چې، داچې، داسې، کله چې، چېرې چې، څومره چې، څه چې، چاچې او داسې نور نومځري مورفيمي جوړې ګڼلای شو؛ لکه اجمل ختک چې وايي:

ځئ هغه خوارو ته جنت وګټو
څوک چې له موره دوزخيان پيدا دي

**۳ ـ *قيدونه:*** قيدونه هم د مورفيم په وېشنه کې د خپلواکو مورفيمونو هغه ډله ده چې له نومونو او فعلونو سره په څنګ کې د خپلواکو مورفيمونو يو ډول دی. که څه هم په پښتو کې د اصلي قيدونو شمېر کم دی، خو ځينې داسې قيدونه شته دي چې يواځني مورفيمونه يې نه شو ګڼلای، ښه به دا وي چې د قيدونو هغه بېلګې در وپېژنم چې په جوړښت کې يې دوه يا درې مورفيمونه ونډه لري.

د حالت او ټينګار ډېر اصلي قيدونه له يو څخه ډېر مورفيمونه لري چې بېلګې يې په لاندې ډول دي: همداراز، په همدې ډول، په زغرده، په ښکاره، په پټه، په

ښرګنده، په غلا، په زيار، په مېړانه، په زور، په ټينګه، په ملاسته، په هـر راز، پـه هره توګه او داسې نور(۹)

پورته هرې بېلګې تـه کـه مـوږ ځـير شـو هـر يـو قيـد لـه دوو او يـا هـم لـه درېـو مورفيمونـو څخـه رغېـدلي دي. هغـه چـې لـه دوو مورفيمونـو څخـه رغېـدلی دی مورفيميکه جوړه بلل کېږي او چې په جوړښت کې يې له دوو څخه زيات مورفيمونـه راغلي دي هغه د مورفيميک غونډ په نوم يادولی شو.

۴ ـ ***ورتنـي يا تشـبيهي وييکـي:*** چې په ځېنو ګرامرونو کې حروف تشـبيه هـم بلل کېږي. دا هغه اوستربلونه دي چې له دوو يا زياتو څيزونو يا پدېـدو ورتـه والـی او مشابهت ښيي؛لکه:ورته، غوندې او نور.(۱۰)

تشبيهي وييکي د مورفيمونو په خپلواکه ډله کې نه راځـي، خـو بيـا هـم ډېـرې داسې مورفيميکې جوړې شته دي چې له دوو ناخپلواکو مورفيمونـو څخـه رغېـدلې وي، خو بيا هـم د يـو خپلـواک مـورفيم دنـده نـه شي پـر ځـای کولای.کلـه چـې دوه ناخپلواک مورفيمونه د يـو خپلـواک مـورفيم دنـده پـر ځـای کـړي بيـا د يـو خپلـواک مورفيم په توګه را ښرګندېږي چې ښې بېلګـې يـې وييکنـومځري يـا اداتي ضـميرونه دي، لکـه: ((پکـې)) چـې لـه ((پـه)) او ((کـې)) څخـه جـوړ شـوی دی. همدارنګـه ((ځنې)) چې له ((ورڅخه)) څخه منځ ته راغلی او د اداتي ضميرونو نور ډولونـه هـم په همدې ډول شمېرلی شو.

اوس راځو دې ته چې کوم تشبيهي وييکـي دي چـې لـه دوو مورفيمونـو څخـه رغېدلي دي، لکه: په څېر، په ډول، په شان، په رنګ، په دود او داسې نورچې يو يـې هم له يو مورفيم نه دی جوړ شوی، نو ځکه يې مورفيميکې جوړې بولو.

**پايله:**

کله چې مورفولوژي د مورفيمونو د څېړنې علم او پوهه ګڼـو او بيـا مـورفيم هغـه کوچنی ژبنی معانيز توک ګڼو چې د شنلو او د تجزيې وړ نه وي او يا هم هغه معـانيز واحد دی چې له تجزيه کېدو څخـه يـې بـې معنـا اوازونـه لاس تـه راځي.پـر همـدې ترتيب په پرله پيبلې توګه يې ډولونه هم د همدې پېژند پـه رڼـا کـې برابـرول پـه کـار دي.

د پایلي په توگه باید ووایو چې د مورفیمونو په شوې ډلبندۍ کې ځینې داسې ډولونه او ډلگۍ شته چې له اره یو مورفیم نه دی، خو په شوو څېړنو کې د یو (واحد) مورفیم په کتار کې درول شوي چې په دغې څېړنې کې هغه یواځیني مورفیمونه، نه بلکې مورفیمیکې جوړې ونومول شوې. په دې ډله کې اضافي نومځري، ارتباطي نومځري، د حالت او ټینگار ځینې قیدونه او هم په ناخپلواکو مورفیمونو کې د تشبیهي وییکي راوړلای شو چې د هر یو په جوړښت کې د دوو یا درېو مورفیمونو ونډه اخېستې وه.

د دې لپاره دا کار اړین و چې دغه ډولونه د مورفیم له پېژند او تعریف سره ټکر درلود او په ژبه کې د مطالعې او زده کړې پر وخت محصلانو او مینه والو ته غیرمنطقي برېښي.د دې لپاره چې په دې برخه کې نښې لاس ته راوړنې ولرو، په کار ده چې د مورفولوژي او غونډله پوهې د بریدونو د ټاکلو لپاره تازه او نوې څېړنې وشي، نو په دې برخه کې به بې گټې نه وي.

**مأخذونه:**

١. محمد داقا شېرزاد، پښتو گرامر(مورفولوژي)، دهند دیپرو مطبعه،١٣٩١ل،(٧او٨)مخونه.

٢. مجاور احمدزیار،پښتوپښویه: پېښور، دانش خپروندویه ټولنه،١٣٨٤ل،٨٤مخ.

٣. محمدصابر خوېشکی، فونولوژي مورفولوژي: ننگرهار، ختیځ خپرندویه ټولنه ،١٣٩۴ل،٢٠مخ.

٤. مجاور احمدزیار،پښتوپښویه: پېښور، دانش خپروندویه ټولنه ،١٣٨۴ل،١١۵مخ.

۵. محمد داقا شېرزاد،پښتو گرامر(مورفولوژي)،دهند دیپرو مطبعه،١٣٩١ل،٧٣مخ.

٦. محمدصابر خوېشکی،فونولوژي مورفولوژي: ننگرهار، ختیځ خپرندویه ټولنه، ١٣٩۴ل،٦٩مخ.

۷. صـــــدیق الله رښتین،پښــــتو گرامـــر: پېښــــور، یونیورســــتي بـــک ایجنسي،۱۳۷۲ل،۱۴۳مخ.

۸. مجــاور احمــدزیار، پښتوپښـــویه: پېښـــور، دانـــش خپروندویـــه ټولنـــه ،۱۳۸۴ل،۱۲۲مخ.

۹. مجـــاور احمدزیار،پښتوپښـــویه: پېښــــور، دانــــش خپروندویـــه ټولنه،۱۳۸۴ل،۲۰۰مخ.

۱۰. مجــاور احمدزیار،پښتوپښـــویه: پېښـــور، دانـــش خپروندویـــه ټولنـــه ،۱۳۸۴ل،۲۰۳مخ.

څېړندویه مینا مسعوده نېکیار

# ژبه او فکر

**لنډیز:**

ژبه او فکر هغه دوه نه بېلېدونکي څېزونه دي چې یو له بل سره مستقیمې اړیکې لري. موږ نه شو کولی چې ژبه او فکر یو له بل نه جلا حساب کړو، ځکه چې ژبه د فکر په پراختیا کې مهمه ونډه لري او د ژبې د پرمختګ یواځینۍ اله فکر دی.

ژبه پرته له فکر څخه او فکر بې له ژبې څخه نه شي کولی پرمختګ وکړي. فکر په ژبه باندې مثبتې اغېزې لري او د همدې فکري هڅو له لارې یوه ژبه شتمنه کېدای شي او لغوي خوایې د پرمختګ په لوري درومي.

ژبه د غږونو او اوازونو مجموعه ده او فکر بیا د انسان د مغز خاصیت لري چې د همدې ژبې په واسطه خپلو فعالیتونو او هڅو ته دوام ورکوي او د ژبې په واسطه فکر یوه لغوي پانګه جوړولی شي، نو په دې توګه موږ نه شوکولی وواېو چې ژبه او فکر یو له بل نه جلا دي. دواړه یو پر بل باندې مثبتې او منفي اغېزې لري او د فکر بدلونونه، ځانګړنې، اغېزې او نورخصوصیات د همدې ژبې په ذریعه بیانېږي او نورو ته انتقالېږي.

نو په ځو ټکو کې یې بیا تکراروم چې ژبه او فکر یو له بل سره تړلې دي او د فکري پېښو لېږدېدونکې اله همدا ژبه ده چې د فکر ټول قضاوتونه موږ ته رارسوي.

**سریزه:**

ژبه په یوه ټولنه کې هغه پدیده ده چې د هماغې ټولنې د خلکو له خوا د افهام او تفهیم یوه وسیله ګرځي او د انسان له ژوند سره مهم تړاو لري. د همدې

ژبې له لارې وګړي د پرمختیا په لور درومـي او خپلـې سـتونزې حـل کـوي. د ژبـې تـر څنـګ فکـر هـم د انسـانانو د ژونـد اسـاسي او مهمـه برخـه جـوړوي او د همدې فکر له لارې انسانان خپل ورځنۍ ژوند پر مخ وړي او خپلې دندې تر سره کوي.

فکر یو ذهني کار دی او د یوه کاردې ترسره کولو په وخت کې مـنځ تـه راځـي. یعنې کله چې یو کـار تـر سره کېږي، نـو فکـر پیـدا کېـږي او وروسـته بیـا د ژبـې پـه واسطه یو د بل په منځ کې کارول کېږي.

یعنې فکر له ژبې سره او ژبه لـه فکـر سره نـږدې اړیکـې لـري او یـو بـل پـورې تړلې پدیدې دي. موږ نه شو کولی چې ژبه او فکر یو د بل نه جلا وګڼو. یعنې ژبـه د پوهولو او راپوهولو دنده لري او فکر ذهني هڅې بیانوي.

نو دا یوه ښکاره اوڅېړل شوې خبره ده او ټولو پوهانو تـه څرګنـده ده چـې ژبـه او فکر د انسان په ژونـدکې ډېـره مهمـه ونـډه لـري او پرتـه لـه دې انسـان نـه شي کولی پرمخ ولاړ شي، نو اړینه ده چې په دې اړه پوهان څېړنـې وکـړي او دا پـه ډاګـه کړي چې ژبه څه ده؟ او فکر څه ته وایي؟دغه ټـول هغـه مسـایل دي چـې پـه دې لیکنه کې به څرګند او واضع شي او وبه څېړل شي.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت:**

د ژبې او فکر له څېړلو څخه مطلب د دوی د نږدېـوالي څرګنـدول او اهمیـت دی چـې دغـه دوه پدیـدې څـومره اهمیـت لـري او دا تـرې جوتـه شي چـې دا دواړه پدیدې د انسان په ژوندکې څومره ونـډه لـري اوکـومې دنـدې د دوی پـه غـاړه دي او ګټه یې څه ده، دا ټول هغه موضوعات دي چې په دې لیکنه کې څېړل کیږي.

**د څېړنې هدف:**

د دې موضوع هدف یـا موخـه دا ده، چـې مـوږ ژبـه او فکـر وڅېـړو او د دې څېړنې په ترڅ کې د دواړو اړیکې څرګندې کړو او دا جوته کړو چې دواړه یعنـې ژبـه او فکرد انسان په ټولنیز ژوند کې څه ونډه لري.

**د څېړنې پوښتنې:**

- ژبه څه ډول پدیده ده؟
- فکر څه ته وایي؟

- ایا ژبه په یوه حالت پاتې کېږي اوکه نه ؟

-ژبه اوفکر څه اړیکې سره لري؟

-ژبه او فکر دانسان په ژوندکې څه ونډه لري؟

- دژبې دنده څه ده؟

**د څېړنې مېتود:**

په دې لیکنه کې له تحلیلي او تشریحي مېتود څخه کار اخېستل شوی دی.

**اصلي متن:**

اوس راځو اصلي موضوع ته چې ژبه او فکرده، گورو چې ژبه او فکر کومې اړیکې سره لري او ځانگړنې یې څه دي؟ ژبه هغه پدیده ده چې د ځمکې پر سر هر ژوندی موجود ورباندې گړېږي او دلته مطلب له ژوندي موجود نه دا دی چې هم انسان او هم ژوي یوه ژبه لري او انسان د ژوند هره ستونزه په همدې ژبه باندې حل کوي.

ژوي هم یوه ژبه لري او په خپلو منځو کې یې وایي او مرغان هم یوه ځانگړې ژبه لري چې خبرې ورباندې کوي او یو بل سره پوهوي خو توپیر یې دا دی چې د انسان ژبه شعوري او فکري ده او د یوې پوهې او فکر ژبه ده او د ژوو ژبه دا ډول ځانگړنه نه لري او نه شي کولی، هغه څه وکړي چې د انسانانو ژبه یې کوي.

ژبه د یوې اړتیا له مخې په یوه ټولنه کې راپیدا کېږي او پرمختگ کوي او یوه بېلگه گرځي. که چېرته ژبه نه وي، اصلاً ټولنه او ټولنیز ژوند موجودیت نه شي لرلی. دا هم باید ووایو، چې ژبه د انسان له پیدایښت سره سمه را پیداشوې ده او د انسان له پرمختگ سره به سمه پرمخ ځي او په نړیوال ډگر کې به راغوړېږي.

« ژبه یوه ټولنیزه پدیده ده په کومه اندازه چې ټولنه پر مخ ځي علم او تخنیک په کې پرمختیا مومي په هماغه اندازه د ټولنې ژبه هم پراختیا مومي او د زیاتو مفاهیمو لپاره په کې ژبني واحدونه پیدا کېږي.»(۱)

ژبه یوه ټولنه کې کارول کېږي او هر څومره چې ډېره وکارول شي په هماغه اندازه پرمختیا کولی شي او د یوې ټولنې مهم او اړین څیز گرځي. ژبه دې یوې ټولنې پدیده ده او د همدې ټولنې په ټولو مسایلو کې لکه: سیاسي، اقتصادي،

ديني او کلتوري مسايلو کې ډېره مرسته کوي او د ژبې له لارې پراختيا مومي. د دې ترڅنګ په تاريخي مسايلو کې هم زياته او مهمه ونډه لري، ځکه ژبه هغه وسيله ده چې د يوه نسل نه بل نسل ته ليږدول کېږي او کولی شي چې تاريخي مسايل په ډېرې اسانۍ سره ولېږدوي. همدا ژبه ده چې د انسان په ژوند کې بدلون راولي او د انسان د ژوند پر اصولو او قوانينو باندې اغېزه وکړي. د ژبې پرته امکان نه لري چې يوه ټولنه کې اړيکې موجودې وي. همدا ژبه ده چې يوه ټولنه کې يې پرمختيا کړې ده او د انسان د ژوند ټول واقيعتونه د ژبې له لارې خوندي پاتې کېدای شي ، نو ژبه د انسان په ژوند کې ډېر ارزښت او اهميت لري.

د ژبې ترڅنګ فکر هم د انسان په ژوند کې ارزښت لري، فکر يوه ذهني هڅه ده او د فکر له لارې موږ کولی شو خپل احساسات، خيالات او پوهه بيان کړو.فکر هم ژبې غوندې يوه پديده ده او کولی شي مهمو مسايلو ته ځان وروسوي او تر سره يې کړي.

فکر د انسان ښه ملګری کېدای شي او د فکر له لارې يوه موضوع او د هغې د حل لارې رامنځ ته کېږي. فکر د پرمختګ يوه وسيله ده او له دې لارې يو انسان پرمختيا کولی شي، انسان بدلولی شي او يوه ټولنه کې يې مطرح کولی شي. دغه ذهني عمل د انسانان ترمنځ اړيکې راپيدا کوي او د دې ترڅنګ فکرکولی شي يو انسان هم په ټيټ او هم په جيګ مقام کې راولي.

« فکر د بشر ـ ذهني عمل ته ويل کېږي او هغه ذهن چې يو عمل ترسره کوي.»(۲)فکر هغه مهال را پيدا کيږي چې يوه مسئله موجوده وي او موږ دې هغې د حل لاره لټوو، نو بيا په دې وخت کې فکر خپله دنده ترسره کوي. يعنې فکر پيدا کيږي او د ژبې له لارې خپل افکار بيانوي.

ژبه د انسان د فکر په واسطه له يوه نه بل ته انتقالېږي او انسان خپلې اړتياوې ورباندې پوره کوي او موږ نه شوکولی چې له دې حقيقت نه سترګې پټې کړو او ووايو چې ژبه، ټولنه او فکر يو له بل نه جلا دي. ژبه په فکر پورې او فکر په ژبې پورې تړلي دي. که چېرته په فکر کې کوم بدلون رامنځ ته شو، نو هغه د ژبې له لارې بيانوو او نورو ته يې وړاندې کوو که چېرته ژبه نه وي نو موږ نه شو کولی چې خپله پوهه، فکر او نظر نورو ته وړاندې کړو او يا دا چې موږ نه شوکولی

چې خپله پوهه او فکر پرته له ژبې شخه خلکو ته بیان کړو. په یوه کورنۍ کې د همدې ژبې په وسیله موږ خپل فکر، خیالات، نظریات، وړاندیزونه، ستونزې ، د حل لارې یې او داسې نورې د ژوند اړتیاوې په گوته کوو، نو دا یوه جوته خبره ده چې ژبه په یوه ټولنه کې له هرڅه نه ډېر ارزښت لري او د دې تر څنگ فکر هم په ژبې پورې یو تړلی څیز دی چې موږ نه شوکولی، یو له بل نه یې بیل وگڼو.

څرنگه چې ژبه یوه ټولنیزه پدیده ده او په همدې ټولنه کې رازېږي او همدې ټولنه کې بدلون مومي، نو ویلی شو چې ژبه په یوه هېواد، سیمه او ټولنه کې په یوه حالت نه پاتې کېږي، یعنې پرمختگ کوي او نوي نوي وییونه او اصطلاحات په کې راوننوځي او همدا د دې لامل گرځي چې یوه ژبه بدلون پیدا کړي او پرمختیا ومومي. څرنگه چې ژبه له یوه نسل نه بل نسل ته لېږدول کېږي نو خامخا ځینې وییونه یا له ځان سره وړي او یا یې په هماغه سیمه کې پرېږدي، نو په همدې زیاتېدو او کمېدو سره ژبه بدلون مومي.

نو ژبه هغه وسیله ده چې د لوی ښښتن «ج» له خوا موږ ټولو انسانانو ته راکړل شوې ده. هر انسان چې په هر دین او مذهب پورې تړلی وي د همدې ژبې په وسیله پرمخ ځي او نه شي کولی چې د ژبې له کارونې شخه پرته کوم ژبنۍ فعالیت وکړي او خپل ژوند ته دوام ورکړي.

« ژبه په یوه حال نه پاتې کېږي تحول په کې راځي او د بدلون منلو ته سرتېټوي. په ژبه کې تحولات له هغو بدلونونو سره ملگري دي چې په ټولنه کې منځ ته راځي. که دې اصل ته پاملرنه وکړو، نو ویلی شو چې ژبه له ټولنې سره تړاو لري او ټولنیز تحولات د یوه فرد له خوانه، بلکې د خلکو له خوا رامنځ ته کېږي او ژبه هم د خلکو له خوا د خپل منځي پوهاوي د یوې وسیلې په توگه کارول کېږي. په همدې ډول د فرد او ټولنې په منځ کې اړیکه هم د ژبې په ذریعه ټینگېږي.»(۳)

ژبه او ټولنه یو له بل سره تړلې دي او موږ نه شوکولی چې بېل یې کړو، ځکه چې دواړه یو بل ته اړتیا لري او سره لازم او ملزوم دي.که چېرته ټولنه نه وي موجوده او پرمختگ په کې نه وي، نو ژبه هېڅ کله هم د پرمختیا په لور نه درومي. همدا ټولنه ده چې فرد او ژبه په کې رامنځ ته کېږي او د فرد له برکته او د هغوی د

اړتیا له امله یوه ژبه رامنځ ته کېږي او د یوې ټولنې غړي همدا ژبه زده کوي او له دې لارې د خپل ژوند ټول ضرورتونه او اړتیاوې پوره کوي.

ژبه د لوی څښتن «ج» یو لوی نعمت دی چې موږ انسانانو ته یې راکړی دی، ترڅو د ژوند ټول مشکلات او ستونزې وربانـدې حـل کـړو او د خپلـې پـوهې او فکر له لارې یې نورو انسانانو ته ورسوو. ځکه ژبه د پوهولو راپوهولو او یـا د افهـام او تفهیم یوه وسیله ده. که چېرته ژبه نه وي نو انسان نه شي کولی په یـوه ټولنـه او کلتور کې ژوند وکړي.

« ژبه انسانانو ته د الله تعالی یوه بې سارې او بې مثله ډالـۍ ده. د ژبـې لـه کارونې پرته انساني تمدن او پرمختګ نه رامنځ ته کېږي. ځکه هـر مهـال او پـه هـر ځای کې له فکر، مغز، عبادت، خیالونو، اړیکـو او نـورو انسـانانو سره د خبروکولـو پـر مهال له انسانانو سره مله وي. ژبه د پوهې زېرمه او د فکرکولو وسیله ده. له یـوه نسله بل ته د علومو، حالاتو، پېښو او معلومـاتو لېږدوونکـې ده، د انسـانانو تـرمنځ د اړیکو جوړولو او نه جووړولو وسیله ده. دا ژبه ده، چې د انساني ژونـد د خونـد مالګـه ور برابروي، ځکه چې پرته له ژبـې نـه انسـان د یـوه ګونـګ ښـاروي پـه څېـروي. (۴)»

د انسان په ژونـدکې ژبـه سـتره ونـډه او ارزښـت لـري. د همـدې ژبـې پـه واسطه انسان خپل فکر او خیال بیـانوي او لـه نـورو سره یـې شریکـوي. د همـدې ژبې په واسطه د نورو انسـانانو فکـر او پوهـه ځـان تـه را اخـلي. نـو دا یـوه جوتـه خبره ده چې ژبه او فکر یو له بل سره تړلي دي او پرتـه لـه ژبـې فکـر موجـود وي، خو چې ژبه نه وي انسان نه شي کولی خپل افکار واضح اوڅرګنـد کـړي او ووایـې چې زما په فکرکې څه دي. همدا ژبه ده چې د فکر داخلي انځور موږ ته بیانوي، نو فکر پرته له ژبې څخه ناممکن دی او ژبه د فکر د انکشاف وسیله ده. فکـر او ژبـه د انسان په ژوند کې ډېرارزښت لري. ژبه هغه اله ده چې د هغې په مرسـته فکـر،

پوهه، ستونزه، مفاهمه، خیال او تصور نوروته بیانېږي او د نورو له افکارو څخه مو خبروي نو د همدې ژبې په واسطه د ژوند ټولې ګډې ستونزې حلوو.

« ژبه د ټولنې لپاره ډېر زیات او فوق العاده اهمیت لري. د ژبې له لارې د پخوانیو خلکو په سلګونو کلونو تجربې له یوه نسل څخه بل نسل ته انتقالېږي.

له ژبې څخه پرته نه شي کېدای چې فکر ( نوروته ) ورانتقال شي، ځکه انسان نه شي کولی چې د وییونو او په همدې ډول د مختلفو اصطلاحاتو لپاره د اوازونو له تولید یا جوړولو څخه پرته چې نوموړی یې په پرېکړه او وروستۍ پایله کې کاروي فکر وکړي، خو له فکر څخه پرته انسانانو ته هم بله لار نه شته، ځکه چې د فکر فعالیت انسانان له نورو حیواناتو څخه بېلوي.»(۵)

ژبه له غږونو څخه جوړه شوې آله ده او د همدې غږونو په واسطه کولی شو خپل افکار بیان کړو او یو مطلب ووایو، ځکه ژبه د غږونو او اوازونو مجموعه ده چې پرته له غږونو څخه ژبه نه ویل کېږي او له همدې اوازونو او غږونو څخه منځ ته راځي. ژبه او فکر یو بل ته نږدې دي او حتی ویلی شو چې فکر د ژبې یوه برخه ده.که چېرته متوجه شو، په یوه ټولنه کې له هرڅه نه ژبه او فکر ډېرې اړیکې سره لري او د همدې ژبې په واسطه انسان خپل فکر نوروته وړاندې کوي.

« په همدې ډول پوهان په دې اند او نظر هم دي چې علاوه له دې نه چې ژبه د اجتماعي رابطې غوره وسیله ده په عین زمان کې د خیالونو او فکرونو د تغییر او بدلون وظیفه هم اجرا کوي.فکر چې د پوهانو په اند د انسان د مغزو خاصیت دی، د ژبې په مرسته د خپل فعالیت دایره پسې پراخوي. د فکر فعالیت اړتیاوې او همدا شان د هغه د محصول ( تولید ) مثبتې او منفي خواوې د ژبې په واسطه په نښه کېږي او فکر ته دا زمینه مساعدوي چې د خپلو کړنو او فعالیتونو په لړۍ کې لا مثبت ګامونه پورته کړي او د ژبې د مثبت رول له مخې پوهانو ویلي دي چې ژبه او فکر په انکشاف او پراختیا کې فعاله ونډه اخلي. ژبه له فکره او فکر بې له ژبې پرمختګ نه شي کولی. فکري هڅې اوکړنې په ژبه باندې مثبته اغېزه ښیندي. وییزه پانګه او لغوي ذخیره یې شتمنه کوي او ژبنی انسجام هم د فکر له برکته رامنځ ته کېږي.»(٦)

همدا ژبه ده چې له فکرڅخه پرته نه شي پراخېدلی او فکر له ژبې پرته پرمختګ نه شي کولی، ځکه چې ژبه او فکر یوله بل سره تړاو لري او د یوې ټولنې او خلکو د ژوند د بدلون لامل کېدای شي.

فکري هڅې دیوه انسان په ژبه باندې مثبې او منفي اغېزې درلودلی شي اوهم یې لغوي پانګه شتمنه کېدای شي، ځکه ویل شوي دي چې که چېرته ژبه یوه شتمنه لغوي پانګه ولري، نو هغه یوه پیاوړې ژبه ده او د پرمختللو ژبو په کتار کې راځي.

« غږونه، لغات، لغوي ترکیبونه، جملې او داسې نور واحدونه دي چې د ټولنې په شعورکې منځ ته راځي د خبرې کوونکی له ټاکلي فکر او حس سره توپیر لري نو همدغه سبب دی چې د مختلفو فکرونو او بېلابېلو احساساتو او مختلفو غوښتنو د څرګندولو لپاره ورڅخه په ازادانه او خپلواک ډول کار اخېستل کېږي، ژبه د مادي واحدونو سیستم دی چې د خلکو د ګډون لپاره خدمت کوي او د ټولنې په شعورکې منعکسه شوې ده چې په دې اساس له ټاکلي فکر،حس او غوښتنې څخه جلا او ګوښه واقعیت ګڼل کېږي. که داسې وای چې پورتنې خواص یې نه درلودلی او د ژبې واحدونه د ټل لپاره د ټاکلو افکارو، خواصو او احساساتو څرګندولو لپاره وای نو په دې صورت کې ژبې خپله خپلواکي له لاسه ورکوله او په عمومي ډول به د خلکو د ګډون د پیدا کولو له دندې څخه وتلی نه شوه چې د خلکو د ګډون په برخه کې هر ډول افکار هر ډول احساسات څرګند کړي، ځکه چې ژبه به د خاصو فکرونو او احساساتو لپاره منحصروای. »(۷)

ژبه د یوې ټولنې هغه مهم واحد دی، چې ټول وګړي یې کاروي او د خپل فکر او پوهې په ذریعه یې یو بل ته انتقالوي. ژبه او فکر یو له بل نه، نه جلا کېدونکي توکي دي. د انسان ژبه هغه ځانګړنې لري، چې د فکر له لارې ټول هر څه بیانوي هر هغه څه یې چې په افکارو کې وي جوت او څرګندوي.

دیوه انسان لپاره د ژبې ګټه دا ده چې خپل خیالات نورو ته د دې وسیلې په ذریعه رسوي، د خپل ژوند اړتیاوې او د دې اړتیاوو د له منځه وړلو لارې چارې د ژبې په واسطه خپلوي. انسانان که نور هیڅ هم و نه لري یوه ژبه باید ضرور ولري، ځکه چې بې ژبې ژوند له ستونزو سره مخامخ کېږي. موږ کولی شو چې د ژبې او فکر په

مرستې سره په هر څه ځان پوه کړو. قضاوت وکړو فیصله وکړو او حق ته حق، نا حق ته نا حق ووایو، نو په دې اند، فکر او ژبه یو له بل سره اړیکې او تړاو لري. که څه هم ژبه ، ژبه ده او فکر، فکر دی، خو ځانګړنې یې سره ګډې دي او یو له بل نه پرته پراختیا او پرمختګ نه شي کولی.

« د ژبې یوه ډېره مهمه وظیفه په ټولنه کې د فکرونو د کړنو انتقالول دي، همدغه ژبه ده چې علاوه له دې نه چې ژبه له یوې خوا فکر له یو نفر نه بل ته وړي بله مهمه وظیفه یې د فکر جوړونه ده، ځکه چې ژبه د فکر د جوړېدو وسیله ده.» (۸)

د دې تر څنګ ژبې نورې مهمې او اړینې وظیفې هم لري چې دځینو موخو لپاره کارېږي چې دا دي:

«۱- **د ژبې معلوماتي دنده:** په دې برخه کې د ژبې دنده د اړیکو نیول، د معلوماتو شریکول او لېږد شاملېږي.

**۲- څرګندنی دنده:** په دې برخه کې د ویونکې نظریات، احساسات، اخلاق، علمیت او ظرفیت تر اورېدونکي رسېږي او په مقابل کې یې په اورېدونکي، لیدونکي یا لوستونکي کې ورته احساسات راپارېږي او دوهم کس داسې انګېري چې په خپله دی لومړی کس دی.

**۳-لارښوونکې دنده:** په دې برخه کې د ژبې دنده د یوې کړنې او عمل د ترسره کولو یا هم نه تر سره کولو سپارښتنه، لارښوونه او غوښتنه کوي. »(۹)

ژبه د ژوند په هره برخه کې کارول کېږي هغه که ټولنیزې چارې دي او که کلتوري چارې دي، خامخا کارول کېږي او اړتیا څخه یې سترګې نه شو پټولی، ځکه ژبه د ژوند یوه مهمه او اړینه برخه ده او پرته له ژبې څخه انسان او ټولنه له ډېرو ستونزو سره مخ کېږي او د ژبې ترڅنګ یوازې فکر دی، چې له رښتینوالی سره مل دی او تل حقیقت مني او د انسان راز داره دی او هغه خزانه ده، چې له هر ډول شتمنیو څخه ډکه ده او زموږ د بریا لامل همدا فکر او فکر کېدای شي.

همدا ژبه ده چې دیوه شخص فکر موږ ته بیانوي او د هغې له لارې موږ ته پوهه رازده کوي. ژبه او فکر یو بل پورې تړلې دي او فکر د ژبې یوه برخه ده.

مطلب دا چې د ژبې په وسیله یو فکر هم جوړېدای شي او هم انتقالېدای شي. ژبه پرته له فکر څخه او فکر پرته له ژبې څخه جلا نه شو حسابولی. دواړه یو له بل سره اړیکې لري، فکر پرته له ژبې څخه نه پیدا کېږي، نو موږ کولی شو، فکر په ژبنۍ توګه، په شفاهي توګه او یا په لیکنۍ توګه بیان کړو او نورو ته یې ورسوو. د ژبې له برکته یو انسان فکري فعالیت کولی شي اوپایلې یې نوروته وړاندې کولای شي.

نو دا یوه ښکاره خبره ده چې فکر او ژبه یو له بل سره تړلي دي او دواړه نه بېلېدونکې پدیدې دي. د فکر د پراختیا له امله یوه ژبه پرمختګ کولی شي خپله لغوي پانګه جوړولی او پیاوړې کولای شي، فکر بیا د ژبې له لارې خپله ټولنه، کلتور، پوهه، نیوکه او حقیقت بیانولی شي او کولی شي د ژبې له لارې پراختیا ومومي.

که چېرته ژبه نه وای نو فکر هیڅکله هم نه ارایه کېده. فکر د ژبې یوه وسیله ده چې کلونه کلونه ساتل کېږي که چېرته موږ فکر وکړو، نو ګورو چې که چېرته ژبه نه وای نو موږ نه شول کولی چې خپل فکر نورو ته بیان کړو، لنډه دا چې د ژبې په واسطه او مرسته موږ فکر کوو او پرته له ژبې څخه فکر منځ ته نه راځي یا منځ ته نه شي راتلای.

یعنې د فکر په واسطه یوه ژبه رامنځ ته کېږي، پرمختګ کوي او د فکري فعالیت او هڅو نتیجې منعکسوي. دا یوه څرګنده خبره ده چې ژبه له فکر او فکر له ژبې سره په ټولو اړخونوکې اړیکې لري او په دې ټولو برخوکې موږ نه شو کولی چې دوی جلا حساب کړو، ځکه ژبه او فکر یو له بل سره تړلې دي.

لنډه دا چې ژبه او فکر یوه ژوره او نه بېلېدونکې اړیکه لري او له هر اړخه چې ورته وکتل شي نه شوکولی دوی سره جلا کړو، یعنې که فکر نه وي ژبه منځ ته نه راځي.

**پایله:**

له دې موضوع ( ژبه او فکر) څخه مو داسې نتیجه ترلاسه کړه، چې ژبه په حقیقت کې د لوی ښښتن یوه بې سارې او بې مثله ډالۍ ده چې موږ انسانانو ته یې راکړې ده او د همدې ډالۍ په واسطه د ژوند ټولې ستونزې حلوو. ژبه د

انسان د ژوند اساسي بنسټ دی او انسانان نه شي کولی پرته له ژبې څخه پرمختګ وکړي.

بله اړینه خبره په کې دا ده چې فکر د انسان د مغز خاصیت دی او د ژبې په واسطه ټولې فکري هڅې راپه نښه کوي او له همدې لارې انسان د پرمختیا په لور ګام اخلي.

د ژبې او فکر د اړیکو په اړه هم په دې لیکنه کې بحث شوی او ویل شوي دي چې ژبه د فکر په انکشاف، پرمختیا او پراختیا کې مهمه او فعاله ونډه لري. ژبه بې له فکره او فکر بې له ژبې پرمختګ نه شي کولی. په یوه ټولنه کې ژبه د انسان د فکر د پرمختګ لامل کېدای شي او د همدې ژبې له لارې ټول افکار او پوهه یو بل ته انتقالولی شي.

په پایله کې باید ووایم چې ژبه او فکر یو له بل سره تړلي دي او موږ نه شو کولی سره بېل یې کړو یا یې جلا وګڼو، ځکه ژبه د فکر د انکشاف یوه لویه وسیله ده. دغه دواړه پدیدې د متقابل تاثیر د کړنې صلاحیت لري.

**وړاندیزونه:**

۱-ژبه د انسان د فکر د انتقالولو وسیله ده، نو باید ژبپوهان او وګړي د ژبې د پرمختګ په اړه ډېرې هڅې وکړي. له زوال څخه یې وژغوري او د له منځه تللو مخه یې ډب کړي، ځکه چې د ژبې په له منځه تلو سره د یوې بشري ټولنې ژوند، کلتور، تاریخ او نور ارزښتونه تر خاورولاندې کېږي.

۲-باید د ژبې په اړه څېړنې او راټولونې دقیقې وي.

**مأخذونه:**

۱- لودین، دولت محمد. د عمومي ژبپوهنې مسایل، لومړۍ دوره، ختیځ ادب بهیر، جلال کوټ: ننګرهار، ۱۳۹۵ ل کال، ۳۱ مخ.

۲- حوزه.« آشنایی با علوم اسلامی (منطق، فلسفه)»، حوزې سایټ، لاسرسی: https:// hawzah.net. [مراجعه: ۱۳۹۷/۹/۵].

۳- تڼیوال، مولاجان. ژبه یوازې موجودیت لري اوکنه؟،کابل مجله،۷-۸ ګڼه، د افغانستان علوموا‌کاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز:کابل، ۱۳۸۸ کال، ۲۸ مخ.

۴- نیازی، رفیع الله. دژبې د پیدایښت په اړه ځینې نظریې، کابل مجله، دریمه دوره ، ۲ګڼه، د افغانستان د علوماکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز: کابل، ۱۳۹۵ کال،۵۱-۵۲ مخونه.

۵- تڼیوال، مولاجان، ژباړن. د ژبې او ژبپوهنې مانا، کابل مجله ،۵-٦ ګڼه،د افغانستان دعلوماکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز: کابل،۱۳۸۸ ل کال، ٦۵ مخ.

٦- تڼیوال، مولاجان . ژبه یوازې موجودیت لري او کنه؟، کابل مجله، ۷-۸ ګڼه، د افغانستان د علوماکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز: کابل،۱۳۸۸ل کال، ۳۲-۳۳ مخونه.

۷ – لودین، دولت محمد. ژبه او ټولنه، لومړۍ دوره، ختیځ ادبي بهیر،جلال کوټ: ننګرهار،۱۳۹۵ کال ۲٦-۲۷ مخونه.

۸ - پورتنی اثر ،۴۵ مخ.

۹- محبوب، محبوب شاه. پښتو ژبدود، لومړۍ دوره، مومند خپرندویه ټولنه: جلال اباد،۱۳۹٦ ل کال، ۴ مخ.

عبدالباري جهاني

# پښتو ادب ته د ختیځپوه راورټي ناسمه ورکړه

## لنډیز:

د دې مقالې روح د نیرنګ عشق له مقالې څخه اخیستل شوی چې په هغې کې د استاد محمد معصوم هوتک شننې او څرګندونې راغلې، خو تر ډېره دغه مقاله د ختیځپوه راورټي خبرو ته ځیر ده او هغو نیمګړتیاوو باندې بحث کوي چې له بده مرغه د میجر راورټي په څېر له یو لوی څېړونکي څخه شوې دي.

البته دا څرګنده خبره ده کله چې میجر راورټي عبدالرحمن بابا د تکفیر په اړه بحث کوي یا غواړي کافر یې زبات کړي هغه نظریات را اخلي، چې تر ډېره د دوی پلوي دي یا دوی یې غواړي او په هغې کې هم لکه څنګه چې په کار ده د نظر یو والی نه ښکاري، چې دا خبره یې په خپله د تکفیرېدلو د ناسموالي شاهدي ورکوي.

## سریزه:

عبدالرحمن بابا د پښتو ژبې لوی، ستر او صوفي شاعر و او تر اوسه پورې یې پر لوستو پښتنو سربېره ډېر عام او ولسي خلک یې هم خوښوي او د دین د وعظ او تبلیغ تر ټولو ښه او رسا غږ یې بولي، خو جالبه دا ده، همدغه انسان چې پر لوستو خلکو سربېره عامو خلکو ته هم یو ښه عالم، شاعر او صوفي سړی ښکاري پرې د تکفیر ټاپې وهل کېږي او هغه له دینه بې لارې او د دین خلاف بولي.

دا سمه ده چې د تاریخ په اوږدو کې موږ د ډېرو داسې خلکو شاهدان یو، خو هغه خلک چې شعرونه یې د دین ژباړه او د دین اساس دی، څنګه کولای شو چې هغې ته د کفر او یا کفري مسایلو نغوتې وکړو؟

نو پر همدې اساس ما دا اړتیا محسوس کړه او د دې لپاره چې ځوان څېړونکي مو په لومړیو کې د سمې لارې پر ځای پر بې سمیو سر نه شي اړینه وبلله چې دا لیکنه وکړم او خپل درانه څېړونکي په دې پوه کړم چې د پښتو ادب لپاره د ټولو مستشرقینو کار سم له واره په پټو سترګو باید په درنو کاڼو ونه تلل شي، بلکې د زړه په سترګو او د واقعیتونو په رڼا کې له سترګیو تېر شي.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت:**

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې د عبدالرحمن بابا په اړه ټول هغه تیاره اړخونه روښانوي چې له بده مرغه د بیاځلي تکرار تمه یې کېدله، ځکه ډېر ځله د بهرنیو له خوا د پښتو ادب او شاعرۍ په اړه ناسم نظریات وړاندې شوي او زموږ ځینو څېړونکو هم پرته له دې چې پرې سوچ وکړي هغه یې نقل کړي او اوس یې خپله زیانونو ته ګوته په غاښ دي.

**د څېړنې موخه:**

د دې څېړنه موخه په دې کې ده چې د پښتو ادب په اړه د ختیځپوهانو له څېړنو څخه پرده پورته کوي او د هغوی ټول سم او ناسم کارونه په ذره بینې سترګیو له نظره تیروي او ځوانان دې ته متوجه کوي، چې باید د څېړنې له چارو سره څه ډول چلند وکړي او څنګه یې استفاده اړینه ده.

**د څېړنې پوښتنې:**

په دې څېړنه کې تر ډېره لاندې پوښتنې ځواب شوې دي:

✓ میجر راورټي څوک و؟

✓ میجر راورټي د عبدالرحمن بابا په اړه څه ډول نظریات لري او څومره یې رښتینې دي؟

✓ ایا د عبدالرحمن بابا په اړه د راوړتيي نظريات دقيق دي او که د ملحوظاتو له مخې يې داسې نظريات وړاندې کړي؟

✓ د پښتو ادب په اړه د ختيځپوهانو نظريات تر کومه سم، دقيق او له واقعيتونو سره برابر دي؟

او دې ته ورته ځينې نورې کوچنۍ پوښتنې هم شته چې دا څېړنه به يې ځواب کړي.

### د څېړنې ميتود:

په دې څېړنه کې تر ډېره له تشريحي، تحليلي، توضيحي او انتقادي ميتود څخه استفاده شوې ده.

### د څېړنې اصلي متن:

دا ډېر لوی او پراخ سرليک دی او تر هغه لاندې د يو بشپړ کتاب ليکلو ته اړتيا ده. ما يواځې د محمدمعصوم هوتک د نيرنگ عشق په نوم مضمون په اړه کوښښ کړی دی چې تر دې عنوان لاندې، د يو لنډ مضمون په وسيله د پښتو د کلاسيک ادب په باب، يواځې د ميجرراوړتيي تېروتنو ته گوته ونيسم او خپل ځوان لوستونکې او د پښتو ژبې د کلاسيک ادب زلمي څېړونکې د راوړتيي ځينو د تأمل وړ اظهاراتو ته متوجه کړم.

محمدمعصوم هوتک ډېر لوی او مهم ادبي کار ته چې له ده سره يې بشپړ صلاحيت موجود دی او هغه د عبدالحميد مومند د نيرنگ عشق د کتاب بشپړ او انتقادي متن چاپول دي، ملا تړلې ده. هغه دې خبرې ته اشاره کړې ده چې راوړتيي د پښتو گرامر په مقدمه کې حميد مومند د تيمورشاه معاصر بللی دی، خو وروسته يې په خپل بل کتاب د «افغانانو له شعر څخه منتخبات» کې دا اشتباه اصلاح کړې ده. البته راوړتيي بايد دا اشتباه د پښتو گرامر په کتاب کې اصلاح کړې وای؛ ځکه دا

ډېره ممکنه ده چې څوک د هغه د پښتو شعر منتخبات کتاب ترلاسه نـه کړي. که يې په دې اړه، احياناً کوم بل مضمون ليکلی وي هغه ما نه دی ليدلی.

راورټـي د پښتـو شعـر پـه منتخبـات يـا سيليکشـن کتـاب کـې ويـلي دي چـې حميدمومند د عبدالرحمن بابـا پـه سـپين ږيرتـوب يـا زاړه عمـر کـې زلمـی و او نـوی مشهور شوی و. عبدالرحمن بابا هغه ور وباله او حميدمومند هم د هغـه لـه غوښـتني سره سم ورغی. پر عبدالرحمن بابـا بانـدې د حميـد حيـاء او ادب دومـره اغېـزه وکـړه چې هغه ته يې دعا وکړه او ورته ويې ويل چې ستا د شاعرۍ سيال دې په پښتو ژبـه کې نه پيدا کېږي. د عبدالرحمن بابا د دعا لـه برکتـه تـر ننـنۍ ورځـې(د راورټـي تـر زمانې پورې) په پښتو شعر کې د حميد سيال نه دی پيدا شوی. (۱)

ما د عبدالرحمن بابا او حميدمومند د ژوند په بـاب پـه هـېڅ کتـاب کـې د دې دوو لويو شاعرانو د دغه راز ملاقات او دعا اخيستلو په باره کـې څـه نـه دي لوسـتي. سړی نه پوهېږي چې مېجر راورټي به دا معلومات له کومه کړې وي. که څه هم چـې دا معلومات زيانمن نه دي، خو کېدلای شي چې يو بل خارجي يا داخلي څېړونکـی، د همدغې کيسې پر ځای، يوه بله کيسه جوړه کړي، يوه دريمـه کيسـه جـوړه شي او بالاخره د دې دوو لويو شاعرانو ژوند چې موږ هسـې هم ډېر لږ معلومات په کـې لـرو، په لوی لاس په افسانو کې ورک شي.

راورټي په همدغه کتاب کې بـل ځـای لـيکلي دي چـې حميـد مومنـد د دريـو کتابونو، نيرنگ عشق، شاه وگدا او د دُرو مرجـان پـه نـوم شـعري مجمـوعې ليکـوال دی. (۲) په داسې حال کې چې نيرنگ عشق چې زما په عقيده د پښتو ژبـې د ادب تر ټولو لوی شاهکار دی، د حميد مومند اثر نه، بلکې د مولنا محمد اکرم د کنجـا يـا مولنا غنيمت اثر دی چې حميد مومند يې نسبتاً آزاده ترجمه کړې ده.

دغه راز شاه وگدا د بدرالدين هلالي اثر دی چې حميد مومند په خـوږه پښـتو ترجمه کړی دی. البته دُراومرجان د حميد مومند د اشعارو هغه مجموعـه ده چـې د

ده له وفات څخه وروسته يې ډېرژر د پښتو ادب په محفلونو کې د موشگاف لقب ور وگاټه.

مېجرراورټي د پښتو ادب او د افغانانو تاريخ ته دومره کار کړی دی چې لږ مستشرقين به يې ځای ونيسي. هغه د پښتو ژبې د کلاسيک ادب ستوري په نړۍ وپېژندل او زموږ تر ټولو لوی شاعران يې په انگليسي- ژبه نړۍ ته معرفي کړل. د قاضي منهاج سراج طبقات ناصري کتاب يې چې د غوريانو په باب تر ټولو مستند او قوي کتاب دی، په داسې شکل انگليسي ژبې ته واړاوه چې حاشيې يې، پرته له مبالغې د کتاب درې چنده کېږي. دا بې ساری کتاب به پېړۍ پېړۍ کلاسيک حيثيت لري.

مگر د دې ټولو خبرو معنا دا نه ده چې موږ د راورټي هېڅ ډول تېروتنې ته گوته ونه نيسو؛ ځکه چې ځينې تېروتنې زموږ د ادب او خلکو تاريخ مغشوشوي. راورټي د عبدالرحمن بابا په باره کې دومره عجيب او غريب معلومات وړاندې کوي چې سړی نه پوهېږي هغه به له کومه کړې وي او په خپله هم نه وايي چې دا اطلاعات يې له کومې سرچينې څخه تر لاسه کړې دي؛ ځکه چې نه عبدالرحمن بابا د خپل ژوند په باب موږ ته څه وايي او نه بل چا په هغه زمانه کې، د عبدالرحمن بابا د ژوند په باره کې څه ليکلي دي. موږ د هغه له اشعارو څخه يواځې دومره پوهېږو چې هغه نهايت نېستمن سړی و. که څه هم چې ما د مېجر راورټي تېروتنو ته «د پښتو شعر هينداره» په نوم کتاب کې اشارې کړې دي خو دلته يې د موضوع په اړه بيا يادونه بې گټې نه بولم.

راورټي د عبدالرحمن بابا د ژوند په باب د تبصرې په ترڅ کې ليکي«ويل کېږي چې هغه به دومره وژړل چې په مخ کې به يې د اوښکو لارې جوړې شوې. له خلکو څخه پرله پسې گوښه کېدلو يو شمېر حسودو مُلايانو ته دا پلمه په لاس ورکړه چې پر هغه باندې يې تورونه ولگول او په خلکو کې يې داسې آوازې خپرې کړې چې

عبدالرحمن کافر شوی دی؛ له خپل هستوګنځي ځخه نه راوځي او د جماعت لمونځ يې ترک وهلی دی. رحمن بابا بالاخره د هغو مُلايانو په سلا او مشوره چې د ده تر دښمنانو معتدل او نرم ول، له خپل هستوګنځي ځخه را ووت او له نورو مسلمانانو سره يو ځای يې لمونځونه او عبادتونه پيل کړل. دی که يې خوښه وه که نه وه، له نور عالم سره يو ځای کېدلو او ګډېدلو ته مجبور شو» (۳)

راوړتې د خپلې دې ادعا د ثبوت لپاره د عبدالرحمن بابا يو غزل راوړي چې ګواکې د دغو بدمرغيو او بدو ورځو د ليدلو له امله يې شکايت په کې کړی دی:

مدام ناست يم وچ کوګل سترګې په نم کې

عشق راوښود بحروبر په خپل حرم کې

ما چې ستا د توري زخم په خوله ښکل کړ

نور مې دا لذت بيا نه موند په مرهم کې

خوار مجنون چې سر په پښو د ليلی کېښود

سر فراز شو په عربو په عجم کې

لکه مړی د ژونديو تر ميان پروت وي

هسې بېل يم په له عالمه په عالم کې

هېڅ صحت مې د دمګرو په دم نه شي

هم په دا چې زما دم دی ستا په دم کې

زړه مې هسې ستا په زلفو پسې ورک شو

لکه غوټه د چا پرېوځي په تور تم کې

سره په وينو د سرو ګلو په دود زانګي

هزار زړونه ستا د زلفو په هر خم کې

زه رحمن ګناه کار خوښ يم له عالمه

باري ستا سترګو رسوا کړم په عالم کې

د عبدالرحمن بابا په دېوان کې د غم او غوصې اظهار دومره زيات ليدل کېږي چې سړی، په دغه خاص مورد کې دې يو غزل ته خاص اهميت ورکولای نه شي او د دې پرله پسې شکايتونو او اوښکو تويولو علت د هغه نېستمتني او ناداري ده. هغه له خپلې نېستمتنۍ څخه هر وخت شکايت کړی دی:

څوک دې راکاندي قسم په کردګار
چې درم لرم په کور کې يا دينار
زه دينار او درم نه لرم په کور کې
مګر نور خلک مې بولي دنيادار

که څه هم چې په خوله خو ناري وهي چې:

قناعت مې تر خرقې لاندې اطلس دی
پټ د درست جهان بادشاه ظاهر ګدا يم

مګر دې خبرې ته څو څو ځله اشاره کوي چې په تش لاس او تش جيب به يې څوک ولې پر خبره غوږ نيسي. عبدالرحمن بابا لکه خزانه په ويرانه کې پروت و، بايد د ټولنې له هرې برخې څخه يې شکايت کړی وای. مګر د دې معنا دا نه ده چې موږ د هغه پر هر غزل باندې له خپلې خوښې سره سم يوه کيسه جوړه کړو.

د عبدالرحمن بابا ټول دېوان د اسلام د مقدس دين او سمې لارې ته د خلکو د رابللو له تبليغ څخه ډک دی. له هغه سره د مُلايانو د دومره زيات مخالفت دليل، چې د کفر فتوا وروباندې ولګوي، بل په هېڅ متن کې نشته. په دې کې شک نشته چې د عبدالرحمن بابا په دېوان کې اوښکې تر هر څه زياتې راغلي او پر ګرېوان بهېدلي دي او دا پديده د هغه د ژوند منطقي نتيجه ده؛ مګر د دې معنا دا نه ده چې هغه ټولنې ته شا اړولې، په خلوت ننوتلی او له لمونځونو څخه يې لاس اخيستی دی. که د عبدالرحمن بابا په شعرونو کې له زاهد، واعظ، ناصح، محتسب او قاضي څخه شکايت او ګيلې شوې دي، نو دا د فارسي له کلاسيک ادب څخه

نیولې چې تقریباً ټول یې مخکښ صوفیان او زاهدان ول بیا د پښتو ژبې تر کلاسیک او نوي ادب پورې دومره عام شکایت دی چې اندازه یې نه لګېږي. دا چې مُلایانو او علماو هغه ته لاس یو کړی او د کفر فتوا یې صادره کړې ده دا معلومات یوائې د راورټي په متن کې موندلای شو.

میجر راورټي د میرزا خان انصاري په باب هم دغه راز مغشوش معلومات ورکوي. په لومړي سر کې وایي چې میرزاخان انصاري چې احتمال لري د پیرروښان لمسی و، په کال ۱٦۳۰ میلادي کې په شاعرۍ پیل وکړ او وروسته دا شعرونه راټول شول او د هغه د غزلونو دیوان ورڅخه جوړ شو. (۴)

په داسې حال کې چې دا د میرزا خان انصاري د شاعرۍ د پیل کال نه، بلکې د وژل کېدلو کال دی. حالنامه، چې تر دغه ګړۍ پورې د روښانیانو د تاریخ په باره کې تر ټولو مستند متن دی، د هغه جنګ تفصیل ورکوي چې د جلال الدین روښاني زوی الهداد (رشیدخان) او میرزا خان انصاري برخه په کې اخیستې وه او د شاه جهان په لښکرو کې د دکنیانو پر ضد جنګېدل. په هغه جنګ کې رشیدخان ټپي شو او میرزا خان د حالنامې د لیکوال په قول په ۱۰۴۰ هجري قمري کې چې ۱٦۳۰ میلادي کېږي له دې عالم څخه سفر وکړ او مزار یې په شمس آباد کې دی چې د جمعې په شپه اکثر خلک د هغه زیارت ته ورځي او له حق تعالی څخه د خپل یقین په اندازه مراد حاصلوي. (۵)

راورټي د میرزا خان په باب داسې معلومات راکوي چې په بل هېڅ تاریخي متن کې نشته. دی وایي میرزا خان ډېر زیات سفرونه کړي دي. له هرات څخه تر اګرې، د افغانستان تر نورو ښارونو او د هند په خاوره کې ګرځېدلی دی او له سوات، باجوړ، پېښور او د افغانستان تر غرنیو سیمو پورې هر ځای یې مریدان او پیروان درلودل.

په هندوستان کې په راجستان کې له یوه هندو راجا سره دېره شو. هغه ډېر ونازاوه. مغول اورنگزېب هم هغه ته معاش مقرر کړی و. راورټي وروسته لیکي چې د مغول اورنگزېب د دربار مُلایان او عالمان د میرزا خان له عقایدو سره مخالف شول او اورانگزېب یې د هغه په مقابل کې تحریک کړ. اورنگزېب بالاخره په دې راضي شو چې میرزا خان او مُلایان بحث ته سره کښېنوي. میرزا خان بالاخره له اگرې څخه ولاړ؛ له مستقلو او نیم مستقلو هندو راجه گانو سره دېره شو او هغوی یې ډېر زیات درناوی کاوه.

بل ځای لیکي چې د میرزا په کلام کې به سانسکریټ کلمات ځکه زیات وي چې هغه له هندوانو سره ډېره گوزاره کړې وه. وروسته لیکي چې د میرزا د مړینې په باب هېڅ معلومات نشته؛ ځکه چې د ژوند ډېره برخه یې په هندوستان کې تېره کړې ده او باید چې په هغه هېواد کې وفات شوی وي. (٦)

په زړه پورې خو لا دا ده چې د همدغه مخ په حاشیه کې لیکی چې یو سړی چې د پیروښان لمسی او د نورالدین زوی و او میرزا نومېده د شاه جهان په پاچاهۍ کې د دولت اباد په جنگ کې ووژل شو. په دې حاشیه کې یې خپل متن ځکه نور هم مغشوش کړی دی چې د بحث په پیل کې په خپله وایي چې میرزا خان د بایزید روښان لمسی و او په کال ١٦٣٠ کې یې په شاعري پیل وکړ او د بحث په پای کې وایي چې میرزا د نورالدین زوی او د پیر روښان لمسی په دغه کال په دولت آباد کې ووژل شو.

البته له دې ټول بحث څخه مې مطلب دا نه دی چې د پښتو ادب او د افغانانو تاریخ ته د راورټي په څېر یوه لوی مستشرق خدمتونو ته خدای مه کړه په سپکه سترگه وگورم؛ بلکې مطلب مې دا دی چې د راورټي په څېر لوی پوهان، چې د والټر بیلیو او نورو مستشرقینو او ژبپوهانو په علمي او تاریخي تېروتنو پورې

خاندي، په خپله دغه ډول تېروتنې کوي چې څېړونکې په تېره بیا ځوانان باید ورته متوجه وي.

**ماخذونه**


۱- راورټي سیلیکشن، ۸٦ مخ.

۲- همداکتاب، ۸۵ مخ.

۳- پورته اثر، ۲ مخ.

۴- همدا کتاب، ۵۱ مخ.

۵- مخلص، علي محمد، حالنامه، د پښتو ټولنې ټایپي نسخه، د افغانستان د علومو اکاډمي، دولتي مطبعه، ۱۳٦۴ لمریز کال، ٦۴۸ مخ.

٦- راورټي سیلیکشن، ۵۲-۵۵ مخونه.

۷- عبدالرحمن مومند، د رحمن بابا دیوان، پښتو ټولنه، ۱۹۷۷ زېږدیز کال.

۸ - Raverty, H.G. Selections from the Poetry of the Afghans. Reprint Peshawar ۱۹۸۱

پوهنمل سيد اصغر هاشمي

# د تېزس د معنوي جوړښت پېژندنه

## لنډيز:

د ټولو څېړنيزو کالبونو پر ساختماني جوړښت سربېره محتـوا يـې جوړښـت هـم مهم دی. په مقاله کې د تيزس معنوي جوړښت ښودل شوی دی او همدارنگـه د هـر سرليک لپاره چې کومې معنوي خبرې اړينې دي، د لنډيز په ډول ځای ځای راغـلي دي.

په تېزس ليکنه کې د سـاختماني او معنـوي سرليکونـو تـرمنځ يـو رنگـي او هـم معناتوب اړيـن دي او فزيکـي جوړښـت هغـه وخـت ارزښـت پيـدا کـوي چـې معنـوي ارزښت يې ثابت وي.

## سريزه:

تېزس له خاصـو څېړنيـزو جوړښـتونو نـه د ماسـټرۍ دورې پـه پـای کـې ليکـل کېږي. دا چې څېړنه خاص مهارت او رياضت ته اړتيا لري او د يو مسلک په ډول زده کېږي، دا ليکنه د تيزس ليکنې په برخه کې ځينې لارښوونې لري چې له محصلانو سره د تېـزس ليکنـې پـه وخـت کـې مرسـته کـولای شي چـې لـوی سرليـک کـومې ځانگړنې ولري، همدارنگه د معنوي جوړښت له مخې په ترتيب سره د ټولو سرليکونـو معنوي اړيکې درلودونکی ليکلړ، سمه او پرځای پيليزه، سريزه، اصلي موضوع، پايله، وروستۍ نتيجـه گيـري، مناقشـه، وړانديزونـه، ماخذونـه او د نـورو... سرليکونـو راوړل

اړین دي. د ساختماني او معنوي جوړښت له مخې د سرليکونو تر منځ د معنا برابري او يو رنګي ضروري ده.

**د څېړنې اهميت او مبرميت:**

ماستري یوه مهمه تحصيلي دوره ده او همدارنګه د دې دورې په پای کې تطزس ليکل کېږي. د دې ليکنې اهميت دا دی چې د پوهنليک دورې محصلانو سره د تيزس په ليکنه کې مرسته کولای شي. په پښتو ژبه کې تيزس ليکنه او همدارنګه د تېزس په اړه ډېرې کمې ليکنې شوې دي او يا شوې نه دي چې په دې ليکنه کې نوې موضوع ته نغوته شوې ده چې دا يې مبرميت دی.

**د څېړنې موخې:**

د دې مقالې موخې د تيزس لنډه پېژندنه، د تيزس ليکنې په منځپانګيز جوړښت پوهاوی او همدارنګه په تيزس ليکنه کې مناسبه سريزه ليکل چې د معنوي جوړښت له مخې له اصل متن سره اړيکه ولري او همدارنګه د موضوع په پيل کې سم ليکلړ ترتيبول، پيليزه، اصلي موضوع، پايله، مناقشه، وړانديزونه او د مأخذونو پېژندنه ده.

**د څېړنې پوښتنې:**

۱. تېزس څه ته وايي؟

۲. په تيزس ليکنه کې د معنوي جوړښت پېژندنه څه ارزښت لري؟

۳. د محتوا له مخې د تېزس په پيليزه، سريزه، پايله، مناقشه او نورو ... سرليکونو کې کومې موضوعګانې راځي.

**د څېړنې میتود:**

په دې ليکنه کې د کتابتوني څېړنيز ډول او تشريحي او توضيحي مېتود څخه ګټه اخېستل شوې ده.

## اصلي متن:

په پښتو کې پوهنلیک او په انگلیسي- کې تیزس یوناني کلمه ده چې له (tikina) څخه اخېستل شوې ده. لغوي معنا یې ځای پرځای کول، نصبول او یا پراخوالی دی. همدا کلمه په لاتیني ژبه کې له (dititus) څخه اخېستل شوې ده، چې د پراخوالي په معنا ده. د وخت په تیرېدلو او د علومو له پرمختگ سره په نړۍ کې لوړې زده کړې مینځ ته راغلې او همدارنگه لېسانس، ماسټري او پي ایچ ډي تحصیلات پیدا شول، چې په پایله کې ماسټري دوره په انگریزي ژبه کې پیدا شوه او تېزس لیکنه د انگریزي ژبې په منځنۍ دوره کې دود شوه او دغه کلمه (تیزس) د (وړاندې کولو) په معنا وکارېده. په تېزس لیکنه کې څېړونکی باید د څېړنې له ډولونو او مېتودونو سره اشنا وي او د یو ځانگړي میتود په رڼا کې پلټنه سرته ورسوي.(۱)

همدارنگه په ان لاین ویکیپیډیا کې راغلي دي:

د جوړښت له مخې اکثریت څېړنیز ډولونه په زیات و کم توپیر سره یو شان دي. همدارنگه پوهنلیک (تېزس) ته هم پر فزیکي جوړښت سربېره په سیستماتیک ډول معنوي جوړښت هم اړین دی. که چیرې په یو تیزس کې ټول بنه ییز سرلیکونه په خپل ځای راغلي وي، همدارنگه د هر سرلیک معنوي خوا یې هم باید سمه وي. د بنې له مخې که د یو تېزس لپاره سریزه مهمه ده، نو همدارنگه د معنوي جوړښت له مخې په سریزه کې چې د کومو موضوعگانو راوړل اړین دي، دا یې معنوي خوا جوړوي.

د منځپانگیز جوړښت له مخې د تېزس لپاره په لاندې خبرو پوهاوی اړین دی:

**الف. لوی سرلیک**

د څېړنیزو او تخلیقي اثارو د ارایې ژبې یو له بله توپیر لري. د څېړنې ژبه بېله او د هر څېړونکي د ارایې طرز او سبک بېل وي. د څېړنیز او تخلیقي اثر عنوانونه

هم یو شان نه وي. د محتواییز جوړښت لـه مخـې د تیـزس لـوی سرلیـک لپـاره شرایط اړین دي:

- معنوي حدود يې معلوم وي.
- زماني واټن يې څرګند وي.
- ساده او عام فهمه وي.
- جذاب او زړه راکښونکي وي.
- د اصلي موضوع استازيتوب وکړي.
- له ټولې موضوع سره معنوي اړيکه ولري.
- د اصلي موضوع کليدي توکي په کې وي.
- الفاظ يې برابر، نه زيات او نه کم وي. عنوان نـه ډېـر لـوی او نـه ډېـر کـوچنی وي.
- په عنوان کې بايد ابتکار او نوښت وي.

که چېرې د يوه تېزس عنوان ډېـر لـوی وي او د اختصـار او کوچنيـوالي امکـان يې نه وي، نو په دې صورت کې عنوان په دوو برخو تقسيموو، د عنوان عامه او مهمـه برخه او د عنوان فرعي او کوچنۍ برخه. په ځينـو اثـارو کـې راغـلي دي چـې عنـوان بايد (۱۰ـ ۱۲)کلمو ډېر نه وي، خو زما په پوهـه کـه عنـوان لـوی وي، خـو بـې ځايـه کلمات په کې نه وي او له محتوا سره اړيکه ولري هېڅ ستونزه نه رامنځ ته کوي.

**ب. ليکلړ**

د تيزس لپاره فهرست جوړول او په خپل ځای راوړل يې اړين دي، خـو دا چـې د تېزس خاکه کومې ځانګړنې ولـري، د معنـوي جوړښـت تـر مفهـوم لانـدې راځـي. لوستونکی کولی شي چې په تېزس کې له فهرست نـه پـه ګټـې اخېسـتنې د خپلـې خوښـې موضـوع پـه اسـانۍ سره پيـدا کـړي. خـاکې تـه پـه عـربي کې(خطـة) او پـه

انګریزي کې(Synopsis) وايي، يعنې د کار هغه پلان، لنډيز، کرښلاره يا اومه نقشه چې د څېړنيزې موضوع له مخه جوړېږي، له خاکې څخه عبارت دی.

عبدالحميد عباسي وايي: (د څېړنې لپاره چې کومه ټاکلې موضوع پر څپرکو، سرليکونو او بحثونو ويشل کېږي، د خاکې (Outline) په نوم يادېږي.(۲)

د خاکې څپرکي بايد معلوم وي. لومړی، دوهم او په همدې ترتيب په خپل ځای د څپرکو راوړل د څېړنې خاصه تجربه غواړي. د څېړنې د اصلي موضوع، له څپرکو سره معنوي رابطه او د سرليک له اصلی متن سره رابطه ضروري ده چې د موضوع د عنوان په لوستلو لوستونکي له څېړنې اصلي روح سره اشنا شي. دغه شان د څپرکو ترمنځ معنوي رابطه هم اړينه ده. د هر څپرکي لوی سرليک بايد له عنوانونو سره د معنا له مخې رابطه ولري. (۳)

د خاکې ترتيب او جوړول، د څپرکو په خپل ځای راوړل او د عنوانونو ترتيب او تنظيم په تېزس کې مهم دي. ښه خاکه هغه ده چې له ژورې مطالعې او فکر کولو څخه وروسته رامنځ ته شي. د څېړنې د موضوع څپرکي، لوی او واړه سرليکونه، ترتيب او تنظيم او اشارې له دې امله اړين دي چې څېړونکی د هغو له مخې د منابعو په لټه کې کېږي، عبارتونه لټوي او اقتباسونه نقلوي، له دغسې ترتيب او تنظيم څخه پرته د اړوندو عباراتو تلاش زښت ډېر ستونزمن دی، د معنوي جوړښت له مخې د تيزس د ليکلو لپاره لاندې شرايط اړين دي:

ـ د ټولې موضوع استازيتوب وکړي.

- د پيل خبرې، سريزه او توکي، اصلې موضوع، پايله، وروستی نتيجه اخېستنه، وړانديزونه او ماخذونو سره علمي اړيکه ولري.

ـ هر څپرکی له بل څپرکي سره معناييزه رابطه ولري.

- هر لوی سرليک له نورو لويو سرليکونو سره او هر کوچنی سرليک له نورو کوچنيو سرليکونو سره علمي برابروالی ولري.

ـ خاکه په پیل کې ترتیب او تنظیم شي.

ـ د موضوع اړوند په تاریخي شالید پوهاوی او د پخوانیو خاکو مطالعه هم اړینه موضوع ده.

**ج. د پیل خبرې**

د څېړنې په کالبونو کې له سریزې مخکې د پیـل خـبرې راوړل کېـږي. دې تـه ځکه پیلېزه وایي چې د څېړنـې پـه پیـل کـې راځـي او کلـه کلـه ورتـه د سرخـبرې او لومړنۍ خبرې هم ویل کېږي.

د تیزس په کالب کې د پیلېزې راوړل شته، خو د معنا له مخې په پیلېزه کـې د لاندې شرایطو راوړل اړین دي:

ـ د موضوع انگیزه بیانول.

ـ د بشپړولو اسانیتاوې او ستونزې.

ـ د څېړنې د ضرورت ارزښت ښودل او هدف بیانول.

ـ له هر ډول مادي او معنوي مرسته کوونکو مننه کول.

ـ د نیمگړتیاوو په اړه معذرت غوښتل.(۴)

ځینې څېړونکي په پیلیزه کې له والدینو، د پوهنتون له رئـیس، د پوهنتـون لـه ځینو مسوولینو، د پوهنځي له رئیس، د پوهنځي د څانگو له رئیسـانو او اسـتادانو، د موضوع په اړه کومک کوونکو، متخصصو استادانو، د کتابتونو مسـوولینو او ټولـو هغـو خلکو څخه چې د څېړنې په تکمیل کې یې له څېړونکـي سره هـر ډول مرسـته کـړې وي، یادونه او مننه ترې کوي، چې دا هم د څېړنې او څېړونکي اخلاقي وجیبه ده.

**د. سریزه**

په تېزس لیکنه کې د سریزې لیکل مهم او ستونزمن کار دی. په ډېرو څېړنیـزو لیکنو کې سریزې شته، خو که چېرې د هر اثر سریزه په معنـاییز تـول وتلـل شـي، نـو ډېرې کمې به په تول پوره او کره وي. په مقدمـه کـې علمـي مطالـب راځـي او راوړل

یې د څېړنې لپاره حتمي دي. سریزه په څېړنه کې اثر یا څېړنې ته د داخلېدو د دروازې حیثیت لري او له څېړنیزې موضوع یا محتوا سره یې علمي اړیکې مهمې دي. یعنې د سریزې په لوستلو سره باید له ټول متن نه معلومات تر لاسه کړو.

د مقدمې په لیکلو کې د فکر او نظر اختلاف دی، ځینې وایي چې مقدمه دې، د څېړنیزې موضوع په پیل کې ولیکل شي او ځینې بیا وایي چې سریزه دې په پای کې ولیکل شي، خو زما په پوهه د مقدمې لیکل د څېړنیز کار په پای کې سمه ده، ځکه ډېرې نوې خبرې او موضوعگانې د اصلي موضوع په پای کې ذهن ته راځي او د دې خبرو یادونه په سریزه کې ضروري ده. مقدمه د څېړنې لپاره کلیدي حیثت لري او ارزښت یې د موضوع لپاره ډېر دی. له اصلي موضوع سره د سریزې معنوي رابطه مهمه ده او لوستونکی د مقدمې په لوستلو د اصلي متن لوستلو ته هڅوي. د تېزس په سریزه کې د لاندې شرایطو راوړل مهم دي:

- د موضوع لنډه پېژندنه.
- د لویو سرلیکونو ښودنه.
- په موضوع کې د نوو موضوعگانو یادونه چې په مخکنیو لیکنو کې یې یادونه شوې نه وي.
- د موضوع په اړه د ذهني طرحې یادونه.
- د موضوع ارزښت ښودل.
- هدف بیانول.
- د موضوع د اصلي او فرعي پوښتنو وړاندې کول.
- په تاریخي شالید پوهاوی او پخوانیو کارونو ته په انتقادي نظر کتل.
- د ځانگړي څېړنیز ډول او میتود غوره کول او په گوته کول.

### هـ. اصلي موضوع

په تيزس ليکنه کې د ليکنې بنسټيزه برخه اصلي موضوع او يا اصلي متن جوړوي او په داسې ليکنو کې اصلي موضوع بايد په مهارت ترتيب، تنظيم، تفسير او همدارنگه د څېړنې ټول اصول په کې مراعت شي، چې د معنا له مخې د اصلي موضوع حق سم ادا شوی وي. مقدمه، د سرخبرې، ماخذونه، تعليقات، نومليکونه او بېلابېل عمومي سرليکونه د اصلي متن پر شاو خوا څرخي او لاندې موارد ورته اړينې دي:

- د موضوع نويوالی، کره والی او مستندوالی.
- د موضوع ښه تحليل او تفسير.
- د علمي ژبې کارول.
- د هرې برخې له بلې برخې سره معنوي سيستماتيکه اړيکه.
- د ليکنښو کارول.
- عام فهمه، کره، ساده او رسا او له لهجوي تاثيراتو مبرا ژبه.
- له مأخذونو څخه گټه اخېستنه.
- او داسې نور...

### و. پايله

د معنوي جوړښت له مخې د تېزس په پايله کې د لاندې ټکو راوړل مهم دي:

- د تېزس وروستي نتايج او پايله.
- د تېزس محدوديتونه او د حل لارې چارې.
- د موضوع په اړه وړانديزونه او پيشنهادونه.
- د موضوع ارزښت بيانول.
- د تېزس لنډيز.
- د موضوع لاسته راوړنې.

ـ په لیکل شوي موضوع کې د نیمگړتیاوو ښودل او نورو لیکوالو او پوهانو ته سپارښتنه چې د موضوع په اړه کار وکړي. پایله په ډېرو لږو عباراتو کې لیکل کېږي او د ټول تیزس استازیتوب کوي.

**ز. وروستۍ نتیجه گیري**

د معنا له مخې د تېزس لیکنې لپاره وروستۍ نتیجه گیري مهمه ده او په ټولیز ډول د ځینو خبرو یادونه اړینه ده،لکه:

ـ له هر څېړونکي سره ځینې پوښتنې پیدا کېږي او د پوښتنو د حل لپاره علمي هڅې پیلوي. په نتیجه کې یې یادونه اړینه ده.

ـ د موضوع لنډیز.

ـ د موضوع ارزښت څرگندول او داسې نور مسایل راځي.

**ح. مناقشه**

په مناقشه کې د موضوع لنډه پېژندنه راځي. د موضوع اړوند نتیجه گیري او لاسته راوړنو یادونه په کې کېږي. په مناقشه کې د پټو، مبهمو، ستونزمنو موضوعگانو ښودنه کېږي. په علمي او اکاډمیکو کارونو کې څېړونکی له ستونزو سره مخامخېږي، چې په مناقشه کې یې یادونه مهمه ده. څېړونکی چې د کار په جریان کې له کومو مشکلاتو سره مخامخ شوی وي، یادونه یې کوي. هره څېړنیزه لیکنه باید مثبتې پایلې ولري او لیکوال یې باید په مناقشه کې یادونه وکړي. څېړنه د حق ثابتول دي، ډېر پوهان دغه حقایق د خپل نظر او فکر پر بنا ویني، خپل نظر ورکوي، د نورو پوهانو نظرونه به تائید او یا ردوي. د دغو اختلافي مواردو یادونه په مناقشه کې اړینه ده او همدارنگه د لاندې ټکو یادونه هم مهمه ده:

ـ د کار د نتایجو څرگندول.

ـ د موضوع په اړه د نوو نتایجو پرتلنه له پخوانیو سره.

ـ د نتایجو څرگنده او واضحه وړاندې کونه.

- د نتايجو په واسطه د مثبتو لاسته راوړنو ښودنه.(۵)

**ط. وړانديزونه**

کله چې څېړونکی تېزس ليکنه بشپړه او لاس ته راغلې نتيجې يې وښيي، نو بيا د نتيجو د عملي کولو او د همدغې موضوع په اړه په راتلونکي کې د پراخو څېړنو په منظور عملي وړانديزونه کوي، دا وړانديزونه بايد ډېر څرگند (واضح) او پر دلايلو ولاړ وي. په همدغو وړانديزونو څېړنه پای ته رسېږي. په وړانديزونو کې د موضوع پرمختگ، د موضوع د طرحې په برخه کې د نيمگړتياوو د له منځه وړلو لپاره نورو څېړونکو ته پيشنهادونه کېږي.

**ی. ماخذونه**

د مأخذونو په راوړلو لوستونکو ته دا معلومېږي چې ليکوال له کومو بنيادي (اول لاس) او ثانوي (دوهم لاس) مأخذونو څخه استفاده کړې ده. څومره منابع يې مطالعه کړې دي. په هره څېړنيزه ليکنه کې له پيله تر پايه هره برخه بايد معنايي ځانگړنې ولري.

د تېزس ليکنې په برخه کې ماخذونه ډېر ارزښت لري او همدا منابع او مواد علمي کار ته لوری ورکوي او ثقه توب يې ثابتوي. د مأخذ ښودنې گټې په لاندې ډول دي:

- د نوو حقايقو پيدا کيدل.
- بې ماخذه ليکنه څېړنه نه وي.
- سرقت، ادبي غلا (پليجريزم) په کې معلوميدای شي.
- د پخوانيو معلوماتو پوهاوی پرې کېدای شي.
- د څېړنې کره والی ثابتولای شي.

**پایله:**

تیزس د ماسټرۍ دورې په پای کې لیکل کېږي چې ځینې محصلان په دې برخه کې له ستونزو سره مخامخ وي، نو دا مقاله (د تیزس د معنوي جوړښت پېژندنه) ورسره زیات و کم مرسته کولای شي او همدارنګه محصلانو ته لارښوونه کوي چې د تېزس لیکنې په وخت کې د هرې برخې په منځپانګه څنګه بحث وکړي. د دې مقالې پایله محصلانو ته ښیي چې د څېړنې په وخت کې تر هر سرلیک لاندې د موضوع په نظر کې نیولو سره د کومو ټکو یادونه اړینه ده.

**مأخذونه:**

**۱.** سیداصغر هاشمي، د تېزس لارښود، هاشمي خپرندویه ټولنه: جلال اباد، ۱۳۹٦ ل کال، ۵مخ.

**۲.** عبدالمالک همت، د مقالې لیکلو اصول او د مطالعې او څېړنې لارښود (دوهم چاپ)، صحاف نشراتي موسسه: کوټه، ۱۳۸۸ ل کال، ۵۴مخ.

۳. عبدالمجید خان عباسي، اصول تحقیق (دوهم چاپ)، نیشنل بوک فاونډیشن: اسلام اباد، ۲۰۱۵ م کال، ۱۰۰مخ.

۴. سیداصغر هاشمي، د څېړنې بنسټونه (دوهم چاپ)، هاشمي خپرندویه ټولنه: جلال اباد، ۱۳۹٦ ل کال، ۲۲۷مخ.

۵. سیداصغر هاشمي، د تحقیق اصول، هاشمي خپرندویه ټولنه: جلال اباد، ۱۳۹٦ل کال، ۱۲۲مخ.

پوهنیار ډاکټر بیت الرحمن رودوال

# په پښتو ژبه کې د ماشومانو د ادبیاتو پېژندنه

## لنډیز:

وړانـدې تـر دې چـې د ماشـوم د ادبیـاتو پـه اړه بحـث وکـړو اړینـه ده چـې د ادب پـه اړه لنـډه نغوتـه وکـړو: ادب هغـه علـم دی چـې د نـثر او نظـم ښـه والـی، بد والی، اوچت والی، ښکته والی، کره او کوټه والی پرې معلومېږي.

دا تعریـف مـوږ تـه لار روښـانوي او د دې پـه رڼـا کـې اوس کـولای شـو چـې د ماشـوم یـا کوچنیـو ادبیـاتو بانـدې هـم لنـډکی بحث ولـرو: د ادبپوهـانو پـه وینـا ټـول هغـه مـواد چـې لـه مسـتقیمي او رسـمې زده کـړې پرتـه یـا بهـر پـه هـنري او ادبي بڼـه د کوچنیـانو لپـاره ولیکـل شي، پوهـان یـې د کوچنیـانو ادبیـات بـولي، دا چـې کـوم ډولونـه لـري، ماشـومان تـري څـه ډول اغېـزمن کېـږي او څنګـه یـې یوبل ته انتقالوي؟ تر ډېره یې په دې مقاله کې لوستلای شئ؟

## سریزه:

افغانسـتان یـو داسـې هېـواد دی چـې پـه لسـګونو ډولـه ارزښـتونه، مـادي او معنـوي شـتمنۍ تـرې جګـړو تـروړلي، نـو هغـه هېـواد چـې جګـړو یـې هـر څـه دل و دول کـړې وي، پـه هغـه هېـواد کـې بـه ادبیـات پـه ځـانګړې توګـه د ماشـوم ادبیـات څـه وده وکـړي، خـو کـه نړیوالـو ادبیـاتو کـې بیـا د دغـه لارې ادبیـات تعقیـب شي، هلـه بـه در معلـوم شي چـې د کوچنیـو یـا ماشـوم ادبیـات څـومره مهم، د پام وړ او په ټولنه کې بنسټیز رول لري.

یعنې نن سبا ټوله نړۍ په دې عقیده ده چې د نن ماشوم د سبا ځوان او د بلې ورځې راتلونکي یا رهبر دی، خو پر عکس په افغانستان کې د پرون، نن او سبا ماشوم په هغو شاقه او درنو کارونو بوخت دي، چې نه یې ځان او نه یې هم ټولنې ته کار وکړای شو، بس د لویانو په څېر به د یوې مړۍ ډوډۍ پسې ورک او ټوله ورځ به یې په سړکونو او خوشې کارونو تېرېږي، نو د دې لپاره چې د دغه ډول ګلالیو ماشومانو د ژوند او ګاندې تضمین مو کړای وي، ما په دې بحث کې د کوچنیانو ادبیاتو ته ځای ورکړی، تمه ده چې د دې موضوع حق مې څه نا څه ترسره کړی وي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت:

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې لومړی کوچنیان پېژندل شوي چې څوک دي او چا ته کوچنیان وایي، ورپسې د کوچنیانو ادبیات چې نن سبا په نړیواله کچه د ځانګړې پاملرنې وړ دي باندې بحث شوی او دا په کې څېړل شوي چې دغه ادبیات د ماشومانو په روزنه کې څومره بدلون راوستلای شي او ټولنه کې کوم مثبت رول لوبولای شي.

## د څېړنې موخې:

د دې څېړنې موخه په دې کې ده د کوچنیانو ادبیاتو کې چې کوم بدلون راغلی هغه له نېکه مرغه پښتو ادب ته هم را رسېدلی او په دې مقاله کې ورته ځانګړې پاملرنه شوې ده، د دې ترڅنګ د کوچنیانو ادبیات نن سبا کابو یوه هېره شوې موضوع وه، نو په دې مقالې سره به د ګرانو لیکوالو یو ځل بیا دې موضوع ته پام شي او تمه ده چې په اړه یې ښې لیکنې وشي.

## د څېړنې پوښتنې:

په دې څېړنه کې تر ډېره لاندې پوښتنې ځواب شوې دي:

- ✓ ادبیات څه شی دی؟
- ✓ د کوچنیانو یا ماشوم ادبیات څه ته وایي؟
- ✓ په ټولنه کې نن سبا د کوچنیانو ادبیات څه رول لري؟
- ✓ ایا د ماشومانو په اړه د داسې ادبیاتو لیکل د ماشوم په رول او روان کوم اغېزه ښندلای شي ؟

او دې ته ورته ځینې کوچنۍ پوښتنې هم ځواب شوې دي.

**د څېړنې میتود:**

په دې مقاله کې تر ډېره له تشریحي، تحلیلي او توضیحي میتود څخه استفاده شوې ده.

**اصلي متن:**

د زرې په احــوال تل د لمــر نظــر وي
لوی دې نه ګوري واړه په سپکه سترګه

وړانـدې تـر دې چـې د ماشـومانو ادبیـات وپېژنـو، اړینـه ده پـه خپلـه د ادبیـاتو او ادب پـر ماهیـت او معنـا ځـان پـوه کـړو. ادب هـر چـا د خپـل فکـر او لیـدلوري لـه مخـې تعریـف کـړی دی. دلتـه پـه همدغـه اړه د ځینـو ادبپوهـانو نظرونه را اخلو او پر ادب لږه رڼا اچوو:

((د ادب اصـطلاح د خپـل معنـوي پراخیتـا لـه مخـې ډېـره عجیبـه او د کاینـاتو پـه څېـر پراخـه ده چـې تـر اوسـه یـې هیچـا پـه لنـډو ټکـو کـې جـامع او هـر اړخیـز تعریـف ورتـه نـه دی کـړی. هـر ادیـب، نقـاد، محقـق او عـالم د خپلـې پـوهې، علـم او تجربې په رڼا کې ادب یوڅه تعریف کړی)) (۱)

لوی استادعبدالحی حبیبي ادب داسې راپېژني:

((ادب د لغت او اصطلاح لـه مخـې ښـېگړه ده چـې سـړی لـه خطـا او بـدو څخـه ژغـوري او پـه خـوی اوخلـق پـوري اړه لـري، چـې بيـان يـې د اخلاقـو د علـم کـار دی. لغـوي معنـا خـو يـې تهـذيب دی او څـه شـی چـې لـه چـا يـا کـوم شي سره لايــق او مناسـب وي هــم ادب ورتــه ويــل کېــږي؛ لکــه د مجلــس ادب، د معـاشرې ادب، د خـبرو ادب او داسـې نـور او پـه اصـطلاح کـې ادب هغـه پوهنـه ده چـې انسـان پـه خپلـه وينـا او بيـان کـې لـه غلطيـو څخـه سـاتي. )). (۲) نـور نظريـات هـم شـته چـې ادبيـات د کـومې ژبـې کلمـه ده او پـه کـومې ژبـې کـې د لـومړي ځـل لپـاره کـارول شـوې ده؛ نـو ښـه بـه دا وي چـې څـه نـا څـه رڼـا پـرې واچوو اوځانته لاره روښانه کړو.

((ادب هغـه پـوهې او زيرکـۍ تـه وايـي چـې د هغـې پـه واسـطه سره سـړی له خطا څخه بچ شي)). (۳)

((ادب: هغـه علـم دی چـې د نـثر او نظـم ښــه والــی، بـد والــی، اوچـت والی، ښکته والی کره او کوټه پرې باندې معلوم شي)).

((ادب: د عربـو پـه لغـت کـې د پـوهې، زيرکـۍ او د هـر شي انـدازې سـاتلو پـه معنــا راغلــی دی او پــه اصــطلاح کــې ادب پــه دوه ډولــه دی؛ يــو نفسيــ ادب چـــې اخــلاق، فضــيلت او ښــېگړې تــه وايــي او بــل درسي ادب چــې د دې څخـه مطلـب پـه ښه طريقه ليکل او لوستلو ته وايي)) (۴)

همدارنگه د ادب په اړه د پښتو ژبې يو بل ليکوال او اديب وايي:

((د ادب اصــل (هــذب) دی، د بــې عيبــه پــه معنــا د هــذب کلمــه پــه اصـل کـې د هغـې ونـې لـه پـاره کـارول شـوې، چـې ښـاخونه بـه يـې قطـع شـول او صـافه بـه شـوه وروسـته بيـا هغـه چـا تـه وويـل شـو، چـې عيبونـه بـه يـې ورک شـول يعنـې مهـذب بـه شـو وروسـته د هـذب د کلمـې (ذ پـه د) بـدل شـو او دغـه ابـدال پـه عـربي ژبـه کـې ډېـر مثالونـه لـري؛ لکـه هـذم پـه هـدم او

جذم په حدم د قطع په معنا او (هه) په همزه بدله شوه؛ لکه: اهل، آل، ماه، مأ... نو هذب په هدب او هدب په ادب بدل شو او اصطلاحاً ادب هغه پوهنه ده، چې انسانان په خپله وینا او بیان کې له خطا او غلطۍ څخه ساتي ځکه ادبي علوم هغه علوم بلل کېږي چې د وینا ښه والی بدوالی، غلط او صحیح خوږوالی او پیکه توب ښایي او په منظوم کلام کې د فصاحت او بلاغت له خوا بحث کوي)) (۵)

((ادب: دانساني زړه د جذباتو احساساتو او احساسي میلان نه لبریزه تجربه، چې د ادبي الفاظو په شکل کې په یوه داسې جامع او ښکلی رنګ کې وړاندې کړای شي چې د ویونکي یا لیکونکي ادیب په اورېدونکو یا لوستونکو باندې په مکمل طور واضحه شي او داسې واضح شي چې د هغه د زړه جذبات او احساسات هم هغه شان ولړزوي؛ لکه څنګه چې د ادیب په زړه کې د لیک په وخت کې رالړزېدلي او یا پارېدلي وو او دا شان لوستونکي یا اورېدونکي دادیب د زړه د یوې مخصوصې تجربې نه پوره پوره خوند واخلي))

((ادب: د انسان د اعلی صفاتو څخه زېږي او په اعلی صفاتو خپل تاثیر کوي، ټول فنون لطیفه د فطرت نقل دی))

لیټرېچر یا ادبیات یوه لاتیني کلمه ده:

ادب یا لیټرېچر(literature) چې لفظي معنا یې حرف (توری) دی. دغه کلمه لاتیني بلل شوې چې وروسته عربي ته ورغلې ده او د نړۍ په ادبیاتو کې یې رشد کړی دی او بالاخره پښتو ادب ته یې هم لاره کړې ده او تر موږ راورسېده.

څېړنوال سید محی الدین هاشمي ادب داسې تعریفوي:

((ادب هغــه ژبنــی هــنر دی، چــې ټــولنیز واقعیتونــه او حقــایق پــه کــې د ژبــې پــه وسـیله د ذهنــي تصـویرونو او انځورنـو لـه لارې څرګنـدېږي یـا پـه بلـه وینـا ادب داســې تعریفـوي: هــره هغــه ممتــازه وینــا ګڼــی (شــفاهي) وي کــه لیکنــی، نظم وي که نثر، خو چې هنري ارزښت ولري، ادب بلل کېږي)) (٦)

خــو بیــا پخوانیــو ادب پوهــانو ادب پــه دوو برخــو وېشــلی دی؛ لــومړی طبیعــي او دویــم درسي او کســبي ادب؛ مګــر اوســني ادب پوهــان بیــا ادب پــه لانــدې (شــفاهي اوتحریــري) برخــو وېشي. مــوږ دلتــه د ادبیــاتو دواړه برخــې څېـړو خـو لـومړی پـه دې ځـای کـې د لیکنـي ادب بحـث تـه د پـای ټکـی ږدو اوپه شفاهي ادبیاتو باندې یو څه رڼا اچوو:

شـفاهي ادبیـات هغـو ادبیـاتو تـه ویـل کېـږي، چـې د فولکلـور پـه شـکل پـه شفاهي ډول خوله پـه خولـه لـه یـو نسـل څخـه بـل نسـل تـه نقـل شـوي وي او یـوه بلـه ځانګړنـه یـې داده، چـې ویـونکي، د ویلـو وخـت او د ویلـو ځـای یـې نـه وي معلـوم او زیـاتره د عـامو خلکـو پـه خولـو وي چـې ډېـر خونـدور او پـه زړه پـورې ادبیـات دي او د هـر چـا خوښـېږي؛ نـو شـفاهي ادب هـم پـه دوو برخـو وېشـل کېږي: یـوه تـه نظـم او بـل تـه نـثر ویـل کېـږي، چـې دلتـه بـه دواړه نظـم او نـثر پـه جلا جلا ډول وپېژنو.

نظـم: پـه لغـت کـې د مرغلـرو پیلـو او اوبـدلو تـه وایـي او پـه اصـطلاح کـې هغـه وینـا ده، چـې وزن او قافیـه ولـري او د نـثر پـه مقابـل کـې وکـارول شي نظـم بلــل کېــږي؛ خــو شــعر بیــا هغــه موزونــه او اهنګــداره وینــا ده چــې د احســاس، جــذبې او عــاطفې څرګندونــه او د ټــولنیز ژونــد رښــتینی انځــور وړانــدې کــړي...شــفاهي ادب د نظــم څــو مثالونــه دا دي: لنــډی، سروکــي، نیمکــی، بګتی، چاربیتې او داسې نور.

نـثر: پـه لغـت کـې د مرغلـرو پاشـلو او شـيندلو تـه وايـي او پـه اصـطلاح کـې هغـه کـلام تـه وايـي چـې د وزن لـه قيـده خـالي او ازاد وي. نـثر پـه خـبرو اتـرو کـې لـه شـعر څخـه د مخـه دی، خـو نـثر هـم د جوړښـت او محتـوا لـه مخـې ځـانګړي ډولونـه لـري، چـې پـه معنـوي برخـه کـې يـې اخلاقـي، وصـفي، تـاريخي، ټـولنيز، سـياسي، علمـي ادبي او نـور شـامليږي او اوسـني پوهـان يـې پـه دوو برخـو وېشيـ: سـاده نـثر او مسـجع نـثر چـې هـر يـو يـې ځـان تـه خپـل تعريـف او ځانګړنې لري.

سـاده نـثر: هغـه دی چـې دالفـاظو پـه لحـاظ سـاده او عـام فهمـه وي او لـه سـجعې څخـه ازاد وي؛ مګـر مسـجع نـثر هغـه دی چـې الفـاظ يـې مـوزون او مسجع وي.

د شـفاهي ادب د نـثري ژانرونـو څـو مثالونـه عبـارت دي لـه: متلونه،کيسـی، نکلونـه، ټـوکې ټکـالې او داسـې نور...ځېنـو ادب پوهـانو شـفاهي ادبيـات د ليکلـو ادبيـاتو پـه پيـروی پـر درېـوو ژانرونـو وېشـلي دي: ايپيک، ليريک او ډراماتيک.

زمـوږ زيـات شـمېر ليکوالـو ايپيـک د حماسـې پـه معنـا راوړي دي، پـه داسـې حـال کـې چـې ايپيـک يـوازې پـه ضـمني ډول د حماسـې پـه معنـا راتـلای شي. د ايپيـک لغـت د يونـاني ژبـې لـه (ايپـوس) څخـه جوړشـوی دی. ايپـوس (epos) پـه لـومړي سرکـې د کلمـې پـه معنـا و بيـا وروسـته کلمـه پـه کـلام (وينـا) واوښـته او پـه پـای کـې د همـدغې کلمـې معنـا پراخـه شـوه، د داسـتان او همدارنګـه دکيسـه ييـز نظـم پـه معنـا اسـتعمال شـوه؛ نـو لـه ايپيـک څخـه مـراد داستاني شعر دی.

څرنګـه چـې پخـوا پـه داسـتانونو کـې د اتـلا نـو حماسـې بيانېـدلې؛ نـو اکـثره بـه دايپيـک د کلمـې لـه اورېـدلو څخـه حـماسي شـعرونه تـداعي کيـدل. د

یونـاني شـاعر هـومر (ایلیـاد) او (اودیسـې) د ایپیـک نظـم ډېـرې پخـوانۍ او ممتـازې بیلگـې دي؛ خـو اوس چـې د ایپیـک ژانـر پـه بـاره کـې خـبرې کـوو پـه هغـه کـې روایتونـه، حکایتونـه، نکلونـه، قصـې، اسـطورې، منظـوم داسـتانونه او دې تـه ورتـه ایجادیـات راځـي، چـې حـماسي اړخ ولـري. پـه پښـتو کـې د محمـد گـل نـوري (مـلي هینـداره)، د مـلا نعمـت الله هـروي او مـلا احمـد جـان اکـثر منظـوم داسـتانونه د ایپیـک ژانـر غـوره بېلگـې دي، نـو کـه د شـفاهي ادب پـه اړه بحـث وغځـو ښـایي ډېـرې نـورې خـواوې یـې هـم بحـث وغـواړي، چـې زمـوږ د لیکنـې لمـن دومـره وېـړه نـه ده، نـو ځکـه پـر همـدې بحـث بسـنده کېـږو او اوس به د کوچنیانو ادبیاتو ته راشو چې کوم دي او څنگه دي؟

**۱ :** د ماشومانو د ادبیاتو پېژندنه:

ټـول هغـه څـه چـې لـه مسـتقیمې او رسـمي زده کـړې او پروگـرام څخـه د بانـدې پـه هـنري او ادبي بڼـه د ماشـومانو لپـاره ولیکـل او ترتیـب شي، د ماشـومانو ادبیـات گڼـل کېـږي یـا داچـې د ماشـومانو ادبیـات د هغـو شـعري او نـثري لیکنـو او وینـاوو مجموعـه ده، چـې پـه ټولنـه کـې د لویـانو او یـا پـه خپلـه د ماشـومانو لـه خـوا ترتیـب او گټـې اخیسـتنې تـه برابرېـږي. همدارنگـه د ماشـومانو د ادبیـاتو رامـنځ تـه کـول یـو مهـم ټـولنیز ضرورت دی؛ ځکـه چـې (کوچنیـان د خلکـو د ژوندانـه د هیلـو گـلان، د نـوي ژوندانـه نـوې هسـتۍ او د نـوي او غوړېـدلي فرهنـگ جـوړونکي دي؛ نـو ځکـه د هغـوی پـه هـر اړخیـزه وده، تربیه او د استعدادونو په روزنه کې باید زیاته پاملرنه وشي.

دا چـې ماشـومان د فکـري او عـاطفي رشـد پـه مرحلـه کـې وي د دوی ادبیـات هـم بایـد دپیغـام پـه رسـولو کـې لـه ماشـوم سره د هغـه د شخصـیت پـه هـر اړخیـزه وده کـې مرسـته وکـړي. د ماشـومانو ادبیـات بایـد پـه داسـې ژبـه

ولیکل شي، چې هغوی پرې وپوهېږي، خوند ورکړي، زده یې کړي او له نورو ماشومانو سره یې شریک کړي.

ماشوم د ټولنې د وګړنیز ځواک د یوې سترې اومهمې برخې په توګه خپل ځانګړي ادبیات لري، چې په کې د دوی احساسات، عواطف، هیلې، غوښتنې او آرمانونه په یوه یابله بڼه ځان راځرګندوي.

((د ماشوم ادبیات کوم خاص تعریف نه لري؛ خو ځینې لیکوال یې په اړه خاص نظریات لري: سیال کاکړ د یو انګرېز لیکوال چې دکوچنیانو دتعریف په هکله یې ویلي راوړی دی:

دکوچنیانو ادب د لویانو د ادب هغه لویه سرمایه ده چې دوی ترې اخیستې او همدغه د لویانو ادب په حقیقت کې د ماشومانو ادب دی.

نه خو مور او نه پلار او نه ښوونکی، نه مبلغ اونه یو لیکوال د ماشومانو د ادب تعریف ورته کولای شي؛ بلکې ماشومان دا په خپله ټاکي، چې ادب څه شی دی.

سیال کاکړ دماشوم د ادب په اړه زیاتوي:

ماشومان د خپل ادب تعریف تر هر چا ښه کولای شي، د ښه او بد معنا دوی په خپله ټاکي، کوم شی چې یې تر نظر ښه ورشي هغه د ماشومانو د ادب تعریف او ادبیاتو کې راځي او کوم څه چې یې په نظر ښه رانشي هغه د پوهانو په عقیده دماشومانو د ادب د تعریف څخه دباندې وځي. ددې دواړو مفهوم یو شی دی، هر هغه څه چې کوچنیان یې خوښوي، د دوی په ادب کې راځي.

سید محی الدین هاشمي په خپل اثر (ادب پوهنه) کې لیکي:

د موضـوع پـه لحـاظ د لویـانو او ماشـومانو پـه ادبیـاتو کـې هېڅ تـوپیر نشـته او ټـول هغـه څـه دي، چـې د مسـتقیمې او رسـمي زده کـړې لـه پروګـرام څخـه د باندې ولیکل شي د ماشوم ادبیات دي)). (۷)

د ادبیــاتو د عــامې یــا معمــولي ډلبنــدۍ او وېــش لــه مخــې دماشــومانو ادبیـات لـومړی پـه نظـم او نـثر او بیـا پـه دوه سـترو برخـو وېشـل کېږي،چـې یـوې تـه یـې شـفاهي (ولسي- فولکلـوري) اوبلـې تـه یـې لـیکلي یـا تحریـري ادبیـات وایي:

۱-ولسي- ادبیـات:- ولسي- ادبیـات هغـه ادبیـات دي چـې معلـوم ویناوال نـه لـري، د ټـولنې او خلکـو ګـډ مـال ګڼـل کېـږي؛ لکـه د ماشـومانو لپـاره فولکلـوري سـندرې، شـعرونه، ترانـې، کیسـې، چیسـتانونه، ټـوکې ټکـالې او نـور، چـې ماشـومان یـې پـه خپلـو منځـو کـې وایـي او یـا یـې لویـان د دوی دغـوره بوختیـا لپـاره وایـي. د دې لپـاره چـې پـه موضـوع مـو سر خـلاص وي؛ نـو لـږه رڼـا به پرې واچوو.

۲- لـیکلي ادبیـات: لـیکلي ادبیـات هغـه منظـومې او منثـورې لیکنـې دي چـې پـه ټولنـه کـې معلومـو لیکوالـو او شـاعرانو د ماشـومانو لپـاره لـیکلي او ویـلي وي، چـې لـه اورېـدلو او لوسـتلوڅخه یـې پنـد اوخونـدواخلي، دېـوهې کچـه پـرې لـوړه اوخپلـه معلومـاتي پانګـه پـرې زیاتـه اوبډایـه کـړي؛ نـو اوس بـه راشـو د ماشـومانو د ادبیـاتو پېژنـدنې تـه د ماشـومانو ادبیـات عمـدتاً دوه ډولـه دي؛ یـو هغه چې پـه خپلـه ماشـوم یـې ولیکـي او یـا ایجـاد کـړي او بـل هغـه چـې نـور یـې ورته ایجادوي.

لـومړی ـ هغـه ادبیـات چـې ماشـومان یـې پـه خپلـه ایجـادوي. د ماشـومانو د ادبیــاتو اصــلي او اســاسي ډول دی چــې د هغــوی پــه پېژنــدګلوي کــې لــه مـوږ سره مرسـته کـوي. د ادبیـاتو دغـه ډول د ماشـوم ذوق راوېښـوي او راپـاروي.

دغـه ادبیـات د یـوې عملیـې پـه نتیجـه کـې چـې بیـرون افگنـي یـې بـولي ایجـادېږي. بیـرون افگنــي هغــه وړتیـا ده چــې ماشــوم یــې دخپلـو تخیلاتــو د ودې پـه نتیجـه کـې پیـداکوي. ماشـوم پـه دغـه وخـت کـې خپلـو مخسوسـاتو او مکنونــاتو تــه لــه نــورو شــیانو سره نسـبت ورکــوي او پــه دې توگــه د بهــرني چــا پېریــال پــه وړانــدې خپــل عکـس العملونـه ځرگنـدوي. وگـورئ کلـه چـې ماشـوم لــوبې کــوي نــو عجیبــه کارونــه کــوي؛ مــثلاً مــوټر چلــوي، نــانځکي لوبوي،کورونــه جــوړوي او پــه حقیقــت کــې خپــل مخسوســات او مکنونــات بیــانوي او پــه دې توگه په خپله کچه د لویانو کړه وړه تمثیلوي.

نــو هغــه ادبیــات چــې ماشــومان یــې پــه خپلــه ایجــادوي هغــه هــم دوې برخــې لــري؛ یــوه یــې د فولکلــور برخــه ده او بلــه یــې د لوبــو، چــې دواړه ډېـر نــژدې تــړاو سره لــري؛ کــومې لــوبې چــې ماشــومان یــې پــه خپلــه ایجــادوي د دوی ځــواک ځړوبــوي او پــه مرســته یــې بېلابېــل مهارتونــه زده کــوي؛ خــو کــومې لوبې چې نور یې ورته ایجادوي هغه د دوی راتلونکی لوری ټاکي.

د ماشـــومانو لـــوبې ممکـــن مجـــردې او منـــزوي وي؛ خـــو د ماشـــومانو فولکلــور زیــاتره د یــوې ټــولنیزې پدیــدې پــه توگــه تشرــېح کېــږي، چــې د گڼــو ماشومانو عکس العملونه په کې شامل دي.

دوهم: هغه ادبیات چې نور یې د ماشومانو لپاره ایجادوي:

دغــه وړ ادبیــات د ماشــومانو پــه فزیکــي او ذهنــي وده او پرمختیــا کــې لــوی لاس لــري. د دغــې ادبیــاتو هــدف (موخــه ) د ماشــومانو فکــري بنســټونه اینبــودل او روزل دي، همدغــه ادبیــات دي چــې د ماشــوم د خــود خــواهی (ځـان غوښــتنې) حــس مهـاروي او د حقـارت احسـاس یــې کړلــی شي، د هغــه اهمیـت لــه پلــوه چــې د ماشـوم لپـاره ایجادشـوي ادبیــات یــې لــري دماشـومانو دتعلیمـي نصـاب مـتمم مـواد یـې بللـی شـو. دغـه ادبیـات یـا د مینـدو، خوینـدو او

حتـی د دایيـه گـانو لـه لـوري ایجـادېږي او یـا هـم د لیکـوال او شـاعر لـه لوري لیکل کېږي.

نـو پـر دې اسـاس هغـه ادبیـات چـې نـور یـې د ماشـومانو لپـاره ایجـادوي، هغـه هـم دوې برخـې لـري او یـا هـم دوه ډولـه دي، نصـابي او غېـر نصـابي یاتقویتي ادبیات.

د ماشـومانو لپـاره زمـوږ ادبیـات زیـاتره مجـرد او ذهنـي مفـاهیم تشریـح کـوي او هغـه هـم پـه ډېـر غېـر فعـال او جامـد ډول. همدغـه ربـړه زمـوږ د ښـوونځیو پـه تعلیمـي نصـاب کـې هـم پـوره پـوره جوتـه ده، مـوږ د دې پـر ځـای چـې ماشـومانو تـه د دوی لـه ذوق او ضرورت سره سـم ادبیـات ایجـاد کـړو او درسي یـا نـور کتابونـه ورتـه ولیکـو د لویـانو دکچـې مسـئلې او فکرونـه ورتـه بیـانوو، خـو د ماشـومانو لپـاره د ادبیـاتو د سـاحې کـار پوهـان تاکیـد کـوي چـې د ماشـومان دې حتـی د خـدای پـاک پـه بـاره کـې هـم پـه خپلـو برداشـتونو او تصـوراتو کـې ازاد پرېښـودل شي ـ کـټ مـټ د هغـه شـپانه غونـډې چـې وایـي دخـدای ذکـر یـې پـه داسـې طریقـه کـاوه چـې چـې د خـدای لـه شـان سره نـه ښـاییده او حضرت موسـی علیـه السـلام ځنـې ایسـار کـړ، خـو کلـه چـې موسـی علیـه السـلام کـوهې طـور تـه لاړ، نـو خـدای پـاک ورتـه وویـل چـې هغـه شـپون دی هغـه دې لـه ذکـره ولـې ایسـارکړ، ځینـې روایـات لا وایـې چـې مـخ یـې ځینې واړاوه.

د روزنیـزې سـاپوهنې، سـلوک پـوهنې مـاهران وایـي چـې د انسـان د شخصـیت بنسـټونه د هغـه د عمـر پـه لومړیـو څلـور پنځـو کلونـو کـې ((لـه ز یـږون څخـه ښـوونځی تـه تـر شـمولیت پـورې مـوده کـې ایښـودل کېـږي)) خـو مـوږ بیـا لـه بـده مرغـه پـه همدغـه عمـر کـې لـه ماشـومانو سره معقـول او مناسـب چلند نه لرو.

## ۲: ماشوم پیژندنه:

ماشــوم چــې پــه پښــتنې ګړدودونــو کــې د کوچنیــانو، وړکیــو او حتــی د حیوانــاتو پــه نومونــو یادشــوی دا د ســبا ورځــې پلرونــه، میندې او د راتلــونکې ټــولنې اصــلي وارثــین دي چــې د دوی ښــوونې او روزنــې تــه بایــد لــه لــومړی ورځــې څخه پوره پوره پاملرنه وشي.

ټــول هغــه انســانان چــې د کوچینــوالي لــه عمرڅخــه اوښــتي وي ماشــوم او ماشــومتوب پیــژني، ځکــه چــې یــو مهــال دوی پــه خپلــه هــم ماشــومان وو او د کوچینــوالي پړاوونــه یــې تېرکړي او لیدلي، خو له دې سره سره د ماشوم پېژندنې په اړه ډول ډول معلومات شته.

د اســلام مبــارک دیــن د ماشــوم او ماشــومتوب دپړاوونــو پــه اړه خپلــې څرګنــدونې لــري، پــه ملــي او نړیوالــو قوانینــوکې هــم د ماشــوم پیژنــدنې پــه اړه یــو لــړ معلومــات شــته او د ارواپــوهنې علما هم کوچنی د خپل لیدلوري له مخې راپیژني، مونږ دلته ماشوم د اسلامي شریعت، قوانینو او اروپوهنې له مخې څېړو.

((علامــه ابــن اثیــر پــه اســلام کــې ماشــوم داســې راپیــژني. پــه عــربي ژبــه کــې ماشــوم تــه طفــل وایــي، چــې اطفــال، طفلــه، طفــل او نــور هــم ورتــه راتــلای شي. طفــل پــه لغــت کــې صــبي (ماشــوم) تــه وایــي، چــې د صــبي کلمــه د نارینــه او ښــځینه، مــذکر او مؤنــث او د دواړو د جمعــې لپــاره هــم راځــي او د شریعــت پــه اصــطلاح کــې صــبي ماشــوم هغــه چاتــه ویــل کېــږي چــې د ځــوانی پــړاو تــه نــه وي رســېدلی، یعنــې بــالغ شــوی نــه وي چــې دا پــړاو د مــور د ګیــډې څخــه لــه زوکــړې نیــولې او ځــوانی تــه تــر رسېدو پورې وي))

د ځلمیتــوب او بلــوغ پــړاو پــه انســانانوکې سره لږڅــه تــوپیرلري، پــه دې مــورد انســانان، نارینــه او ښــځینه لــه نهــه کلنــی څخــه نیــولې ترشــپاړس کلنــی پورې د ځلمیتوب او بلوغ پړاوته رسېږي.

یعنې ځینې ژر او ځینې په څه ځنډ سره، بل توپیر دا چې نجونې تر هلکانو ژر بلوغ ته رسېږي. په اسلام کې هغه انسانان چې بلوغ ته نه وي رسېدلي ځانګړي حقونه او وجایب لري لکه: په جزایي برخه کې د محکمې پرځای عادي محبس ته استول کېږي، په جنایي جرمونوکې یې پرخپل ځان ګواهي او اقرارنه منل کېږي او همدارنګه په نورو برخوکې ورسره د ماشومانو د قوانینو له مخې چارچلند کېږي.

خوکله چې مسلمان ماشوم بالغ شي د اسلامي شریعت له مخې ټول هغه حقونه ترلاسه کوي چې نور بالغ مسلمانان یې لري، خو که جرم، جنایت او ګناه وکړي، د ماشوم د قانون له مخې ورسره پرېکړه نه کېږي، بلکې شرعې حد پرې پلی کېږي. په دغه صورت کې د عادي محبس پرځای محکمې ته استول کېږي او د اسلامي محکمې له پرېکړې سره سم به ورته جزاورکول کېږي.

اوس پوښتنه دا ده چې د عمر په کوم پړاو او په څو کلنۍ کې انسان بالغ کېږي چې د عمر هغه برید ته د رسېدو یې دکوچنیوالي دوره پای ته رسېږي؟

د ماشوم پېژندنې په اړه د علامه ابن اثیر تعریف له قرآن کریم څخه اخیستل شوی دی.په دې اړه د قرآن کریم د نورسورت په نهه پنځوسم آیت کې راغلي دي.

ژباړه: (کله چې ستاسو ماشومان بلوغ (ځوانۍ) ته ورسېدل، نو اجازه دې واخلي لکه څنګه چې د دوی نه مخکې کسانواجازه اخیستله.)

ډېر دیني علما د الحلم کلمه ځوانۍ ته د رسېدو په معنا تفسیروي، یعنې په هلکانو کې له ۱۳ څخه نیولې تر ۱٦ کلنۍ او نجونو کې له ۹ څخه نیولې بیا تر ۱۳ کلنۍ پورې رسېږي.

**پښتو ادبیاتو کې د ماشوم د ادبیاتو لنډتاریخي بهیر:**

پښتانه دځمکې پرمخ په هغه سیمه کې مېشت دي، چې تل یې د تاریخ په اوږدوکې د زبر ځواکونو د بریدونو، تاړاکونو او تېریو ښکارشوي دي، جګړه هغه ناورین وي چې ورسره د هېواد، سیمې او خلکو اقتصاد، کلتور، فرهنګ، ادب او د ټولنیز ژوندانه نورې برخې یا خو چورلټ له منځه ځي او که له منځه لاړې نه شي، نو له ډېرو ناوړه حالاتو سره مخامخ کېږي. سوونه کلونه وروسته پښتانه څېړونکي په دې نه دي توانېدلي، چې د هغه مهال د ادبیاتو کوم څرک ولګوي. له دغو ناورینونو سره د پښتو ادب لیکلي آثار په شعوري ډول د نیواک ګرو په واسطه له منځه وړل شوي دي.

د ژبو او ادبیاتو تاریخ په ژبو کې د شته وو نظمي او نثري آثارو له مخې پیلېږي. له موږسره په پښتو ادب کې د زمان او تاریخي مخینې له مخې د امیر کروړ ((ویاړنه)) ده، چې د پښتو ژبې ډېر زوړ او پخوانی شعر یې بولو او د سلم هجري کال په شاوخوا کې ویل شوی.

نو د پښتو ژبې د لیکلي ادب د پیل تاریخ له همدغه مهاله پیلېږي؛ خو د امیرکروړ په ویاړنه کې د ماشومانو د ادبیاتو هېڅ څرک نه لیدل کېږي. د امیرکروړ له ویاړنې څخه وروسته په سلګونو لیکوالانو لیکنې وکړې؛ خو هېڅا هم د ماشومانو د ادبیاتو لپاره څه ونه لیکل او نه پرې اساسي کار شوی دی، خو موږ دلته لنډ په نړۍ کې د ماشوم په ادبیاتو رڼا اچوو او ورپسې په پښتو ادب کې پرې خبرې کوو.

د لومړي ځل لپاره (۱۸۰۳ میلادي کال) د امریکا په متحده ایالاتو کې د ماشومانو لپاره کتابتون او لوست ځاینونه پرانیستل شو، دوهم په ((۱۸۳۳میلادي کال)) په فرانسه کې ناپیلون فرمان صادر کړ چې کوچنیانو لپاره دې کتابتون او لوست ځایونه پرانیستل او د دوی لپاره دې

ځـانګړي کتابونـه ولیکـل شي چـې پـه دې سره د کوچنیـانو لپـاره کتابونـه ولیکـل شـول او کتابتونـه هـم جـوړ شـول. دریـم هیـواد انګلیسـتان دی چـې پـه ۱۸۶۱ مـیلادي کـال یـې د مانچسـتر پـه ښـار کـې د ماشـومانو لپـاره د لوسـت ځاینونـه جـوړ کـړل، لـه دې وروسـته زیاتـه پاملرنـه پخـواني شـوروي اتحـاد پـه ۱۹۲۸ مـیلادي کـال کـې د کوچنیـانو لپـاره وکـړه چـې ((۶۰۰ )) لوسـت ځایونه یـې ماشـومانو تـه جـوړ کـړل، خـو پـه نـورې نـړۍ کـې لـه دې څخـه مخکـې کـوم کـار نـه دی شـوی او کـه شـوی هـم وي، نـو مـوږ تـه نـه دی را رسـیدلی، همدارنګـه لـومړنی لیکـوال مـلا الـف هوتـک دی، چـې پـه زرم هجـري قمـري کـال کـې یـې ماشـومانو تـه د اخلاقـي روزنـې پـه موخـه یـوه مثنـوي لیکلـې ده او دا هم د اوسـني وخـت لـه هغـو ادبیـاتو څخـه چـې مـوږ یـې د ماشـوم ادبیـات بولـو ډېـر تـوپیر لـري؛ خـو د ماشـوم، فرزنـد یادونـه یـې کـړې ده؛ خـو مخکـې لـه دې یـې چـا یادونـه هـم نـه ده کـړې. نـه پـه لرغـوني دوره کـې او نـه پـه کلاسـیکه دوره کې.

پوهانـد صـدیق الله رښـتین د مـلا الـف هوتـک پـه اړه وایـي: «ملاالـف هوتـک د دوهمـې دورې لـه مشـهورو شـاعرانو څخـه و، دی پـه خپـل زمـان کـې یو لوی عالم او دکلات په اطرافو کې یې استوګنه کوله.»

د ملاالـف هوتـک د شـعر هغـه ښکلګـه چـې پـه مثنـوي وزن کـې ویـل شـوې او ماشومانو ته په کې اخلاقي او دیني روزنه ورکړل شوې ده دا ده:

راشـه واوره اې فــرزنده
تاتــه وایــــم ارجمــــند
تــه دپاک نبـي پـرلارشـه
د نبــــي پــــــر لاره لاړشـه
یو قـدم له شرعې زویـــــه

بیرون مه اخله نیــک خویه
که بیــرون یو قدم کیـــږدې
دنبــي شرعـــه به پرېږدې
نصـــېحت کـــوم وتاتـــه
مـــه جـار وزه بلې خـواتـــه
تاتـــه وایـم زمائـــان یـــې
لا ترځان راباندې گـــران یې (۸)

پښـتو ادب د اوسـني پیـل شـوي تـاریخ لـه پیـل څخـه یـا لـه لرغـونې ادبي دورې څخـه نیـولې آن د خوشـحال خـان بابـا تـر زمـانې پـورې د لیکوالانـو او شـاعرانو پـه نظمـي او نـثري بېلگـو کـې د ادبیـاتو لـه مخـې د پښـتانه ماشـوم برخـه ډېـره خـواره ده، خواره لا څـه چـې بالکـل د ماشـوم د ادبیـاتو پـه نـوم پـه کـې څـه نـه لیـدل کېـږي. د روښـانیانو دوره چـې د پښـتو ادب پـه وده او غنـا کـې یـې سـتر رول لوبـولی، یعنې په لرغونې دوره کې یې پښتو ادب ته ډېر څه ورکړي دي.

پـه خواشـینۍ سره چـې پـه دغـه دوره کـې هـم پښـتون ماشـوم د لیکوالـو او شـاعرانو لـه خیالـه او فکـره ډېـر لـرې تللـی او پـه دغـه برخـه کـې څـه هـم نـه دي شوي.

لـه ۱۰۲۲هــ ق کـال راهیسـې د پښـتو ادب پـه نظـم او نثرکـې د پـام وړ بـدلون او پرمختـگ را مـنځ تـه شـو نـه یـوازې پـه شـعر او نـثر کـې، بلکـې پـه ټـول پښتو ادب کې.

د سـتر خوشـحال بابـا دسـتارنامه نـومی کتـاب چـې ۱۰۷۶ کـال د هنـد پـه رتنبـور جېـل کـې لیکـل شـوی دی، دوولسـم هـنر یـوازې د ماشـومانو تربیـې تـه ځانگړې کړی شوی دی او وایي:

((اولاد زوی وي یا لورخو چې عورتینه په فرزند ډکه شي نور یې تربیت لازم شي)) (۹)

د خوشحال بابا پر آثارو کې سربېره پر دستارنامې په نورو آثارو کې یې هم د ماشومانو لپاره اخلاقي او تربیتي لارښوونې شته، چې دلته ترې دبېلګې په توګه ځو نمونې را اخلو:

هغه مور اوپلاربه خلاص نه وي له غمه
چې فرزندځینې زوولی بداخلاق وي

خوشحال بابا وایي؛ مور او پلار چې د اولاد په روزنه مکلف دي، باید په ښه توګه د خپل فرزند پالنه وکړي. په یوه ټولنه کې د یوه ګټور، فعال او ښه انسان په توګه داسې وایي:

ځوچې وزیري د پلار د ځان بلاشي
په خدمت په تربیت شي ګرفتار
چې تندرست تر او تازه وي پرې خوښیږي
د زړه نول یې وي لبړ شان بیمار
چې د خپل قوت څښتن شي د ماغ واخلي
د ځوانۍ له خیاله سم نه ځي په لار
له خودۍ نه هسې مست بې خوده لاړشي
خو یو زه یم چې پیداشوم په دا دار
وقت یې هېڅ دوړوکوالي په یادنه وي
چې به پروت وي په اورني کې خواروزار
توان تاقت دمچ شړل ورڅخه نه وي
نصیحت دموراوپلاروي ورته ناز (۱۰)

کـه چېـرې دخوشـحال بابـا ټـول آثـار مطالعـه شي، ښـايي د ماشـومانو د روزنــې او پـالنې او د هغـوی د اخلاقــي روزنــې پـه اړه پـه کـې ډېـرې ښېلگـې پيـدا شي؛ خـو دلتـه پـر همـدې بسـنه کـوو او د پښـتو ادبيـاتو او پـه خـاص ډول د ماشـوم اسـاسي کارونـه لـه همـدې دورې څخـه شروع شـوي دي چـې پـه پښـتو ادبيـاتو کـې پيـل د ماشـوم ادب لـه همـدې ځايـه کېـږي، چـې لـه نـورې نـړۍ څخـه تقريبـاً ۱۴۹ کالـه مخکـې پـه پښـتو ادب کـې د ماشـومانو ادبيـاتو تـه او ماشـوم تـه خاصـه پاملرنـه شـوې ده، خـو د پښـتو ادبيـاتو څـوک نـوم هـم نـه يـادوي، نـو دا لـړۍ د حضـرت خوشـال بابـا لـه مړينـې وروسـته پـه ټپـه ودريـده او دپښـتنو ماشـومانو يادونـه تـر شـلمې پيـړۍ بيـا چـا ونـه کـړه اوس اوس چـې کـوم کارونـه پيـل شـوي بيـا هـم د قـدر وړ يـې بـولم، خـو پـه هـېڅ حسـاب دي، نـو زمـا هيلــه دا ده چـــې د خپلـــو گلالیـــو ماشـــومانو لپـــاره د دوی لـــه ذوق سره ســـم ادبيات وپنځوو او د دوی مينه پرې خړوبه کړو.

**مأخذونه:**

۱- شـــېرزاد، پښـــتون آقـــا، ادبي ځېلونـــه او لـــومړني لېکـــوال، اســـد دانـــش خپرندويه ټولنه: کابل، ۱۳۸۸ لمريزکال، مخ ۳.

۲- هېوادمـل، زلمـی: د پښتو ادبيـاتو تـاريخ، دانـش خپرندويـه ټولنـه: پېښـور، قصه خوانی، ۱۳۷۹لمريز کال، مخ ۵.

۳- بهانـد، اصـف، دکوچنيـانو ادبيـات: کابـل، دولتـي مطبعـه، ۱۳٦٦ هــ ش، مخ ۵.

۴ - انـدړ، غـــلام محمـــد، تدريسي_ چپټـر: کابـــل، ۱۳۹۱ هـــ ش کـــال، د ښوونې او روزنې پوهنتون.

۵ - ختـک، خوشـحال خـان، دسـتار نامـه: پېښـور، یونیورسـتي بـک ایجنسي، ۲۰۰۵ زېږدیز کال، مخ، ۱۰۴.

۶ -نثـار، نـور الحبیـب، د ماشـومانو د ادب مقدمـه، د مصـور خپرنـدویې ټولنې درې میاشتنۍ مجله: کابل، ۱۳۸۸ هـ ش کال.

۷ -نیـازی، رفیـع الله، پـه پښـتو ادب کـې د ماشـومانو ادبیـات، مصـور خپرندوی بنسټ، ۱۳۸۹هـ ش کال.

۸ - مشـوانی، عبـدالقیوم زاهـد، د خوشـال ختـک کلیـات: پېښـور، دانـش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۶ هـ ش کال.

۹- طـاهر، محمـد نـواز، د ماشـومانو سـندرې او صـوتونه: پېښـور، پښـتو اکېډمي پېښور پوهنتون، ۱۹۸۸ زېږدیز کال.

۱۰- مشوانی، عبدالقیوم زاهد، دخوشال ختک کلیات.

Literary scholars have argued that materials that are not formally and directly but artistically and literally express themselves as child literature.
What kind of child literature is affected by children, and how is it transmitted to one another?
Instead, these discussions can be studied in this article.

# Identifying the Tisza Spiritual Structure

**Sayed Asghar Hashmi**

**Abstract:**

In all research forms, the content formation is important beside the physical structure. In this article, the content formation of a thesis is described, and the necessary information for each title is drawn as abstract. In writing thesis, similarity and meaning relation between titles is important, and the physical formation become more attractive when the content meaning is well-organized.

---

# Recognition of Child Literature in Pashto Literature

**Ph.D: betullrahan Rodwal**

**Abstract:**

Before discussing the child's literature, we need to have a Kotta talk about literature: Literature is science, which is good and imperfect, high and low, primitive and old, revealing prose and order.

This definition clarifies the way for us and, in the light of it, we can discuss Kutta's children's literature.

the impotent appliance of human life. And we can't count them in divdvally  they are contacted to each other.

---

# Inappropriate donation of Oriental Rourist to Pashto literature

**Abdul Bari Jahani**

**Abstracts:**

The spirit of this article has been inspired by the spirit of the article of Love's Nirvang, in which the professors and professors Mohammad Massoum Hottak have been analyzed and described.

But in general, this article deals with Orientalist Major Raudhurst's remarks, and it has shortcomings that, unfortunately, have been made by major scholars such as Major Ravertti.

Of course, it is evident that when Major Rowright spoke about the excommunication of the great poet Abdul Rahman Baba or wants to prove it as a disbeliever, those who believe in the idea of a militant, or they want to, and do not agree in such a way as to be necessary.

Which shows that Abdulrahman Baba's excommunication is false.

In order to make this issue more clear, the definitions of morphology and morpheme have also been discussed in this study which is not part of the particular classification. The study shows that personal pronouns, relative pronouns, some adverbs and metaphoric symbols are not single morphs but pairs. The study begins with a preface and importance of the study, questions, aims, method and conclusion of the study and references are other topics included in the study.

---

# Language and Thought

**Researcher: Meena Masuda Nekyar**

**Abstract:**

Language is the complex of voices or the organ of to understand and to realize. Whim we take and continue our daily works by it and thinking is one of tune property of brain and mind. Whence transfer it by language from one to other one so we owe say that language and tough are coveted to each. Other and it have an important role in human social life in one society the language without thong without language can't do improvement.

Language and taught are the coveted things to each other and also wave an effect on each other also the language and thought have important role in human social life. Because without the thought and language human can't improve their life. So I should say that the language and thought are the incapable organs, which progress in one society and it became

# Pashtun poetic works from Kabuli

**M.Masoom Hotak**

**Abstract:**

The first article deals with information about Molavi Dost Mohammad Kabuli, Who was when he was from and where he was doing on the scientific scene.
Why did you get a Kabuli for this? You can read about it in this article In addition to this article, you can read the information about the Tong of Rajasthan, the state of Rajasthan.
And also about the Tong of wi k, you can also read how many Pashtun nawabs lived there and what has been done for Passover literature.
In general, the late poet of Kabul's life is due to the admiration that commemorates the homeland in his heart, and has written poetry about the parable of the homeland.

---

# Identification of Morphic Species

**Abdul Azim Sadiqmal**

**Abstract:**

This study entitled as "Introduction to Morphemic Pairs" is a critical research on the classification of morphemes that are not single morphemes but pairs of morphemes in the field of morphology. In order to make the subject clearer, this article has covered all those morphemes which are considered as single morphs by the researchers, however, they are not single morphs.

In this historical area, the population of different tribes, which speaks by various languages, is the real residents of this area. People of these different languages, which have different dialects, have with each other's every side's customs, culture and linguistically links.
In the content of this research article Nuristani languages and dialects of its every language explained with residents places and in addition to the short linking of the Gawari languages with the Nuristani languages.

---

# Abdul Raof Benawa writing style

**Mahmod Marhoon**

**Abstract:**

Abdul Rauf Benawa is among the five most celebrated academicians of Pashto language (aka Five Stars) who has written numerous fictions and non-fiction books in Pashto both in prose and poetry covering history, literature and so forth. A thorough research of a literary academician's writing style is the best way to reach the depths of his thought. The author of this essay has strived to research the writing style of Benawa's prose and poetry.

# New poetry of Arabic and Thin Al-Malayka

**Gul Rahman Rahmani**

**Abstract:**

New and contemporary poems have a lot of spiritual and spiritual beauty in every language. It's not easy to research a comprehensive research. Specifically, the right to this topic can never be placed in an article. But when it comes to the angle of a particular poet and representative, you can succeed. In this essay, a discussion of the famous Thai poet NAZOK Al-Malayaka life was discussed at the outset.

This Iraqi poet died in 2007 in Egypt. As a symbol of initiative and beggar, it is known as a classic Arabic poem, the poet has poetic and prose books, the most famous of which is the poem Kollira. In his poems, the natural tawaf of man, especially the Arab woman, has been reflected.

He invites humans to love and the other, but says love was a fruit that he was deprived of this sweet fruit. The article also discusses contemporary Arabic poetry. In the final section, the poetry of Arabic classical poetry and the relationship of poetry (Al- Malayaka) are also studied.

---

# Nuristani languages and dialects

**Assistant Researcher Sharifullah Sanin**

**Abstract:**
Nuristan is our historical and cultural place in our country, that the many different Indo- Iranian languages speakers are inhabited here from ancient times.

In this way, during the reign of Ghobad in Iran, there were major revolutions, which were more than socialist thoughts.

That the government of Ghobad was gone, so the system was also completely lost.

In this article, we have discussed this and so on, and we focus on the issues that we are focusing on.

---

# The root of Sufism and mysticism in the ancient arts

**M.Akbar kargar**

**Abstract:**

In this article, the issue of Sufism and mysticism has been studied. Which, on the one hand, has come into the realm of the minds and minds of the people and they have become manifested in another way by people.

We can not, as far as we try to show ourselves of Sufism and mysticism, For so far our people have believed in pilgrimages that they have only heard about it. Not about it, nor on the basis of it.Which are involved in Sufi forms, For the sake of understanding the originality and the root of Sufism, I look at the article.

# Development of the Pashtu Language Education in Afghanistan

**Ph.D. Abdul Zhair Shakib**

**Abstract:**

As far as I know, in Afghanistan, the majority is Pashto. From oral literature to written literature, the majority of works are available in Pashto, and the reason is that the literary reserve of this language is very wide and extant, Because the demand for political affairs and things was something else, it did not find much in the court And this is the reason that so far in the language of studying these problems are seen, As soon as it arrived at the court, there was very little change in time and significant progress was made, and it is hoped that this dynasty will remain intact.

---

# Mazdak and Mazdaks

**Dr, Khalilullah Ormar**

**Abstract:**

In the history of the country, in the majority of cases, any kind of transformation that takes shape forms of religion and holiness,This means that the transformation took place in the name of religion, but politics subsequently became involved This is also an issue, and this means the Yughnostia was the religious movement, which had most social implications.

# Yeterday, today and tomorrow of Pashto grammar writing

**Associate prof. Rafiullah Niazi**

## Abstruct:

The history of every language shows the development of various disciplines and sub-disciplines of different sciences in that particular language. We can also know about the different stages of the evolution and development of these disciplines in a language. Same is the case of evolution and development of various sciences in Pashto language. Every discipline in Pashto language has its own distinctive history, background and developmental stages. This article deals with the history, evolution and development of Pashto grammar. Grammar is an important branch of Descriptive Linguistics. Linguistics has emerged as a new science which has many sub branches including Descriptive Linguistics. Grammar writing has its long history in many languages even before the emergence of linguistics as a science, there were many grammars in various languages. Like the grammars of many other languages of the world, Pashto grammar is also passing from its evolutionary stages. In this article evolution and development of Pashto grammar will be discussed. In this article, difficulties and problems in Pashto grammar will not only be analyzed but solution to these problems and difficulties will also be provided.

# List of Contents


| No | Title | Author | Page |
|---|---|---|---|
| 1. | Yesterday, today and... | Rafiullah Niazi | 201 |
| 2. | Development of the ... | Abdul Zhair Shakib | 200 |
| 3. | Mazdak and Mazdaks... | Khalilullah Ormar | 200 |
| 4. | The root of Sufism ... | M.Akbar kargar | 199 |
| 5. | New poetry of ... | G. Rahman Rahmani | 198 |
| 6. | Nuristani languages ... | Sharifullah Sanin | 198 |
| 7. | Abdul Raof Benawa ... | Mahmod Marhoon | 197 |
| 8. | Pashtun poetic ... | M.Masoom Hotak | 196 |
| 9. | Identification of ... | Abdul Azim Sadiqmal | 196 |
| 10 | Language and ... | Meena Masuda Nekyar | 195 |
| 11. | Inappropriate dona... | Abdul Bari Jahaani | 194 |
| 12. | Identifying the Tisza... | S. Asghar Hashmi | 193 |
| 13. | Recognition of Child... | betullrahan Rodwal | 193 |

**Published:** Academy of Science of Afghanistan

**Editor in Chief:** Research Fellow Sayed Nazim Sayedy

**Assistant:** Researcher Shakila Miakhil

**Editorial Board:**

Research Fellow Dr.Abdul Zahir Shakib

Senior Research Fellow Dr. Khalilullah Ormar

Senior Research Fellow Nasrulla Naser

Research Fellow Mohammad Asif Ahmadzai

**Composed & Designed By:**

Sayedy

**Annual Subscription:**

Kabul: 960Af.

Province: 1440 AF.

Foreign Countries : 60$

Price of each issue in Kabul : 80 AF.

- For Professors, Teachers and Members of Academy of Science of Afghanistan: 70 AF.
- For the disciples and students of schools: 40 AF.
- For other Departments and Offices: 80 AF.